په مختلفو موضوع ګانو باندې

دتقریرونو یوه مفصله، معتمده، علمي، او تحقیقي مجموعه:

# دتقریرونو

# مدلّله ذخیره

5
پنځم جلد



(تالیف)

ابوالشمس مولانا نورالهدیٰ عفی عنه

فاضل جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر، ووفاق المدارس العربیه ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان

مکتبه اعزازیه محله جنگی پشاور

جاده میوند پخته فروشی کابل

زیر اهتمام
کفایت الله ازمانی
0344-9995990

Scanned with CamScanner

دا کتاب د لیکوال په اجازه پی ډی ایف شوي
دی، الله تعالیٰ دې ابو شمس مولانا نور الهدي
صاحب ته اجر عظیم ورکړي.
ډیرو علماء کرام او طلباء ترې ګټه پورته کړه

📚کفایت دینی کتب خانه📚

کفایت الله ابن صدیق
ټیلی ګرام نمبر۔ +923247442395
واټس ایپ نمبر
+9203052488551



Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په مختلفو موضوع ګانو باندې

د تقريرونو يوه مُفَصَّله، مُعتَمَده، عِلمي، او تَحقيقي مجموعه :

# د تقريرونو مُدَلَّلَــــهُ ذخيره

## جلد ۵

تاليف

اَبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدٰى عُفِيَ عَنهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

ايم اے عبدالولی خان يونيورسٹی مردان

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د کتاب نوم: د تقريرونو مُدَلَّلَــهٔ ذخيره جلد ۵

مؤلف: اَبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الْهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

فون نمبر ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

کمپوزر: مؤلف پخپله

د چاپ کال: ۱۴۴۲هـ ق ، ۱۳۹۹ هـ ش، مطابق ۲۰۲۱ ء

مکتبه اعزازیه

محله جنګي پشاور

زير اهتمام: کفايت الله ارماني ۰۳۴۴-۹۹۹۵۹۹۰

نوټ: د کتاب ټول حقوق د مکتبه اعزازيه سره محفوظ دي

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د پنځم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ، اَمَّا بَعْدُ !

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ دا دې کتاب پنځم جلد هم د الله ﷻ په فضل و کرم سره پوره شو ، په دې کې مې د قرآن کریم او احادیثو په رڼا کې د جنت نعمتونه په پوره تفصیل سره ذکر کړي ، او ورسره مې جنت ته داخلوونکي نېک اعمال هم ذکر کړي یعنی د کومو نېکو اعمالو په باره کې چې په قرآن کریم او احادیثو کې صراحةً ذکر شوي چې " ددې نېک عمل په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي " یا " دده د پاره جنت واجب کیږي " نو ما دغه شان څه د پاسه سل (١٠٠) اعمال ذکر کړي. د جنت دا موضوع مې په داسې ښائسته زړه راښکونکي انداز باندې ذکر کړې چې ددې په لوستلو سره به اِن شَاءَ الله تاسو داسې محسوسوی. ګویا چې د جنت په باغونو کې ګرځی .

**خوشخبري** : اِن شَاءَ الله ددې پسې به شپږم جلد وي ، او دا سلسله به د الله ﷻ په توفیق سره همداسې تریو وخته پورې جاري وي .

الله تعالی دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، او پَروَردِګار عالم دې دا کتابونه زما، زما د والدینو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذریعه اوګرځوي .

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

**نوټ** : که د کتاب متعلق یا بله څه مفیده مشوره وي نو په دې ٠٣٠٦ ٥۴۴٧١٧۴ نمبر راسره رابطه کولی شی .

ابوالشمس نورُالهدٰی عفی عنه

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# اِجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه | ت |
| ۲. | ۱. د جنت نِعمتونه او خوشحالۍ ( اول بیان ) | ۱ |
| ۳. | ۲. د جنت نِعمتونه او خوشحالۍ ( دویم بیان ) | ۶۹ |
| ۴. | ۳. جنت ته داخلوونکي نېک اعمال | ۱۶۸ |
| ۶. | خوشخبري | ۳۲۸ |



Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

# تفصیلي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه | ت |
| | **۱. د جنت نِعمتونه او خوشحالي ( اول بیان )** | ۱ |
| ۲. | د انسانانو او پیریانو د پیدائش مقصد | ۳ |
| ۳. | نېک اعمال کوونکو سره د جنت د نِعمتونو وعده شوی | ۴ |
| ۴. | د جنت نِعمتونو بیانولو ضرورت | ۴ |
| ۵. | په قرآن کریم او احادیثو کې ځای په ځای مسلمانانو ته د جنت د نِعمتونو تذکره او ددې د حاصلولو ترغیب ورکړل شوی | ۵ |
| ۶. | د جنت معنٰی | ۶ |
| ۷. | د جنتونو تعداد | ۷ |
| ۸. | د جنت په وجود باندې اِیمان لرل فرض دي، او ددینه مُنکِر کافر دی | ۸ |
| ۹. | د جنت نِعمتونه د اَنسان د تصوّر نه بهر دي | ۹ |
| ۱۰. | په جنت کې به د انسان هر خواهش پوره کیږي | ۱۰ |
| ۱۱. | په جنت کې د زمینداری کولو خواهش کول، او سمدست پوره کیدل | ۱۱ |
| ۱۲. | جنت د آرام ځای دی هیڅ تکلیف په کې نشته | ۱۳ |
| ۱۳. | جنتیان به په خوشحالي ژوند تیروي | ۱۴ |
| ۱۴. | په جنت کې به فضول خبرې، د ګناه خبرې، او دروغ بالکل نه وي | ۱۵ |
| ۱۵. | جنتیان به په جنت کې همیشه اُوسیږي | ۱۵ |
| ۱۶. | جنتیان به جنت ته په اِطمینان او سکون سره داخلیږي | ۱۶ |
| ۱۷. | جنتیان به جنت ته ډَلې ډَلې د وَفد په شکل داخلیږي | ۱۷ |



Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸. | د جنتیانو مخونه به د ډیر ښائست په وجه ځلیږي | ۱۸ |
| ۱۹. | جنتیانو ته به په جنت کې د الله تعالی دیدار نصیب کیږي | ۲۱ |
| ۲۱. | جنتیانو نه د الله تعالی راضي کیدل | ۲۶ |
| ۲۲. | د بنده نه د الله تعالی د راضي کیدو علامه | ۳۰ |
| ۲۳. | جنتیانو سره د الله تعالی خبرې | ۳۱ |
| ۲۴. | په جنتیانو باندې د الله تعالی سلام | ۳۳ |
| ۲۵. | په جنتیانو باندې د فرښتو سلام | ۳۵ |
| ۲۶. | د جنت نعمتونه لویه بادشاهي ده | ۳۶ |
| ۲۷. | د اَدنٰی جنتي د پاره لویه بادشاهي | ۳۶ |
| ۲۸. | د ټولو نه آخِر کې جنت ته داخلیدونکي کس ته به د دُنیا په لس چنده غټ جنت ورکولې شي | ۴۰ |
| ۲۹. | د جنت په بازار کې حُسن زیاتیدل | ۴۹ |
| ۳۰. | د جنت په بازار کې خپل شکل و صورت بدلول | ۴۹ |
| ۳۱. | جنتیان به د یو بل ملاقات له ځي | ۵۲ |
| ۳۲. | جنتیان به په یو بل باندې سلام اچوي | ۵۴ |
| ۳۳. | جنتیان به د یو بل نه پوښتنه کوي او د دُنیا تېرې شوې خبرې به رایادوي | ۵۶ |
| ۳۵. | په جنت کې مرګ نشته | ۵۹ |
| ۳۶. | مرګ به د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي | ۶۱ |
| ۳۷. | د دُنیا نعمتونه آخِر هم ختمیږي | ۶۳ |
| ۳۸. | واقعه | ۶۳ |
| ۳۹. | په جنت کې اُوده کیدل نشته | ۶۴ |
| ۴۰. | جنتیانو سره به د دوی مؤمنان اَولاد هم جنت ته داخلیږي | ۶۵ |
| ۴۱. | د غونډ تقریر خلاصه | ۶۷ |
| ۴۳. | دُعا | ۶۸ |

Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| | **۲. د جنت نعمتونه او خوشحالي ( دويم بيان )** | ۶۹ |
| ۴۴. | نوټ | ۷۰ |
| ۴۵. | تمهيدي خبره | ۷۲ |
| ۴۶. | په قرآن کريم د جنت نومونه | ۷۲ |
| ۴۷. | د جنت نهرونه | ۷۷ |
| ۴۸. | په جنت کې به د صفا اُوبو ، شودو ، شرابو ، او شهدو نهرونه بهيږي | ۷۹ |
| ۴۹. | دا څلور نهرونه د جنّة الفردوس نه رااوځي | ۷۹ |
| ۵۰. | د حوضِ کوثر اُوبه ډيرې مزيدارې دي | ۸۱ |
| ۵۱. | بِدعتيان او مرتدين به د حوضِ کوثر نه منع کولې شي | ۸۷ |
| ۵۲. | د جنت چينې | ۸۸ |
| ۵۳. | د جنتيانو د پاره به په جنت کې پاکيزه مزيدار شراب وي | ۸۹ |
| ۵۴. | د جنت په شرابو به د مشکو مهر لړيدلې وي او د تَسنيم چينې اُوبه به ورسره ګډې وي | ۹۰ |
| ۵۵. | د جنت شرابو سره به د کافور چينې اُوبه ګډې وي | ۹۱ |
| ۵۶. | د جنت د شرابو سره به زَنجبيل ګډ وي | ۹۲ |
| ۵۷. | د جنت مشروبات پخپله راتلل | ۹۲ |
| ۵۷. | د جنت شراب څکونکي ته به خپله بې بې ښائسته معلوميږي | ۹۳ |
| ۵۸. | جنتيان به د اُونو په ښائسته سيوري کې ناست وي | ۹۳ |
| ۵۹. | د جنت اُونې به د ګڼرو څانګو او اُوږدو سيورو واله وي | ۹۴ |
| ۶۰. | د جنت د اُونو تنې او څانګې به ډيرې قيمتي وي | ۹۶ |
| ۶۱. | په جنت کې به هر قِسمه ميوې وي | ۹۷ |
| ۶۲. | د جنت د ميوو خوَند به ډير مزيدار وي | ۱۰۰ |
| ۶۳. | د هوا په چليدو سره د جنت د اُونو نه ښائسته آواز راوتل | ۱۰۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۶۴. | په دُنیا کې د الله تعالی ذِکر کولو سره په جنت کې اُونه نال کیدل | ۱۰۳ |
| ۶۵. | د جنت خوراک | ۱۰۴ |
| ۶۶. | جنتیان به بنه په مزو سره خوراک کوي | ۱۰۷ |
| ۶۷. | جنتیانو ته به بې حِسابه رزق ورکولې شي | ۱۰۸ |
| ۶۸. | په جنت کې د جنّتیانو اَوّلنې خوراک | ۱۰۸ |
| ۶۹. | جنتیانو ته به د اَودس ماتي کولو ضرورت نه وي | ۱۱۱ |
| ۷۰. | د جنتیانو د خوراک او څکاک لوخي به د سروزرو او سپینو زرو وي | ۱۱۳ |
| ۷۱. | د جنتیانو د زِینت شیان، کپړې، او زیورات | ۱۱۷ |
| ۷۲. | سړو ته د کنگړ اچولو مطلب | ۱۱۸ |
| ۷۳. | د جنت زیورات به ډیر ښائسته وي | ۱۲۰ |
| ۷۴. | د ټولې دُنیا زِیورات د جنت د معمولي زیور مقابله نشي کولی | ۱۲۰ |
| ۷۵. | د جنتیانو د تاج یوه ملغلره د دُنیا او مَافِیهَا نه ډیره بهتر ده | ۱۲۱ |
| ۷۵. | د جنتیانو کپړې به نه زړیږي | ۱۲۲ |
| ۷۶. | د جنت خوشبوئي د ډیرې لرې فاصلې نه محسوسیږي | ۱۲۴ |
| ۷۷. | د جنت مَحلونه او بالاخانې | ۱۲۵ |
| ۷۸. | د جنت مَحلونه او کورونه به پاکیزه وي | ۱۲۸ |
| ۷۹. | د جنت بالاخانې په نېکو اعمالو کولو سره حاصلیږي | ۱۲۸ |
| ۸۰. | په جنت کې به د جنتیانو د پاره د ملغلرو نه جوړې شوې خیمې وي | ۱۳۱ |
| ۸۱. | د جنت تَختونه | ۱۳۳ |
| ۸۲. | د جنتیانو په زړونو کې به د یو بل سره بُغض او حسَد نه وي | ۱۳۵ |
| ۸۳. | د جنت بِسترې، تَکته گانې، او قالینونه | ۱۳۶ |
| ۸۴. | د جنتیانو سورلي | ۱۳۸ |
| ۸۵. | د جنتیانو عُمر، قد و قامت، او ژبه | ۱۴۱ |
| ۸۶. | د جنت آبادي او خاوره | ۱۴۵ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۷ | مکمل د سروزرو نه جوړ شوي مَحلونه | ۱۴۷ |
| ۸۸. | د جنت لږ ځای ډیر قیمتي دی | ۱۴۷ |
| ۸۹. | جنت د سِدرةُ المنتهٰی سره دی | ۱۴۸ |
| ۹۰. | جنت اوس هم موجود دی | ۱۴۹ |
| ۹۱. | د جنت دَروازې او ددې تعداد | ۱۵۰ |
| ۹۲. | د جنت درجې | ۱۵۲ |
| ۹۳. | د اُوچتو درجو واله خلق | ۱۵۴ |
| ۹۴. | جَنةالفردوس اَعلیٰ جنت دی | ۱۵۷ |
| ۹۵. | د جنت دروازه به د ټولو نه مخکې نبي علیه السلام ته کلاویږي | ۱۵۹ |
| ۹۶. | په جنت کې به ډیر صفونه ددې اُمت وي | ۱۶۱ |
| ۹۷. | په مختصرو الفاظو کې د جنت نظاره | ۱۶۳ |
| ۹۸. | د غونډ تقریر خلاصه | ۱۶۴ |
| ۹۹. | دُعا | ۱۶۶ |
| | **۳ . جنت ته داخلوونکي نیک اعمال** | ۱۶۸ |
| ۱۰۰ | نوټ | ۱۶۹ |
| ۱۰۱ | تمهیدي خبره | ۱۷۱ |
| ۱۰۲ | د جنت نِعمتونه د هغه مؤمنانو د پاره دي چې نېک اعمال کوي | ۱۷۱ |
| ۱۰۴ | الله تعالی بندګانو ته د جنت حاصلولو ترغیب ورکړی | ۱۷۳ |
| ۱۰۵ | نبي علیه السلام هم خپل اُمت ته د جنت حاصلولو ترغیب ورکړی | ۱۷۴ |
| ۱۰۶ | خپلې موضوع ته واپس راتلل | ۱۷۵ |
| ۱۰۷ | په اخلاص باندې د الله ﷻ د وَحدانِیت او د نبي علیه السلام د رِسالت ګواهي ورکولو سره د جنت مستحق کیدل | ۱۷۶ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۰۸ | په الله او رسول باندې ایمان راوړلو ، مونځ کولو ، او روژې نیولو سره جنت واجب کیدل | ۱۷۸ |
| ۱۰۹ | څوک چې په الله ، رسول ، او اسلام باندې راضي شو نو دده د پاره جنت واجب شو | ۱۷۹ |
| ۱۱۰ | د شِرک نه ځان ساتلو سره د جنت مستحق کیدل | ۱۸۰ |
| ۱۱۱ | د الله او رسول د اِطاعت په وجه جنت ته داخلیدل | ۱۸۱ |
| ۱۱۲ | د نبي ﷺ د اِتباع او اِطاعت په وجه په جنت کې د هغوی سره ملګرتیا | ۱۸۳ |
| ۱۱۳ | د عِلم زده کړه پسې وتونکي کس د پاره د جنت خوشخبري | ۱۸۵ |
| ۱۱۴ | په دِین باندې اِستقامت لرونکو خلقو د پاره د جنت زیرې | ۱۸۶ |
| ۱۱۵ | د اِستقامت تشریح | ۱۸۷ |
| ۱۱۶ | د تقوىٰ په وجه د جنت مستحق کیدل | ۱۸۸ |
| ۱۱۷ | جنت ته ډیر بوتلونکې څیز "تقوىٰ او خوش اخلاقي" ده | ۱۹۱ |
| ۱۱۸ | خوش اخلاقه کس د پاره نبي ﷺ په اعلىٰ جنت کې د کور ضمانت کړی | ۱۹۲ |
| ۱۱۹ | په خوش اخلاقۍ خبرو کولو سره جنت واجب کیدل | ۱۹۲ |
| ۱۲۰ | د الله جل جلاله نه ویریدونکو د پاره جنت | ۱۹۳ |
| ۱۲۱ | د الله جل جلاله نه ویریدونکی به آخر هم جنت ته ځي اګرچې ګناهونه یې کړي وي | ۱۹۴ |
| ۱۲۲ | د الله جل جلاله نه یریدونکي ځوان ته نبي علیه السلام د جنت زیرې ورکړو | ۱۹۵ |
| ۱۲۳ | د خلقو نه سوال نه کوونکي د پاره نبي علیه السلام د جنت ضمانت کړی | ۱۹۷ |
| ۱۲۴ | په مونځ کولو سره د جنت مستحق کیدل | ۱۹۷ |
| ۱۲۵ | د ورځې دولس (۱۲) رکعته سُنت اداء کولو سره په جنت کې کور جوړیدل | ۲۰۴ |
| ۱۲۶ | مونځ د جنت ګنجي ده | ۲۰۵ |
| ۱۲۷ | د مونځ په وجه په جنت کې د نبي ﷺ ملګرتیا نصیب کیدل | ۲۰۵ |
| ۱۲۸ | په جَمعې سره د مونځ کولو په عِوض کې په جَنت کې میلمَستیا | ۲۰۶ |
| ۱۲۹ | د مانځه په صفونو کې خالي ځای ډکولو سره په جنت کې کور جوړیدل | ۲۰۶ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۱۳۰ | جُمعې مانځه ته وَختي تلونكې به په جنت كې د الله ﷻ د دِيدار په وخت الله ﷻ ته ډير مُقرّب وي | ۲۰۷ |
| ۱۳۱ | سلام اَچولو ، په فقيرانو خوراک كولو ، او د تهجدو مونځ كولو په وجه د جنت مستحق كيدل | ۲۰۷ |
| ۱۳۲ | د څاښت مونځ كولو سره په جنت كې د سروزرو محل جوړيدل | ۲۰۸ |
| ۱۳۳ | د مازيګر فرضو نه مخكې څلور ركعته سُنتِ غيرمؤكد اداء كولو سره په جنت كې كور جوړيدل | ۲۰۹ |
| ۱۳۴ | هميشه په اُودس كې اُوسيدلو او آذان نه پس دوه ركعته نفل مونځ كولو سره د جنت مستحق كيدل | ۲۱۰ |
| ۱۳۵ | د فرض مانځه نه پس آية الكرسي ويلو سره د جنت مستحق كيدل | ۲۱۱ |
| ۱۳۶ | د هر مانځه نه پس ، او د اُوده كيدو په وخت مخصوص اَذكار ويلو سره د جنت مستحق كيدل | ۲۱۱ |
| ۱۳۷ | په هره پيره "سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، وَاللهُ اَكْبَرُ" ويلو سره په جنت كې غټه اُونه نال كيدل | ۲۱۳ |
| ۱۳۸ | په هره پيره "سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ" ويلو سره په جنت كې د قجورې غټه اُونه نال كيدل | ۲۱۴ |
| ۱۳۹ | لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ ويل د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده | ۲۱۴ |
| ۱۴۰ | په بازار كې داخليدو په وخت كلِمهٔ توحيد ويلو سره په جنت كور جوړيدل | ۲۱۵ |
| ۱۴۱ | په سَيِّدُ الإستغفار ويلو سره جنت ته داخليدل | ۲۱۶ |
| ۱۴۲ | اَسماء حُسنٰى (يعنى د الله تعالى نهه نوي ۹۹ نومونه) يادولو سره د جنت مستحق كيدل | ۲۱۷ |
| ۱۴۳ | د الله تعالى نور نومونه هم شته | ۲۱۸ |
| ۱۴۴ | په درود شريف ويلو سره د جنت مستحق كيدل | ۲۱۹ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١٤٥ | د قرآن كريم زده كوونكي ، بل ته ښودونكي ، او په دې باندې عمل كوونكي د پاره د جنت زيرې | ٢٢٠ |
| ١٤٦ | لس (١٠) پېرې سورة اِخلاص ويلو سره په جنت كې يو محل جوړيدل | ٢٢١ |
| ١٤٧ | سورة المُلک ويلو سره جنت ته داخليدل | ٢٢٢ |
| ١٤٨ | د قرآن كريم د هر آيت په عِوض كې په جنت كې درجې اُوچتيدل | ٢٢٣ |
| ١٤٩ | د حافظِ قرآن د پاره د آيتونو لوستلو په مقدار په جنت كې درجې اُوچتيدل | ٢٢٣ |
| ١٥٠ | د روژې نيولو په وجه جنت ته داخليدل | ٢٢٤ |
| ١٥٢ | د زكوة وركولو په وجه د جنت مستحق كيدل | ٢٢٧ |
| ١٥٣ | د صدقې وركولو په وجه د جنت مستحق كيدل | ٢٣٠ |
| ١٥٤ | د مقبول حج په وجه د جنت مستحق كيدل | ٢٣٢ |
| ١٥٥ | د والدينو د خدمت په وجه د جنت مستحق كيدل | ٢٣٢ |
| ١٥٦ | د ابواسحاق اَسفرائني واقعه | ٢٣٥ |
| ١٥٧ | د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ واقعه | ٢٣٦ |
| ١٥٨ | د والدينو د خدمت په وجه په جنت كې د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ملگرتيا | ٢٣٧ |
| ١٥٩ | پلار د جنت درميانه (بهترينه) دروازه ده | ٢٣٩ |
| ١٦٠ | په قيامت كې د پلار سره اِحسان كولو په وجه جنت ته داخليدل | ٢٤٠ |
| ١٦١ | د الله عَزَّوَجَلَّ د رَضا د پاره جُمات جوړولو سره په جنت كې همدغه شان كور جوړيدل | ٢٤١ |
| ١٦٢ | جُمات ته په پابندۍ سره تلونكي د پاره الله عَزَّوَجَلَّ په جنت كې ميلمستيا برابروي | ٢٤٣ |
| ١٦٣ | دولس (١٢) كاله اَذان كولو سره جنت واجب كيدل | ٢٤٤ |
| ١٦٤ | د ژبې او شرَمگاه په حفاظت سره د جنت ضمانت | ٢٤٥ |
| ١٦٥ | د چا سره بُغض او حسَد نه ساتلو ، او بې فائدې خبرو پريخودلو سره د جنت مستحق كيدل | ٢٤٧ |
| ١٦٦ | د دُهوكې او حسد نه ځان ساتونكي د پاره د جنت زيرې | ٢٤٨ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ١٦٧ | د شپږو شيانو په حفاظت سره د جنت ضمانت | ٢٥١ |
| ١٦٨ | د ريښتيا ويلو په وجه د جنت مستحق کيدل، او د الله ﷻ په نزد "صِدِّيق" ليکلی کيدل | ٢٥٢ |
| ١٦٩ | جګړه او دروغ پريخودونکي د پاره د جنت په مينځ کې د کور ضمانت | ٢٥٣ |
| ١٧٠ | د تکبّر، خِيانت، او قرض نه ځان بچ کوونکي د پاره د جنت زيرې | ٢٥٣ |
| ١٧١ | جنت ته به ډير فقيران او مسکينان داخليږي | ٢٥٤ |
| ١٧٢ | د دُنيا د اُمورو نه ناخبره خلق به جنت ته ډير داخليږي | ٢٥٥ |
| ١٧٣ | جنت ته به ضعيف (عاجزي کوونکي) خلق داخليږي | ٢٥٥ |
| ١٧٤ | جنت ته به ضعفاء او مظلوم خلق داخليږي | ٢٥٦ |
| ١٧٥ | جنت او جهنم په خپل مينځ کې بحث | ٢٥٧ |
| ١٧٦ | درې قِسمه خلق جنتيان دي | ٢٥٨ |
| ١٧٧ | د اخيستلو، خرڅولو او فيصله کولو په وخت نرمي کوونکي جنت ته داخليدل | ٢٥٨ |
| ١٧٨ | تنګ دَسته کس ته مهلت ورکولو سره جنت ته داخليدل | ٢٥٩ |
| ١٧٩ | د معافی په وجه د جنت مستحق کيدل | ٢٦٠ |
| ١٨٠ | د حياء لرلو په وجه د جنت مستحق کيدل | ٢٦٢ |
| ١٨١ | په حلال خوراک کولو، په سُنتو باندې عمل کولو او خلقو ته ضرر نه رسولو په وجه د جنت مستحق کيدل | ٢٦٢ |
| ١٨٢ | د مريض تپوس کولو، او د خپل مسلمان ورور ملاقات له تللو سره د جنت مستحق کيدل | ٢٦٤ |
| ١٨٣ | نفلي روژه نيولو، مسکين ته خوراک ورکولو، د مريض تپوس کولو، او د مسلمان جنازه کولو سره د جنت مستحق کيدل | ٢٦٥ |
| ١٨٤ | د مسلمان د پاره قبر کنيستلو سره په جنت کې کور جوړيدل | ٢٦٧ |
| ١٨٥ | د نظر حفاظت کوونکي د پاره نبي عليه السلام د جنت ضمانت کړی | ٢٦٧ |
| ١٨٦ | د توبې، اِيمان، او نېکو اعمالو په وجه د جنت مستحق کيدل | ٢٦٨ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۷ | توبه کوونکي مؤمنانو د پاره د جنت زیرې | ۲۶۸ |
| ۱۸۸ | د ښه اُمید په وجه جنت ته داخلیدل | ۲۶۹ |
| ۱۹۰ | نېک اعمال کوونکو ، صابرینو ، او مُتوکّلینو د پاره د جنت بَنګلې | ۲۷۲ |
| ۱۹۲ | په الله ﷻ باندې توکّل کوونکي به بې حسابه جنت ته داخلیږي | ۲۷۳ |
| ۱۹۳ | د یتیم پروَرش کوونکي به په جنت کې د نبي ﷺ سره یو ځای وي | ۲۷۴ |
| ۱۹۴ | د مُقرّبینو د پاره د جنت نِعمتونه | ۲۷۵ |
| ۱۹۵ | د لارې نه د اُوني خطرناکه څانګه کټ کولو سره جنت ته داخلیدل | ۲۷۵ |
| ۱۹۶ | ښځه په فرائضو اداء کولو ، او د خاوند خبره منلو سره د جنت مستحقه ګرځي | ۲۷۶ |
| ۱۹۷ | د لورانو صحیح پروَرش کوونکی به د نبي علیه السلام سره یو ځای جنت ته داخلیږي | ۲۷۷ |
| ۱۹۸ | لورانو سره د اِحسان او نرمۍ کولو په وجه د جنت مستحق کیدل | ۲۷۹ |
| ۱۹۹ | په مصیبت او بیمارۍ باندې صبر کوونکي د پاره جنت | ۲۸۰ |
| ۲۰۰ | د سترګو نظر ختمیدو باندې صبر کوونکي د پاره جنت | ۲۸۲ |
| ۲۰۱ | د بچي په وفات کیدو باندې صبر کوونکي د پاره په جنت کې کور جوړیدل | ۲۸۳ |
| ۲۰۲ | د چا چې درې یا دوه نابالغ بچي وفات شي نو الله تعالی داسې کس جنت ته داخلوي | ۲۸۵ |
| ۲۰۳ | درې (۳) پېرې د جنت سوال کوونکي ته د جنت دُعا | ۲۸۸ |
| ۲۰۴ | په اِخلاص باندې عمل کولو سره د جنت مستحق کیدل | ۲۹۰ |
| ۲۰۵ | د اِخلاص واله وړوکي عمل سره د جنت مستحق کیدل | ۲۹۰ |
| ۲۰۶ | په جهاد کولو سره د جنت مستحق کیدل | ۲۹۲ |
| ۲۰۷ | جنت د تورو د سیورو لاندې دی | ۲۹۳ |
| ۲۰۸ | لږ وخت جهاد کولو سره د جنت مستحق کیدل | ۲۹۴ |
| ۲۰۹ | د جنت د یوې دروازې نوم " بَابُ الجهاد " دی | ۲۹۴ |
| ۲۱۰ | صحابه کرامو به په جهاد کې د جنت خوشبوئي محسوسوله | ۲۹۵ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۱۱ | يوه شپه په جهاد کې پهره کولو سره د جنت مستحق کيدل | ۲۹۵ |
| ۲۱۲ | پهره دارۍ ته غاړه ايښودو په وجه نبي ﷺ د جنت زيرې ورکړو | ۲۹۷ |
| ۲۱۳ | مجاهدينو ته الله تعالى د جنت ضمانت کړی | ۲۹۹ |
| ۲۱۴ | مجاهدينو د پاره د جنت اُوچتې درجې | ۳۰۰ |
| ۲۱۵ | د مجاهدينو د پاره په جنت کې سل (۱۰۰) درجې | ۳۰۱ |
| ۲۱۶ | د شهادت په وجه د جنت مستحق کيدل | ۳۰۲ |
| ۲۱۷ | شهيد به بې حسابه جنت ته ځي او فرښتې به ورته د هرې دَروازې نه سلام کوي | ۳۰۳ |
| ۲۱۸ | شهيد به په اَوّلني درې (۳) کسانو کې جنت ته داخليږي | ۳۰۵ |
| ۲۱۹ | د خپل مال په حفاظت کې قتل کيدونکي کس د پاره جنت | ۳۰۵ |
| ۲۲۰ | نفسِ مُطمئِنه ته د مرګ په وخت د جنت زيرې | ۳۰۵ |
| ۲۲۱ | په آخري وخت کې " لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ " ويلو سره جنت واجب کيدل | ۳۰۶ |
| ۲۲۲ | د جنت چابي " لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ " او نيک اعمال دي | ۳۰۷ |
| ۲۲۳ | د چا په زړه کې چې ذَره برابر اِيمان وي په آخِر کې به هغه هم د جهنم نه راويستلې شي، او جنت ته به داخلولې شي | ۳۰۸ |
| ۲۲۳ | د مذکوره ټولو اعمالو قبليدو د پاره شرائط | ۳۱۰ |
| ۲۲۴ | اول شرط : اسلام راوړل او د شِرک نه ځان ساتل | ۳۱۰ |
| ۲۲۵ | دويم شرط : د نبي عليه السلام اِتباع کول | ۳۱۱ |
| ۲۲۶ | دريم شرط : هر عمل په اِخلاص باندې کول | ۳۱۲ |
| ۲۲۷ | د جنت ګټلو د پاره مشقت برداشت کول ضروري دي | ۳۱۳ |
| ۲۲۸ | په دُنيا کې تکليفونه او اِمتحانات خامخا راځي | ۳۱۶ |
| ۲۳۰ | الله ﷻ ته مُقرّبو خلقو باندې اِمتحانات ډير راځي | ۳۱۷ |
| ۲۳۱ | په امتحاناتو صبر په کار دی، ځکه په دې سره ګناهونه ختميږي | ۳۱۹ |
| ۲۳۲ | واقعه : مسلمان ته په تکليف رسيدو سره ګناه معاف کيږي | ۳۲۰ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۳۳ | مؤمِن ته چې په جنت کې يوه غُوپه (او چَکر) ورکړې شي نو د دُنيا ټول تکليفونه به ورنه هېر شي | ۳۲۲ |
| ۲۳۴ | د جنت د طلب نه خلق غافل دي | ۳۲۳ |
| ۲۳۵ | اوس په ناليدلو د جنت گټل آسان دي | ۳۲۴ |
| ۲۳۶ | خلاصه | ۳۲۶ |
| ۲۳۷ | دُعا | ۳۲۷ |
| ۲۳۸ | خوشخبري | ۳۲۸ |
| ۲۳۹ | د غونډ کتاب اجمالي فهرست | |


Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ جَزَآءً بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾

السجدة آية ۱۷.

# د جنتِ نعمتونه او خوشحالی

(اول بیان)

تالیف


آبُو الشَّمْس مولانا نُوْرُ الهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جنت نعمتونه او خوشحالي (اول بيان)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ، وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَه، وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُه.

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾. (١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَشْتَهِيْٓ اَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيْهَا مَا تَدَّعُوْنَ ﴾. (٢)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ وَاِذَا رَاَيْتَ ثَمَّ رَاَيْتَ نَعِيْمًا وَّمُلْكًا كَبِيْرًا ﴾. (٣)

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ. (٤)

---

(١) السجدة آية ١٧.

(٢) فصلت (حم السجدة) آية ٣١.

(٣) الدهر (الانسان) آية ٢٠.

(٤) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ رقم الحديث ٧٤٩٨.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ، فَاقْرَءُوْا إِنْ شِئْتُمْ ﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ﴾. صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٤٤ كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ، و رقم الحديث ٤٧٧٩ كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ}. [السجدة: ١٧]. صحيح مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها رقم الحديث ٢ (٢٨٢٤).

Scanned with CamScanner

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَانًا . (١)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم .

## د انسانانو او پيريانو د پيدائش مقصد

زما خوږو قدرمنو او عزتمندو مسلمانانو ورونو ! په دُنيا کې د انسانانو او جِناتو د ژوند مقصد "د الله تعالى عبادت کول " دي .

الله ﷻ په قرآن کريم کې ددې بيان داسې کړی:

﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴾ . (٢)

ترجمه : اوما ندي پيدا کړي پيريان او انسانان مگر صرف ددې د پاره چې دوی زما عبادت اوکړي .

اوس چې څوک عبادت کوي او نېک اعمال کوي نو دداسې خلقو سره الله تعالى په دُنيا کې د حياةِ طيّبه ( پاکيزه او خوشحاله ژوند ) وعده کړې ، او په آخرت کې به هم ددې بهترينه بدله ورکوي .

الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيٰوةً طَيِّبَةً ۚ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴾ . (٣)

ترجمه : څوک چې نيک عمل اوکړي که سړی وي او که ښځه خو چې هغه مومِن وي نو مونږ به هغه ته خامخا ( په دُنيا کې ) پاکيزه ژوند ورکړو ، او مونږ به دوی ته خامخا ( په آخرت کې ) د دوی د ښو عملونو اجر ورکړو .

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيْدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { وُجُوْهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ } [ القيامة آية ٢٣ ] رقم الحديث ٧٤٣٥ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ رؤية الله تَعَالَى الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٥٦٥٥(١) ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٨٠٥٦ .

(٢) الذاريات آية ٥٦ .

(٣) النحل آية ٩٧ .

Scanned with CamScanner

## نېک اعمال كوونكو سره د جنت د نِعمتونو وعده شوې

اوس چې څوک نېک اعمال كوي نو دداسې خلقو سره الله تعالى د جنت د نِعمتونو وعده كړې :

١. الله جلّ جلاله فرمايي :

﴿ وَبَشِّرِ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ ﴾. (١)

ترجمه : او (اې پيغمبره !) ته زيرې وركړه هغه خلقو ته چې هغوى ايمان راوړى او نېک كارونه يې كړي چې بيشكه د دوى د پاره داسې جنتونه (باغونه) دي چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي.

٢. بل ځاى فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴾. (٢)

ترجمه : او كومو خلقو چې ايمان راوړو او نېک اعمال يې اوكړل نو ډير زر به مونږ دوى په داسې جنتونو كې داخل كړو چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي ، دوى به په دې كې هميشه اُوسيږي.

ددينه علاوه د قرآن كريم په نورو بې شماره آيتونو كې هم دا مضمون صراحةً ذكر دى چې د نېكو اعمالو په كولو سره انسان د جنت مستحق كرځي.

همدارنګې نبي عليه السلام هم په خپلو احاديثو مباركهؤ كې ځاى په ځاى خپل اُمت ته دا خبره واضحه كړې چې په نېكو اعمالو سره انسان د جنت مستحق كرځي.

## د جنت نِعمتونو بيانولو ضرورت

د انسان په فِطرت كې دا خبره پرَته ده چې په كوم څيز كې دده فائده وي نو د هغې د حاصلولو كوشش كوي ، او په كوم څيز كې چې دده نقصان وي نو د هغې نه ځان ساتي.

(١) البقرة آية ٢٥.

(٢) النساء آية ٥٧.

Scanned with CamScanner

اوس که دده د وړاندې د جنت نِعمتونه او خوشحالۍ په تفصيل سره بيان شي نو يقيني چې دا به ددې د حاصلولو د پاره کوشش کوي ، او هغه اعمال به کوي چې د هغې په وجه دا د جنت مستحق کرځي .

## په قرآن کريم او احاديثو کې ځاى په ځاى مسلمانانو ته د جنت د نِعمتونو تذکره او ددې د حاصولو ترغيب ورکړل شوى

الله تعالى په قرآن کريم کې ځاى په ځاى مسلمانانو ته د جنت نِعمتونه په ډير ښائسته انداز کې ذکر کړي .

تر دې چې الله جلّ جلاله د جنت د نهرونو ، باغونو ، چينو ، بَنګلو ، محلاتو ، خيمو ، خوراک ، اُونو ، سيورو ، ميوو ، حُورو ، غِلمانو ، کپړو ، زيوراتو ، قالينونو ، فرشونو ، تَختونو او تکيه ګانو تذکره هم په ډير تفصيل سره کړې . (١)

او بيا يې ددې د حاصلولو ترغيب هم ورکړى . (٢)

همدارنګې نبي کريم صلى الله عليه وسلم هم په احاديثو مبارکهٔ کې مسلمانانو ته د جنت نعمتونه په ډير ښائسته انداز باندې ذکر کړي ، او ددې د حاصلولو ترغيب يې هم ورکړى .

لهذا په نن موضوع کې به زه اِن شاء الله تاسو ته د جنت د نعمتونو او خوشحالو تفصيلي بيان کوم .

خو د ټولو نه اول درته د جنت معنٰى ذکر کوم :

---

(١) ددې هر يو نِعمت پوره تفصيلي بيان راروان دى . ابوالشمس عفي عنه

(٢) په سورة مُطَفِّفِيْن کې الله ﷻ د جنت تذکره کولو نه روستو فرمايي : ﴿ وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴾

ترجمه : او په همدې نعمتونو کې دې رغبت کوونکي رغبت اوکړي . المطففين آية ٢٦ .

بل ځاى فرمايي : ﴿ وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴾

ترجمه : او تاسو مَنډه کړئ د خپل رب د طرفه مغفرت طرف ته ، او هغه جنت طرف ته چې د هغې پلنوالې د آسمانونو او زمکې برابر دى ، کوم چې د مُتّقيانو د پاره تيار کړې شوې دى . آل عمران آية ١٣٣ .

(يعنى داسې اعمال اوکړئ چې ستاسو د بخښې او جنت ګټلو ذريعه ګرځي) .

Scanned with CamScanner

# د جنت معنٰی

جنت په اصل کې هغه باغ ته وايي چې په هغې کې ډيرې اُونې وي .

همدارنګې " ج ن ن " ماده چې په کوم لفظ کې موجوده وي نو په هغې کې به د پټ والي معنٰی پرته وي . (۱)

نو د قيامت په ورځ چې مسلمانان د نېکو اعمالو په بدله کې کوم ځای ته داخلولې شي هغې ته هم " جنت " ځکه وايي چې په هغې کې به هم د نورو بې شماره نِعمتونو سره سره ډيرې اُونې او باغونه وي .

يا ورته جنت ددې د وجې وايي چې د خلقو د نظرونو نه پټ دی . (۲)

---

(۱) لکه د مور په خېټه کې چې کوم ماشوم وي نو هغه ته " جَنِين " وايي ځکه هغه هم په خېټه کې پټ وي . ليوني ته هم " مجنون " وايي ځکه دده په عقل باندې هم پَرده وي او ډير څيزونه ورنه پټ وي . پيري ته هم " جِن " وايي ځکه دا هم د خلقو د نظرونو نه پټ وي . نري مار ته هم " جانّ " وايي ځکه دا هم د نظر نه پټ وي . او ډهال ته هم "مجِن " او جُنّة " وايي ځکه په ددې سره هم مخ پټ (او محفوظ ) وي .

الجنة وهو الاسم العام المتناول لتلك الدار وما اشتملت عليه من أنواع النعيم واللذة والبهجة والسرور وقرة الأعين ، وأصل اشتقاق هذه اللفظة من الستر والتغطية ، ومنه الجنين لاستتاره في البطن ، والجان لاستتاره عن العيون ، والمجن لستره ووقايته الوجه ، والمجنون لاستتار عقله وتواريه عنه ، والجان وهي الحية الصغيرة الرقيقة .... ومنه سمى البستان جنة لأنه يستر داخله بالأشجار ويغطيه فلا يستحق هذا الاسم إلا موضع كثير الأشجار مختلف الأنواع والجنة بالضم ما يستجن به من ترس أو غيره . حادي الأرواح الى بلاد الأفراح ص ۹۴ الباب الحادي والعشرون: في أسماء الجنة ومعانيها واشتقاقها .

(۲) اَلْجَنَّةُ: اَلْبُسْتَانُ مِنَ الشَّجَرِ الْمُتَكَاثِفِ الْمُظِلِّ بِالْتِفَافِ أَغْصَانِهِ، وَالتَّرْكِيبُ دَائِرٌ عَلَى مَعْنَى السَّتْرِ فِي الْجَنَّةِ وَالْجُنَّةِ وَالْجِنَّةِ وَالْجُنُونِ وَنَحْوِهَا. فَكَأَنَّ الْجَنَّةَ لِتَكَاثُفِهَا وَتَظَلُّلِهَا سُمِّيَتْ بِالْجَنَّةِ الَّتِي هِيَ الْمَرَّةُ مِنْ مَصْدَرِ جَنَّهُ إِذَا سَتَرَهُ، كَأَنَّهَا سُتْرَةٌ وَاحِدَةٌ لِفَرْطِ الْتِفَافِهَا. وَسُمِّيَتْ دَارُ الثَّوَابِ جَنَّةً لِمَا فِيهَا مِنَ الْجِنَانِ، أَوْ لِكَوْنِهَا مَسْتُورَةً عَنْ أَعْيُنِ النَّاسِ؛ لِيَكُونَ الْإِيمَانُ بِالْغَيْبِ لَا بِالْعِيَانِ، أَوْ لِأَنَّ اللهَ تَعَالَى أَخْفَى مِنْ قُرَّةِ الْأَعْيُنِ لِأَهْلِهَا الْأَعْيَانَ، وَاللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى أَعْلَمُ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۸ ص ۳۵۷۴ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا

وَالْجَنَّةُ: الْبُسْتَانُ الَّذِي فِيهِ أَشْجَارٌ مُثْمِرَةٌ ، سُمِّيَتْ بِهَا لِاجْتِنَانِهَا وَتَسَتُّرِهَا بِالْأَشْجَارِ . ←←←←←←←←

او الله تعالی په دې کې د مؤمنانو د پاره داسې نعمتونه پټ تیار کړي دي چې هغه تر اوسه پورې نه سترګو لیدلي دي ، نه غوږونو اوریدلي دي ، او نه د چا په زړه کې د هغې تصوّر تېر شوې دی .

د جنت اصطلاحي تعریف چا داسې هم کړی :

اَلدَّارُ الَّتِيْ جَهَّزَهَا اللهُ فِي الْآخِرَةِ لِلْمُتَّقِيْنَ مِنْ عِبَادِهٖ .

جنت هغه کورته وایي چې الله تعالی په آخرت کې خپلو متّقیانو بندګانو له تیار کړی .

بل تعریف یې دا هم دی : دَارُ الْکَرَامَةِ الَّتِيْ اَعَدَّهَا اللهُ لِأَوْلِیَاءِهِ الصَّالِحِیْنَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ .

جنت هغه د عزّتونو کور دی کوم چې الله تعالی د قیامت په ورځ خپلو نېکانو دوستانو ته تیار کړی .

## د جنتونو تعداد

د جنتونو متعلق دوه قوله دي : یو قول دادی چې جنتونه آته (۸) دي ، او دویم قول دادی چې څلور (۴) دي . خو د دلائلو په رڼا کې راجح دا معلومیږي چې جنتونه څلور(۴) دي .(۱)

←←←← وَقَالَ الْفَرَّاءُ: اَلْجَنَّةُ مَا فِیْهِ النَّخِیْلُ ، وَالْفِرْدَوْسُ مَا فِیْهِ الْکَرْمُ. معالم التنزیل في تفسیر القرآن (تفسیر البغوي) ج۱ ص ۹۴ سورة البقرة في تشریح آیة ۲۵ .

(۱) په فتاوی فریدیه کې ذکر دي : قیل : الجنان ثمانیة ، و قیل : اربعة وهو الراجح ، صرح به ابواللیث السمرقندي و ابن العربي شارح الترمذي ، و هو الظاهر من قوله تعالی : ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴾ مع قوله تعالی : ﴿ وَ مِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴾ ، وکذا هو الظاهر من قوله علیه السلام : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ جَنَّتَیْنِ مِنْ فِضَّةٍ آنِیَتُهُمَا وَمَا فِیْهِمَا ، وَجَنَّتَیْنِ مِنْ ذَهَبٍ آنِیَتُهُمَا وَمَا فِیْهِمَا . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ غُرَفِ الْجَنَّةِ رقم الحدیث ۲۵۲۸.

((( وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ . جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِیَتُهُمَا وَمَا فِیْهِمَا ، وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِیَتُهُمَا وَمَا فِیْهِمَا . صحیح مسلم کِتَابُ الإِیْمَانِ بَابُ إِثْبَاتِ رُؤْیَةِ الْمُؤْمِنِیْنَ فِي الْآخِرَةِ رَبَّهُمْ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَی رقم الحدیث ۲۹۶ (۱۸۰) . صحیح البخاري کِتَابُ تَفْسِیْرِ الْقُرْآنِ بَابُ { حُوْرٌ مَقْصُوْرَاتٌ فِي الْخِیَامِ } [الرحمن: ۷۲] رقم ۴۸۷۹ ))) . منهاج السنن شرح جامع السنن ج۱ ص ۱۲۵ باب ما یقال بعد الوضوء . فتاوی فریدیه ج ۱ ص ۴۴۰ ←←←←←←

Scanned with CamScanner

ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په " مرقاة " کې د آته (۸) جنتونو تذکره کړی.(۱)

په بخاري شريف کې د جنت د آته (۸) دَروازو ذکر راغلی.(۲)

## د جنت په وجود باندې اِيمان لرل فرض دي، او ددينه مُنکر کافر دی

لکه څرنګې چې په الله، رسول الله، او قيامت باندې اِيمان لرل فرض دي او ددينه بغير سړي مسلمان نشي کيدی نو همدغه شان د جنت او جهنم په وجود باندې اِيمان لرل هم فرض دي، او دا هم د اِيمان جُزء دی، که څوک ددينه اِنکار کوي نو داسې کس کافر دی.

ځکه په قرآن کريم کې ځای په ځای د جنت تذکره شوی، همدارنګې په صحيح احاديثو کې هم نبي عليه السلام د جنت تذکره کړی.

لهذا څوک چې جنت صرف د مُلياني خبرې ګڼړي او ددينه اِنکار کوي نو دا د قرآن کريم د ډيرو آيتونو او صحيح احاديثو نه اِنکار کول دي، او په دې سره دا کس قطعي کافر کيږي.

په مسند احمد او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی چې حضرت جبريل عليه السلام د نبي عليه السلام مجلس ته راغی، او د نبي عليه السلام نه يې څه

---

←←←← باب ما يتعلق بالروح والبرزخ والموت.

په تفسير کبير کې ذکر دي: اَلمسألةُ الثّانِيَةُ: قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿فِيْ جَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ﴾ أَمَّا الجَنّاتُ فَأَرْبَعَةٌ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ﴾ [الرحمن: ۴۶] ثم قال: ﴿وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتَانِ﴾ [الرحمن: ۴۶] فَيَكُوْنُ الْمَجْمُوْعُ أَرْبَعَةً. التفسير الكبير ج ۱۹ ص ۱۴۷ سورة الحجر آية ۴۵.

بل ځای ليکي... وَهُوَ اخْتِيَارُ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ الجِنَانَ أَرْبَعَةٌ. التفسير الكبير ج ۲۹ ص ۴۶۵ سورة الحديد آية ۲۱.

وَقَالَ الْكَلْبِيُّ: اَلْجِنَانُ أَرْبَعَةٌ: جَنَّةُ عَدْنٍ وَجَنَّةُ الْمَأْوَى وَجَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ وَجَنَّةُ النَّعِيْمِ. تفسير القرطبي ج ۴ ص ۲۰۴

(۱) هِيَ ثَمَانٍ: جَنَّةُ عَدْنٍ، وَجَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ، وَجَنَّةُ الْخُلْدِ، وَجَنَّةُ النَّعِيْمِ، وَجَنَّةُ الْمَأْوَى، وَدَارُ السَّلَامِ، وَدَارُ الْقَرَارِ، وَدَارُ الْمُقَامَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۹ ص ۳۵۷۸ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا

(۲) د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ، فِيهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ، لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُوْنَ. صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۳۲۵۷، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۷(۲)

Scanned with CamScanner

پوښتنې اوکړې، په هغې کې يوه پوښتنه دا هم وه :

فَمَا الإِيمَانُ؟ ايمان څه ته وايي؟ پيغمبر عليه السلام ورته او فرمايل :

تُؤْمِنُ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْبَعْثِ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ، وَالْجَنَّةِ، وَالنَّارِ، وَالْقَدَرِ كُلِّهِ.

ايمان دا دی چې ته په الله، د هغه په فرښتو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، مرګ او د مرګ نه پس ژوندي کيدو، جنت او جهنم، او هر قسمه تقدير باندې ايمان راوړې. (۱)

## د جنت نعمتونه د انسان د تصوّر نه بهر دي

په جنت کې الله ربّ العزت د خپلو نېکانو بندګانو د پاره داسې نعمتونه تيار کړي چې هغه د انسان د تصوّر نه بهر دي. ١. الله تعالى فرمايي :

﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾. (۲)

ترجمه : پس هيڅ نفس ته دا معلومه نده چې د دوی د پاره د سترګو د يخ والي څومره نعمتونه پټ ساتلي شوي.

(يعنی د دې جنّتيانو د پاره د خوشحالۍ ډير نعمتونه مقرر شوي).

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : إِنَّ عِنْدَنَا رِجَالًا يَزْعُمُونَ أَنَّ الْأَمْرَ بِأَيْدِيهِمْ، فَإِنْ شَاءُوا عَمِلُوا، وَإِنْ شَاءُوا لَمْ يَعْمَلُوا. فَقَالَ : أَخْبِرْهُمْ أَنِّي مِنْهُمْ بَرِيءٌ، وَأَنَّهُمْ مِنِّي بُرَآءُ، ثُمَّ قَالَ : جَاءَ جِبْرِيلُ عليه السلام إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ! مَا الإِسْلَامُ؟ فَقَالَ : «تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، وَتَحُجُّ الْبَيْتَ» قَالَ: فَإِذَا فَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَنَا مُسْلِمٌ؟ قَالَ : «نَعَمْ» قَالَ : صَدَقْتَ. قَالَ: فَمَا الإِحْسَانُ؟ قَالَ: «تَخْشَى اللهَ تَعَالَى كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَا تَكُ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ» قَالَ: فَإِذَا فَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَنَا مُحْسِنٌ؟ قَالَ : «نَعَمْ» قَالَ: صَدَقْتَ. قَالَ: فَمَا الإِيمَانُ؟ قَالَ : «تُؤْمِنُ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْبَعْثِ مِنْ بَعْدِ الْمَوْتِ، وَالْجَنَّةِ، وَالنَّارِ، وَالْقَدَرِ كُلِّهِ». قَالَ : فَإِذَا فَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَنَا مُؤْمِنٌ؟ قَالَ : «نَعَمْ». قَالَ: صَدَقْتَ. مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رقم الحديث ٥٨٥٦. البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ١٦١، كنز العمال رقم الحديث ١٣٨١. مجمع الزوائد رقم الحديث ١١٥ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ مُوَثَّقُونَ. مسند البزار رقم الحديث ١٦٩، و رقم الحديث ٥٩٩٠، الابانة الكبرى لابن بطة رقم الحديث ٨٣٠، و رقم الحديث ٨٣٢.

(۲) السجدة آية ١٧.

٢. په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديثِ قدسي ذکر دی، نبي عليه السلام فرمايي چې الله تعالى فرمائلي:

أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ، فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ ﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ﴾. (١)

ما د خپلو نېکانو بندګانو د پاره (په جنت کې) داسې نعمتونه تيار کړي دي چې نه خو (تر اوسه پورې هغه) سترګو ليدلي دي، نه غوږونو اوريدلي دي، او نه د يو انسان په زړه کې د هغې خيالات تېر شوي دي، که ستاسو خوښه وي (يعنى ددې تصديق کول غواړئ) نو د قرآن کريم دا آيت اُولولئ: (الله تعالى فرمايي:) پس هيڅ نفس ته دا معلومه نده چې د دوی د پاره د سترګو د يَخ والي څومره نعمتونه پټ ساتلي شوي.

## په جنت کې به د انسان هر خواهش پوره کيږي

په جنت کې به د انسان هر خواهش پوره کيږي:

١. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾. (٢)

ترجمه: او ستاسو د پاره به په دې جنت کې هغه څه وي کوم چې ستاسو زړونه غواړي، او ستاسو د پاره به په دې کې هغه څه وي کوم چې تاسو طلب کوئ.

(يعنى چې څه لذتونه او عزتونه مو زړه غواړي هغه به درته په جنت کې حاضر وي).

٢. بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ﴾. (٣)

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ .... صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٤٤ كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ ، و رقم الحديث ٤٧٧٩ كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ}. [السجدة: ١٧]. صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا رقم الحديث ٢(٢٨٢٤)

(٢) فصلت (حم السجدة) آية ٣١.

(٣) پوره آيت داسې دی: ﴿يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾. الزخرف آية ٧١.

Scanned with CamScanner

ترجمه : او په دې جنت کې به هغه څه وي چې کوم زړونه غواړي او سترګې خوشحالوي .

٣ . بل ځای فرمایي : ﴿ لَهُمْ مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾ . (١)

ترجمه : د دوی د پاره به په دې جنت کې هغه څه وي کوم چې دوی غواړي ، او مونږ سره نور زیات (نعمتونه) هم شته .

( همداسې مضمون د قرآن کریم په نورو آیتونو کې هم ذکر شوی ) . (٢)

٤ . نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو صحابي ته اوفرمایل :

.... يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ كَانَ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ . (٣)

اې د الله بنده ! که چیرته الله تعالی تا جنت ته داخل کړي نو ستا د پاره به په دې جنت کې هر هغه څه وي چې ستا زړه یې غواړي ، او ستا سترګې یې خوښوي .

## په جنت کې د زمیندارۍ کولو خواهش کول ، او سمدست پوره کیدل

د بخاري شریف حدیث دی ، د حضرت ابوهریرة رضی الله عنه نه روایت دی چې یوه ورځ د رسول

---

(١) ق آية ٣٥ .

(٢) یو څو آیتونه درته ذکر کوم : ﴿لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴾ . الفرقان آية ١٦
﴿ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ كَذَٰلِكَ يَجْزِى اللهُ الْمُتَّقِينَ ﴾. النحل آية ٣١.
﴿ لَهُم مَّا يَشَآءُونَ عِندَ رَبِّهِمْ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيرُ ﴾. الشوری آية ٢٢ .
﴿ لَهُمْ فِيهَا فَٰكِهَةٌ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴾ يس آية ٥٧ .

(٣) پوره حدیث داسې دی : عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ . فَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ ؟ قَالَ: « إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ فَلَا تَشَاءُ أَنْ تَرْكَبَ فَرَسًا مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ تَطِيرُ بِكَ فِي أَيِّ الْجَنَّةِ شِئْتَ إِلَّا رَكِبْتَ » . وَأَتَاهُ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! أَفِي الْجَنَّةِ إِبِلٌ ؟ قَالَ: « يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ كَانَ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ » . مسند احمد مخرجا حَدِيثُ بُرَيْدَةَ الْأَسْلَمِيِّ رقم الحديث ٢٢٩٨٢ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٣٩٩١ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ خَيْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٤٣ ، مسند البزار رقم الحديث ٤٣٧٧ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٥٠٢٣ ، مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفصل الثاني رقم الحديث ٥٦٣٢(٣١) .

الله صلی الله علیه وسلم سره د باندې (أطرافو) یو کس ناست ؤ، نبي علیه السلام دا حدیث بیانولو چې: یو جنتي به د الله تعالی نه د زمینداری (زراعت کولو) اِجازت طلب کړي، الله ﷻ به ورته اوفرمایي: أَوَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ؟

آیا ته چې څه غواړی هغه ټول نعمتونه د تاسره موجود ندي؟
(یعنی هر قسمه نِعمت درسره شته نو بیا کرونډې ته ستا څه ضرورت دی؟)

دا جنتي به ورته اووایي: بَلَى، وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ.
آو (د ما سره هر قسمه نعمتونه شته) خو لیکن زما دا خواهش دی چې زمینداري اوکړم. (پس ده ته به اجازت ورکړې شي). پس دا جنتي به د جنت په زمکه کې تُخم اُوکري. نو د سترګو په رَپ کې به د فصل زَرغونیدل، غټیدل، او لو کیدل اوشي، د غرونو په اندازه به د غَلو بارونه اُولړې، نو الله تعالی به دې جنتي ته اوفرمایي:

دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ، فَإِنَّهُ لَا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ.
اې د آدم ځویه! دا دَرواخله (ستا خواهش پوره شو) حقیقت دادی چې ستا د حِرص خِېټه هیڅ شی نشي ډکولی.
(یعنی د انسان په فِطرت کې حِرص پروت دی، ځکه دومره ډیر نِعمتونه ورسره شته خو بیا هم د زمینداری خواهش کوي).
دې باندیچي نبي علیه السلام ته اوفرمایل: اې د الله رسوله! دا خواهش کوونکی کس به یا د قریشو وي او یا به د انصارو وي (یعنی یا به د مکې معظمې کس وي او یا به د مدینې منوّرې کس وي) ځکه دوی زمینداري کوي، او مونږ (د باندې خلق) خو زمینداري نه کوو. (مونږ خو صرف په ځنګلو کې اُوښان او چیلۍ څروُو).

فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ.
نو (د باندیچې دې خبرې اَوریدو سره) رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اُوخندل. (١)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ؓ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا يُحَدِّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ: "أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اِسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ، فَقَالَ لَهُ: أَوَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ؟ قَالَ: بَلَى، وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ، فَأَسْرَعَ وَبَذَرَ. فَتَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ وَتَكْوِيرُهُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ، فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: ←←

Scanned with CamScanner

# جنت د آرام ځای دی هيڅ تکليف په کې نشته

جنتيان به په جنت کې ډير آرام و راحت، اطمينان او سکون سره وي.

١. الله ربّ العزت فرمايي: ﴿ أَصْحَٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا ﴾. (١)

ترجمه: جنتيان به په دغه ورځ په ډيره ښه اَستوګنه او ډير ښه د آرام په ځای کې وي.

٢. الله تعالى د جنت په باره کې دا هم فرمايي:

﴿ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴾. (٢)

ترجمه: دوی به په دې جنت کې هميشه وي، دا د اَستوګنې ښه ځای او ښه مقام دی.

٣. همدارنګې جنتيانو ته به په جنت کې هيڅ مشقت او ستړې والې نه وي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿ لَا يَمَسُّهُمْ فِيهَا نَصَبٌ وَمَا هُم مِّنْهَا بِمُخْرَجِينَ ﴾. (٣)

ترجمه: دوی ته به پدې جنت کې نه څه تکليف (ستړې والې) رسي، او نه به دوی ددينه ويستلې شي.

٤. چې کله جنتيان جنت ته لاړ شي نو دوی به هلته د الله تعالى حمد و شکر اداء کړي او دا به اُو فرمايي: ﴿ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴾. (٤)

ترجمه: نه به مونږ ته په دې جنت کې څه تکليف رارسي، او نه به مونږ ته په دې کې څه

---

←←← دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ، فَإِنَّهُ لَا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ". فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ: يَا رَسُولَ اللهِ! لَا تَجِدُ هَذَا إِلَّا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا، فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ. فَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ. فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ. صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٧٥١٩، و رقم الحديث ٢٣٤٨ كِتَابُ الْمُزَارَعَةِ بَابُ كِرَاءِ الْأَرْضِ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ. مسند البزار رقم الحديث ٨٧٥٩، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَاب صفة الجنة وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ٥٦٥٣(٤٢). البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٩٢.

(١) الفرقان آية ٢٤.

(٢) الفرقان آية ٧٦.

(٣) الحجر آية ٤٨.

(٤) پوره آيتونه داسې دي: ﴿ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ ۖ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ۝ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِن فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴾. فاطر آية ٣٤، ٣٥.

Scanned with CamScanner

ستوماني ( سترې والې ) رارسي.

## جنتيان به په خوشحالۍ ژوند تيروي

جنتيان به په جنت کې په خوشحالۍ ژوند تيروي.

۱ . د قيامت په ورځ چې چاته عملنامه په خي لاس کې ورکړې شي او جنت ته داخل شي نو الله ﷻ د داسې کس په باره کې فرمايي: ﴿ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴾.(۱)

ترجمه: پس هغه به د خوښې (مزو) په ژوند کې وي، په اوچت جنت کې به وي.

۲ . جنتيان به په نعمتونو کې خوشحاله وي. الله تعالى فرمايي:

﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ۝ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ۝ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾.(۲)

ترجمه: بيشکه متقيان به په باغونو او نعمتونو کې وي، دوی به په هغه نعمتونو باندې خوشحاله وي کوم چې ورته خپل رب ورکړي، او (دوی به په دې باندې هم خوشحاله وي) چې خپل رب دوی د جهنم د عذاب نه بچ کړي، (دوی ته به وويلې شي:) تاسو خورئ او څکئ ښه په مزو (خوشحالو) سره، دا په سبب د هغه نېکو اعمالو سره دي کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.

۳ . جنتيان به د نورو نعمتونو سره سره ددې د وجې هم خوشحاله وي چې هلته به موسم هم ښه وي، ګرمي او يخني به په کې نه وي.

الله ربّ العزت فرمايي: ﴿ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴾. (۳)

ترجمه: دوی به په دې جنت کې ګرمي او يخني نه ګوري. (۴)

---

(۱) الحاقة آية ۲۱ ، ۲۲ .

(۲) الطور آية ۱۷ تا ۱۹ .

(۳) الدهر (الانسان) آية ۱۳ .

(۴) (لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا) أَيْ صَيْفًا وَلَا شِتَاءً. قَالَ مُقَاتِلٌ يَعْنِي شَمْسًا يُؤْذِيهِمْ حَرُّهَا، وَلَا زَمْهَرِيرًا يُؤْذِيهِمْ بَرْدُهُ، لِأَنَّهُمَا يُؤْذِيَانِ فِي الدُّنْيَا. وَالزَّمْهَرِيرُ: الْبَرْدُ الشَّدِيدُ. تفسير البغوي ج٥ ص ۱۹۳ ← ← ←

Scanned with CamScanner

## په جنت کې به فضول خبرې، د ګناه خبرې، او دروغ بالکل نه وي

په په جنت کې به فضول خبرې، د ګناه خبرې، او دروغ بالکل نه وي، بلکه د هر طرف نه به د سلام آواز راځي. د قرآن کریم په مختلفو آیتونو کې همدا مضمون ذکر دی:

۱. الله تعالی فرمایي:

﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ۝ إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا ﴾. (۱)

ترجمه: جنتیان به په جنت کې فضول خبرې او د ګناه خبرې (بالکل) نه اوري، مګر (د هر طرف نه) د سلام سلام وینا به اوري.

۲. په سورة مریم کې ذکر دي: ﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلَامًا ﴾. (۲)

ترجمه: دوی به په دې جنت کې عبث خبرې نه اوري، مګر سلام به اوري.

۳. بل ځای ذکر دي: ﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّابًا ﴾. (۳)

ترجمه: دوی به په دې جنت کې عبث خبرې او دروغ نه اوري.

## جنتیان به په جنت کې همیشه اُوسیږي

جنتیان چې کله جنت ته داخل شي نو بیا به په کې همیشه اُوسیږي، هیڅ کله به د دینه نشي ویستلی.

۱. د قرآن کریم په ډیرو ځایونو کې چې کله الله تعالی د جنت تذکره کړې نو دا یې

←←← وقوله تعالى: (لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا) أَيْ لَيْسَ عِنْدَهُمْ حَرٌّ مُزْعِجٌ وَلَا بَرْدٌ مُؤْلِمٌ بَلْ هِيَ مِزَاجٌ وَاحِدٌ دَائِمٌ سَرْمَدِيٌّ. تفسير ابن كثير (تفسير القرآن العظيم) ج۸ ص۲۹۷ سورة الدهر آية ۱۳.

(۱) الواقعة آية ۲۵، ۲۶.

(۲) مريم آية ۶۲.

په سورة الغاشية کې ذکر دي: ﴿ لَا تَسْمَعُ فِيهَا لَاغِيَةً ﴾ الغاشية آية ۱۱.

ترجمه: دوی به په دې جنت کې فضول خبرې نه اوري.

(۳) النبأ آية ۳۵.

Scanned with CamScanner

ورسره هم اکثر فرمايلي: ﴿خٰلِدِيْنَ فِيْهَا﴾. (۱)

ترجمه: جنّتيان به پدې جنت کې هميشه وي.

۲. په بعضو ځايونو کې د تاکيد د پاره ورسره اضافه هم شوې:

﴿خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا﴾. (۲) دوی به په دې جنت کې هميشه دائمًا وي.

۳. په سورة النساء کې ورسره نور تاکيدات هم ذکر دي:

﴿خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا﴾. (۳)

ترجمه: دوی به په دې جنت کې هميشه دائمًا وي، دا د الله تعالى رښتينې وعده ده، او په خبره کې د الله نه زيات رښتينې بل څوک دی؟ (يعنی د الله تعالى خبره رښتينې ده)

۴. جنتيان چې کله جنت ته داخلېږي نو دوی ته به ويلې شي:

﴿فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ﴾. (۴)

ترجمه: تاسو دې جنت ته داخل شئ، هميشه به په کې يئ.

## جنتيان به جنت ته په اطمينان او سکون سره داخلېږي

جنتيان به جنت ته په ډېر اطمينان او سکون سره داخلېږي، او په دوی باندې به

(۱) د يو څو آيتونو حوالې درته رانقل کوم: آل عمران آية ۱۵، و آية ۱۳۶، و آية ۱۹۸، النساء آية ۱۳، المائدة آية ۸۵، التوبة آية ۷۲، و آية ۸۹، ابراهيم آية ۲۳، الكهف آية ۱۰۹، الفرقان آية ۷۶، العنكبوت آية ۵۸، لقمان آية ۹، الفتح آية ۵، الحديد آية ۱۲، المجادلة آية ۲۲.

(۲) دا مضمون په څو آيتونو کې ذکر دی: النساء آية ۵۷، المائدة آية ۱۱۹، التوبة آية ۲۲، و آية ۱۰۰، التغابن آية ۹، الطلاق آية ۱۱، البينة آية ۸.

(۳) پوره آيت داسې دی: ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا﴾. النساء آية ۱۲۲.

(۴) الزمر آية ۷۳. / په سورة ق کې ذکر دي، چې دوی ته به جنت ته د داخليدو په وخت ويلې شي:

﴿اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ؕ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ﴾. ق آية ۳۴.

ترجمه: تاسو جنت ته په سلامتيا سره داخل شئ، همدا د هميشه اوسيدو ورځ ده.

Scanned with CamScanner

هیڅ یَره او غم نه وي.

په قرآن کریم کې ذکر دي چې جنتیانو ته به د قیامت په ورځ وویل شي:

﴿ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَآ اَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴾. (١)

ترجمه: تاسو جنت ته داخل شئ، نه به په تاسو باندې څه یره وي، او نه به تاسو غمجن یَی.

بل ځای ذکر دي چې جنّتیانو ته به وویلې شي: ﴿ اُدْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ اٰمِنِيْنَ ﴾. (٢)

ترجمه: تاسو جنت ته په سلامتیا او آمن سره داخل شئ.

## جنتیان به جنت ته ډلې ډلې د وَفد په شکل داخلیږي

١. جنّتیان به جنت ته ډلې ډلې د وَفد په شکل داخلیږي، الله تعالی فرمایي:

﴿ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۭ حَتّٰٓى اِذَا جَاۗءُوْهَا وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴾. (٣)

ترجمه: او کوم خلق چې د خپل رب نه ویریدل نو هغوی به جنت ته ډلې ډلې روان کړې شي، تر دې چې کله دوی دې جنت ته راشي نو (د دوی د اِعزاز د پاره) د مخکې نه به دوی ته د جنت دروازې کلاؤ کړې شوي وي، او د جنت نِگرانې فرښتې به دوی ته اُووایي: په تاسو دې سلام وي، تاسو د گناهونو نه پاک (او خوشحاله) شوئ، پس تاسو دې جنت ته د همیشه د پاره ورداخل شئ.

**فایده**: ددې آیت نه دا هم معلومه شوه چې جنّتیانو ته به د دوی د تعظیم په وجه د جنت دروازې د مخکې نه کلاؤ کړې شوي وي. (٤)

---

(١) الاعراف آية ٤٩.

(٢) الحجر آية

(٣) الزمر آية ٧٣.

په سورة مریم کې ذکر دي: ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴾. مريم آية ٨٥.

(٤) قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ وَفُتِحَتْ أَبْوابُها ﴾ فَإِنْ قِيلَ قَالَ أَهْلُ النَّارِ فُتِحَتْ أَبْوابُها بِغَيْرِ الْوَاوِ. وَقَالَ ←←←←

Scanned with CamScanner

۲. په بخاري شریف د جنتیانو جنت ته د داخلیدو کیفیت دا بیان شوی :

... مُتَمَاسِكِينَ، آخِذٌ بَعْضُهُمْ بِبَعْضٍ، حَتَّى يَدْخُلَ أَوَّلُهُمْ وَآخِرُهُمُ الْجَنَّةَ. (١)

جنتیان به جنت ته داسې داخلیږي چې بعضو به د بعضو لاسونه نیولي وي تر دې چې د دوی اوّلنې او آخرني ټول به جنت ته داخل شي.

## د جنتیانو مخونه به د ډیر ښائست په وجه ځلیږي

د قیامت په ورځ به د جنّتیانو مخونه د ډیر ښائست په وجه رُوښانه او خوشحاله وي.

۱. الله تعالی فرمایي :

﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُسْفِرَةٌ ۝ ضَاحِكَةٌ مُسْتَبْشِرَةٌ ﴾. (٢)

---

←←← هَاهُنَا بِالْوَاوِ فَمَا الْفَرْقُ؟ قُلْنَا: الْفَرْقُ أَنَّ أَبْوَابَ جَهَنَّمَ لَا تُفْتَحُ إِلَّا عِنْدَ دُخُولِ أَهْلِهَا فِيهَا، فَأَمَّا أَبْوَابُ الْجَنَّةِ فَفَتْحُهَا يَكُونُ مُتَقَدِّمًا عَلَى وُصُولِهِمْ إِلَيْهَا بِدَلِيلِ قَوْلِهِ ﴿ جَنَّاتِ عَدْنٍ مُفَتَّحَةً لَهُمُ الْأَبْوَابُ [ص: ٥٠] فَلِذَلِكَ جِيءَ بِالْوَاوِ كَأَنَّهُ قِيلَ: حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَقَدْ فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا. الْقَيْدُ الثَّالِثُ: قَوْلُه ﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴾ فَبَيَّنَ تَعَالَى أَنَّ خَزَنَةَ الْجَنَّةِ يَذْكُرُونَ لِأَهْلِ الثَّوَابِ هَذِهِ الْكَلِمَاتِ الثَّلَاثَ فَأَوَّلُهَا: قَوْلُهُمْ ﴿ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴾ وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُمْ يُبَشِّرُونَهُمْ بِالسَّلَامَةِ مِنْ كُلِّ الْآفَاتِ. وَثَانِيهَا: قَوْلُهُمْ ﴿ طِبْتُمْ ﴾ وَالْمَعْنَى طِبْتُمْ مِنْ دَنَسِ الْمَعَاصِي وَطَهُرْتُمْ مِنْ خُبْثِ الْخَطَايَا. وَثَالِثُهَا: قَوْلُهُمْ ﴿ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴾ وَالْفَاءُ فِي قَوْلِهِ فَادْخُلُوهَا يَدُلُّ عَلَى كَوْنِ ذَلِكَ الدُّخُولِ مُعَلَّلًا بِالطِّيبِ وَالطَّهَارَةِ. التفسير الكبير ج ۲۷ ص ٤٨٠.

﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ ﴾ يُرِيدُ أَنَّ خَزَنَةَ الْجَنَّةِ يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِمْ وَيَقُولُونَ طِبْتُمْ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: طَابَ لَكُمُ الْمُقَامُ. تفسير البغوي ج ۴ ص ١٠٢.

(١) عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا، أَوْ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفٍ - شَكَّ فِي أَحَدِهِمَا - مُتَمَاسِكِينَ، آخِذٌ بَعْضُهُمْ بِبَعْضٍ، حَتَّى يَدْخُلَ أَوَّلُهُمْ وَآخِرُهُمُ الْجَنَّةَ، وَوُجُوهُهُمْ عَلَى ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ» صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ رقم الحديث ٦٥٤٣. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٥٧٨٢، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٣٦٩٦(٣) فصل في صفة دخول اهل الجنة وغير ذلك.

(٢) عبس آية ٣٨، ٣٩.

ترجمه : څه مخونه به په دغه ورځ باندې روښانه ، خنديدونکي او خوشحاله وي .

**۲ . بل ځای فرمايي :**

﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ۝ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ۝ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ﴾ (١)

ترجمه : بيشکه نېکان خلق به (د جنت) په نعمتونو کې وي ، په تختونو باندې به ناست وي گوري به (يعنی د نعمتونو سېل به کوي) ، ته به د هغوی په مخونو باندې د نعمتونو تازگي پېژنې .

(يعنی چې کله ورته او گوری نو تاته به پته لږي چې دا خلق په نعمتونو کې دي ؛ ځکه د دوی په مخونو کې به يو نُور ، حُسن او تازگي وي) . (٢)

**۳ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :**

إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ عَلَى أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً ... (٣)

بيشکه د ټولو نه اول چې (د انبياء کرامو) کومه ډله جنت ته داخلېږي نو هغوی به د څوارلسمې شپې سپوږمۍ په شان (مُنوّر) وي ، بيا چې ددېنه پس (د اولياؤ ، علماؤ ،

---

(١) المطففين آية ٢٢ ، ٢٤ .

(٢) ﴿ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴾ إِذَا رَأَيْتَهُمْ عَرَفْتَ أَنَّهُمْ مِنْ أَهْلِ النِّعْمَةِ مِمَّا تَرَى فِي وُجُوهِهِمْ مِنَ النُّورِ وَالْحُسْنِ وَالْبَيَاضِ . قَالَ الْحَسَنُ : اَلنَّضْرَةُ فِي الْوَجْهِ وَالسُّرُورُ فِي الْقَلْبِ . تفسير البغوي ج٥ ص ٢٢٦ .

(٣) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ عَلَى أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً ، لَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ، وَلَا يَتْفِلُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ، أَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ، وَ رَشْحُهُمُ الْمِسْكُ، وَمَجَامِرُهُمُ الْأَلُوَّةُ الْأَلَنْجُوجُ عُودُ الطِّيبِ ، وَأَزْوَاجُهُمُ الْحُورُ الْعِينُ، عَلَى خَلْقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمْ آدَمَ، سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ» . صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ رقم الحديث ٣٣٢٧ ، و رقم الحديث ٣٢٤٦ ، و رقم الحديث ٣٢٥٤ . صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَصِفَاتُهُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ رقم الحديث ١٥(٢٨٣٤) سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٦٥ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦١٩(٨) . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٥٠١٠ .

Scanned with CamScanner

شهيدانو ، او صالحينو ) کومه ډله دخليږي هغوی به په آسمان کې د هغه روښانه ستوري په شان وي کوم چې ډير تېز پرقيږي. (١)

۴. په يو حديث کې دا هم ذکر دي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي زُمْرَةٌ هُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا، تُضِيءُ وُجُوهُهُمْ إِضَاءَةَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ. (٢)

زما د اُمت يوه ډله به جنت ته داخليږي ، د دوی تعداد به اَويا زره ( ٧٠٠٠٠ ) وي ، د دوی مخونه به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان پرقيږي .

**نوټ** : عرب عام طور د ډيروالي د پاره د اَويا زره عدد استعمالوي ، په دې حديث کې هم د اَويا زره نه خپله حقيقي معنٰی مراد نده ، بلکه ډيروالې مراد دی ، يعنی بې شميره خلق به جنت ته داخليږي . (٣)

۵. د بخاري شريف په يو بل حديث کې ذکر دي چې دا لويه ډله به بغير د حساب و کتاب نه جنت ته داخليږي . (۴)

---

(١) ( إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ ) أَيْ أَوَّلَ جَمَاعَةٍ، وَهُمُ الْأَنْبِيَاءُ وَالْأَوْلِيَاءُ. كَذَا قَالَهُ شَارِحٌ. وَالظَّاهِرُ أَنَّ الْمُرَادَ بِهِمُ الْأَنْبِيَاءُ خَاصَّةً (يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ) ، وَلَعَلَّ دُخُولَهَا عَلَى صُورَةِ الشَّمْسِ مُخْتَصٌّ بِنَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ تَعَالَى وَسَلَّمَ ( ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ) أَيْ: يَقْرُبُونَ تِلْكَ الزُّمْرَةَ فِي قُرْبِ الْمَرْتَبَةِ مِنَ الْأَوْلِيَاءِ وَالْعُلَمَاءِ وَالشُّهَدَاءِ وَالصُّلَحَاءِ. مرقاة المفاتيح ج٩ ص ٣٥٨٠ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا في تشريح رقم الحديث ٥٦١٩ .

(٢) پوره حديث داسې دی : عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ رَحِمَهُ اللَّهُ : أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، حَدَّثَهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي زُمْرَةٌ هُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا، تُضِيءُ وُجُوهُهُمْ إِضَاءَةَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ » وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ الْأَسَدِيُّ رضي الله عنه يَرْفَعُ نَمِرَةً عَلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، قَالَ: « اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ » ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! ادْعُ اللهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، فَقَالَ: « سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ رقم الحديث ٦٥٤٢ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى دُخُولِ طَوَائِفَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ رقم الحديث ٣٦٩(٢١٦) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٩٢٠٢ .

(٣) تفهيم البخاري ج٣ ص ٥٤٠ .

(۴) پوره حديث داسې دی : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ←←←←

Scanned with CamScanner

# جنتیانو ته به په جنت کې د الله تعالی دیدار نصیب کیږي

د قرآن کریم د آیتونو ، صحیح احادیثو ، د ټولو صحابه کرامو ، تابعینو او اِجماعِ اُمت نه دا خبره ثابته ده چې جنتیانو ته به په جنت کې د الله تعالی دیدار نصیب کیږي . او دا عقلاً هم ممکن دی .

( ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې د امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ او امام قشیري رَحِمَهُ اللَّهُ په حوالې سره دا خبره په تفصیل سره ذکر کړی ) (١)

←←← " عُرِضَتْ عَلَيَّ الأُمَمُ، فَأَخَذَ النَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ الأُمَّةُ ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ النَّفَرُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ العَشَرَةُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ مَعَهُ الخَمْسَةُ، وَالنَّبِيُّ يَمُرُّ وَحْدَهُ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا سَوَادٌ كَثِيرٌ، قُلْتُ: يَا جِبْرِيلُ ! هَؤُلاَءِ أُمَّتِي ؟ قَالَ: لاَ، وَلَكِنِ انْظُرْ إِلَى الأُفُقِ، فَنَظَرْتُ فَإِذَا سَوَادٌ كَثِيرٌ، قَالَ: هَؤُلاَءِ أُمَّتُكَ، وَهَؤُلاَءِ سَبْعُونَ أَلْفًا قُدَّامَهُمْ لاَ حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلاَ عَذَابَ، قُلْتُ: وَلِمَ؟ قَالَ: كَانُوا لاَ يَكْتَوُونَ، وَلاَ يَسْتَرْقُونَ، وَلاَ يَتَطَيَّرُونَ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ " فَقَامَ إِلَيْهِ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ ﷺ ، فَقَالَ : ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ . قَالَ: « اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ » . ثُمَّ قَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ آخَرُ قَالَ: ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ، قَالَ: « سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: يَدْخُلُ الجَنَّةَ سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ رقم الحديث ٦٥٤١ .

(١) وَقَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : اِعْلَمْ أَنَّ مَذْهَبَ أَهْلِ السُّنَّةِ قَاطِبَةً أَنَّ رُؤْيَةَ اللهِ تَعَالَى مُمْكِنَةٌ غَيْرُ مُسْتَحِيلَةٍ عَقْلًا، وَأَجْمَعُوا أَيْضًا عَلَى وُقُوعِهَا فِي الْآخِرَةِ أَيْ نَقْلًا وَأَنَّ الْمُؤْمِنِينَ يَرَوْنَ اللهَ تَعَالَى دُونَ الْكَافِرِينَ، وَزَعَمَتْ طَوَائِفُ مِنْ أَهْلِ الْبِدَعِ الْمُعْتَزِلَةِ وَالْخَوَارِجِ وَبَعْضِ الْمُرْجِئَةِ أَنَّ اللهَ تَعَالَى لَا يَرَاهُ أَحَدٌ مِنْ خَلْقِهِ، وَأَنَّ رُؤْيَتَهُ مُسْتَحِيلَةٌ عَقْلًا، وَهَذَا الَّذِي قَالُوهُ خَطَأٌ صَرِيحٌ وَجَهْلٌ قَبِيحٌ، وَقَدْ تَظَاهَرَتْ أَدِلَّةُ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَإِجْمَاعِ الصَّحَابَةِ، فَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنْ سَلَفِ الْأُمَّةِ عَلَى إِثْبَاتِ رُؤْيَةِ اللهِ تَعَالَى فِي الْآخِرَةِ لِلْمُؤْمِنِينَ ، وَرَوَاهَا نَحْوُ عِشْرِينَ صَحَابِيًّا رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَآيَاتُ الْقُرْآنِ فِيهَا مَشْهُورَةٌ ، وَاعْتِرَاضَاتُ الْمُبْتَدِعَةِ عَلَيْهَا لَهَا أَجْوِبَةٌ مَسْطُورَةٌ فِي كُتُبِ الْمُتَكَلِّمِينَ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ . وَأَمَّا رُؤْيَةُ اللهِ تَعَالَى فِي الدُّنْيَا، وَلَكِنَّ الْجُمْهُورَ مِنَ السَّلَفِ وَالْخَلَفِ مِنَ الْمُتَكَلِّمِينَ وَغَيْرِهِمْ مِنْ أَنَّهَا تَقَعُ فِي الدُّنْيَا.

وَحَكَى الْإِمَامُ أَبُو الْقَاسِمِ الْقُشَيْرِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى فِي رِسَالَتِهِ الْمَعْرُوفَةِ، عَنِ الْإِمَامِ أَبِي بَكْرِ بْنِ فُورَكٍ أَنَّهُ حَكَى فِيهَا قَوْلَيْنِ لِلْإِمَامِ أَبِي الْحَسَنِ الْأَشْعَرِيِّ رَحِمَهُ اللهُ أَحَدُهُمَا : وُقُوعُهَا، وَالثَّانِي: لَا تَقَعُ. ثُمَّ مَذْهَبُ أَهْلِ الْحَقِّ أَنَّ الرُّؤْيَةَ قُوَّةٌ يَجْعَلُهَا اللهُ تَعَالَى فِي خَلْقِهِ، وَلَا يُشْتَرَطُ فِيهَا الْأَشِعَّةُ وَلَا مُقَابَلَةُ الْمَرْئِيِّ وَلَا غَيْرُ ذَلِكَ ←←←

د الله تعالی د دِيدار متلق درته يو څو آيتونه او احاديث رانقل کوم :

۱. الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۞ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾. (۱)

ترجمه : څه مخونه به په دغه ورځ باندې تر و تازه وي ، خپل رب ته به کتونکي وي.

۲. په سورة يونس کې ذکر دي :

﴿ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ﴾. (۲)

ترجمه : کومو خلقو چې نېک کارونه او کړل د هغوی د پاره ښه بدله ده ، او ( مونږ سره د دوی د پاره ) نور هم زيات نِعمتونه دي.

نبي عليه السلام د " وَزِيَادَةٌ " په تفسير کې پخپله فرمائلي چې د دينه مراد " د الله تعالی ديدار " دی. (۳)

---

←←← وَلَكِنْ جَرَتِ الْعَادَةُ فِي رُؤْيَةِ بَعْضِنَا بَعْضًا بِوُجُودِ ذَلِكَ عَلَى وَجْهِ الْإِتِّفَاقِ، لَا عَلَى سَبِيلِ الْإِشْتِرَاطِ، وَقَدْ قَرَّرَ أَئِمَّتُنَا الْمُتَكَلِّمُونَ ذَلِكَ بِالدَّلَائِلِ الْجَلِيَّةِ، وَلَا يَلْزَمُ مِنْ رُؤْيَةِ اللهِ تَعَالَى إِثْبَاتُ جِهَةٍ لَهُ تَعَالَى عَنْ ذَلِكَ، بَلْ يَرَاهُ الْمُؤْمِنُونَ لَا فِي جِهَةٍ كَمَا يَعْلَمُونَهُ لَا فِي جِهَةٍ. قُلْتُ: كَمَا يَرَانَا هُوَ لَا فِي جِهَةٍ وَلَا مُقَابَلَةٍ وَلَا غَيْرِ ذَلِكَ، وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ لَا يُقَاسُ الْغَائِبُ بِالشَّاهِدِ، لَا سِيَّمَا الْخَالِقَ بِالْمَخْلُوقِ ؛ وَلِذَا قِيلَ : لَا يُقَاسُ الْمُلُوكُ بِالْحَدَّادِينَ.
مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۹ ص ۳۶۰۱ بَابُ رُؤْيَةِ اللهِ تَعَالَى في تشريح حديث ۵۶۵۵ .

(۱) القيامة آية ۲۲، ۲۳.

(۲) يونس آية ۲۶.

(۳) وَعَنْ صُهَيْبٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ؟ فَيَقُولُونَ : أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ؟ " قَالَ: « فَيُرْفَعُ الْحِجَابُ فَيَنْظُرُونَ إِلَى وَجْهِ اللهِ فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ » ثُمَّ تَلَا ( لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ ) . مشكاة المصابيح باب رؤية الله تعالى الفصل الأول رقم الحديث ۵۶۵۶(۲) . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ إِثْبَاتِ رُؤْيَةِ الْمُؤْمِنِينَ فِي الْآخِرَةِ رَبَّهُمْ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى رقم الحديث ۲۹۷(۱۸۱) ، و رقم الحديث ۲۹۸(۱۸۱) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۸۹۳۵ . →→→→

٣. د بخاري شريف حديث دی، نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عِيَانًا. (١)

بيشكه تاسو به خپل رب په ښكاره ستركو (بې د شک و شبهې نه) گوری. (٢)

٤. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه فرمايي چې مونږ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، دوی د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته كتل، بيا يې اوفرمايل:

إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ، لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ.

بيشكه تاسو به خپل رب داسې گوری لكه څرنگې چې دا سپوږمۍ گوری، او د الله جل جلاله په ليدلو كې به پريشاني (او شک) نه محسوسوی. (٣)

---

←←← قَالَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللَّهُ: لَوْ لَمْ يَرَ الْمُؤْمِنُونَ رَبَّهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَمْ يُعَيِّرِ اللَّهُ الْكُفَّارَ بِالْحِجَابِ، وَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ [يُونس: ٢٦]، وَفَسَّرَهُ بِالنَّظَرِ إِلَى وَجْهِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ. تفسير البغوي ج٢ ص١٤٨.

(١) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} [القيامة آية ٢٣] رقم الحديث ٧٤٣٥. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الْخَلْقِ بَاب رؤية الله تَعَالَى الْفَصْل الأول رقم الحديث ٥٦٥٥(١)، المعجم الاوسط رقم الحديث ٨٠٥٦.

(٢) (إِنَّكُمْ) أَيْ أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ (سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ) أَيْ سَتُبْصِرُونَهُ. فَقَوْلُهُ: (عِيَانًا) بِالْكَسْرِ مَصْدَرٌ مُؤَكِّدٌ أَوْ حَالٌ مُؤَكِّدَةٌ إِمَّا مِنَ الْفَاعِلِ أَوِ الْمَفْعُولِ، أَيْ مُعَايِنِينَ بِكَسْرِ الْيَاءِ، أَوْ مُعَايَنًا بِفَتْحِ الْيَاءِ. وَالْمُعَايَنَةُ رَفْعُ الْحِجَابِ بَيْنَ الرَّائِي وَالْمَرْئِيِّ. فَفِي الْقَامُوسِ: لَقِيَهُ عِيَانًا أَيْ مُعَايَنَةً لَمْ يَشُكَّ فِي رُؤْيَتِهِ إِيَّاهُ. وَقَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللَّهُ: عِيَانًا أَيْ جِهَارًا، وَيَجُوزُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْعَيْنِ الْمَحْسُوسَةِ بِالْعَيْنِ الظَّاهِرَةِ. مرقاة المفاتيح باب رؤية الله تعالى ج ٩ ص ٣٦٠١.

(٣) عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رضي الله عنه، قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةً - يَعْنِي الْبَدْرَ - فَقَالَ: «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ، لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ، فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا» ثُمَّ قَرَأَ: {وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ} [ق: ٣٩]. قَالَ إِسْمَاعِيلُ: «افْعَلُوا لَا تَفُوتَنَّكُمْ». صحيح البخاري كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ ←←←←←

Scanned with CamScanner

یعنی لکه څرنګې چې تاسو دا سپوږمۍ په خپلو سترګو باندې بغیر د شک و شبهې نه ګورئ او ددې په لیدلو کې ګڼه ګونړه دیکې او پریشانې نه محسوسوئ نو همدغه شان به تاسو د قیامت په ورځ الله تعالی هم اوګورئ. (۱)

**۵.** همداسې مضمون په یو بل حدیث کې هم ذکر دی، حضرت ابورزین ﷺ فرمایي چې ما د نبي علیه السلام نه پوښتنه اوکړه:

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! أَكُلُّنَا يَرَى اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ؟ وَمَا آيَةُ ذٰلِكَ فِيْ خَلْقِهِ؟

اې د الله رسوله! آیا مونږ ټول به د قیامت په ورځ الله تعالی (بغیر د څه تکلیف نه) ګورو؟ او په مخلوقاتو کې ددې علامه (او مثال) څه شی دی؟

---

←←←← بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْعَصْرِ رقم الحديث ۵۵۴، و رقم الحديث ۵۷۳ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ ، و رقم الحديث ۴۸۵۱ كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوبِ} ، و رقم الحديث ۷۴۳۴ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ}. صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاتَيِ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ، وَالْمُحَافَظَةِ عَلَيْهِمَا رقم الحديث ۲۱۱ (۶۳۳)، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۴۷۲۹، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۵۵۴، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۶۵۵ (۱) بَابُ رُؤْيَةِ اللّٰهِ تَعَالَى الفصل الاول.

(۱) (إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ) أَيِ: الْمَحْسُوسَ الْمُشَاهَدَ الْمَرْئِيَّ ... (لَا تُضَامُونَ) بِضَمِّ التَّاءِ وَتَخْفِيفِ الْمِيمِ، مِنَ الضَّيْمِ وَهُوَ الظُّلْمُ. قَالَ الْحَافِظُ ابْنُ حَجَرٍ رحمه الله: وَهُوَ الْأَكْثَرُ أَيْ لَا يُظْلَمُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا بِالتَّكْذِيبِ وَالْإِنْكَارِ. وَفِي نُسْخَةٍ: بِفَتْحِ التَّاءِ وَتَشْدِيدِ الْمِيمِ مِنَ التَّضَامِّ بِمَعْنَى التَّزَاحُمِ، وَفِي أُخْرَى بِالضَّمِّ وَالتَّشْدِيدِ مِنَ الْمُضَامَّةِ، وَهِيَ الْمُزَاحَمَةُ، وَهُوَ حِينَئِذٍ يَحْتَمِلُ كَوْنَهُ لِلْفَاعِلِ وَالْمَفْعُولِ، وَحَاصِلُ مَعْنَى الْكُلِّ: لَا تَشُكُّونَ (فِي رُؤْيَتِهِ) أَيْ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ. قَالَ فِي جَامِعِ الْأُصُولِ: قَدْ يُخَيَّلُ إِلَى بَعْضِ السَّامِعِينَ أَنَّ الْكَافَ فِي قَوْلِهِ: "كَمَا تَرَوْنَ" كَافُ التَّشْبِيهِ لِلْمَرْئِيِّ، وَإِنَّمَا هُوَ كَافُ التَّشْبِيهِ لِلرُّؤْيَةِ، وَهُوَ فِعْلُ الرَّائِي، وَمَعْنَاهُ: تَرَوْنَ رَبَّكُمْ رُؤْيَةً يَنْزَاحُ مَعَهَا الشَّكُّ كَرُؤْيَتِكُمُ الْقَمَرَ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَا تَرْتَابُونَ فِيهِ وَلَا تَمْتَرُونَ. قَالَ: وَلَا تُضَامُونَ، رُوِيَ بِتَخْفِيفِ الْمِيمِ مِنَ الضَّيْمِ: الظُّلْمُ، الْمَعْنَى أَنَّكُمْ تَرَوْنَهُ جَمِيعُكُمْ لَا يَظْلِمُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فِي رُؤْيَتِهِ، فَيَرَاهُ الْبَعْضُ دُونَ الْبَعْضِ، وَبِتَشْدِيدِ الْمِيمِ مِنَ الِانْضِمَامِ بِمَعْنَى الْازْدِحَامِ أَيْ لَا يَزْدَحِمُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فِي رُؤْيَتِهِ، وَلَا يَضُمُّ بَعْضُكُمْ إِلَى بَعْضٍ مِنْ ضِيقٍ، كَمَا يَجْرِي عِنْدَ رُؤْيَةِ الْهِلَالِ مَثَلًا دُونَ رُؤْيَةِ الْقَمَرِ، فَإِنَّهُ يَرَاهُ كُلٌّ مِنْكُمْ مُوَسَّعًا عَلَيْهِ مُنْفَرِدًا بِهِ. مرقاة المفاتيح بَابُ رُؤْيَةِ اللّٰهِ تَعَالَى ج ۹ ص ۳۶۰۱.

Scanned with CamScanner

نبي علیه السلام (راته) اوفرمایل:

يَا أَبَا رَزِيْنٍ ! أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ مُخْلِيًا بِهِ ؟

اې ابورزین ! آیا په تاسو کې هر کس د څوارلسمې شپې سپوږمۍ بغیر د څه مزاحمت نه نه ګوري ؟

ما ورته جواب ورکړو : آو ، اې د الله رسوله ( مونږ هر کس بغیر د څه تکلیف نه د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ګورو ) .

نو نبي علیه السلام ( راته ) اوفرمایل : فَاللَّهُ أَعْظَمُ .

الله تعالی خو د ډیر عظمت او لويې خاوند دی .

یعنی چې کله هر کس سپوږمۍ بغیر د څه مزاحمت او تکلیف نه لیدلې شي حالانکه دا د الله تعالی مخلوق دی نو بیا الله تعالی خو پخپله د ډیر لوي قدرت خاوند دی هغه په دې باندې قادِر دی چې ټولو جنتیانو ته خپل دِیدار بغیر د څه مزاحمت نه نصیب کړي . (۱)

٦ . د مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي چې کله جنتیان جنت ته داخل شي نو الله تبارک و تعالی به ورته اوفرمايي :

تُرِيْدُوْنَ شَيْئًا أَزِيْدُكُمْ ؟

آیا تاسو ( د دغه موجوده نعمتونو نه علاوه ) د بل شي اِراده لرئ چې زه یې درته درکړم ؟

دوی به ورته جواب ورکړي : (اې زمونږه ربه ! ) آیا تا زمونږ مخونه سپین ( روښانه ) کړي ندي ؟ آیا تا مونږ جنت ته داخل کړي نه یو ؟ او مونږ ته دې د جهنم نه نِجات ندې راکړی ؟ ( نو چې کله دې راته دومره ډیر نِعمتونه راکړي نو مونږ نور څه اُوغواړو ؟ )

---

(۱) عَنْ أَبِي رَزِيْنٍ ﷺ ، قَالَ : قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَكُلُّنَا يَرَى اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ وَمَا آيَةُ ذٰلِكَ فِيْ خَلْقِهِ ؟ قَالَ : « يَا أَبَا رَزِيْنٍ ! أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ مُخْلِيًا بِهِ ؟» قَالَ: قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُوْلَ اللهِ . قَالَ : « فَاللَّهُ أَعْظَمُ » . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ١٦١٨٦ ، سنن ابي داؤد كِتَاب السُّنَّةِ بَابٌ فِي الرُّؤْيَةِ رقم الحدیث ۴۷۳۱ قال الالباني : حسن . سنن ابن ماجة رقم الحدیث ١٨٠ ، مشكاة المصابیح رقم الحدیث ۵۶۵۸(۴) بَاب رؤية الله تَعَالَى الفصل الثاني . كنزالعمال رقم الحدیث ٣٩٢٠٣ ، و رقم الحدیث ٣٩٢١٦ .

Scanned with CamScanner

نبي عليه السلام فرمايي :

فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ .

پس الله تعالى به حِجاب (پَرده) اُوچته کړي ( دوی به د الله تعالى ديدار اوکړي ) ، پس جنتيان به محسوسه کړي چې دوی ته د الله ﷻ د دِيدار نه محبوب ترين څيز بل ندې ورکړې شوی.

(يعنى د الله تعالى ديدار به په ټولو نِعمتونو کې محبوب ترين نِعمت اوګڼړي).

بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو :

﴿ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ﴾.(۱)

ترجمه : کومو خلقو چې نېک کارونه اوکړل د هغوی د پاره ښه بدله ده ، او زياتي نور نِعمت هم دی . (۲)

## جنتيانو نه د الله تعالى راضي کيدل

د جنتيانو نه به الله تعالى راضي وي ، او دوی ته به د مختلفو نِعمتونو زيري ورکوي.

۱ . په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَجَنَّاتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ مُّقِيمٌ ۞ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾.(۳)

---

(۱) يونس آية ۲۶ .

(۲) عَنْ صُهَيْبٍ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، قَالَ: يَقُولُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى : تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ ؟ فَيَقُولُونَ : أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا ؟ أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ، وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ ؟ قَالَ : فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ، فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ " ... ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: { لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ} [ يونس : ۲۶ ] . صحيح مسلم رقم الحديث ۲۹۷(۱۸۱) ، و رقم الحديث ۲۹۸(۱۸۱) . مشكاة المصابيح ۵۶۵۸(۴) بَاب رؤية الله تَعَالَى الفصل الاول رقم الحديث ۵۶۵۶(۲) ، كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۲۰۴ .

(۳) التوبة آية ۲۱ ، ۲۲ .

Scanned with CamScanner

ترجمه : د دوی رب به دوی ته زيرې ورکوي د خپل رحمت ، د (خپلې) رضامندۍ ، او د (داسې) جنتونو په کوم کې چې به د دوی د پاره دائمي نِعمتونه وي ، دوی به په دې جنتونو کې د تَل د پاره هميشه وي ، بيشکه د الله تعالی سره ډير لوي أجر دی .

٢ . بيا خاصکر د متقيانو سره خو د جنت د نِعمتونو او د الله تعالى د رَضامندۍ خصوصي وعده شوی . په سورة آل عمران کې ذکر دي :

﴿ لِلَّذِينَ اتَّقَوْا عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴾.(١)

ترجمه : کوم خلق چې پرهيزګار وي ( د الله ﷻ نه ويريږي ) د دوی د پاره د خپل رَب سره داسې جنتونه دي چې د هغې ( د اُونو ) لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په دې جنتونو کې هميشه وي ، د دوی د پاره به پاکيزه بيبيانې وي ، او د الله تعالى رَضامندي به وي .

٣ . په سورة البيّنه کې ذکر دي :

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۞ جَزَآؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۗ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۗ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ﴾.(٢)

---

(١) آل عمران آية ١٥ .

(٢) البيّنه آية ٧ ، ٨ .

( رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ) أَيْ رَضِيَ أَعْمَالَهُمْ . كَذَا قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ) . ( وَرَضُوْا عَنْهُ ) أَيْ رَضُوْا هُمْ بِثَوَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . (ذٰلِكَ) أَيِ الْجَنَّةُ . (لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ) أَيْ خَافَ رَبَّهُ ، فَتَنَاهَى عن المعاصي . تفسير القرطبي ج ٢٠ ص ١٣٦ .

( رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ) أي رَضِيَ اللهُ عَنْهم بما قدموا في الدنيا من الطاعات وفعل الصالحات ، ورضوا عنه بما أعطاهم من الخيرات والكرامات ( ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ) أي ذلك الجزاء والثواب الحسن لمن خاف الله واتقاه ، وانتهى عن معصية مولاه . صفوة التفاسير ج ٣ ص ٥٦١ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: بيشکه کومو خلقو چې اِيمان راوړو او نېک اعمال يې اوکړل نو همدا بهترين مخلوق دی، د دوی بدله د خپل رب سره د هميشه اُوسيدلو باغونه دي چې د هغې (د اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي، دوی به پدې کې هميشه وي، الله تعالی د دوی نه (د نېکو اعمالو په کولو سره) راضي شو، او دوی د الله تعالی نه (په ثواب ملاويدو سره) راضي شو، دا وعده د جنت د هغه چا د پاره ده چې هغه د خپل رب نه ويريږي.

٤. يقيني چې د الله تعالی رضامندي ډير لوي نِعمت او لويه کاميابي ده.

په سورة التوبة کې الله تعالی د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره د جنت او ددې د نِعمتونو وعده کړې، بيا فرمايي:

﴿ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾. (١)

ترجمه: او د الله تعالی رضامندي (ددې مذکوره) ټولو نِعمتونو نه لوي نعمت دی (او) همدا لويه کاميابي ده.

٥. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې الله تبارک و تعالی به جنّتيانو ته اُوفرمايي:

يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ؟ اې جنتيانو!

دوی به ورته جواب ورکړي: اې زمونږ ربه! مونږ ستا حکم منلو ته حاضر يو.

الله تعالی به ورته اوفرمايي:

هَلْ رَضِيتُمْ؟ آيا تاسو (د مانه په دې نعمتونو درکولو سره) راضي شوی؟

---

(١) پوره آيت داسې دی: ﴿ وَعَدَ اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ التوبة آية ٧٢.

ترجمه: الله تعالی د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره د (هغه) جنتونو وعده کړې د کوم نه لاندې چې به نهرونه بهيږي، دوی به په هغې کې هميشه وي، او د داسې پاکيزه مکانونو وعده يې ورسره کړې کوم چې به د هميشه اُوسيدو په جنت کې وي، او د الله تعالی رضامندي (ددې مذکوره) ټولو نِعمتونو نه لوي نعمت دی (او) همدا لويه کاميابي ده.

Scanned with CamScanner

دوی به ورته اووایي :

(اې ربه ! ) مونږ به ولې نه راضي کیږو حالانکه تا خو مونږ ته داسې نِعمتونه راکړي کوم چې دې په مخلوقاتو کې بل هیچا ته ندي ورکړي ( لهذا مونږ د تا نه راضي یو ) .

الله تعالی به ورته او فرمایي :

أَنَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ .

زه به تاسو ته د دینه هم زیات افضل نعمت درکړم .

دوی به تپوس اوکړي : اې زمونږ ربه ! د دینه افضل نِعمت به بل څه شی وی ؟

الله جلّ جلاله به او فرمایي :

أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا .

زه به تاسو ته خپله رضا درکړم (یعنی همیشه به درنه خوشحاله یم ) د دینه پس به زه هیڅ کله د تاسو نه ناراضه نه شم . (۱)

**وضاحت** : د مخکیني آیت او د دې حدیث نه معلومه شوه چې د الله تعالی رضامندي دیر لوي نِعمت دی ؛ ځکه چې کله د انسان نه الله تعالیٰ راضي شي نو دا بیا د ټولو سعادتونو او کامیابو جَرړه ده .

اګر چې په جنت کې د الله تعالی دیدار د ټولو نه لوي نعمت دی خو دا دیدار به هم هغه چاته نصیب کیږي چې د هغه نه الله ﷻ راضي وي ، نو د ټولو نعمتونه جرړه همدا د الله

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ؟ فَيَقُولُونَ : لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ ، فَيَقُولُ: هَلْ رَضِيتُمْ ؟ فَيَقُولُونَ : وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ . فَيَقُولُ : أَنَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ . قَالُوا : يَا رَبِّ ! وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ ؟ فَيَقُولُ : أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا . صحیح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحدیث ٦٥٤٩ ، و رقم الحدیث ٧٥١٨ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ . صحیح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ إِحْلَالِ الرِّضْوَانِ عَلَى أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلَا يَسْخَطُ عَلَيْهِمْ أَبَدًا رقم الحدیث ٩ ( ٢٨٢٩) ، مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ١١٨٣٥ ، سنن الترمذي رقم الحدیث ٢٥٥٥ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ٧٤٤٠ . مشكاة المصابیح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَاب صفة الجنة وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الأول رقم الحدیث ٥٦٢٦(١٥) .

Scanned with CamScanner

تعالی رضامندي شوه. (١)

## د بنده نه د الله تعالی د راضي کیدو علامه

په دې حدیث کې ذکر شو چې الله تعالی به اول د جنّتیانو نه پوښتنه اوکړي چې آیا تاسو د مانه راضي یَئ؟ نو چې کله دوی ورته جواب ورکړي چې آو مونږ درنه راضي یو نو بیا به الله ﷻ هم ورته اوفرمایي چې زه هم درنه راضي یم.

د دینه معلومه شوه چې کله یو کس د الله تعالی نه راضي او خوشحاله وي نو دا علامه د دې ده چې الله ﷻ هم دده نه راضي دی.

د صحابه کرامو په باره کې دا خبره نقل ده چې دوی په دې خبره بحث او سوچ کولو چې:

" مونږ ته به دا څنګه معلومه شي چې الله تعالی د مونږ نه راضي دی؟ "

آخر دوی په دې باندې اتفاق اوکړو چې کله مونږ د الله تعالی نه راضي او خوشحاله یو نو بیا مونږ له یقین پکار دی چې الله ﷻ هم د مونږ نه راضي او خوشحال دی. (٢)

---

(١) (أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي) أَيْ دَوَامَ رِضْوَانِي، فَإِنَّهُ لَا يَلْزَمُ مِنْ كَثْرَةِ الْعَطَاءِ دَوَامُ الرِّضَا، وَلِذَا قَالَ: (فَلَا أَسْخَطُ) أَيْ لَا أَغْضَبُ (عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا). ثُمَّ اللِّقَاءُ يَتَرَتَّبُ عَلَى الرِّضَا مِنَ الرَّبِّ الْمُتَفَرِّعِ عَلَى الرِّضَا مِنَ الْعَبْدِ لِلْقَضَاءِ تَرْتِيبَ الْبَقَاءِ بَعْدَ تَحَقُّقِ الْفَنَاءِ.

قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ رَحِمَهُ اللهُ: فِي الْحَدِيثِ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّ رِضْوَانَ اللهِ تَعَالَى عَلَى الْعَبْدِ فَوْقَ إِدْخَالِهِ إِيَّاهُ الْجَنَّةَ.

قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: اَلْحَدِيثُ مَأْخُوذٌ مِنْ قَوْلِهِ تَعَالَى: { وَعَدَ اللهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ وَرِضْوَانٌ مِنَ اللهِ أَكْبَرُ } [ التوبة: ٧٢ ] الْكَشَّافُ: إِنَّمَا أَكْبَرُ مِنْ ذَلِكَ كُلِّهِ لِأَنَّ رِضَاهُ سَبَبُ كُلِّ فَوْزٍ وَسَعَادَةٍ، لِأَنَّهُمْ يَنَالُونَ بِرِضَاهُ عَنْهُمْ تَعْظِيمَهُ وَكَرَامَتَهُ، وَالْكَرَامَةُ أَكْبَرُ أَصْنَافِ الثَّوَابِ، لِأَنَّ الْعَبْدَ إِذَا عَلِمَ أَنَّ مَوْلَاهُ رَاضٍ عَنْهُ فَهُوَ أَكْبَرُ فِي نَفْسِهِ مِمَّا وَرَاءَهُ مِنَ النِّعَمِ، وَإِنَّمَا يَتَهَيَّأُ لَهُ بِرِضَاهُ، كَمَا يَنْتَقِضُ عَلَيْهِ بِسُخْطٍ وَلَمْ يَجِدْ لَهَا لَذَّةً وَإِنْ عَظُمَتْ.

قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ وَأَكْبَرُ أَصْنَافِ الْكَرَامَةِ رُؤْيَةُ اللهِ تَعَالَى. قُلْتُ: وَلَعَلَّ الرِّضْوَانَ أَكْبَرُ لِاشْتِمَالِهِ عَلَى تَحْصِيلِ اللِّقَاءِ وَسَائِرِ أَنْوَاعِ النَّعْمَاءِ. مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٥٨٥ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

(٢) مظاهر حق ج٩ باب صفة الجنة واهلها.

# جنتیانو سره د الله تعالی خبرې

د قرآن کریم او احادیثو نه صراحةً دا خبره معلومیږي چې د جنّتیانو سره به الله تعالی خبرې کوي.

امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په دې باندې مستقل باب قائم کړی:

بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ.

باب دی په بیان ددې کې چې الله تعالی به د جنتیانو سره خبرې کوي.

بیا امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ ددې باب لاندې هغه حدیث راوړی په کوم کې چې الله تعالی د جنتیانو سره خبرې کړي. (١)

په بخاري شریف کې دا حدیث هم ذکر دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ، وَلَا حِجَابٌ يَحْجُبُهُ. (٢)

---

(١) هغه حدیث پاس د ترجمې سره ذکر شو: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ؟ فَيَقُولُونَ: لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ..... صحیح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٧٥١٨.

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} [القيامة: ٢٣] رقم الحديث ٧٤٤٣.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْكُمْ أَحَدٌ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ، فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ، وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ، وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ، فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ".... «وَلَوْ بِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ». صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الْأَنْبِيَاءِ وَغَيْرِهِمْ رقم الحديث ٧٥١٢. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٨٢٤٦، سنن الترمذي رقم الحديث ٢٤١٥، سنن ابن ماجة رقم الحديث ١٨٥، ورقم الحديث ١٨٤٣، مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق بَابُ الحساب والقصاص والميزان الفصل الاول رقم الحديث ٥٥٥٠(٢)

**نوټ**: د "ترجمان" د لفظ، ددې د اعراب او ددې د معنی متعلق تحقیق درته رانقل کوم:

(تَرْجُمَانٌ): بِفَتْحِ الْفَوْقِيَّةِ وَسُكُونِ الرَّاءِ وَضَمِّ الْجِيمِ، وَيَجُوزُ ضَمُّهُ إِتْبَاعًا عَلَى مَا فِي نُسْخَةٍ، وَكَزَعْفَرَانٍ عَلَى مَا فِي الْقَامُوسِ، أَيْ: مُفَسِّرٌ لِلْكَلَامِ بِلُغَةٍ عَنْ لُغَةٍ، يُقَالُ: تَرْجَمْتُ عَنْهُ، وَالْفِعْلُ يَدُلُّ عَلَى ←←←←

په تاسو کې به د هر کس سره خپل رب ( د قيامت په ورځ ) خبرې کوي ، د الله تعالى او دده په مينځ کې به هيڅ ترجمان نه وي ، او داسې مانع به هم نه وي چې دا بنده د خپل رب نه منع کړي .

ددينه علاوه په نورو ډيرو احاديثو کې هم د الله تعالى د خپلو بندګانو سره د خبرو کولو تذکره راغلى .(١)

---

←←← أَصَالَةِ التَّاءِ. وَفِي التَّهْذِيبِ التَّاءُ أَصْلِيَّةٌ وَلَيْسَتْ بِزَائِدَةٍ وَالْكَلِمَةُ رُبَاعِيَّةٌ. مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٣٥٢٤ بَابُ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ وَالْمِيزَانِ في تشريح حديث ٥٥٥٠ .

( وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ ) بِفَتْحِ أَوَّلِهِ وَضَمِّ الْجِيمِ وَيُضَمَّانِ وَيُفْتَحَانِ كَمَا فِي نُسْخَتَيْنِ أَيْ: مُتَرْجِمٌ يُتَرْجِمُ لَهُ. يَعْنِي بَلْ يَكُونُ التَّلَقِّي وَالْكَلَامُ بِلَا وَاسِطَةٍ. قَالَ صَاحِبُ الْمَشَارِقِ هُوَ بِفَتْحِ التَّاءِ وَضَمِّ الْجِيمِ وَضَبَطَهُ الْأَصِيلِيُّ بِضَمِّهِمَا اهـ. وَفِي النِّهَايَةِ: التَّرْجُمَانُ بِالضَّمِّ وَالْفَتْحِ الَّذِي يُتَرْجِمُ الْكَلَامَ أَيْ: يَنْقُلُهُ مِنْ لُغَةٍ إِلَى أُخْرَى. وَالتَّاءُ وَالنُّونُ زَائِدَتَانِ. وَفِي الْقَامُوسِ: اَلتَّرْجُمَانُ كَعُنْفُوَانٍ وَ زَعْفَرَانٍ وَ رَيْهُقَانٍ الْمُفَسِّرُ لِلِّسَانِ. وَقَدْ تَرْجَمَهُ وَعَنْهُ. وَالْفِعْلُ يَدُلُّ عَلَى أَصْلِهِ التَّاءُ. وَفِي الْمَفَاتِيحِ هُوَ عَلَى وَزْنِ زَعْفَرَانٍ. وَيَجُوزُ بِفَتْحِ التَّاءِ وَضَمِّ الْجِيمِ وَبِضَمِّهِمَا . وَاللهُ أَعْلَمُ. مرقاة المفاتيح ج٩ ص ٣٧٤٦ بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ في تشريح حديث ٥٨٥٧ .

(١) يو څو هغه احاديث درته ذکر کوم چې په هغې کې د الله تعالى د خپل بنده سره د خبرو تذکره راغلى :

عَنْ صَفْوَانَ بْنِ مُحْرِزٍ. أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ. كَيْفَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي النَّجْوَى ؟ قَالَ: " يَدْنُو أَحَدُكُمْ مِنْ رَبِّهِ حَتَّى يَضَعَ كَنَفَهُ عَلَيْهِ. فَيَقُولُ : أَعَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا ؟ فَيَقُولُ : نَعَمْ. وَيَقُولُ : عَمِلْتَ كَذَا وَكَذَا ؟ فَيَقُولُ : نَعَمْ. فَيُقَرِّرُهُ. ثُمَّ يَقُولُ : إِنِّي سَتَرْتُ عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا. وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ " . صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الْأَنْبِيَاءِ وَغَيْرِهِمْ رقم الحديث ٧٥١٤ .

عَنْ عَبْدِ اللهِ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ آخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ. وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنَ النَّارِ رَجُلٌ يَخْرُجُ حَبْوًا. فَيَقُولُ لَهُ رَبُّهُ: أُدْخُلِ الْجَنَّةَ. فَيَقُولُ : رَبِّ الْجَنَّةُ مَلْأَى. فَيَقُولُ لَهُ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَكُلُّ ذَلِكَ يُعِيدُ عَلَيْهِ الْجَنَّةُ مَلْأَى. فَيَقُولُ : إِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا عَشْرَ مِرَارٍ " . صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الْأَنْبِيَاءِ وَغَيْرِهِمْ رقم الحديث ٧٥١١ .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَوْمًا يُحَدِّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ: " أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ . فَقَالَ لَهُ : أَوَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ ؟ قَالَ : بَلَى. وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ ..... صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ الْأَنْبِيَاءِ وَغَيْرِهِمْ رقم الحديث ٧٥١٦ .

Scanned with CamScanner

# په جنتیانو باندې د الله تعالی سلام

په جنت کې به په جنتیانو باندې الله تعالی سلام اچوي .

**۱ .** په قرآن کریم کې ذکر دي :

﴿ سَلَٰمٌ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ﴾ . (۱)

ترجمه : الله تعالی به په دوی باندې سلام اچوي ، دا به د رحیم رَب وینا وي . (۲)

**۲ .** مؤمنان چې کله د الله تعالی سره ملاقات کوي نو په دې وخت کې به هم الله تعالی په دوی باندې سلام اچوي .

په قرآن کریم کې ذکر دي :

﴿ تَحِيَّتُهُمۡ يَوۡمَ يَلۡقَوۡنَهُۥ سَلَٰمٞۚ وَأَعَدَّ لَهُمۡ أَجۡرٗا كَرِيمٗا ﴾ . (۳)

ترجمه : په کومه ورځ چې مؤمنان د الله تعالی سره ملاقات کوي نو د دوی ( د پاره ) دُعا به دا وي چې الله تعالی به په دوی باندې سلام اچوي .

---

(۱) يس آية ۵۸ .

(۲) (سَلَامٌ ) أَيْ: يُسَلِّمُ اللهُ عَلَيْهِمْ ( قَوْلًا) أَيْ: يَقُوْلُ اللهُ لَهُمْ قَوْلًا .... وَقِيْلَ : تُسَلِّمُ عَلَيْهِمِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ رَبِّهِمْ. قَالَ مُقَاتِلٌ : تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ كُلِّ بَابٍ يَقُوْلُوْنَ : سَلَامٌ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ مِنْ رَبِّكُمُ الرَّحِيْمِ. وَقِيْلَ : يُعْطِيْهِمُ السَّلَامَةَ. يَقُوْلُ : اسْلَمُوا السَّلَامَةَ الْأَبَدِيَّةَ . تفسير البغوي ج۷ ص ۲۲ سورة يس آية ۵۸ .

(سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيْمٍ ) والمعنى أنّ الله يسلم عليهم بواسطة الملائكة أو بغير واسطة تعظيمًا لهم وذلك متمناهم ولهم ذلك لا يمنعونه ، قال ابن عباس : والملائكة يدخلون عليهم بالتحية من رب العالمين. تفسير النسفي (مدارک التنزيل وحقائق التاويل) ج۳ ص ۱۰۸ .

وَقَوْلُهُ: { سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيْمٍ } قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فِي قَوْلِهِ: { سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيْمٍ } فَإِنَّ اللهَ نَفْسَهُ سَلَامٌ عَلَى أَهْلِ الْجَنَّةِ. وَهَذَا الَّذِيْ قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ كَقَوْلِهِ تَعَالَى: { تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ } [الأحزاب: ۴۴] . تفسير ابن كثير ج ٦ ص ۵۸۳ سورة يس آية ۵۸ .

(۳) الاحزاب آية ۴۴ .

Scanned with CamScanner

مفسّرینو ددې مطلب دا بیان کړی :

أَيْ يُسَلِّمُ اللهُ عَلَيْهِمْ، وَيُسَلِّمُهُمْ مِنْ جَمِيْعِ الْآفَاتِ. (١)

الله تعالی به په دوی باندې سلام اچوي او دوی به د ټولو آفاتو نه محفوظ کوي.

**٣**. په یو حدیث کې راځي، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

جنتیان به په خپلو نِعمتونو (او مَزو) کې مشغول وي چې ناڅاپه به دوی ته یو نُور ظاهر شي، پس دوی به ددې نُور (لیدلو) د پاره خپل سرونه راأوچت کړي، نو ناڅاپه به اوګوري چې الله تعالی د دوی د پاسه تجَلّي کړی (یعنی ظاهر شوی)، هغه به دوی ته اُوفرمایي :

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ.

اې جنتیانو! په تاسو باندې دې سلام وي.

(نبي علیه السلام اوفرمایل :) په بندګانو باندې د الله تعالی سلام اچول د قرآن کریم ددې آیت نه ثابت دي چې: ﴿ سَلَامٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ﴾.

ترجمه: الله تعالی به په دوی باندې سلام اچوي، دا به د رحیم رب وینا وي.

نو الله تعالی به جنتیانو ته ګوري، او دوی به الله تعالی ته ګوري، (جنتیان به د الله ﷻ په دِیدار کې دومره مستَغرق شي) ترڅو پورې چې دوی الله تعالی ته ګوري تر هغې پورې به دوی بل هیڅ نِعمت ته توَجّه نه کوي، تر دې چې الله تعالی به د دوی د نظرونو نه مَخفي (په حِجاب کې) شي مګر د هغه نُور او برکت به په دوی باندې او د دوی په کورونو باندې پاتې وي. (٢)

---

(١) (تَحِيَّتُهُمْ) أَيْ تَحِيَّةُ الْمُؤْمِنِيْنَ (يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ) أَيْ يَرَوْنَ اللهَ (سَلَامٌ) أَيْ يُسَلِّمُ اللهُ عَلَيْهِمْ، وَيُسَلِّمُهُمْ مِنْ جَمِيْعِ الْآفَاتِ. تفسير البغوي ج٣ ص ٦٤٧، تفسير الخازن ج٣ ص ٤٣٠ سورة الاحزاب آية ٤٤.

(٢) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَا أَهْلُ الْجَنَّةِ فِيْ نَعِيْمِهِمْ، إِذْ سَطَعَ لَهُمْ نُوْرٌ، فَرَفَعُوْا رُءُوْسَهُمْ، فَإِذَا الرَّبُّ قَدْ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ مِنْ فَوْقِهِمْ، فَقَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ. قَالَ: وَذٰلِكَ قَوْلُ اللهِ: {سَلَامٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ} [يس: ٥٨]. قَالَ فَيَنْظُرُ إِلَيْهِمْ، وَيَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِ. ←←←

# په جنتيانو باندې د فرښتو سلام

په جنتيانو باندې به فرښتې هم سلام اچوي.

الله تعالى فرمايي: ﴿ وَالْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ۝ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴾. (١)

ترجمه: او فرښتې به په دوی باندې (د جنت) د هرې دروازې نه داخليږي (او دا به ورته وايي چې:) "په تاسو باندې دې سلام وي" (دا) ځکه چې تاسو (په دُنيا کې په تکليفونو باندې) صبر کړی نو (اوس) د آخرت دا کور مو ډير ښه دی. (٢)

په احاديثو کې هم دا ذکر دي چې فرښتې به په جنّتيانو باندې سلام اچوي. (٣)

---

←←← فَلَا يَلْتَفِتُونَ إِلَى شَيْءٍ مِنَ النَّعِيمِ مَا دَامُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ حَتَّى يَحْتَجِبَ عَنْهُمْ، وَيَبْقَى نُورُهُ وَبَرَكَتُهُ عَلَيْهِمْ فِي دِيَارِهِمْ. سنن ابن ماجة افتتاح الكتاب في الإيمان وفضائل الصحابة والعلم بَابٌ فِيمَا أَنْكَرَتِ الْجَهْمِيَّةُ رقم الحديث ١٨٤؛ صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٩٤، مجمع الزوائد رقم الحديث ١١٣٠٠، كنزالعمال رقم الحديث ٣٠٣٢، و رقم الحديث ٣٩٣٣٩، مشكاة المصابيح بَاب رؤية الله تعالى الْفَصْل الثَّالِث رقم الحديث ٥٦٦٤(١٠)، تفسر القرطبي ج ١٥ ص ٤٥ سورة يس آية ٥٨، تفسير ابن كثير ج ٦ ص ٥٨٣، الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور ج ٧ ص ٦٥، وج ٧ ص ٣٢٤، التفسير المظهري ج ٥ ص ١٢، وج ٥ ص ١٢٠، وج ٨ ص ٩٣، وج ١٠ ص ١٤٣.

نوټ: بعضې علماؤ دې حديث ته ضعيف ويلی. ابوالشمس عفي عنه

(١) الرعد آية ٢٣، ٢٤.

(٢) (وَالْمَلَائِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ) أي وتدخل عليهم الملائكة من هاهنا ومن هاهنا لِلتَّهْنِئَةِ بِدُخُولِ الْجَنَّةِ، فَعِنْدَ دُخُولِهِمْ إِيَّاهَا تَفِدُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ مُسَلِّمِينَ، مُهَنِّئِينَ لَهُمْ بِمَا حَصَلَ لَهُمْ مِنَ اللهِ مِنَ التَّقْرِيبِ وَالْإِنْعَامِ وَالْإِقَامَةِ فِي دَارِ السَّلَامِ فِي جِوَارِ الصِّدِّيقِينَ وَالْأَنْبِيَاءِ وَالرُّسُلِ الْكِرَامِ. تفسير ابن كثير ج ٤ ص ٣٨٨ سورة الرعد آية ٢٣

(٣) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «هَلْ تَدْرُونَ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ خَلْقِ اللهِ؟» قَالُوا: اَللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: "أَوَّلُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ خَلْقِ اللهِ الْفُقَرَاءُ الْمُهَاجِرُونَ الَّذِينَ تُسَدُّ بِهِمُ الثُّغُورُ، وَيُتَّقَى بِهِمُ الْمَكَارِهُ، وَيَمُوتُ أَحَدُهُمْ وَحَاجَتُهُ فِي صَدْرِهِ، لَا يَسْتَطِيعُ لَهَا قَضَاءً، فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ مَلَائِكَتِهِ: اِئْتُوهُمْ فَحَيُّوهُمْ. فَتَقُولُ الْمَلَائِكَةُ: ←←←←

Scanned with CamScanner

# د جنت نعمتونه لویه بادشاهي ده

د جنت ژوند او نِعمتونه لویه بادشاهي ده ، الله تعالی فرمايي :

﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴾.(۱)

ترجمه : او کله چې ته هلته په جنت کې اوګورې نو ته به (ډیر لوي) نِعمت او غټه بادشاهي اوګورې .

دا ځکه چې د اَدنٰی جنتي د پاره به د زر (۱۰۰۰) کاله مسافت په اندازه حکومت وي ، او کومې فرښتې چې ده ته راځي نو هغه به هم دده نه اجازت غواړي ، او دده د زړه هر خواهش به پوره کیږي ، نو یقیني چې دا لویه بادشاهي ده .(۲)

## د اَدنٰی جنتي د پاره لویه بادشاهي

په جنت کې به د اَدنٰی جنتي د پاره لویه بادشاهي وي ، دده د زړه ټولې آرزو ګانې به پوره کولې شي ، او د دُنیا په څو څو چنده زیات جنت به ورکولې شي .

۱ . د مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې په تاسو کې د اَدنٰی درجې واله جنتي مرتبه به دا وي چې الله تعالی به هغه ته او فرمایي :

تَمَنَّ . په زړه کې دې چې کوم خواهش وي هغه بیان کړه .

---

←←←← نَحْنُ سُكَّانُ سَمَائِكَ، وَخِيَرَتُكَ مِنْ خَلْقِكَ، أَفَتَأْمُرُنَا أَنْ نَأْتِيَ هَؤُلَاءِ فَنُسَلِّمَ عَلَيْهِمْ؟ قَالَ: إِنَّهُمْ كَانُوا عِبَادًا يَعْبُدُونِي، لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا، وَتُسَدُّ بِهِمُ الثُّغُورُ، وَيُتَّقَى بِهِمُ الْمَكَارِهُ، وَيَمُوتُ أَحَدُهُمْ وَحَاجَتُهُ فِي صَدْرِهِ، لَا يَسْتَطِيعُ لَهَا قَضَاءً . قَالَ: فَتَأْتِيهِمُ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ ذَلِكَ، فَيَدْخُلُونَ عَلَيْهِمْ مِنْ كُلِّ بَابٍ ": {سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ} [الرعد: ۲۴] . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ٦٥٧٠ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۷۴۱۴ ، المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۲۳۹۳ ، مجمع الزوائد رقم الحدیث ۱۷۸۸۵ .

(۱) الدهر ( الانسان ) آیة ۲۰ .

(۲) (وَإِذَا رَأَيْتَ) أَيْ إِذَا رَأَيْتَ بِبَصَرِكَ وَنَظَرْتَ بِهِ (ثَمَّ) يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ، (رَأَيْتَ نَعِيمًا) لَا يُوصَفُ (وَمُلْكًا كَبِيرًا) وَهُوَ أَنَّ أَدْنَاهُمْ مَنْزِلَةً يَنْظُرُ إِلَى مُلْكِهِ فِي مَسِيرَةِ أَلْفِ عَامٍ يَرَى أَقْصَاهُ كَمَا يَرَى أَدْنَاهُ. وَقَالَ مُقَاتِلٌ وَالْكَلْبِيُّ: هُوَ أَنَّ رَسُولَ رَبِّ الْعِزَّةِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ لَا يَدْخُلُ عَلَيْهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ. وَقِيلَ: مُلْكًا لَا زَوَالَ لَهُ. تفسیر البغوي ج٥ ص ۱۹۴ .

Scanned with CamScanner

نو دا به خپل ټول خواهشات ذکر کړي (چې دا راله پوره کړه).
الله تعالی به (سره د عِلمه) ورته اوفرمايي:

هَلْ تَمَنَّيْتَ ؟ آيا تا خپلې آرزوګانې بيان کړې؟

دا به ورته جواب ورکړي: چې آو (ما د خپل زړه ټول خواهشات ظاهر کړل).
نو الله تعالی به ورته اوفرمايي:

فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ.

بيشکه تا چې څه غوښتي دي هغه هم تاته درکړې شو او د همدې هومره نور هم تاته درکړې شو. (١)

٢. د مسلم شريف او ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله ﷺ فرمايي چې حضرت موسٰی عليه السلام د خپل رب نه پوښتنه اوکړه:

مَا أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً ؟

په جنّتيانو کې به د اَدنٰی درجې واله کس څوک وي؟

الله تعالی ورته اوفرمايل: دا به هغه کس وي چې کله ټول جنتيان جنت ته داخل شي نو دا کس به راشي، ده ته به وويلې شي:

أُدْخُلِ الْجَنَّةَ. ته جنت ته داخل شه.

دا به عرض اوکړي: اې ربه! زه څنګه جنت ته داخل شم حالانکه ټول خلق خپلو ځايونو ته تللي او هغه يې نيولي دي.

ده ته به وويلې شي: أَتَرْضٰى أَنْ يَكُوْنَ لَكَ مِثْلُ مُلْكِ مَلِكٍ مِنْ مُلُوْكِ الدُّنْيَا؟

آيا ته په دې باندې راضي يې چې تاته د دُنيا د بادشاهانو هومره حکومت درکړې شي؟

---

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَدْنَى مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَنْ يَقُوْلَ لَهُ: تَمَنَّ. فَيَتَمَنَّى، وَيَتَمَنَّى، فَيَقُوْلُ لَهُ: هَلْ تَمَنَّيْتَ؟ فَيَقُوْلُ: نَعَمْ. فَيَقُوْلُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ. صحيح مسلم كِتَابُ الإِيْمَانِ بَابُ مَعْرِفَةِ طَرِيْقِ الرُّؤْيَةِ رقم الحديث ٣٠١ (١٨٢). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٨١٦٨، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦٢٧(١٦)، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤٣٧٠.

دا به عرض اوکړي : رَضِيتُ رَبِّ . اې زما ربه ! زه (په دې باندې) راضي يم.

الله تعالى به ورته اوفرمايي : لَكَ ذَلِكَ، وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ .

ستا د پاره دا (د دُنيا د بادشاهانو هومره حکومت) شو ، او ددې سره سره تاته همدومره اندازه نور ، همدومره اندازه نور ، همدومره اندازه نور ، او همدومره اندازه نور درکړې شو (يعنى د دُنيا په اندازه څلور چَنده نور ځاى هم ستا په جنت کې شو) .

دا سرې به په پنځم ځل عرض اوکړي : رَضِيتُ رَبِّ. اې ربه زه (په دې) راضي يم.

الله تعالى به ورته اوفرمايي :

هَذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ، وَلَكَ مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ .

دا هم ستا شو ، او ددې په لس چنده نور (ځاى په جنت کې) هم ستا شو ، او ستا د پاره به (په دې جنت کې) هر هغه څه وي چې کوم ته ستا زړه کيږي ، او ستا سترګې وړياندې لِذّت مومي.

دا سړې به اووايي : رَضِيتُ رَبِّ. اې ربه ! زه (په دې) راضي يم....

(نو چې کله د آدنٰى جنتي د پاره دومره لوي جنت دى نو اعلىٰ جنتي ته چې څومره جنت يا د جنت نعمتونه ورکولې شي د هغې مقدار خو به صرف الله ﷻ ته معلوم وي) . (۱)

---

(۱) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَأَلَ مُوسَى رَبَّهُ، مَا أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً ؟ قَالَ: هُوَ رَجُلٌ يَجِيءُ بَعْدَ مَا أُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، فَيُقَالُ لَهُ: ادْخُلِ الْجَنَّةَ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ ! كَيْفَ وَقَدْ نَزَلَ النَّاسُ مَنَازِلَهُمْ، وَأَخَذُوا أَخَذَاتِهِمْ، فَيُقَالُ لَهُ : أَتَرْضَى أَنْ يَكُونَ لَكَ مِثْلُ مُلْكِ مَلِكٍ مِنْ مُلُوكِ الدُّنْيَا؟ فَيَقُولُ : رَضِيتُ رَبِّ . فَيَقُولُ: لَكَ ذَلِكَ، وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ وَمِثْلُهُ، فَقَالَ فِي الْخَامِسَةِ : رَضِيتُ رَبِّ، فَيَقُولُ: هَذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ، وَلَكَ مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ، فَيَقُولُ: رَضِيتُ رَبِّ، قَالَ: رَبِّ ! فَأَعْلَاهُمْ مَنْزِلَةً ؟ قَالَ: أُولَئِكَ الَّذِينَ أَرَدْتُ غَرَسْتُ كَرَامَتَهُمْ بِيَدِي ، وَخَتَمْتُ عَلَيْهَا، فَلَمْ تَرَ عَيْنٌ، وَلَمْ تَسْمَعْ أُذُنٌ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ ". قَالَ: وَمِصْدَاقُهُ فِي كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: " {فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ} [السجدة : ۱۷] الْآيَةَ. صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً فِيهَا رقم الحديث ۳۱۲(۱۸۹) . سنن الترمذي أَبْوَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ: وَمِنْ سُورَةِ السَّجْدَةِ رقم الحديث ۳۱۹۸ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۸۹ .

۳. نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ أَسْفَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَجْمَعِينَ دَرَجَةً لَمَنْ يَقُومُ عَلَى رَأْسِهِ عَشَرَةُ آلَافِ خَادِمٍ، بِيَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ صَحْفَتَانِ، وَاحِدَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَالْأُخْرَى مِنْ فِضَّةٍ، فِي كُلِّ وَاحِدَةٍ لَوْنٌ لَيْسَ فِي الْأُخْرَى مِثْلُهُ، يَأْكُلُ مِنْ آخِرِهَا مِثْلَ مَا يَأْكُلُ مِنْ أَوَّلِهَا، يَجِدُ لِآخِرِهَا مِنَ الطِّيبِ وَاللَّذَّةِ مِثْلَ الَّذِي يَجِدُ لِأَوَّلِهَا، ثُمَّ يَكُونُ ذَلِكَ كَرِيحِ الْمِسْكِ الْأَذْفَرِ، لَا يَبُولُونَ، وَلَا يَتَغَوَّطُونَ، وَلَا يَمْتَخِطُونَ، إِخْوَانًا عَلَى سُرُرٍ مُتَقَابِلِينَ. (۱)

په ټولو جنتیانو کې به د ادنٰی درجې واله جنتي هغه وي چې لس زره (۱۰۰۰۰) خادمان به د ده ته ولاړ وي، د هر خادم په لاس کې به دوه رکیبۍ وي، یوه به د سرو زرو وي او بله به د سپينو زرو وي، په هره رکیبۍ کې به داسې نعمت وي چې هغه به په بله کې نه وي (یعنی جدا جدا خوراکونه به په کې وي)، جنتي به د آخري رکیبۍ نه داسې په شوق باندې خوراک کوي لکه څرنګې چې د اولې نه کوي، په آخري خوراک کې به داسې خوشبو او خوَند مومي څنګه چې په اول کې مومي. بیا به (ددې خوراک فضلات ختمولو د پاره) دده د بدن نه خوَله اُوځي چې دا خوَله به د تېزو خوشبودارو مشکو په شان بُوئي کوي. جنتیان به په جنت کې نه تَشې مِتیازې کوي، نه به دکې متیازې کوي، او نه به پوزې سُونړ کوي، بلکه دوی به د ورونو په شان په تَختونو باندې یو بل ته مخامخ ناست وي.

(**نوټ**: جنتیانوته به په جنت کې د اُودس ماتي کولو ضرورت نه وي ځکه جنت پاک ځای دی هلته ګندګي نشته، بلکه په اَدرکي سره به د خوراک فضلات ختمیږي او د بدن نه خوَله وتلو سره به د اُوبو فضلات ختمیږي، او ددې خوَلو نه به د مشکو په شان ښائسته خوشبوئي ځي). (۲)

(۱) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۷٦۷۴ بَابُ الْمِيمِ مَنِ اسْمُهُ: مُحَمَّدٌ. الترغيب والترهيب للمنذري فصل فِيمَا لأدنى أهل الجنَّة فِيهَا رقم الحديث ٥٦۴۰ وقال المنذري: رَوَاهُ ابْن أبي الدُّنْيَا وَالطَّبَرَانِيّ وَاللَّفْظ لَهُ وَرُوَاته ثِقَات. الدر المنثور فى التفسير بالمأثور ج ۷ ص ۳۹۰.

(۲) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ ←←←←

# د ټولو نه آخرِ کې جنت ته داخلیدونکې کس ته به د دُنیا په لس چنده غټ جنت ورکولې شي

کوم کس چې د ټولو نه آخر کې جنت ته داخل شي نو هغه ته به د دُنیا د مسافت په اندازه او ددې سره سره د دُنیا په لس چنده غټ جنت ورکولې شي.

**۱**. د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، رسول الله ﷺ اوفرمایل:

یقینًا زه هغه سړی پیژنم چې د ټولو نه آخِر کې به دجهنم نه رااُوویستلې شي او د ټولو نه آخر کې به جنت ته داخل کړې شي دا به هغه سړی وي چې په (ګناهو باندې) خوئیدلو سره به دجهنم نه رااُووځي، الله تعالی به ورته اوفرمايي:

اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ.

ته لاړ شه جنت ته داخل شه.

پس دا به جنت ته راشي نو ده ته به دا داسې ښکاره شي چې دا ډک دی (نور ګنجائش په کې نشته).

پس دا به واپس راشي، الله ﷻ ته به عرض اوکړي:

يَارَبِّ! وَجَدْتُهَا مَلْأَى.

اې ربه! ما خو جنت ډک اُوموند (زما ځای په کې نشته).

الله تعالی به ورته (دوباره) اوفرمايي:

اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ.

ته لاړ شه جنت ته داخل شه.

پس دا به جنت ته راشي نو ده ته به دا داسې ښکاره شي چې ګني دا ډک دی.

←←← فِيهَا وَيَشْرَبُونَ، وَلَا يَتْفُلُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ» قَالُوا: فَمَا بَالُ الطَّعَامِ؟ قَالَ: «جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ. يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ». صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي صِفَاتِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا وَتَسْبِيحِهِمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا رقم الحديث ۱۸(۲۸۳۵). مسند احمد مخرجا ۱۴۷۶۹، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۴۳۵. المعجم الاوسط رقم الحديث ۴۸۶۶.

Scanned with CamScanner

پس دا به واپس راشي ، الله ﷻ ته به عرض او کړي :

یَا رَبِّ ! وَجَدْتُهَا مَلْأَى .

اې ربه ! ما خو جنت ډک اُوموند ( زما ځای په کې نشته ) .

الله تعالی به ورته اوفرمايي :

اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ ، فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا .

ته لاړ شه ، جنت ته داخل شه ځکه ستا د پاره د دُنیا د مسافت په اندازه ( فراخه ) او د هغې په لس چنده زیات جنت دی .

دا سړی به الله ﷻ ته عرض اوکړي : تَسْخَرُ مِنِّي ؟ وَأَنْتَ الْمَلِكُ .

( اې ربه ! ) آیا ته د ماسره ټوقې ( خندا ) کوی ؟ حالانکه ته خو د بادشاهانو بادشاه یې .

( ددې حدیث راوي ) حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي :

فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ .

ما اُولید چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ( دې خبرې کولو سره ) اُوخندل تر دې چې نواجِذ (آخري) غاښونه مبارک یې هم ښکاره شو .

صحابه کرامو ( یا اسلافو ) به فرمایل : ذَاكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً .

دا به په جنتیانو کې د اَدنٰی مرتبې واله کس وي ( کوم ته چې به دومره غټ جنت ورکولې شي ) .(۱)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوْجًا مِنْهَا، وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُوْلًا. رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ كَبْوًا. فَيَقُوْلُ اللهُ: اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ . فَيَأْتِيهَا. فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى. فَيَرْجِعُ فَيَقُوْلُ: يَا رَبِّ ! وَجَدْتُهَا مَلْأَى . فَيَقُوْلُ: اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ . فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهَا مَلْأَى. فَيَرْجِعُ فَيَقُوْلُ : يَا رَبِّ ! وَجَدْتُهَا مَلْأَى . فَيَقُوْلُ : اِذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ. فَإِنَّ لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا ـ أَوْ: إِنَّ لَكَ مِثْلَ عَشَرَةِ أَمْثَالِ الدُّنْيَا ـ فَيَقُوْلُ: تَسْخَرُ مِنِّي ـ أَوْ: تَضْحَكُ مِنِّي ـ وَأَنْتَ الْمَلِكُ" فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ، وَكَانَ يَقُوْلُ: « ذَاكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً ». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ٦٥٧١ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ آخِرِ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا رقم الحديث ٣٠٨(١٨٦) . سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣٣٩ ، مشكاة المصابيح رقم ٥٥٨٦(٢١) .

۴ . په بخاري شريف او مسلم شريف کې اوږد حديث ذکر دی ، په هغې کې دا هم دي چې : کله الله تعالی د خلقو په مينځ کې د فيصلې کولو نه فارغ شي او کومو خلقو چې د " لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ " ګواهي ورکړې وي (او د خپلو بدو اعمالو په وجه جهنم ته داخل شوي وي) د دوی د جهنم نه د راويستلو اِراده اوکړي نو فرښتو ته به حکم اوکړي چې : دوی د جهنم نه رااوباسئ .

پس فرښتې به دوی (په جهنم کې) د سجدې په نخو سره اُوپيژني ؛ ځکه الله تعالی په اُور باندې دا حرام کړي چې د بني آدم د سجدو ځايونه اُوخوري .

پس فرښتې به دوی رااُوباسي ، دوی به د جهنم د اُور په وجه د کوئلې په شان تَک تور شوي وي ، په دوی باندې به ماءُ الحياة څَړکاؤ کړې شي نو دوی به واپس داسې تازه شي لکه څنګه چې د سېلاب په خَځله کې پرَته دانه يو دَم رازرغونه شي .

په دوی کې به يو کس داسې پاتې وي چې د هغه مخ به جهنم طرف ته وي ، هغه به الله تعالی ته عرض اوکړي :

يَارَبِّ ! قَدْ قَشَبَنِيْ رِيْحُهَا، وَأَحْرَقَنِيْ ذَكَاؤُهَا، فَاصْرِفْ وَجْهِيْ عَنِ النَّارِ .

اې ربه ! ددې جهنم بَدبوئي ماته تکليف رارسولې دی او ددې تېزو شعلو سوَزولې يم پس زما مخ د جهنم نه واړوه .

دا به مسلسل همدا دعا غواړي . الله تعالی به ورته (سره د عِلمه) اوفرمايي :

لَعَلَّكَ إِنْ أَعْطَيْتُكَ أَنْ تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ .

که چيرته زه ستا دا مطالبه پوره کړم نو کيدې شي ته بيا بل څيز غواړې ؟

دا به ورته اووايي : زما دې ستا په عزت قسَم وي چې زه به د تانه ددينه علاوه بل هيڅ نه غواړم .

نو الله تعالی به دده مخ د جهنم نه واړوي .

(دا به د جنت نِعمتونه اوګوري ، څه وخت به خاموش وي) ددينه پس به الله ﷻ ته بيا عرض اوکړي : يَارَبِّ ! قَرِّبْنِيْ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ .

Scanned with CamScanner

اې ربه ! ما د جنت دروازې ته نژدې کړه.

الله تعالی به ورته او فرمايي :

أَلَيْسَ قَدْ زَعَمْتَ أَنْ لَا تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ، وَيْلَكَ ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ.

آيا تا مخکې ماته يقين رانکړو چې ته به د مانه بل څيز نه غواړې ؟ اې ابن آدم په تا باندې تعجب دی ته څه ډير عُذر بيانوونکی (او وعده خلافي کوونکی) يې.

دا سړی به مسلسل همدا دُعا غواړي.

الله تعالی به ورته (سره د علمه) بيا او فرمايي :

لَعَلِّيْ إِنْ أَعْطَيْتُكَ ذَلِكَ تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ.

که زه تاته دا درکړم (او ستا حاجت پوره کړم) نو ته به بيا د دينه علاوه بل څيز غواړې.

دا به جواب ورکړي : زما دې ستا په عزت باندې قسَم وي زه به د تانه د دينه علاوه بل هيڅ څيز نه غواړم.

دا سړی به الله ﷻ ته پَخه وعده ورکړي چې د دينه علاوه به درنه بل څيز نه غواړم.

پس الله تعالی به دا د جنت دروازې ته نژدې کړي. کله چې دا سړی په جنت کې دَننه نعمتونه اوګوري نو تر هغه وخته پورې به چُپ وي څومره چې د الله خوښه وي، بيا به عرض اوکړي :

رَبِّ! أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ. اې ربه ! ما جنت ته داخل کړه.

الله تعالی به ورته او فرمايي :

أَوَلَيْسَ قَدْ زَعَمْتَ أَنْ لَا تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ، وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ.

آيا تا دا يقين ماته نهٔ واکړی چې ته به د مانه بل څيز نه غواړې ؟ اې ابن آدم ! په تا باندې تعجب دی ته څه ډير عُذر بيانوونکی (او وَعده ماتوونکی) يې.

دا سړی به عرض اوکړي : يَا رَبِّ! لَا تَجْعَلْنِيْ أَشْقَى خَلْقِكَ.

اې ربه ! ته ما په مخلوقاتو کې ډير بَدبخته مه جوړوه.

پس دا سړی به مسلسل همدا (جنت ته د داخليدو) دُعا غواړي تر دې چې الله تعالی به اُوخاندي (كَمَا يَلِيْقُ بِشَانِهٖ)، او ده ته به جنت ته د داخليدو اجازت ورکړي.

Scanned with CamScanner

کله چې دا جنت ته داخل شي نو ده ته به وويلې شي : ته د فلاني څيز آرزو (خواهش) اوکړه. نو دا به خواهش اوکړي.

بيا به ده ته وويلې شي : ددې بل څيز خواهش اوکړه. دا به ددې خواهش هم اوکړي، تر دې چې دده ټولې آرزوګانې به ختمې شي. بيا به الله تعالى ده ته اوفرمايي :

هَذَا لَكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ .

تاته دا ټولې آرزوګانې او ددې هومره نور نِعمتونه هم درکړې شو.

حضرت ابو هريرة ﷺ فرمايي چې دا به جنت ته داخليدونکی آخري کس وي.

په يو بل حديث کې ورسره دا هم دي چې الله تعالى به ده ته اوفرمايي :

هَذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ .

دا ټول او ددې په لس چنده نِعمتونه تاته درکړې شو .(١)

---

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... حَتَّى إِذَا فَرَغَ اللهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ عِبَادِهِ ، وَأَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ مِنَ النَّارِ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُخْرِجَ ، مِمَّنْ كَانَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ، أَمَرَ الْمَلَائِكَةَ أَنْ يُخْرِجُوْهُمْ ، فَيَعْرِفُوْنَهُمْ بِعَلَامَةِ آثَارِ السُّجُوْدِ ، وَحَرَّمَ اللهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ مِنَ ابْنِ آدَمَ أَثَرَ السُّجُوْدِ ، فَيُخْرِجُوْنَهُمْ قَدِ امْتُحِشُوْا ، فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءٌ يُقَالُ لَهُ مَاءُ الْحَيَاةِ ، فَيَنْبُتُوْنَ نَبَاتَ الْحِبَّةِ فِيْ حَمِيْلِ السَّيْلِ ، وَيَبْقَى رَجُلٌ مِنْهُمْ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ عَلَى النَّارِ ، فَيَقُوْلُ : يَا رَبِّ ! قَدْ قَشَبَنِيْ رِيْحُهَا ، وَأَحْرَقَنِيْ ذَكَاؤُهَا ، فَاصْرِفْ وَجْهِيْ عَنِ النَّارِ . فَلَا يَزَالُ يَدْعُو اللهَ ، فَيَقُوْلُ : لَعَلَّكَ إِنْ أَعْطَيْتُكَ أَنْ تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ . فَيَقُوْلُ : لَا وَعِزَّتِكَ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهُ . فَيَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ ، ثُمَّ يَقُوْلُ بَعْدَ ذَلِكَ : يَا رَبِّ ! قَرِّبْنِيْ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ ، فَيَقُوْلُ : أَلَيْسَ قَدْ زَعَمْتَ أَنْ لَا تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ ، وَيْلَكَ ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ . فَلَا يَزَالُ يَدْعُوْ . فَيَقُوْلُ : لَعَلِّيْ إِنْ أَعْطَيْتُكَ ذَلِكَ تَسْأَلُنِيْ غَيْرَهُ . فَيَقُوْلُ : لَا وَعِزَّتِكَ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهُ ، فَيُعْطِي اللهَ مِنْ عُهُوْدٍ وَمَوَاثِيْقَ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهُ ، فَيُقَرِّبُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ ، فَإِذَا رَأَى مَا فِيْهَا سَكَتَ مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَسْكُتَ ، ثُمَّ يَقُوْلُ : رَبِّ ! أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ . ثُمَّ يَقُوْلُ : أَوَلَيْسَ قَدْ زَعَمْتَ أَنْ لَا تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهُ ، وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا أَغْدَرَكَ . فَيَقُوْلُ : يَا رَبِّ ! لَا تَجْعَلْنِيْ أَشْقَى خَلْقِكَ . فَلَا يَزَالُ يَدْعُوْ حَتَّى يَضْحَكَ ، فَإِذَا ضَحِكَ مِنْهُ أَذِنَ لَهُ بِالدُّخُوْلِ فِيْهَا ، فَإِذَا دَخَلَ فِيْهَا قِيْلَ لَهُ : تَمَنَّ مِنْ كَذَا ، فَيَتَمَنَّى ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ : تَمَنَّ مِنْ كَذَا ، فَيَتَمَنَّى ، حَتَّى تَنْقَطِعَ بِهِ الْأَمَانِيُّ ، فَيَقُوْلُ لَهُ : هَذَا لَكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ . قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ ﷺ : ←←←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

۴. په مسلم شريف او مشکوة شريف کې همدغه شان تفصيلي حديث ذکر دی :

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمايل :
د ټولو نه آخر کې به جنت ته داخليدونکی کس هغه وي چې ( کله د جهنم نه رارون شي نو ) کله به روان وي ، کله به واپس په ډُونګو باندې غورځي ، او کله به يې د جهنم اُور سوزوي. کله چې د جهنم اُور نه راتېر شي نو هغې ته به وَراوګوري او دا به اووايي :

تَبَارَكَ الَّذِيْ نَجَّانِيْ مِنْكِ، لَقَدْ أَعْطَانِيَ اللّٰهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِيْنَ وَالْآخِرِيْنَ.

برکت (او لويَي) واله دی هغه ذات چې هغه ما ته د تا نه نِجات راکړو ، يقينًا الله تعالی ما ته دومره ډير څه راکړي دي چې هغه يې مخکيني او روستوني خلقو کې هيچا ته ندي ورکړي.

بيا به دې کس ته يوه اُونه اُودريدلې ښکاره کړې شي ( چې د هغې لاندې به د اُوبو چينه وي) دا به عرض اوکړي :

اې ربه ! ته ما دې اُونې ته نزدې کړه چې زه ددې د سيورې لاندې کينم او ددې اُوبه اُوڅکم.

الله تعالی به ورته (سره د عِلمه) اوفرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ ! لَعَلِّيْ إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا سَأَلْتَنِيْ غَيْرَهَا.

اې د آدم ځويه ! که چيرته زه تا ته دا درکړم (او ستا دا آرزو پوره کړم) نو کيدې شي بيا به ته نور څه هم غواړې.

دا به اووايي : اې ربه ! نور به هيڅ نه غواړم.

---

←←←← وَذَٰلِكَ الرَّجُلُ آخِرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُوْلًا.

قَالَ أَبُوْ سَعِيْدٍ رضي الله عنه : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ : « هٰذَا لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ ». قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : حَفِظْتُ « مِثْلُهُ مَعَهُ ». صحيح البخاري رقم الحديث ۶۵۷۳ ، و رقم الحديث ۶۵۷۴ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الصِّرَاطُ جِسْرُ جَهَنَّمَ . و رقم الحديث ۸۰۶ كِتَابُ الْأَذَانِ بَابُ فَضْلِ السُّجُودِ ، و رقم الحديث ۷۴۳۷ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ مَعْرِفَةِ طَرِيقِ الرُّؤْيَةِ رقم الحديث ۲۹۹(۱۸۲) ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۵۸۱(۱۶) ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۴۲۹.

Scanned with CamScanner

دا كس به د خپل رب سره ژمنه وعده اوكړي چې بل به هيڅ نه غواړم ، (نبي عليه السلام فرمايي : ) او الله تعالى به ددې كس دا عُذر قبول كړي ځكه دا كس به داسې نعمت اوګوري چې د هغې نه به نشي صبريدى .

نو الله ربّ العزت به دا كس دې اُونې ته ورنزدې كړي ، دا به ددې په سيوري كې كيني او ددې د چينې اُوبه به اُوڅكي .

بيا به دې كس ته بله اُونه اُوخودلې شي چې دا به د هغې اولې نه هم ډيره ښائسته وي .

دا كس به (ددې په ليدلو سره) عرض اوكړي : اې ربه ! ما دې اُونې ته نزدې كړه چې زه ددې د چينې اُوبه اوڅكم او ددې سيوري ته كينم ، او زه به اوس د تانه ددينه علاوه بل هيڅ څيز نه غواړم .

الله ﷻ به ورته اوفرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ ، أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا ؟ لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ مِنْهَا تَسْأَلُنِي غَيْرَهَا .

اې د آدم ځويه ! آيا تا د ماسره دا كلكه وعده نه وه كړى چې ته به د مانه د هغه مخكې حاجت نه علاوه بل څه نه غواړې ؟ كه چيرته زه تا دې اُونې ته ورنزدې كړم نو كيدې شي ته بيا د مانه بل څه غواړې ؟

دا كس به كلكه وعده اوكړي چې زه به ددينه علاوه د تا نه بل هيڅ څيز نه غواړم ، (نبي عليه السلام فرمايي : ) او الله تعالى به دا كس معذور اُوګڼي (يعنى دده عذر به قبول كړي ) ځكه دا سړى به داسې نعمت اوګوري چې ددينه به صبر نشي كولى .

نو الله تعالى به ده لره هغې اُونې ته ورنزدې كړي ، پس دا به د هغې د سيوري لاندې كيني او د هغې د چينې اُوبه به اُوڅكي .

بيا به دې كس ته د جنت دروازې سره يوه اُونه اودريدلې ښكاره كړې شي چې هغه به د مخكينى دواړو اُونو نه ډيره ښائسته وي .

دا سړى به (د هغې په ليدلو سره) عرض اوكړي : اې ربه ! ما دغې اُونې ته ورنزدې كړه چې د هغې د سيوري لاندې كينم ، د هغې د چينې اُوبه اُوڅكم ، او زه به ددينه پس د تانه د بل هيڅ څيز سوال نه كوم .

الله ربّ العزت به ورته اوفرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ ! أَلَمْ تُعَاهِدْنِيْ أَنْ لَا تَسْأَلَنِيْ غَيْرَهَا ؟

اې ابن آدم ! آيا تا د ماسره کلکه وعده نه وه کړې چې ته به د مانه بل هيڅ څيز نه غواړې ؟

دا سړی به جواب ورکړي : آو ( ما وعده کړې وه ) خو اوس صرف زما دغه ( آخري ) سوال قبول کړه زه به درنه نور هيڅ نه غواړم ، (نبي عليه السلام فرمايي : ) او الله تعالى به هم دده عُذر قبول کړي ځکه دا به داسې نعمت اوګوري چې د هغې نه به يې زړه نشي صبريدی . پس الله ﷻ به دې کس لره هغې اُونې ته ورنزدې کړي .

کله چې دا هغې اُونې ته ورنزدې شي نو هلته به د جنتيانو ( ښائسته ) آوازونه واوري ، دا سړی به ( بې اختياره کيدو سره ) عرض اوکړي :

أَيْ رَبِّ ! أَدْخِلْنِيْهَا . اې ربه ! ما دې جنت ته داخل کړه .

الله ﷻ به ورته اوفرمايي :

يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِيْنِيْ مِنْكَ ؟ أَيُرْضِيْكَ أَنْ أُعْطِيَكَ الدُّنْيَا وَمِثْلَهَا مَعَهَا ؟

اې د آدم ځويه ! ستا دا سوال به کله ختميږي او ته به کله راضي کيږې ؟ (تا خو بار بار وعدې اوکړې چې نور به څه نه غواړم خو بيا يې هم غواړې ) ، آيا ته به ( اوس ) په دې راضي شې چې زه تا ته په جنت کې د ټولې دُنيا برابر او همدې هومره نور ځای درکړم ؟

دا سړی به ( د ډيرې خوشحالي په حالت کې ) اووايي :

يَا رَبِّ ! أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّيْ ؟ وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ .

اې ربه ! آيا ته د ماسره ټوقې کوې ؟ حالانکه ته خو د ټولو جهانونو رَب يې .

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ صحابه کرامو ته دا حديث بيانول ، دې ځای ته رارسيدو سره يې اُوخندل ، بيا يې د صحابه کرامو نه پوښتنه اوکړه : آيا تاسو د مانه دا تپوس نه کوې چې ما ولې اُوخندل ؟

هغوی ورته ووېل : تا ولې اُوخندل ؟ ابن مسعود ﷺ ورته جواب ورکړو :

دا ځکه چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم هم ددې حديث په بيانولو سره په دې موقع خندلي وو ، او کله چې صحابه کرامو د هغوی نه پوښتنه اوکړه :

اې د الله رسوله ! تاسو ولې خاندی ؟ نو وې فرمايل :

Scanned with CamScanner

مِنْ ضَحِكِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حِينَ قَالَ: أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ؟

چې کله هغه کس الله تعالی ته اووایي: "چې آیا ته د ماسره ټوقې کوی ؟ حالانکه ته خو ربّ العالمین یی" نو الله تعالی به (ددې کس نه د راضي کیدو په وجه) اُوخاندي نو ځکه ما هم اُوخندل.

بیا به الله ﷻ دې کس ته اوفرمایي: إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ مِنْكَ، وَلَكِنِّي عَلَى مَا أَشَاءُ قَادِرٌ.

زه د تاسره ټوقې نه کوم بلکه زه چې څه اوغواړم په هغې قادِریم. (۱)

---

(۱) عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: آخِرُ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ رَجُلٌ، فَهُوَ يَمْشِي مَرَّةً، وَيَكْبُو مَرَّةً، وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً، فَإِذَا مَا جَاوَزَهَا الْتَفَتَ إِلَيْهَا، فَقَالَ: تَبَارَكَ الَّذِي نَجَّانِي مِنْكِ، لَقَدْ أَعْطَانِيَ اللهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ. فَتُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ ! أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشَّجَرَةِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا، وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا. فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَا ابْنَ آدَمَ ! لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا سَأَلْتَنِي غَيْرَهَا، فَيَقُولُ: لَا، يَا رَبِّ، وَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا، وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ. فَيُدْنِيهِ مِنْهَا، فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا، ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَى، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ ! أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ لِأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا، وَأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا، لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا، فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ، أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا، فَيَقُولُ: لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ مِنْهَا تَسْأَلُنِي غَيْرَهَا، فَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا، وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ، فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا، وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا، ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَيَيْنِ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ ! أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ لِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا، وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا، لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا. فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ ! أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا. قَالَ: بَلَى يَا رَبِّ، هَذِهِ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا، وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهَا، فَيُدْنِيهِ مِنْهَا، فَإِذَا أَدْنَاهُ مِنْهَا فَيَسْمَعُ أَصْوَاتَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَيَقُولُ: أَيْ رَبِّ ! أَدْخِلْنِيهَا، فَيَقُولُ: يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ ؟ أَيُرْضِيكَ أَنْ أُعْطِيَكَ الدُّنْيَا وَمِثْلَهَا مَعَهَا ؟ قَالَ: يَا رَبِّ ! أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ؟". فَضَحِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه، فَقَالَ: أَلَا تَسْأَلُونِي مِمَّ أَضْحَكُ ؟ فَقَالُوا: مِمَّ تَضْحَكُ، قَالَ: هَكَذَا ضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالُوا: مِمَّ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ: "مِنْ ضَحِكِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حِينَ قَالَ: أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ؟ فَيَقُولُ: إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ مِنْكَ، وَلَكِنِّي عَلَى مَا أَشَاءُ قَادِرٌ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ آخِرِ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا رقم الحديث ۳۱۰ (۱۸۷). مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق بَابُ الْحَوْضِ وَالشَّفَاعَةِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم الحديث ۵۵۸۲ (۱۷). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۳۸۹۹، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۷۷۵، مسند البزار رقم الحديث ۱۴۳۲، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۹۶، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۳۵۵.

Scanned with CamScanner

# د جنت په بازار کې حُسن زیاتیدل

جنتیان چې د جنت بازار ته لاړ شي نو هلته به د دوی په حُسن و جمال کې زیاتوالې راشي :

د مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا ، يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ، فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ، فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا .

بیشکه په جنت کې یو بازار دی چې هغې ته به په هره جُمعه جنتیان راځي ، هلته به د شمال (یَخه) هوا راشي ، دا هوا به د دوی په مخونو او کپړو باندې مشک او مختلف قِسمه خوشبوئي خوَره کړي چې په دې سره به د جنّتیانو په حُسن کې نور زیاتوالې هم راشي .

کله چې دا جنتیان د زیات حُسن و جمال سره کورونو ته واپس لاړ شي نو د دوی بیبیانې به دوی ته اُووایي :

وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا .

قسَم په الله ، ددې ځای نه تللو نه پس ستاسو په حُسن وجمال کې ډیر زیاتوالې راغلی دی .

دوی به ورته اووایي :

وَأَنْتُمْ، وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا .

قسَم په الله ، زمونږ د تللو نه پس ستاسو په ښائست کې هم ډیر زیاتوالې راغلې دی . (١)

# د جنت په بازار کې خپل شکل و صورت بدلول

١ . رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا ، يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ، فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ، فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا، فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدِ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالًا، فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ : وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا . فَيَقُولُونَ : وَأَنْتُمْ، وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا . صحیح مسلم کتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ وَمَا يَنَالُونَ فِيهَا مِنَ النَّعِيمِ وَالْجَمَالِ رقم الحدیث ١٣(٢٨٣٣) ، سنن الدارمي رقم الحدیث ٢٨٨٣ ، مشکاة المصابیح رقم الحدیث ٥٦١٨(٧) .

Scanned with CamScanner

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ سُوقًا مَا فِيهَا بَيْعٌ وَلَا شِرَاءٌ، إِلَّا الصُّوَرُ مِنَ النِّسَاءِ وَالرِّجَالِ، فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا.

بیشکه په جنت کې یو بازار دی چې په هغې کې به اخیستل خرڅول (یعنی تجارت) نه وي بلکه په هغې کې به د ښځو او سړو مختلف (ښائسته ښائسته) صورتونه وي، چې کله سړی (یا ښځه) یو صورت خوښ کړي نو په هغې کې به داخل شي. (١)

(یعنی دده چې کوم صورت خوښ وي نو الله تعالی به دده شکل و صورت د هغه په شان کړي). (٢)

٢. د مشهور تابعي "سعيد بن مسيّب رَحِمَهُ اللَّهُ" ملاقات د حضرت ابوهريرة ﷺ سره (د مديني منوّرې په بازار کې) اوشو، حضرت ابوهريرة ﷺ ورته اوفرمايل:

أَسْأَلُ اللهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ.

---

(١) پوره حديث داسې دی: عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ سُوقًا مَا فِيهَا بَيْعٌ وَلَا شِرَاءٌ، إِلَّا الصُّوَرُ مِنَ النِّسَاءِ وَالرِّجَالِ، فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا، وَإِنَّ فِيهَا لَمَجْمَعًا لِلْحُورِ الْعِينِ يَرْفَعْنَ أَصْوَاتًا لَمْ يَرَ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا، يَقُلْنَ: نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيدُ، وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ، وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ، فَطُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٣٤٣، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٣٩٧١، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٥٠، مسند البزار رقم الحديث ٧٠٣، مشكاة المصابيح كِتَابُ أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وأهلها، الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٤٦(٣٥)، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٣٣٧، ورقم الحديث ٤٤٠٥٢، صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ٢٤٤، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٢٩، احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٤١.

(٢) (فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا) وَكَذَا إِذَا اشْتَهَتِ النِّسَاءُ صُورَةً دَخَلْنَ فِيهَا.... ثُمَّ قِيلَ: يَحْتَمِلُ الْحَدِيثُ مَعْنَيَيْنِ. أَحَدُهُمَا: أَنْ يَكُونَ مَعْنَاهُ عَرْضَ الصُّوَرِ الْمُسْتَحْسَنَةِ عَلَيْهِ، فَإِذَا اشْتَهَى وَتَمَنَّى تِلْكَ الصُّورَةَ الْمَعْرُوضَةَ عَلَيْهِ صَوَّرَهُ اللهُ سُبْحَانَهُ بِشَكْلِ تِلْكَ الصُّورَةِ بِقُدْرَتِهِ. وَثَانِيهِمَا: أَنَّ الْمُرَادَ مِنَ الصُّورَةِ الزِّينَةُ الَّتِي يَتَزَيَّنُ الشَّخْصُ بِهَا فِي تِلْكَ السُّوقِ، وَيَتَلَبَّسُ بِهَا، وَيَخْتَارُ لِنَفْسِهِ مِنَ الْحُلِيِّ وَالْحُلَلِ وَالتَّاجِ. يُقَالُ: لِفُلَانٍ صُورَةٌ حَسَنَةٌ، أَيْ هَيْئَةٌ مَلِيحَةٌ، يَعْنِي فَإِذَا رَغِبَ فِي شَيْءٍ مِنْهَا أُعْطِيَهُ، وَيَكُونُ الْمُرَادُ مِنَ الدُّخُولِ فِيهَا التَّزَيُّنَ بِهَا، وَعَلَى كِلَا الْمَعْنَيَيْنِ التَّغَيُّرُ فِي الصِّفَةِ لَا فِي الذَّاتِ. مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٥٩٣ بَابُ صفة الجنة وأهلها.

Scanned with CamScanner

زه د الله تعالى نه دا سوال کوم چې ما او تا د جنت په بازار کې سره يو ځاى کړي .
سعيد بن مسيّب رَحِمَهُ اللَّه ورته پوښتنه اوکړه :
أَفِيهَا سُوقٌ ؟ آيا په جنت کې به بازار وي ؟
حضرت ابوهريرة رضي الله عنه ورته اوفرمايل : آو ، ماته رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې خبر راکړې دى ....

( بيا حضرت ابوهريرة رضي الله عنه اُوږد حديث ذکر کړو چې په هغې کې د الله تعالى د دِيدار تذکره هم شته ) .

په دې حديث کې نبي عليه السلام دا هم اوفرمايل .... په جنتيانو باندې به د پاسه طرف نه يوه وريځ راشي ، په دوى باندې به داسې خوشبوئي اُووَروي چې دغه شان خوشبوئي به دوى په بل هيڅ شي کې نه وي موندلي ، بيا به زمونږ رب اوفرمايي :
قُومُوْا إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ فَخُذُوْا مَا اشْتَهَيْتُمْ .
تاسو وَرپاځئ هغه عزتونو طرف ته کوم چې ما ستاسو د پاره تيار کړي دي او څه مو چې زړه غواړي هغه واخلئ .
نبي عليه السلام اوفرمايل :
فَنَأْتِيْ سُوْقًا قَدْ حَفَّتْ بِهِ الْمَلَائِكَةُ، فِيهِ مَا لَمْ تَنْظُرِ الْعُيُوْنُ إِلَى مِثْلِهِ، وَلَمْ تَسْمَعِ الْآذَانُ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوْبِ فَيُحْمَلُ إِلَيْنَا مَا اشْتَهَيْنَا. لَيْسَ يُبَاعُ فِيهَا وَلَا يُشْتَرَى، وَفِيْ ذَلِكَ السُّوْقِ يَلْقَى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ....

پس مونږ به داسې بازار ته راشو چې فرښتې به د هغې نه ګېرچاپېره وي ، په دې بازار کې به داسې څيزونه وي چې دغه شان څيزونه به نه خو سترګو ليدلي وي ، نه به غوږونو اَوريدلي وي ، او نه به د چا په زړونو کې د هغې تصوّر راغلې وي ، پس مونږ ته به د دې بازار نه هغه څيزونه راکړې شي کوم چې زمونږ زړه غواړي ، په دې بازار کې به خرڅول اخيستل نه وي ، او په دې بازار کې به جنتيان د يو بل سره ملاقات کوي .... (١)

---

(١) پوره حديث داسې دى : عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ رَحِمَهُ اللَّهُ ، أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ←←←←←←

Scanned with CamScanner

# جنتيان به د يو بل ملاقات له ځي

د جنت په نعمتونو کې يو نعمت دا هم دی چې جنتيان به په قيمتي سوَرلو باندې د يو بل ملاقات له ځي، او د يو بل سره به ګپ شپ لګوي.

1. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

←←← فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ﷺ: أَسْأَلُ اللهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ. فَقَالَ سَعِيدٌ: أَفِيهَا سُوقٌ؟ قَالَ: نَعَمْ. أَخْبَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ. ثُمَّ يُؤْذَنُ فِي مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا فَيَزُورُونَ رَبَّهُمْ. وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ وَيَتَبَدَّى لَهُمْ فِي رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ. فَتُوضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوتٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ، وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ، وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ وَمَا فِيهِمْ مِنْ دَنِيٍّ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ وَالْكَافُورِ. مَا يَرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ﷺ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! وَهَلْ نَرَى رَبَّنَا؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: هَلْ تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ؟ قُلْنَا: لَا. قَالَ: كَذَلِكَ لَا تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ وَلَا يَبْقَى فِي ذَلِكَ الْمَجْلِسِ رَجُلٌ إِلَّا حَاضَرَهُ اللهُ مُحَاضَرَةً حَتَّى يَقُولَ لِلرَّجُلِ مِنْهُمْ: يَا فُلَانُ ابْنَ فُلَانٍ أَتَذْكُرُ يَوْمَ قُلْتَ: كَذَا وَكَذَا؟ فَيُذَكِّرُهُ بِبَعْضِ غَدَرَاتِهِ فِي الدُّنْيَا. فَيَقُولُ: يَا رَبِّ أَفَلَمْ تَغْفِرْ لِي؟ فَيَقُولُ: بَلَى. فَبِسَعَةِ مَغْفِرَتِي بَلَغْتَ مَنْزِلَتَكَ هَذِهِ. فَبَيْنَمَا هُمْ عَلَى ذَلِكَ غَشِيَتْهُمْ سَحَابَةٌ مِنْ فَوْقِهِمْ فَأَمْطَرَتْ عَلَيْهِمْ طِيبًا لَمْ يَجِدُوا مِثْلَ رِيحِهِ شَيْئًا قَطُّ. وَيَقُولُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى: قُومُوا إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ فَخُذُوا مَا اشْتَهَيْتُمْ. فَنَأْتِي سُوقًا قَدْ حَفَّتْ بِهِ الْمَلَائِكَةُ. فِيهِ مَا لَمْ تَنْظُرِ الْعُيُونُ إِلَى مِثْلِهِ، وَلَمْ تَسْمَعِ الْآذَانُ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوبِ فَيُحْمَلُ إِلَيْنَا مَا اشْتَهَيْنَا. لَيْسَ يُبَاعُ فِيهَا وَلَا يُشْتَرَى، وَفِي ذَلِكَ السُّوقِ يَلْقَى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا. قَالَ: فَيُقْبِلُ الرَّجُلُ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ فَيَلْقَى مَنْ هُوَ دُونَهُ وَمَا فِيهِمْ دَنِيٌّ فَيَرُوعُهُ مَا يَرَى عَلَيْهِ مِنَ اللِّبَاسِ. فَمَا يَنْقَضِي آخِرُ حَدِيثِهِ حَتَّى يَتَخَيَّلَ عَلَيْهِ مَا هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ. وَذَلِكَ أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَحْزَنَ فِيهَا. ثُمَّ نَنْصَرِفُ إِلَى مَنَازِلِنَا. فَيَتَلَقَّانَا أَزْوَاجُنَا فَيَقُلْنَ مَرْحَبًا وَأَهْلًا. لَقَدْ جِئْتَ وَإِنَّ بِكَ مِنَ الْجَمَالِ أَفْضَلَ مِمَّا فَارَقْتَنَا عَلَيْهِ. فَيَقُولُ: إِنَّا جَالَسْنَا الْيَوْمَ رَبَّنَا الْجَبَّارَ. وَيَحِقُّنَا أَنْ نَنْقَلِبَ بِمِثْلِ مَا انْقَلَبْنَا. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲۵۴۹، سنن ابن ماجة كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۴۳۳۶، صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۲۳۵، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۴۳۸، بستان الواعظين لابن الجوزي ج۱ ص ۱۴۰ رقم الحديث ۲۴۲ سوق الجنة، الابانة الكبرى لابن بطة رقم الحديث ۶۶، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۷۲۸، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وَأَهْلِهَا الفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۴۷(۳۶)، تفسير ابن كثير ج۷ ص ۱۶۲، الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۲ ص ۴۳۵.

إِنَّ مِنْ نَعِيمِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَنَّهُمْ يَتَزَاوَرُونَ عَلَى الْمَطَايَا وَالنُّجُبِ وَأَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ بِخَيْلٍ مُسَرَّجَةٍ مُلَجَّمَةٍ لَا تَرُوثُ وَلَا تَبُولُ فَيَرْكَبُونَهَا حَيْثُ شَاءَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ... (١)

بيشکه جنتيانو ته چې کوم نعمتونه ورکولې شي په هغې کې به يو نعمت دا هم وي چې دوی به په قيمتي سوَرلو باندې سواره وي او د يو بل ملاقات به کوي ، او دوی ته به د جُمعې په ورځ داسې آسونه راوستې شي چې هغه به تيار زِين کړې شوي وي او په خُله کې به يې واګې وي ، دا آسونه به خراشنه او تَشې متيازې نه کوي ، دوی به په دې باندې سواره شي او چيرته چې الله ﷻ اوغواړي هلته به يې بُوځي .

۲. د جنتيانو د آسونو وَزرې به هم وي ، او ډير تيز رفتاره به وي . (٢)

---

(١) عَنْ شُفَيِّ بْنِ مَاتِعٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ مِنْ نَعِيمِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَنَّهُمْ يَتَزَاوَرُونَ عَلَى الْمَطَايَا وَالنُّجُبِ وَأَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ بِخَيْلٍ مُسَرَّجَةٍ مُلَجَّمَةٍ لَا تَرُوثُ وَلَا تَبُولُ فَيَرْكَبُونَهَا حَيْثُ شَاءَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ، فَتَأْتِيهِمْ مِثْلُ السَّحَابَةِ فِيهَا مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ فَيَقُولُونَ: أَمْطِرِي عَلَيْنَا فَمَا يَزَالُ الْمَطَرُ عَلَيْهِمْ حَتَّى يَنْتَهِيَ ذَلِكَ فَوْقَ أَمَانِيِّهِمْ ، ثُمَّ يَبْعَثُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ رِيحًا غَيْرَ مُؤْذِيَةٍ فَتَنْسِفُ كُثْبَانًا مِنَ الْمِسْكِ عَلَى أَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَائِلِهِمْ فَيَأْخُذُ ذَلِكَ الْمِسْكُ فِي نَوَاصِي خُيُولِهِمْ وَفِي مَعَارِفِهَا وَفِي رُءُوسِهِمْ وَلِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ جُمَّةٌ عَلَى مَا اشْتَهَتْ نَفْسُهُ فَيَتَعَلَّقُ ذَلِكَ الْمِسْكُ فِي تِلْكَ الْجِمَامِ ، وَفِي الْخَيْلِ ، وَفِيمَا سِوَى ذَلِكَ مِنَ الثِّيَابِ ثُمَّ يُقْبِلُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى مَا شَاءَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَإِذَا الْمَرْأَةُ تُنَادِي بَعْضَ أُولَئِكَ : يَا عَبْدَ اللهِ ! مَا لَكَ فِينَا حَاجَةٌ ؟ فَيَقُولُ : مَا أَنْتِ ؟ وَمَنْ أَنْتِ ؟ فَتَقُولُ : أَنَا زَوْجَتُكَ وَحِبُّكَ ، فَيَقُولُ : مَا كُنْتُ عَلِمْتُ بِمَكَانِكِ ، فَتَقُولُ الْمَرْأَةُ : أَوَمَا عَلِمْتَ أَنَّ اللهَ قَالَ: { فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ } [السجدة: ١٧] فَيَقُولُ : بَلَى وَرَبِّي فَلَعَلَّهُ يَشْتَغِلُ عَنْهَا بَعْدَ ذَلِكَ الْمَوْقِفِ مِقْدَارَ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا لَا يَلْتَفِتُ وَلَا يَعُودُ مَا يَشْغَلُهُ عَنْهَا إِلَّا مَا هُوَ فِيهِ مِنَ النَّعِيمِ وَالْكَرَامَةِ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِمْ رقم الحديث ٢٣٥ ، الترغيب والترهيب للمنذري فصل في تزاورهم ومراكبهم رقم الحديث ٥٧٣٢ ، الزواجر عن اقتراف الكبائر خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُورٍ أَرْبَعَةٍ الْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذَلِكَ ج٢ ص ٤٣٦ ، تفسير المظهري ج ٢ ص ٢٠ الزهد والرقائق لابن المبارک ج ٢ ص ٦٩ .

(٢) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَخْرُجُ مِنْ أَعْلَاهَا حُلَلٌ ، وَمِنْ أَسْفَلِهَا خَيْلٌ مِنْ ذَهَبٍ مُسْرَجَةٍ مُلْجَمَةٍ مِنْ يَاقُوتٍ وَدُرٍّ ، لَا تَرُوثُ وَلَا تَبُولُ ، لَهَا أَجْنِحَةٌ خَطْوُهَا مَدُّ بَصَرِهَا فَيَرْكَبُهَا أَهْلُ الْجَنَّةِ فَتَطِيرُ بِهِمْ حَيْثُ شَاءُوا ، فَيَقُولُ الَّذِي أَسْفَلَ مِنْهُمْ دَرَجَةً: ←←←←←←

۳ . همدارنګې جنتیان به په سپینو قیمتي اُوښانو باندې هم د یو بل ملاقات له ځي چې ددې اُوښانو واګې به د دُنیا او مَافِیهَا نه ډېرې بهترې وي. (۱)

۴ . بلکه جنتیان به د هرې جُمعې په ورځ د جنت بازار ته ځي ( او هلته به د یو بل سره ملاقا کوي) . (۲)

## جنتیان به په یو بل باندې سلام اچوي

جنتیان به په جنت کې د ملاقات په وخت په یو بل باندې سلام اچوي.

۱ . الله تعالی فرمایي : ﴿ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ﴾ . (۳)

---

←←← يَا رَبِّ ! مَا بَلَّغَ عِبَادَكَ هَذِهِ الْكَرَامَةَ ؟ فَيُقَالُ لَهُمْ : إِنَّهُمْ كَانُوا يُصَلُّونَ اللَّيْلَ وَأَنْتُمْ تَنَامُونَ، وَكَانُوا يَصُومُونَ وَكُنْتُمْ تَأْكُلُونَ، وَكَانُوا يُنْفِقُونَ وَكُنْتُمْ تَبْخَلُونَ، وَكَانُوا يُقَاتِلُونَ وَكُنْتُمْ تَجْبُنُونَ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِمْ رقم الحديث ۲۳۸ . ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۹۱۱ التَّرْغِيبُ فِي قِيَامِ اللَّيْلِ ، و رقم الحديث ۵۷۳۵ فصل في تزاورهم ومراكبهم

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، قَالَ : إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَزَاوَرُونَ عَلَى الْعِيسِ الْجُونِ عَلَيْهَا رِحَالُ الْمِيسِ، تُثِيرُ مَنَاسِمُهَا غُبَارَ الْمِسْكِ، خِطَامُ أَوْ زِمَامُ أَحَدِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِم رقم الحديث ۲۳۸ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۷۳۴ فصل في تزاورهم ومراكبهم. شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۴۳۹۰ .

العيس إبل بيض في بياضها ظلمة خُفية . والمناسم بالنُّون وَالسِّين الْمُهْملَة جمع منسم وَهُوَ بَاطِن خف الْبَعِير. الترغيب والترهيب للمنذري .

وفي رواية : عَنْ أَبِي أَيُّوبَ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَزَاوَرُونَ عَلَى نَجَائِبَ بِيضٍ كَأَنَّهُمُ الْيَاقُوتُ وَلَيْسَ فِي الْجَنَّةِ شَيْءٌ مِنَ الْبَهَائِمِ إِلَّا الْإِبِلُ وَالطَّيْرُ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِم رقم الحديث ۲۴۳ . و رقم الحديث ۹۷ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۷۲۴ باب في نوق الجنة .

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا ، يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ ..... صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ وَمَا يَنَالُونَ فِيهَا مِنَ النَّعِيمِ وَالْجَمَالِ رقم الحديث ۱۳(۲۸۳۳) ، سنن الدارمي رقم الحديث ۲۸۸۳ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۶۱۸(۷) .

(۳) دَعْوٰىهُمْ فِيهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ . يونس آية ۱۰

Scanned with CamScanner

ترجمه: او د دوی دُعا به په جنت کې (د یو بل سره د ملاقات په وخت) سلام وي. (۱)

**۲. په سورة الفرقان کې ذکر دي:**

﴿ وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَٰمًا ﴾. (۲)

ترجمه: او وړاندې کولې به شي دوی ته پدې جنت کې دُعا د خیر او سلام.

یعنی جنتیان به په خپل مینځ کې په یو بل سلام اچوي، یا دا مطلب چې الله تعالی به په دوی باندې سلام اچوي، یا فرښتې به په دوی سلام اچوي. (۳)

**۳.** د قرآن کریم په نورو ډیرو آیتونو کې هم دا مضمون ذکر دی چې په جنتیانو باندې به د هر طرف نه سلام وي: کله د الله ﷻ د طرفه، کله د ملائکو د طرفه، او کله به په خپل مینځ کې په یو بل باندې سلام اچوي. (۴)

(۱) قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: ﴿ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ ﴾ أي: يحيي بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِالسَّلَامِ. وَقِيلَ: تَحِيَّةُ الْمَلَائِكَةِ لَهُمْ بِالسَّلَامِ. وَقِيلَ: تَأْتِيهِمُ الْمَلَائِكَةُ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِمْ بِالسَّلَامِ. تفسير البغوي ( معالم التنزيل في تفسير القرآن ) ج ۲ ص ۴۱۲ سورة يونس آية ۱۰.

(۲) الفرقان آية ۷۵.

(۳) قَوْلُهُ: ﴿ تَحِيَّةً ﴾ أَيْ مُلْكًا. وَقِيلَ بَقَاءً دَائِمًا ﴿ وَسَلَامًا ﴾ أَيْ: يُسَلِّمُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ. وَقَالَ الْكَلْبِيُّ: يُحَيِّي بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِالسَّلَامِ، وَيُرْسِلُ الرَّبُّ إِلَيْهِمْ بِالسَّلَامِ. وَقِيلَ: سَلَامًا أَيْ سَلَامَةً مِنَ الْآفَاتِ. تفسير البغوي ( معالم التنزيل في تفسير القرآن ) ج ۳ ص ۴۶۰ سورة الفرقان آية ۷۵.

وَالتَّحِيَّةُ مِنَ اللهِ وَالسَّلَامُ مِنَ الْمَلَائِكَةِ. وَقِيلَ: اَلتَّحِيَّةُ الْبَقَاءُ الدَّائِمُ وَالْمُلْكُ الْعَظِيمُ. وَالْأَظْهَرُ أَنَّهُمَا بِمَعْنًى وَاحِدٍ، وَأَنَّهُمَا مِنْ قِبَلِ اللهِ تَعَالَىٰ، دَلِيلُهُ قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: ﴿ تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ ﴾. تفسير القرطبي ج ۱۳ ص ۸۴.

﴿ وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴾ دعاء بالتعمير والسلامة أي يحييهم الملائكة ويسلمون عليهم. أو يحيي بعضهم بعضاً ويسلم عليه، أو تبقية دائمة وسلامة من كل آفة. تفسير البيضاوي ج۴ ص ۱۳۲.

(۴) الله تعالی فرمايي: ﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ۝ إِلَّا قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴾. الواقعة آية ۲۵، ۲۶.

ترجمه: جنتیان به په جنت کې فضول خبرې او د ګناه خبرې (بالکل) نه آوري، مګر (د هر طرف نه) د سلام سلام وینا به آوري. ←←←← ←←←

٤ . د أعراف واله خلق ( کوم چې د جنت او جهنم په مينځ کې دي ، دوی ) به هم په جنتيانو باندې سلام اچوي . په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ وَنَادَوْا أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ أَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ﴾ . (١)

ترجمه : د أعراف واله خلق به جنتيانو ته آواز اوکړي چې " په تاسو دې سلام وي " .

## جنتيان به د يو بل نه پوښتنه کوي او د دُنيا تيرې شوې خبرې به ر ايادوي

جنتيان به په جنت کې د يو بل نه پوښتنې کوي او د دُنيا تيرې شوې خبرې به رايادوي .

١ . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ۝ قَالُوٓا إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ۝ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ السَّمُومِ ۝ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُۥ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ ﴾ . (٢)

ترجمه : بعضې جنتيان به بعضو نورو ته مخ کړي او د يو بل نه به پوښتنې کوي (٣) ، دوی به وايي چې بيشکه ددينه وړاندې ( په دُنيا کې ) مونږ په خپلو کورونو کې د الله تعالى

---

→→→ په قرآن کريم کې ذکر دي : ﴿ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴾ . يس آية ٥٨ .

ترجمه : الله تعالى به په دوی باندې سلام اچوي ، دا به د رحيم رب وينا وي .

الله تعالى فرمايي : ﴿ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ۝ سَلٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴾ . الرعد آية ٢٣ ، ٢٤ .

ترجمه : او فرښتې به په دوی باندې ( د جنت ) د هرې دروازې نه داخليږي ( او دا به ورته وايي چې : ) " په تاسو باندې دې سلام وي " ( دا ) ځکه چې تاسو ( په دُنيا کې په تکليفونو باندې ) صبر کړی نو ( اوس ) د آخرت دا کور مو ډير ښه دی .

(١) ﴿ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمٰهُمْ ۚ وَنَادَوْا أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ أَن سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۚ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴾ . الاعراف آية ٤٦ .

(٢) الطور آية ٢٥ ، ٢٨ .

(٣) يعنی د يو بل حالات به معلوموي چې : چې څنګه يې ؟ څه درسره اوشو ؟ څه څه نعمتونه درکړې شو ؟ او د دُنيا د تېر شوي واقعاتو متعلق به د يو بل نه پوښتنې کوي : →→→→

Scanned with CamScanner

(د عذاب) نه ویریدو، پس الله تعالی په مونږ باندې احسان اوکړو او مونږ یې د ګرمې هوا (یعنی د جهنم) د اُور نه بچ کړو، بیشکه مونږ ددینه وړاندې (په دُنیا کې) د الله تعالی عبادت کولو، یقینًا هغه ډیر اِحسان کوونکی مهربان دی.

۲. تردې چې که په دُنیا کې د یو مؤمن سره داسې یو کس ملاؤ شوې وي چې هغه د آخرت نه مُنکِر وي نو په جنت کې به جنتیان د داسې کس متعلق تذکره کوي چې: هغه اوس چیرته دی؟ په قرآن کریم کې ددې بیان داسې شوی:

﴿ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ یَّتَسَآءَلُوْنَ ۝ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّیْ كَانَ لِیْ قَرِیْنٌ ۝ یَّقُوْلُ اَىِٕنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِیْنَ ۝ ءَاِذَا مِتْنَا وَ كُنَّا تُرَابًا وَّ عِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِیْنُوْنَ ۝ قَالَ هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ۝ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِیْ سَوَآءِ الْجَحِیْمِ ۝ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِیْنِ ۝ وَ لَوْ لَا نِعْمَةُ رَبِّیْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِیْنَ ۝ اَفَمَا نَحْنُ بِمَیِّتِیْنَ ۝ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَ مَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِیْنَ ۝ اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ۝ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْیَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ﴾. (۱)

ترجمه: په جنتیانو کې به بعضې بعضونورو طرف ته مخ کړي (او) د یو بل نه به (د حالاتو) پوښتنه کوي، په دوی کې به یو وَیونکی (دې نورو جنتیانو ته) اووایي: چې بیشکه (په دُنیا کې) زما یو (د لارې یا ملاقات) ملګرې وُ (کوم چې د آخرت نه مُنکِرۇ) هغه به (ماته د تعجب په انداز) ویل: " آیا ته (د قیامت د) ددې خبرو تصدیق کوی چې کله مونږ مړه شو خاورې او هډوکي شو نو آیا مونږ (به دوباره راژوندي کیږو او مونږ) ته به (ددې خپلو اَعمالو) بدله راکولې شي؟ " الله تعالی به (دوی ته) اوفرمایي: آیا تاسو هغه کتل غواړئ؟ (پس وې ګورئ) پس دا (واقعه بیانوونکی جنتي) به (جهنم

→→→ { وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ یَّتَسَآءَلُوْنَ } یَسْأَلُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا عَمَّا كَانُوْا عَلَیْهِ وَمَا وَصَلُوْا إِلَیْهِ تَلَذُّذًا وَاعْتِرَافًا بِالنِّعْمَةِ. تفسیر الجلالین ص ٦٩٨ سورة الطور آیة ٢٥.

﴿ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ یَّتَسَآءَلُوْنَ ﴾ یَسْأَلُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا فِي الْجَنَّةِ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: یَتَذَاكَرُوْنَ مَا كَانُوْا فِیْهِ مِنَ التَّعَبِ وَالْخَوْفِ فِي الدُّنْیَا. تفسیر البغوي ج ٤ ص ٢٩٤.

(۱) الصافات آیة ٥٠ تا ٦١.

Scanned with CamScanner

طرف ته) اوگوري نو هغه (ملگرې) به د جهنم په مينځ کې اوگوري، دا به اووايي: قسَم په الله نزدې وه چې تا زه هم (د ځان سره) هلاک کړې وی (ځکه تا زما د گمراه کولو کوشش هم کولو)، که چيرته په ما باندې د خپل رَب فضل نه وې شوی نو زه به هم تا سره په جهنم کې د حاضر کړې شوو مُجرمانو نه ووم، (بيا به دا جنتي خپلو ملگرو ته اووايي:) آيا (دا يقيني نده چې) مونږ به بيا نه مره کيږو بغير د دُنيا د ړومبي مرگ نه؟ او مونږ ته به عذاب نشي راکولی؟ (يعنی يقيني به اوس مونږ ته نه مرگ راځي او نه به راته الله ﷻ عذاب راکوي (۱))، (وړپسې الله تعالی فرمايي:) بيشکه دا (جنت ته داخليدل) ډيره لويه کاميابي ده، د دغه شان لوي کاميابۍ د پاره پکار ده چې عمل کوونکي (نېک) عمل اوکړي.

**فائده**: ددې آيتونو نه يوه خبره دا هم معلومه شوه چې جنتيان به د يو بل سره گپ شپ لږوي او د يو بل د احوالو نه به ځان خبروي. دويمه خبره ورنه دا هم معلومه شوه چې د غلط ملگري د مجلس نه ځان ساتل په کار دي ځکه انسان د هغه د غلطو عقائدو نه متأثره کيږي نو بيا به د هغه په شان د جهنم مستحق گرځي.

---

(۱) ﴿أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ إِلَّا مَوْتَتَنَا الْأُولَىٰ﴾، فِي الدُّنْيَا. ﴿وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ﴾، قَالَ بَعْضُهُمْ: يَقُولُ هَذَا أَهْلُ الْجَنَّةِ لِلْمَلَائِكَةِ حِينَ يُذْبَحُ الْمَوْتُ: ﴿أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ؟﴾ فَتَقُولُ لَهُمُ الْمَلَائِكَةُ: لَا. فَيَقُولُونَ: ﴿إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾. وَقِيلَ: إِنَّمَا يَقُولُونَهُ عَلَى جِهَةِ الْحَدِيثِ بِنِعْمَةِ اللهِ عَلَيْهِمْ فِي أَنَّهُمْ لَا يَمُوتُونَ وَلَا يُعَذَّبُونَ. وَقِيلَ: يَقُولُهُ الْمُؤْمِنُ لِقَرِينِهِ عَلَى جِهَةِ التَّوْبِيخِ بِمَا كَانَ يُنْكِرُهُ. تفسير البغوي ج ۴ ص ۳۲. زاد المسير في علم التفسير ج۳ ص ۵۴۲.

﴿أَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِينَ﴾ وَفِيهِ قَوْلَانِ، اَلْأَوَّلُ: أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا يَعْلَمُونَ فِي أَوَّلِ دُخُولِهِمْ فِي الْجَنَّةِ أَنَّهُمْ لَا يَمُوتُونَ. فَإِذَا جِيءَ بِالْمَوْتِ عَلَى صُورَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ وَذُبِحَ فَعِنْدَ ذَلِكَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُمْ لَا يَمُوتُونَ فَلَعَلَّ هَذَا الْكَلَامَ حَصَلَ قَبْلَ ذَبْحِ الْمَوْتِ. وَالثَّانِي: أَنَّ الَّذِي يَتَكَامَلُ خَيْرُهُ وَسَعَادَتُهُ فَإِذَا عَظُمَ تَعَجُّبُهُ بِهَا قَدْ يَقُولُ أَيَدُومُ هَذَا لِي؟ أَفَيَبْقَى هَذَا لِي؟ وَإِنْ كَانَ عَلَى يَقِينٍ مِنْ دَوَامِهِ. ثُمَّ عِنْدَ فَرَاغِهِمْ مِنْ هَذِهِ الْمُبَاحَثَاتِ يَقُولُونَ: إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ. وَأَمَّا قَوْلُهُ: ﴿لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ﴾ فَقِيلَ إِنَّهُ مِنْ بَقِيَّةِ كَلَامِهِمْ. وَقِيلَ إِنَّهُ ابْتِدَاءُ كَلَامٍ مِنَ اللهِ تَعَالَى أَيْ لِطَلَبِ مِثْلِ هَذِهِ السَّعَادَاتِ يَجِبُ أَنْ يَعْمَلَ الْعَامِلُونَ. التفسير الكبير ج ۲۶ ص ۳۳۴.

Scanned with CamScanner

دریمه خبره ورنه دا هم معلومه شوه چې الله تعالی په آخر کې خلقو ته ترغیب ورکړی چې د جنت نِعمتونه لویه کامیابي ده مسلمانانو ته په کار دي چې ددې د حاصلولو د پاره نېک اعمال اوکړي.

بهر حال جنتیان به په خپل مینځ کې خبرې کوي.

**۳.** په قرآن کریم کې څو ترڅو ددې پورې ذکر شوي چې جنتیان به د جهنمیانو نه هم د هغوی د تَوبیخ د پاره څه تپوسونه کوي. الله تعالی فرمایي:

﴿ وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدۡ وَجَدۡنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقّٗا فَهَلۡ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمۡ حَقّٗاۖ قَالُواْ نَعَمۡۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنُۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ۝ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: او جنتیان به جهنمیانو ته (د هغوی د توبیخ د پاره) دا آواز اوکړي چې مونږ خو تهولې (د جنت) هغه وعدې رېښتنيې اُوموندی کومې چې زمونږ رب د مونږ سره کړې وی، نو آیا تاسو هم (د جهنم) هغه وعدې رېښتینې اُوموندی کومې چې درسره خپل رَب کړې وی؟ جهنمیان به اووایي: آو (مونږ هغه وعدې رېښتینې اُوموندی)، بیا به یو آواز کوونکی د دوی په مینځ کې دا آواز اوکړي چې: '' په ظالمانو باندې د الله تعالی لعنت دی کومو به چې د الله تعالی د لارې نه خلق منع کول او په دې کې به یې کوږوالې لټولو (یعنی د خلقو په زړونو کې به یې د اسلام متعلق شُبهې اچولی) او دوی د آخرت نه هم مُنکِر وو''.

## په جنت کې مرګ نشته

**۱.** په جنت کې مرګ نشته. الله تعالی فرمایي:

﴿ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلۡمَوۡتَ إِلَّا ٱلۡمَوۡتَةَ ٱلۡأُولَىٰۖ ﴾.(۲)

---

(۱) الاعراف آیۃ ۴۴، ۴۵.

(۲) الدخان آیۃ ۵۶.

Scanned with CamScanner

ترجمه: دوی به په جنت کې مرګ نه څکي بغير د رومبي مرګ نه (کوم يې چې په دُنيا کې تېر کړې دی).

۲. د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې (کله) جنتيان جنت ته او جهنميان جهنم ته داخل شي نو بيا به د دوی په مينځ کې يو اِعلان کوونکې اُودرېږي (او دا اِعلان به اوکړي):

يَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، خُلُوْدٌ.

اې جهنميانو! مرګ نشته، او اې جنتيانو! مرګ نشته، ټول به (په خپلو خپلو ځايونو کې) هميشه يَی.(۱)

۳. د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله ﷺ فرمايي:

يُنَادِيْ مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوْا فَلَا تَسْقَمُوْا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوْتُوْا أَبَدًا، وَ إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوْا فَلَا تَهْرَمُوْا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوْا فَلَا تَبْأَسُوْا أَبَدًا.

يو آواز کوونکی به (په جنت کې) دا آواز اوکړي چې: (اې جنتيانو!) بيشکه تاسو به صحت مَند يَی هيڅ کله به نه بيماران کيږی، تاسو به ژوندي يَی هيڅ کله به نه وفات کيږی، تاسو به ځوانان يَی هيڅ کله به نه بوډاګان کيږی، او تاسو به خوشحاله يَی هيڅ کله به نه خفه کيږی.

دا ځکه چې د الله ربّ العزت قول دی:

---

(۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُوْمُ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ: يَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، خُلُوْدٌ. صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: يَدْخُلُ الْجَنَّةَ سَبْعُوْنَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ رقم الحديث ٦٥٤٤.

وفي رواية: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُدْخِلُ اللهُ أَهْلَ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَيُدْخِلُ أَهْلَ النَّارِ النَّارَ، ثُمَّ يَقُوْمُ مُؤَذِّنٌ بَيْنَهُمْ فَيَقُوْلُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ لَا مَوْتَ، كُلٌّ خَالِدٌ فِيْمَا هُوَ فِيْهِ. صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيْمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُوْنَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ۴۲ (۲۸۵۰)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٦١٣٨، شعب الايمان رقم الحديث ۳۸۱، كنز العمال رقم الحديث ۳۹۴۵۴.

﴿ وَنُودُوٓا أَن تِلۡكُمُ ٱلۡجَنَّةُ أُورِثۡتُمُوهَا بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ﴾.(۱)

ترجمه: او دوی ته به (د الله تعالی د طرفه) آواز اوکړې شي چې دا جنت تاسو ته د هغه (نېکو) اعمالو په عِوض کې درکړې شو کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.(۲)

# مرګ به د جنت او جهنم په مينځ کې ذبح کړې شي

۱. الله تعالى فرمايي:

﴿ وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡحَسۡرَةِ إِذۡ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَهُمۡ فِي غَفۡلَةٍ وَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾.(۳)

ترجمه: او (اې پيغمبره!) ته دوی اُويَروه د ورځې د پښيمانتيا نه (يعنی د قيامت د ورځې نه) کله چې د کار فيصله اوشي (يعنی مرګ د ګډ په شکل د جنت او جهنم په مينځ کې ذبح کړې شي)، حالانکه دوی (نن ورځ په دُنيا کې) په غفلت کې پراته دي او دوی ايمان نه راوړي.

يعنی نن ورځ د عِناد په وجه ايمان نه راوړي خو د قيامت په ورځ چې کله فيصله اوشي او مرګ ذبح کړې شي نو دوی ته به هلته افسوس ورشي.(۴)

---

(۱) الأعراف آية ۴۳.

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " يُنَادِي مُنَادٍ: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا" فَذَلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} [الأعراف: ۴۳]. صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي دَوَامِ نَعِيمِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} رقم الحديث ۲۲ (۲۸۳۷)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۹۰۵، سنن الترمذي رقم الحديث ۳۲۴۶، مشكاة المصابيح بَاب صفة الجنة وَأَهلهَا الْفَصْل الأول رقم الحديث ۵۶۲۳(۱۲)، كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۴۵۶، شرح السنّة للبغوي ج ۱۵ ص ۲۲۰.

(۳) مريم آية ۳۹.

(۴) ﴿ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ ﴾ فُرِغَ مِنَ الْحِسَابِ وَأُدْخِلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ، وَذُبِحَ الْمَوْتُ. تفسير البغوي ج ۳ ص ۲۳۴.

رُوِيَ أَنَّهُ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ: ﴿ قُضِيَ الْأَمْرُ ﴾ فَقَالَ: حِينَ يُجَاءُ ←←←←←←

Scanned with CamScanner

۲. په بخاري شریف او مسلم شریف کې ددې تفصیل ذکر دی : رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې د قیامت په ورځ به مرګ د سپین او تور رنګ واله (یعنی برګ) ګډ په شکل راوستې شي ، د جنت او جهنم په مینځ کې به اُودرولې شي ، بیا به اوویلې شي :

یَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ! هَلْ تَعْرِفُوْنَ هٰذَا؟ اې جنتیانو ! آیا تاسو دا پیژنی ؟

دوی به ورته سَر رااُوچت کړي او به یې ګوري ، بیا به اووایي :

نَعَمْ، هٰذَا الْمَوْتُ . آو (مونږ دا پیژنو) دا مرګ دی .

بیا به دوباره وویلې شي :

یَا أَهْلَ النَّارِ ! هَلْ تَعْرِفُوْنَ هٰذَا؟

اې جهنمیانو ! آیا تاسو دا پیژنی ؟

دوی به هم ورته سَر رااُوچت کړي ، ورته اُو به ګوري او بیا به اووایي :

نَعَمْ، هٰذَا الْمَوْتُ . آو ، دا مرګ دی .

فَیُؤْمَرُ بِهٖ فَیُذْبَحُ .

بیا به ددې مرګ په باره کې حکم اوشي او دا به ذبح کړې شي .

بیا به وویلې شي :

یَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ! خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتَ ، وَیَا أَهْلَ النَّارِ ! خُلُوْدٌ فَلَا مَوْتَ .

اې جنتیانو ! اوس به تاسو همیشه ژوندي یَی مرګ به (درله) نه راځي ، او اې جهنمیانو ! اوس به تاسو همیشه ژوندي یَی مرګ به نه راځي .

بیا رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آیت مبارک اُولوست :

﴿ وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ .(۱)

---

←←← بِالْمَوْتِ فِيْ صُوْرَةِ كَبْشٍ أَمْلَحَ فَيُذْبَحُ وَالْفَرِيْقَانِ يَنْظُرَانِ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا عَلَى فَرَحٍ وَأَهْلُ النَّارِ غَمًّا عَلَى غَمٍّ . التفسیر الکبیر ج ۲۱ ص ۱۵۴ .

(۱) مریم آیة ۳۹ .

Scanned with CamScanner

ترجمه : او ته دوی اُویروه د ورځې د پښیمانتیا نه کله چې د کار فیصله اوشي (یعنی مرګ د ګډ په شکل د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي) ، حالانکه دوی (نن ورځ په دُنیا کې) په غفلت کې پراته دي او دوی اِیمان نه راوړي.

نبي علیه السلام په لاس مبارک سره دُنیا طرف ته اِشاره اوکړه (چې دوی دلته په دُنیا کې په غفلت کې دي). (۱)

## د دُنیا نِعمتونه آخِر هم ختمیږي

د دُنیا نعمتونه آخِر هم ختمیږي ، او انسان ورنه وفات کیږي خو د جنت نِعمتونه دائمي دي او هلته مرګ نشته.

**واقعه** : په تیره شوې زمانه کې یو بادشاه یو ښار جوړ کړو ، (په هغې کې یې یو قیمتي کور جوړ کړو) د هغې په ښائست باندې یې ډیر مال و دولت اُولګول ، بیا یې خوراک تیار کړو او خلقو ته یې دعوت ورکړو ، خلق راجمع شو ، بادشاه د کور په دروازه کې څه خلق کینول او هغوی ته یې حکم اوکړو چې کله خلق د خوراک خوړلو نه پس دوباره د دې کور نه اُوځي نو تاسو ورنه پوښتنه کوئ چې "آیا تاسو په دې کور کې څه عیب اُولید ؟"

ټولو خلقو به جواب ورکولو چې په دې کې هیڅ عَیب نشته ، په آخره کې څه کمبل اغوستونکي فقیران راغلل ، دې خلقو ددوی نه هم پوښتنه اوکړه "چې آیا تاسو په دې کور

---

(۱) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُجَاءُ بِالْمَوْتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، كَأَنَّهُ كَبْشٌ أَمْلَحُ فَيُوقَفُ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، فَيُقَالُ : يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا ؟ فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ وَيَقُولُونَ : نَعَمْ. هَذَا الْمَوْتُ، قَالَ: وَيُقَالُ : يَا أَهْلَ النَّارِ هَلْ تَعْرِفُونَ هَذَا؟ قَالَ فَيَشْرَئِبُّونَ وَيَنْظُرُونَ وَيَقُولُونَ : نَعَمْ، هَذَا الْمَوْتُ، قَالَ فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُذْبَحُ ، قَالَ : ثُمَّ يُقَالُ: يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ ! خُلُودٌ فَلَا مَوْتَ، وَيَا أَهْلَ النَّارِ ! خُلُودٌ فَلَا مَوْتَ" قَالَ: ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ} وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الدُّنْيَا . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ۴۰(۲۸۴۹) . صحيح البخاري رقم الحديث ۴۷۳۰ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۰۶۶ ، مسند البزار رقم الحديث ۷۹۵۷ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۲۵۴ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۳۳۴۶ ، المستدرک علی الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۷۸ .

Scanned with CamScanner

کې څه عیب اُولید ؟ " دوی ورته وویل : آو ، په دې کې دوه عیبونه دي .
د دَروازې خلقو دوی اُودرول او بادشاه ته یې ددې اطلاع ورکړه .
بادشاه وویل : زه په یو عیب باندې راضي نه یم او دوی وایي چې په دې کې دوه عیبونه دي لهذا دوی ماته راولئ .
کله چې دوی د بادشاه دربار ته بوتلې شو نو بادشاه د دوی نه پوښتنه اوکړه : هغه دوه عیبونه په دې کې څه دي ؟
دوی ورته وویل : ۱ . دا کور به آخر وران شي ، ۲ . او ددې مالِک به آخر مړ شي .
بادشاه ورنه پوښتنه اوکړه : آیا داسې یو کور شته چې هغه هیڅ کله وران نشي او د هغې مالِک هیڅ کله مړ نشي ؟
دوی ورته وویل : آو ، هغه جنت دی .
بیا دې کمبل اغوستونکو فقیرانو بادشاه ته د جنت د ائمي نِعمتونو تذکره اوکړه ، دده شوق یې هغې ته راپیدا کړو ، د جهنم د عذاب نه یې اُویرول ، او د الله ﷻ عبادت طرف ته یې متوجِّه کړو .
په بادشاه باندې ددې فقیرانو خبرو دیر آثر اوکړو ، بادشاهي یې پرېخوده ، د گناهونو نه یې توبه اُوویسته ، او د الله ﷻ عبادت طرف ته متوجِّه شو .(۱)

## په جنت کې اُوده کیدل نشته

لکه څرنگې چې په جنت کې مرگ نشته نو همدغه شان په جنت کې اُوده کیدل هم نشته ځکه اُوده کیدل هم د مرگ یو قِسم دی .
په احادیثو کې راځي چې یو کس د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه اوکړه :
یَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَیَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ ؟
اې د الله رسوله ! آیا جنتیان به په جنت کې اُوده کیږي ؟
پیغمبر علیه السلام ورته اوفرمایل :

(۱) روض الریاحین .

Scanned with CamScanner

اَلنَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ ، وَأَهْلُ الْجَنَّةِ لَا يَنَامُوْنَ .

خوب د مرګ ورور (يعنى ددې يو قِسم) دى او جنتيان به نه اُوده کيږي . (١)

**نوټ** : په جنت کې به شپږ (٦) شيان نه وي : ١ . مرګ ٢ . خوب ٣ . حسد ۴ . نجاست ۵ . بوداوالي ٦ . ګيره (يعنى جنتيان به بې ګيرې ځوانان وي) . (٢)

## جنتيانو سره به د دوی مؤمنان اَولاد هم جنت ته داخليږي

مؤمنان بچي به هم د خپلو والدينو سره په جنت کې وي ؛ ددې د پاره چې ددې والدينو سترګې وربانديې يخې شي .

١ . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِاِيْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ كُلُّ امْرِئٍۢ بِمَا كَسَبَ رَهِيْنٌ ﴾ . (٣)

ترجمه : او کومو خلقو چې اِيمان راوړو او د دوی بچو هم په اِيمان کې د دوی پيروي اوکړه نو مونږ به (په جنت کې) د دوی بچي د دوی سره يو ځای کړو ، او مونږ به د دوی (پلارانو) د عملونو نه هيڅ کمې اونکړو ، هر کس به په خپل عمل کې ګانړه (ګېر) وي .

**فائده** : اګر چې په جنت کې به د بچو درجه د والدينو نه ښکته وي ځکه نېک اعمال به يې کمزوري وي خو بيا به هم الله تعالى دا بچي د والدينو سره يو ځای کړي ، دا ددې د پاره

---

(١) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﵁ قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَيَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلنَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ ، وَأَهْلُ الْجَنَّةِ لَا يَنَامُوْنَ ". مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ١٨٧٣٠ كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَا يَنَامُوْنَ . وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَالْبَزَّارُ، وَرِجَالُ الْبَزَّارِ رِجَالُ الصَّحِيحِ. المعجم الاوسط رقم الحديث ٩١٩ ، حلية الاولياء ج ٧ ص ٩٠ ، تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٢٦١ سورة الدخان في تفسير آية ٥٦ .

(٢) آخرت كى ياد ، ملفوظات القدس مولانا افتخار الحسن كاندهلوي ص ٣٠ .

(٣) الطور آية ٢١ .

Scanned with CamScanner

چې دا والدين خوشحال شي، او په بچو سره يې سترګې يَخې شي .(١)

په مذکوره آيت کې چې د مؤمنانو د بچو کومه تذکره اوشوه نو ددينه بالغ او نابالغ دواړه مراد دي؛ ځکه د مؤمنانو بالغ بچي به دخپل اِيمان په وجه جنت ته داخليږي، او نابالغ به د والدينو د اِيمان په وجه داخليږي. (٢)

**٢. په يو حديث کې راځي، رسولُ الله ﷺ فرمايي:**

**إِنَّ الْمُؤْمِنِينَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي الْجَنَّةِ.** (٣)

---

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: { أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ } [الطور: ٢١] قَالَ: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ ذُرِّيَّةَ الْمُؤْمِنِ مَعَهُ فِي دَرَجَتِهِ فِي الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانُوا دُونَهُ فِي الْعَمَلِ» . ثُمَّ قَرَأَ { وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ } [الطور: ٢١] يَقُولُ: «وَمَا نَقَصْنَاهُمْ» . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الطُّورِ رقم الحديث ٣٧٤٤ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١٢٩١ .

عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ اللهُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَظُنُّهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ الْجَنَّةَ سَأَلَ عَنْ أَبَوَيْهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ، فَيُقَالُ إِنَّهُمْ لَمْ يَبْلُغُوا دَرَجَتَكَ وَعَمَلَكَ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ لِي وَلَهُمْ فَيُؤْمَرُ بِإِلْحَاقِهِمْ بِهِ " وَقَرَأَ ابْنُ عَبَّاسٍ { وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ } [الطور: ٢١] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٢٢٤٨ .

... أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمُ الْمُؤْمِنِينَ فِي الْجَنَّةِ بِدَرَجَاتِهِمْ، وَإِنْ لَمْ يَبْلُغُوا بِأَعْمَالِهِمْ دَرَجَاتِ آبَائِهِمْ تَكْرِمَةً لِآبَائِهِمْ لِتَقَرَّ بِذَلِكَ أَعْيُنُهُمْ . مرقاة المفاتيح بَابُ الْإِيمَانِ بِالْقَدَرِ ج ١ ص ١٩٢ في تشريح حديث ١١٧ .

(٢) .... وَإِنَّمَا يُسْتَفَادُ مِنْ تَفْسِيرِ الْبَغَوِيِّ حَيْثُ قَالَ: اِخْتَلَفُوا فِي تَفْسِيرِ الْآيَةِ. فَقَالَ قَوْمٌ: مَعْنَاهَا { وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ } [الطور: ٢١] يَعْنِي: أَوْلَادَهُمُ الصِّغَارَ وَالْكِبَارَ، فَالْكِبَارُ بِإِيمَانِهِمْ بِأَنْفُسِهِمْ، وَالصِّغَارُ بِإِيمَانِ آبَائِهِمْ، فَإِنَّ الْوَلَدَ الصَّغِيرَ يُحْكَمُ بِإِسْلَامِهِ تَبَعًا لِأَحَدِ الْأَبَوَيْنِ . مرقاة المفاتيح بَابُ الْإِيمَانِ بِالْقَدَرِ ج ١ ص ١٩٢ في تشريح حديث ١١٧ .

(٣) پوره حديث داسې دى: عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه، قَالَ: سَأَلَتْ خَدِيجَةُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَلَدَيْنِ مَاتَا لَهَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُمَا فِي النَّارِ» . قَالَ: فَلَمَّا رَأَى الْكَرَاهِيَةَ فِي وَجْهِهَا قَالَ: «لَوْ رَأَيْتِ مَكَانَهُمَا لَأَبْغَضْتِهِمَا» قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! فَوَلَدِي مِنْكَ؟ قَالَ: «فِي الْجَنَّةِ» قَالَ: ←←←←

Scanned with CamScanner

بیشکه مؤمنان او د دوی اَولاد به په جنت کې وي .

## د غونډ تقریر خلاصه

د غونډ تقریر خلاصه دا رااُووته چې الله تعالی د خپلو نېکانو بندګانو سره د جنت وعده کړې ، ددې د حاصلولو ترغیب یې ورکړی ، او د دوی د پاره یې د جنت داسې نعمتونه تیار کړي چې هغه د انسان د تصوّر نه بهر دي .

په جنت کې به د جنتي هر خواهش سمدست پوره کیږي ، په آرام او خوشحالۍ سره به ژوند تیروي ، او هیڅ تکلیف به ورته نه وي .

جنتیان به په جنت کې فضول خبرې ، د ګناه خبرې او دروغ بالکل نه آوري .

جنتیان چې کله جنت ته داخلیږي نو ډلې ډلې د وَفد په شکل به داخلیږي ، د داخلیدو په وخت به د دوی مخونه د ډیر ښائست په وجه د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان رُوښانه پرقیږي .

جنتیانو ته به په جنت کې د الله تعالی دِیدار نصیب کیږي ، الله تعالی به د دوی نه راضي وي ، په دوی به سلام اچوي ، او د دوی سره به خبرې کوي .

همدغه شان فرښتې به هم په جنتیانو باندې سلام اچوي .

د جنت نِعمتونه لویه بادشاهي ده ځکه د اَدنٰی جنتي او د ټولو نه آخِر کې جنت ته داخلیدونکي کس ته به د دُنیا په لس چنده غټ جنت ورکولې شي ، او دده هر خواهش به پوره کولې شي .

جنتیان به د هرې جُمعې په ورځ د جنت بازار ته ځي ، هلته به د نورو نِعمتونو سره سره د دوی په حُسن کې هم اِضافه کیږي . همدارنګې چې د جنت په بازار کې د دوی کوم شکل و

←←← ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِنَّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي الْجَنَّةِ . وَإِنَّ الْمُشْرِكِيْنَ وَأَوْلَادَهُمْ فِي النَّارِ » ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : { وَالَّذِيْنَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيْمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ } . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٣١ مُسْنَدُ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . مشكاة المصابيح كتاب الإيمان بَاب الإِيمَانِ بِالقدرِ الفَصْل الثَّالِث رقم الحديث ١١٧(٣٩) . مجمع الزوائد كِتَابُ القَدَرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الأَطْفَالِ رقم الحديث ١١٩٣٠ .

Scanned with CamScanner

صورت خوښ شي نو هماغه شکل به د دوی هم جوړ شي.
جنتیان به په قیمتي سوَرلو باندې د یو بل ملاقات له ځي، په یو بل به سلام اچوي، د یو بل د اَحوالو پوښتنه به کوي، او د دُنیا تېرې شوې خبرې به سره رایادوي.
د دُنیا نعمتونه که هر څومره دیر وي خو آخر هم ختمیږي او انسان ورنه وفات کیږي لیکن جنتیان به همیشه په جنت کې اُوسیږي، ځکه په جنت کې مرګ نشته، مرګ به د ګډ په شکل باندې د جنت او جهنم په مینځ کې ذبح کړې شي.
جنتیانو سره به د دوی مؤمنان بالغ بچي، او نابالغ بچي هم جنت ته داخل کړې شي دا ددې د پاره چې د والدینو سترګې ورباندې یَخې شي.

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټولو ته هم د جنت دا ښائسته نعمتونه رانصیب کړي.
ربّ کریم دې مونږ ټول په خپل دیدار سره مُشرّف کړي. او مونږ ټولو نه دې راضي شي.
پروردِګارِ عالَم دې مونږ ته د هغه اعمالو کولو توفیق رانصیب کړي چې د هغې په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي.
الله ربّ العزت دې د قیامت په ورځ مونږ ټولو ته د نبي علیه السلام په لاس مبارک باندې د حوضِ کوثر اُوبه او د دوی شفاعتِ کُبرٰی رانصیب کړي.

آمِین یَارَبَّ العَالَمِین.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِینَ

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

﴿ وَاَمۡدَدۡنٰهُمۡ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحۡمٍ مِّمَّا يَشۡتَهُوۡنَ ﴾

الطور آیة ۲۲ .

# د جنتِ نعمتونه او خوشحالی

(دویم بیان)

تالیف


آبُوالشَّمۡس مولانا نُوۡرُالۡهُدٰی عُفِيَ عَنۡهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

# نوټ

" **د جنتِ نعمتونه او خوشحالۍ** (دويم بيان) " دا موضوع اگر چې لږه اُوږده ده ، ځکه د جنت اکثره نِعمتونه په دې کې بيان شوي ، خو بيا مې هم ديته په داسې انداز باندې ترتيب ورکړی چې مُقرّبِين په آسانه باندې ځان ته دا په دوه جُمعو کې تقسيمولې شي .

که مُقرِّبين دا په دوه جُمعو کې بيان کړي نو فائده به يې زياته وي .

**ابوالشمس عفي عنه**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جنت نعمتونه او خوشحالي (دویم بیان)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَّا نَبِيَّ بَعْدَهٗ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهٗ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ، وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهٗ وَتَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ، أَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ: ﴿ وَأَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴾.(١)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَّإِسْتَبْرَقٌ وَّحُلُّوْا أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ وَسَقٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴾.(٢)

وَقَالَ تَعَالٰى: ﴿ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ فِيْهَا أَنْهٰرٌ مِّنْ مَّاءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ وَأَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ وَأَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ وَأَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ﴾.(٣)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُوْنَ فِيْهَا وَيَشْرَبُوْنَ، وَلَا يَتْفُلُوْنَ وَلَا يَبُوْلُوْنَ وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ.(٤)

---

(١) الطور آية ٢٢.

(٢) الدهر (الانسان) آية ٢١.

(٣) سورة محمد آية ١٥.

(٤) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُوْلُ: « إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُوْنَ فِيْهَا وَيَشْرَبُوْنَ، وَلَا يَتْفُلُوْنَ وَلَا يَبُوْلُوْنَ وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ » قَالُوْا: فَمَا بَالُ الطَّعَامِ؟ قَالَ: « جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ، يُلْهَمُوْنَ التَّسْبِيْحَ وَالتَّحْمِيْدَ كَمَا تُلْهَمُوْنَ النَّفَسَ » . صحيح مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها باب في صفات الجنة وأهلها وتسبيحهم فيها بكرة وعشيا رقم الحديث ١٨(٢٨٣٥) ، مسند احمد مخرجا ١٤٧٦٩ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٣٥ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٤٨٦٦ .

وَ قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ . (۱) صَدَقَ اللهُ الْعَظِيمِ .

## تمهیدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو وروڼو ! تېره جُمعه مې درته د جنت د نِعمتونو بیان شروع کړې وُ ، څه حصه شوې وُ ، نور پاتې وُ ، نن به هم إن شاء الله درته د جنت د نورو نِعمتونو تفصیلي بیان کوم. خو اول درته د جنت نومونه ذکر کوم :

## په قرآن کریم د جنت نومونه

د جنت مختلف نومونه دي خو زه به درته صرف هغه لس (۱۰) نومونه ذکر کړم کوم چې په قرآن کریم کې صراحةً ذکر دي : جَنَّت، دَارُ السَّلَام ، جَنَّةُ عَدْن ، جَنَّةُ النَّعِيم ، جَنَّةُ الْمَأْوٰى ، جَنَّةُ الْفِرْدَوْس ، جَنَّةُ الْخُلْد ، دَارُ الْمُقَامَة ، مَقَامٌ اَمِيْن ، مَقْعَدُ الصِّدْق .

اوس یې درته تفصیل ذکر کوم :

**اول نوم : " جنّت "** (د جنت معنٰی ده : هغه باغ چې په هغې کې ډیرې ونې وي )

په قرآن کریم کې دا نوم ذکر شوی ، الله تعالی فرمایي :

﴿ وَاللهُ يَدْعُوْا اِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِاِذْنِهٖ ﴾ . (۲)

ترجمه : او الله تعالی په خپل حکم سره جنت او بخښې طرف ته بلنه ورکوي . (۳)

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي دَوَامِ نَعِيمِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} [الأعراف: ۴۳] رقم الحدیث ۲۱(۲۸۳۶) . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۹۲۷۹ ، و رقم الحدیث ۹۳۹۱ ، مسند ابي داؤد الطیالسي رقم الحدیث ۲۷۰۶ ، سنن الدارمي رقم الحدیث ۲۸۶۱ ، مسند البزار رقم الحدیث ۹۴۶۸ .

(۲) البقرة آية ۲۲۱ .

(۳) بل ځای فرمایي : ﴿ وَسَارِعُوْا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴾ . ترجمه : او تاسو منډه کړئ د خپل رب د طرفه مغفرت طرف ته ، او هغه جنت طرف ته چې د هغې پلنوالی د آسمانونو او زمکې برابر دی ، کوم چې د مُتّقیانو د پاره تیار کړې شوې دی. آل عمران آیة ۱۳۳ .

Scanned with CamScanner

## دويم نوم : " دَارُ السَّلَام " (ددې معنٰی ده : كور د سلامتيا)

په قرآن كريم كې د جنت بل نوم دَارُ السَّلَام ذكر شوى ، لكه په دې آيتونو كې :

﴿ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ﴾ .(١)

ترجمه : او الله تعالى (تاسو) رابلي كور د سلامتيا (يعنى جنت) طرف ته.

بل ځاى ذكر دي :

﴿ لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ ﴾ .(٢)

د دوى د پاره د خپل رَب سره كور د سلامتيا (يعنى جنت) دى.

جنت ته دَارُ السَّلَام ددې د وجې هم وايي چې مؤمنان به په دې كې په يو بل باندې سلام اچوي ، الله تعالى به هم په دوى سلام اچوي ، او فرښتې به هم په دوى باندې سلام اچوي. (٣)

## دريم نوم : " جَنَّةُ عَدْنٍ " (ددې معنٰی ده : جنت د هميشه پاتې كيدو. يعنى په دې كې به جنّتيان هميشه اُوسيږي).

د جنت دا نوم هم په قرآن كريم كې ذكر دى ، الله تعالى فرمايي :

﴿ جَنّٰتُ عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا ﴾ . (٤)

ترجمه : (د دوى د پاره) جنتونه د هميشه اُوسيدو دي چې دوى به ديته داخليږي.

بل ځاى ذكر دي :

﴿ جَنّٰتِ عَدْنِ الَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ بِالْغَيْبِ ﴾ . (٥)

---

(١) يونس آية ٢٥ .

(٢) الانعام آية ١٢٧ .

(٣) په تيره موضوع كې ددې پوره تفصيل تېر شوى . ابوالشمس على عنه

(٤) فاطر آية ٣٣ .

(٥) مريم آية ٦١ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: (دا مؤمنان به داخلیږي) د همیشه اُوسیدو په باغونو ( یعنی جنت ) کې د کومو چې رحمان ذات د خپلو بندګانو سره غائبانه وعده کړی.

**څلورم نوم: " جَنَّةُ النَّعِيْم "** (ددې معنٰی ده: باغ د نِعمتونو).

د جنت دا نوم هم په قرآن کریم کې ذکر شوی، الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ﴾.(۱)

ترجمه: بیشکه کومو خلقو چې اِیمان راوړو او نېک اعمال يې اوکړل نو د دوی د پاره به باغونه د نِعمتونو ( یعنی جنت ) وي.

**پنځم نوم: " جَنَّةُ الْمَأْوٰی "** (ددې معنٰی ده: جنت د اَستوګنې او تِکانې)

د جنت دا نوم هم په قرآن کریم کې ذکر دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَأْوٰى ﴾.(۲)

ترجمه: د سِدرة المُنتهٰی سره جنّة المأوٰی دی.

بل ځای فرمايي:

﴿ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ۝ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوٰى ﴾.(۳)

او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اُودریدلو نه اُویریږي او خپل نفس د خواهشاتو نه منع کړي نو یقینًا چې جنت د هغه د اُوسیدو ځای دی.

**شپږم نوم: " جَنَّةُ الْفِرْدَوْس "** (ددې معنٰی ده: هغه اعلیٰ جنت چې په هغې کې انګور او ګنړې اُونې وي).

یو قول دادی چې دا جَنَّةُ الْفِرْدَوْس په ټولو جنّتونو کې اعلیٰ جنت دی، بل قول دادی چې دا ټولو جنتونو ته ویلې شي.

---

(۱) لقمان آية ۸.

(۲) النجم آية ۱۵.

(۳) النازعات آية ۴۰، ۴۱.

Scanned with CamScanner

د جنت دا نوم هم په قرآن کريم کې ذکر دی ، الله تعالی فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴾.(١)

ترجمه : بيشکه کومو خلقو چې ايمان راوړو او نېک اعمال يې اوکړل نو د دوی د پاره به جَنَّةُ الْفِرْدَوْس ځای د ميلمستيا وي.

(يعنی دلته به مېلمانه وي).

په سورة المؤمنون کې الله تعالی د کامِل مؤمنانو صفتونه ذکر کړي ، د هغې په آخر کې فرمايي :

﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ . الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾.(٢)

ترجمه : همدا خلق حقيقي وارثان دي کوم چې به جنّة الفردوس په ميراث کې اخلي (او) دوی به په دې کې هميشه وي.

## أووم نوم : " جَنَّةُ الْخُلْد " (ددې معنٰی ده : جنت د هميشه أوسيدو. يعنی په دې کې به جنتيان هميشه أوسيږي او ددينه به ويستلې نشي).

د جنت دا نوم هم په قرآن کريم کې ذکر دی.

الله تعالی په سورة الفرقان کې د جهنم د عذابونو تذکره کړی ، بيا فرمايي :

﴿ قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ﴾.(٣)

ترجمه : (اې پيغمبره !) ته ورته اووايه چې دا (جهنم) بهتر دی يا جنت د هميشه أوسيدو بهتر دی د کوم چې د مُتّقيانو سره وعده کړې شوی ؟

## أتم نوم : " دَارُ الْمُقَامَة " (ددې معنٰی ده : کور د هميشه پاتې کيدو).

د جنت دا نوم هم په قرآن کريم کې ذکر دی ، الله تعالی فرمايي :

---

(١) الكهف آية ١٠٧.

(٢) المؤمنون آية ١٠، ١١.

(٣) الفرقان آية ١٥.

Scanned with CamScanner

﴿ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ ۝ الَّذِي أَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهِ لَا يَمَسُّنَا فِيهَا نَصَبٌ وَلَا يَمَسُّنَا فِيهَا لُغُوبٌ ﴾.(١)

ترجمه: او (جنتيان چې کله جنت ته داخل شي نو) دوی به اووايي: ټول تعريفونه هغه الله لره دي چې هغه د مونږ نه غم لرې کړو، بيشکه زمونږ رَب ډير بخونکی او قدردان دی، کوم چې مونږ په خپل فضل سره دې کور د هميشه پاتې کيدو (يعنی جنت) ته راوستو، چې نه به مونږ ته په دې کې څه تکليف رارسي، او نه به مونږ ته په دې کې څه ستوماني (ستړي کيدل) رارسي.

## نهم نوم: " مَقَامٌ أَمِيْن " (ددې معنٰی ده: ځای د اَمن).

د جنت دا نوم هم په قرآن کريم کې ذکر دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ۝ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴾.(٢)

ترجمه: بيشکه متّقيان به په ځای د اَمن کې وي، په باغونو او چينو کې به وي.

## لسم نوم: " مَقْعَدُ الصِّدْق " (ددې معنٰی ده: ريښتيني او اُوچت ځای).

د جنت دا نوم هم په قرآن کريم کې ذکر دی، الله تعالی فرمايي:

﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ۝ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ ﴾.(٣)

ترجمه: بيشکه مُتّقيان به په باغونو او نهرونو کې وي، په اعلٰی (او ريښتيني) ځای کې به د هغه بادشاه سره وي چې د قدرتونو خاوند دی.

**د جنت نور نومونه**: ددينه علاوه د جنت نور نومونه هم شته لکه: دَارُ الْقَرَار، دَارُ الْحَيَوَان ... وغيره.

---

(١) فاطر آية ٣٤، ٣٥.

(٢) الدخان آية ٥١، ٥٢.

(٣) القمر آية ٥٤، ٥٥.

Scanned with CamScanner

ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په " مرقاة " کې د آته (٨) جنتونو تذکره کړې. (١)

اوس درته د جنت د نعمتونو تذکره شروع کوم :

## د جنت نهرونه

د قرآن کريم په ډېرو آيتونو کې دا خبره صراحةً ذکر ده چې د جنت د اُونو لاندې به نهرونه بهيږي ، يو څو آيتونه درته ذکر کوم :

١ . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ . (٢)

ترجمه: او (اې پيغمبره !) ته زيرې ورکړه هغه خلقو ته کوم چې ايمان راوړی او نېک کارونه يې کړي چې بيشکه د دوی د پاره داسې باغونه دي چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي . (٣)

٢ . بل ځای فرمايي : ﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴾ . (۴)

ترجمه : او کومو خلقو چې ايمان راوړو او نېک اعمال يې اوکړل نو ډېر زر به مونږ دوی په داسې جنتونو کې داخل کړو چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په دې کې هميشه اُوسيږي .

---

(١) هِيَ ثَمَانٍ : جَنَّةُ عَدْنٍ، وَجَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ، وَجَنَّةُ الْخُلْدِ، وَجَنَّةُ النَّعِيمِ، وَجَنَّةُ الْمَأْوَى، وَدَارُ السَّلَامِ، وَدَارُ الْقَرَارِ، وَدَارُ الْمُقَامَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٩ ص٣٥٧٨ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا

(٢) البقرة آية ٢٥ .

(٣) ﴿ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا ﴾ أَيْ: مِنْ تَحْتِ أَشْجَارِهَا وَمَسَاكِنِهَا ﴿ الْأَنْهَارُ ﴾ أَيِ: الْمِيَاهُ فِي الْأَنْهَارِ، لِأَنَّ النَّهَرَ لَا يَجْرِي . وَقِيلَ: ﴿ مِنْ تَحْتِهَا ﴾ أَيْ : بِأَمْرِهِمْ . كقوله تَعَالَى حِكَايَةً عَنْ فِرْعَوْنَ : وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِنْ تَحْتِي [الزخرف : ٥١] أَيْ : بِأَمْرِي . وَالْأَنْهَارُ جَمْعُ نَهْرٍ، سُمِّيَ بِهِ لِسَعَتِهِ وَضِيَائِهِ ، وَمِنْهُ النَّهَارُ . تفسير البغوي ج ١ ص ٩٣ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥ .

(۴) النساء آية ٥٧ .

۳. بل ځای فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعَٰمِلِينَ ﴾. (۱)

ترجمه: چاچې ايمان راوړو، او نيک عملونه يې اوکړل نو مونږ به دوی ته د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږي، دوی به په هغې کې هميشه اوسيږي، د (نيک) عمل کوونکو ډيره ښه بدله ده.

۴. بلکه زه به دا اووايم چې کله هم په قرآن کريم کې د جنت تذکره شوی نو اکثره ورسره دا ذکر دي چې: ﴿ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ ﴾ ددې جنت د اُونو لاندې به نهرونه بهيږي. (۲)

---

(۱) العنكبوت آية ۵۸، ۵۹.

(۲) نور يو څو آيتونه درته رانقل کوم: ﴿ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾. الحج آية ۱۴.

﴿ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾. التغابن آية ۹.

﴿ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُۥ رِزْقًا ﴾. الطلاق آية ۱۱.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ أُولَٰٓئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۝ جَزَآؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُۥ ﴾. البينة آية ۷، ۸.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴾. البروج آية ۱۱.

ددينه علاوه د قرآن کريم په نورو آيتونو کې هم د جنت د نهرونو بيان شته، لکه په: آل عمران آية ۱۵، و آية ۱۳۶، و آية ۱۹۵، المائدة ۱۲، و آية ۱۱۹، النساء آية ۱۲۲، التوبة آية ۸۹، الحج آية ۲۳، التحريم آية ۹، سورة محمد آية ۱۲، الفتح آية ۵، و آية ۱۷، الحديد آية ۱۲، المجادلة آية ۲۲، الصف آية ۱۲، التغابن آية ۹، الطلاق آية ۱۱.

Scanned with CamScanner

# په جنت کې به د صفا اوبو ، شودو ، شرابو ، او شهدو نهرونه بهيږي

په جنت کې به څلور قِسمه نهرونه بهيږي .

**١ .** الله تعالی ددې بيان داسې کړی :

﴿ مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ؕ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ﴾ .(١)

ترجمه : مثال د هغه جنت چې مُتّقيانو سره د هغې وعده شوی ( د هغې بيان دادی چې ) په دې کې به د داسې ( تازه ) اوبو نهرونه وي چې خرابې ( مُتغيّرې ) به نه وي ، او د داسې شودو نهرونه به وي چې د هغې خوَند به نه وي بدل شوی ، او د داسې شرابو نهرونه به وي چې څکونکو ته به خوَند ورکوونکي وي ، او د داسې شهدو نهرونه به وي چې صاف کړې شوي به وي ، او د دوی د پاره به په دې جنت کې هر قِسمه ميوې او د خپل رب د طرفه بخَنه وي .

**٢ .** د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَحْرَ الْمَاءِ وَبَحْرَ الْعَسَلِ وَبَحْرَ اللَّبَنِ وَبَحْرَ الْخَمْرِ ، ثُمَّ تُشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ .(٢)

بيشکه په جنت کې د اوبو نهر دی ، د شهدو نهر دی ، د شودو نهر دی ، او د شرابو نهر دی ، بيا ( په جنت کې د جنتيانو داخليدو نه پس ) به د هغې نهرونو نه نور نهرونه اوځي .

# دا څلور نهرونه د جنّة الفردوس نه را اوځي

**١ .** د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) سورة محمد آية ١٥ .

(٢) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٧١ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٠٩ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٠٣٢ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦٥٠ (٣٩) .

.... فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الجَنَّةِ وَأَعْلَى الجَنَّةِ ، فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ .

چې کله تاسو د الله تعالی نه سوال کوئ، نو جنّة الفردوس ورنه غواړئ ځکه دا افضل او اعلی جنت دی، ددې د پاسه د الله تعالی عرش دی، او د همدې جنّة الفردوس نه د جنت نهرونه رااوځي. (۱)

۲. د مشکوة شریف الفاظ دادي، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

... وَالفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً مِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ الأَرْبَعَةُ ... (۲)

جنّة الفِردوس د درجې په اعتبار سره په ټولو جنّتونو کې اُوچت دی، او د همدې نه د جنت څلور نهرونه جاري دي.

ددېنه هماغه څلور نهرونه مراد دي کوم چې په قرآن کریم کې ذکر شوي چې هغه د اُوبو، شودو، شرابو او شهدو نهرونه دي. (۳)

---

(۱) پوره حدیث داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَبِرَسُولِهِ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا » ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: « إِنَّ فِي الجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الجَنَّةِ وَأَعْلَى الجَنَّةِ ، فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ ». صحیح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ المُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ، يُقَالُ: هَذِهِ سَبِيلِي وَهَذَا سَبِيلِي رقم الحديث ۲۷۹۰ ، و رقم الحديث ۷۴۲۳ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ {وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى المَاءِ} [هود: ۷] ، {وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ} [التوبة: ۱۲۹]. مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفَصْلُ الأول رقم الحديث ۳۷۸۷(۱) .

(۲) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « فِي الجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ ، وَالفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً مِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ الأَرْبَعَةُ ، وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ العَرْشُ ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الفِرْدَوْسَ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال القِيَامَة وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفَصْلُ الأول رقم الحديث ۵۶۱۷(۶).

(۳) (وَمِنْهَا) أَيْ مِنْ جَنَّةِ الفِرْدَوْسِ (تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ) بِصِيغَةِ المَجْهُولِ أَيْ تُشَقَّقُ وَتَجْرِي ←←←

# د حوضِ کوثر اوبه ډیرې مزیدارې دي

۱. الله تعالی نبي علیه السلام ته فرمایي:

﴿ إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴾. (۱)

ترجمه: بیشکه مونږ تاته کوثر درکړی.

د کوثر معناګاني: د کوثر ډیرې معناګاني دي (۲)

یوه معنی یې "حوضِ کوثر" ده، دا د جنت یو تالاب دی چې نبي علیه السلام ته ورکړل شوی. بله معنی یې "خیرِ کثیر" هم ده، په دې کې دا هر څه شامل دي.

---

←←← أَنْهَارُ الْجَنَّةِ (الْأَرْبَعَةُ) ـ بِالرَّفْعِ ـ صِفَةٌ لِلْأَنْهَارِ، وَهِيَ أَنْهَارُ الْمَاءِ وَاللَّبَنِ وَالْخَمْرِ وَالْعَسَلِ الْمَذْكُورِ فِي الْقُرْآنِ ﴿ فِيهَا أَنْهَارٌ مِنْ مَاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِنْ لَبَنٍ لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِنْ خَمْرٍ لَذَّةٍ لِلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِنْ عَسَلٍ مُصَفًّى ﴾ [محمد : ۱۵] (وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ) فَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْفِرْدَوْسَ فَوْقَ جَمِيعِ الْجِنَانِ، وَلِذَا قَالَ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعْلِيمًا لِلْأُمَّةِ وَتَعْظِيمًا لِلْهِمَّةِ: « فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ » أَيْ فَإِنَّهُ سُرُّ الْجَنَّةِ ـ بِضَمِّ الْعَيْنِ وَتَشْدِيدِ الرَّاءِ ـ أَيْ: وَسَطُهَا وَخَيْرُهَا. وَرَوَى الطَّبَرَانِيُّ عَنْ سَمُرَةَ مَرْفُوعًا: « الْفِرْدَوْسُ رَبْوَةُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَاهَا وَأَوْسَطُهَا، وَمِنْهَا تُفَجَّرُ الْأَنْهَارُ الْأَرْبَعَةُ ». مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۳۵۷۹ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا في تشريح رقم الحديث ۵۶۱۷.

(۱) الکوثر آية ۱.

(۲) (الْكَوْثَرَ) وَهُوَ فَوْعَلٌ مِنَ الْكَثْرَةِ، وَالْمُرَادُ مِنْهُ الْخَيْرُ الْكَثِيرُ الَّذِي أَعْطَاهُ رَبُّهُ مِنَ الْقُرْآنِ أَوِ النُّبُوَّةِ، أَوْ كَثْرَةِ الْأُمَّةِ، أَوْ سَائِرِ الْمَرَاتِبِ الْعَلِيَّةِ، وَمِنْهَا: الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ، وَاللِّوَاءُ الْمَمْدُودُ، وَالْحَوْضُ الْمَوْرُودُ، وَلَا مُنَافَاةَ، بَلِ الْكُلُّ دَاخِلٌ فِي الْكَوْثَرِ، وَإِنْ كَانَ اشْتِهَارُهُ فِي مَعْنَى الْحَوْضِ أَكْثَرَ. مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۵۳۶ كِتَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ الْحَوْضِ وَالشَّفَاعَةِ.

وفي «الكوثر» ستة أقوال: أحدها: أنه نهر في الجنة، (كما في صحيح البخاري) .... والثاني: أن الكوثر: الخير الكثير الذي أعطي نبيّنا صلى الله عليه وسلم، قاله ابن عباس. والثالث: العلم والقرآن، قاله الحسن. والرابع: النبوة، قاله عكرمة. والخامس: أنه حوض رسول الله صلى الله عليه وسلم الذي يكثر الناس عليه. قاله عطاء. والسادس: أنه كثرة أتباعه، وأمته، قاله أبو بكر بن عياش. زاد المسير في علم التفسير ج ۴ ص ۴۹۸

Scanned with CamScanner

په " کوثر " او " حوضِ کوثر " کې فرق : که احادیثو ته نظر اوکړې شي نو دا ورنه معلومیږي چې " کوثر " په جنت کې یو نهر دی ، او " حوضِ کوثر " په میدانِ محشر کې یو تالاب دی ، دې حوضِ کوثر ته د جنت د نهر نه دوه (۲) ناوې راغلې دي د هغې نه ورته اُوبه راځي ، دا اُوبه ډیرې زیاتې مزیدارې دي چې څوک دا اُوڅکي نو بیا به ورته هیڅ کله تَنده نه لږي . (۱)

اوس درته اول هغه احادیث بیانوم په کوم کې چې دا ذکر دي " چې کوثر په جنت کې یو نهر دی " :

۲ . د مسلم شریف حدیث دی ، حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې یوه ورځ رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د مونږ سره په جُمات کې ناست وُ ناڅاپه وریاندې یو قِسم خُوب راغی ، بیا یې خپل سَر مبارک راپورته کړو په داسې حال کې چې خندیدونکی وُ ، مونږ ورنه پوښتنه اوکړه : مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟

اې د الله رسوله ! تاسو څه شي اُوخندولې ؟ (یعنی ولې مو اُوخندل ؟ )

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل : اوس په ما باندې یو سورة نازل شو ، بیا پیغمبر علیه السلام دا سورة اُولوست :

﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○ إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ① فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ② إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾.

ترجمه : شروع کوم په نامه د الله چې ډیر مهربان او زیات رَحم کوونکې دی ، بیشکه مونږ تا ته کوثر درکړی ، پس ته د خپل رَب د پاره مونځ کوه ، او قربانی کوه ، یقیناً ستا دشمن به اَبتَر (یعنی بې نوم و نِشان او د هر خېر نه بَند ) وي .

بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم (مونږ ته) اوفرمایل :

أَتَدْرُوْنَ مَا الْكَوْثَرُ ؟ آیا تاسو پوهیږئ چې " کوثر " څه شی دی ؟

مونږ ورته وویل : الله او د هغه رسول ( د دې په حقیقت باندې ) ښه پوهیږي .

---

(۱) تفسیر معارف القرآن لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله سورة الکوثر .

Scanned with CamScanner

پیغمبر علیه السلام اوفرمایل :

فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ، عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ، هُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ ...

دا ( د جنت ) يو نهر دی ، الله ربّ العزت ما سره ددې وعده کړې ، په دې کې ډير خير دی، دا داسې يو حوض دی چې د قيامت په ورځ به زما اُمت ديته ( د اُوبو څکلو د پاره ) راځي ، ددې ( د اُوبو څکلو ) لوخي به د آسمان د ستورو په شمار وي ... (١)

٣ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي : زه په جنت کې روان ووم نو ما يو نهر اُوليد چې غاړو ته يې د ملغلرو نه جوړې شوې قبې ( خيمې ) وی ، دا ملغلرې په مينځ کې ذَدې وی ( يعنی د ملغلرو مينځ خالي وُ او خيمه ورنه جوړه وه ) ، ما د حضرت جبريل عليه السلام نه پوښتنه اوکړه :

مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ؟ اې جبريل ! دا څه شی دي؟

نو هغه راته وويل :

هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِيْ أَعْطَاكَ رَبُّكَ .

دا کوثر دی چې تاسو ته خپل رَب درکړې دی .

نبي عليه السلام اوفرمايل :

فَإِذَا طِينُهُ _أَوْ طِيبُهُ_ مِسْكٌ أَذْفَرُ .

---

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه ، قَالَ : بَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ بَيْنَ أَظْهُرِنَا إِذْ أَغْفَى إِغْفَاءَةً ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مُتَبَسِّمًا ، فَقُلْنَا : مَا أَضْحَكَكَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « أُنْزِلَتْ عَلَيَّ آنِفًا سُورَةٌ » فَقَرَأَ : بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ. فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ. إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ} ثُمَّ قَالَ : « أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ ؟ » فَقُلْنَا : اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ ، قَالَ : " فَإِنَّهُ نَهْرٌ وَعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ، عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ، هُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُومِ، فَيُخْتَلَجُ الْعَبْدُ مِنْهُمْ، فَأَقُولُ : رَبِّ، إِنَّهُ مِنْ أُمَّتِي فَيَقُولُ: مَا تَدْرِي مَا أَحْدَثَتْ بَعْدَكَ " . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ حُجَّةِ مَنْ قَالَ: اَلْبَسْمَلَةُ آيَةٌ مِنْ أَوَّلِ كُلِّ سُورَةٍ سِوَى بَرَاءَةٌ رقم الحديث ٥٣(٤٠٠) . مصنف ابن ابی شيبة رقم الحديث ٣١٦٥٥ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ١١٣ ، معجم ابن عساكر رقم الحديث ٣٧٠ ، كنزالعمال رقم الحديث ٣٩١٢٦ .

Scanned with CamScanner

ما چې اُوکتل نو ددې خَټه ( يا ددې خوشبوئي ) د تېزو خوشبودارو مشکو وه.(۱)

٤. د ترمذي شريف حديث دی : د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه اوشوه :

مَا الْكَوْثَرُ ؟ کوثر څه شی دی ؟ دوی اوفرمايل :

ذَاكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللهُ _ يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ _ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، فِيهَا طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ.

دا يو نهر دی چې الله تعالى ماته په جنت کې راکړې دی ، ددې نهر اُوبه د شودو نه زياتې سپينې دي او د شهدو نه زياتې خوَږې دي ، په دې کې داسې مرغۍ دي چې د هغې څټونه د اُوښانو د څټونو په شان (اُوږده) دي.

حضرت عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دي اُوريدو سره) اوفرمايل :

إِنَّ هَذِهِ لَنَاعِمَةٌ. دا مرغۍ خو به ډير ښکلې مزيدارې ( او بهترين نِعمت) وي.

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا.

ددې مرغو خوَړونکي ( جنتيان ) به د مرغو نه زيات تندرست ( خوشحال او په نِعمت کې ) وي.(۲)

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : "بَيْنَمَا أَنَا أَسِيرُ فِي الْجَنَّةِ إِذَا أَنَا بِنَهَرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ . قُلْتُ: مَا هَذَا يَا جِبْرِيلُ ؟ قَالَ : هَذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَ رَبُّكَ . فَإِذَا طِينُهُ _ أَوْ طِيبُهُ _ مِسْكٌ أَذْفَرُ " . صحيح البخاري رقم الحديث ٦٥٨١ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٢٩٨٩ ، و رقم الحديث ١٣٠٧٩ ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ١١٧ ، و رقم الحديث ١٨٥ .

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا الْكَوْثَرُ ؟ قَالَ : ذَاكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللهُ _ يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ _ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، فِيهَا طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ، قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: إِنَّ هَذِهِ لَنَاعِمَةٌ . قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَيْرِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٤٢ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٣٣٠٦ و رقم الحديث ١٣٣١١ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٦٣٩ ، مشكاة المصابيح باب صفة الجنة وأهلها الفصل الثاني رقم الحديث ٥٦٤١(٣٠) ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٧٣٣ .

Scanned with CamScanner

**فائده :** ددې مذکوره احاديثو نه ثابته شوه چې "کوثر" په جنت کې يو نهر دی.

د نورو احاديثو نه معلوميږي چې "حوضِ کوثر" په ميدانِ محشر کې يو غټ تالاب دی، دې تالاب ته د جنت د "کوثر" نه دوه غټې ناوې رابهيږي او دا "حوضِ کوثر" به ډکوي، نبي عليه السلام به د مخکې نه د تالاب سره موجود وي، په خپلو اُمتيانو باندې به ددې اُوبه څکي، څوک چې يو ځل دا اُوبه اُوڅکي نو هغه به بيا هيڅ کله نه تږې کيږي، ددې اُوبه ډيرې مزيدارې دي، ددې حوض د اُوبو څکلو لوخي هم د آسمان د ستورو په مقدار زيات دي. دا خبرې په صحيح احاديثو کې ذکر دي، يو څو احاديث درته نقل کوم:

**٥.** د مسلم شريف حديث دی، حضرت ابوذرغفاري ﷺ فرمايي چې ما د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوکړه:

يَارَسُوْلَ اللهِ! مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ؟

اې د الله رسوله! د حوضِ کوثر لوخي به څنګه وي؟

نبي عليه السلام راته اوفرمايل:

وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُوْمِ السَّمَاءِ وَكَوَاكِبِهَا، أَلَا فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ الْمُصْحِيَةِ، آنِيَةُ الْجَنَّةِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا لَمْ يَظْمَأْ آخِرَ مَا عَلَيْهِ، يَشْخَبُ فِيْهِ مِيزَابَانِ مِنَ الْجَنَّةِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ، عَرْضُهُ مِثْلُ طُوْلِهِ، مَا بَيْنَ عَمَّانَ إِلَى أَيْلَةَ، مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ.

قَسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې د محمد (ﷺ) ساه ده ددې حوضِ کوثر لوخي د آسمان د هغه ستورو او سيارو نه هم زيات دي کوم چې په تياره شپه کې راختلي وي او آسمان هم صفا وي، دا لوخي به د جنت وي، څوک چې ددې حوض نه اُوبه اُوڅکي نو دا به تر آخره پورې (هيڅ کله) نه تږې کيږي، په دې حوضِ کوثر کې به د جنت (نهرِ کوثر) نه دوه ناوې رابهيږي، (نبي عليه السلام دوباره اوفرمايل:) څوک چې دا اُوبه اُوڅکي نو هيڅ کله به بيا نه تږې کيږي، ددې حوض پلن والې او اُوږدوالې به يو شان وي، دومره به غټ وي لکه د عمان نه تر آيله ښار پورې (کوم چې د شام دوه ښارونه دي)، ددې اُوبه

به د شودو نه زياتې سپينې وي او د شهدو نه به زياتې خوږې وي. (۱)

په يو حديث کې ددې حوض غټ والې دومره خودل شوی:

كَمَا بَيْنَ الْمَدِيْنَةِ وَصَنْعَاءَ.

لکه د مدينې او صَنعاء ښار په مينځ کې مسافت. (۲)

په يو حديث کې ددې حوض غټ والې د يوې مياشتې مسافت په اندازه خودل شوی، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

حَوْضِيْ مَسِيْرَةُ شَهْرٍ ... زما حوض د يوې مياشتې په فاصلې سره غټ دی. (۳)

۶. نبي کريم صلى الله عليه وسلم به د مخکې نه حوضِ کوثر سره موجود وي او په خپلو تابعدارو اُمّتيانو باندې به اُوبه څکوي.

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

إِنِّيْ فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ، مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ، وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا ...

---

(۱) عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ؟ قَالَ: «وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ .... صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ إِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ رقم الحديث ۳۶ (۲۳۰۰). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۳۲۷، مسند البزار رقم الحديث ۳۹۶۰، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۱۳۷، كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۱۳۸.

(۲) عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ الْحَوْضَ فَقَالَ: «كَمَا بَيْنَ الْمَدِيْنَةِ وَصَنْعَاءَ». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الْحَوْضِ رقم الحديث ۶۵۹۱. صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ إِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ رقم الحديث ۳۳ (۲۲۹۸). صحيح ابن حبان رقم الحديث ۶۴۵۱، مسند البزار رقم الحديث ۷۰۳۰، البعث والنشور رقم الحديث ۱۳۸.

(۳) قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو رضي الله عنه: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «حَوْضِيْ مَسِيْرَةُ شَهْرٍ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيْحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ، وَكِيْزَانُهُ كَنُجُوْمِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا». صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الْحَوْضِ رقم الحديث ۶۵۷۹. صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ إِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ رقم الحديث ۲۷(۲۲۹۲). صحيح ابن حبان رقم الحديث ۶۴۵۲، مشكاة المصابيح بَابُ الْحَوْضِ والشفاعة الْفَصْل الأول رقم الحديث ۵۵۶۷(۲).

زه به د تاسو نه مخکې په حوضِ کوثر باندې موجود يم ، څوک چې په ما باندې تيرېږي هغه به دا اُوبه څکي ، او څوک چې دا اُوبه اُوڅکي نو هغه به بيا هيڅ کله نه تږى کيږي . (١)

**بِدعتيان او مرتدين به د حوضِ کوثر نه منع کولې شي :** کومو خلقو چې د نبي عليه السلام نه پس په دِين کې بِدعات شروع کړي وي يا مُرتد شوي وي نو فرښتې به داسې خلق حوضِ کوثر ته نه راپريږدي . (٢)

---

(١) عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنِّي فَرَطُكُمْ عَلَى الحَوْضِ، مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ، وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا، لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونِي، ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الحَوْضِ رقم الحديث ٦٥٨٣ ، و رقم الحديث ٦٥٨٩ . صحيح مسلم كتاب الفَضَائِلِ بَابُ إِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ رقم الحديث ٢٥(٢٢٨٩) ، و رقم الحديث ٢٦ (٢٢٩٠) .

وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الحَوْضِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الحَوْضِ رقم الحديث ٦٥٧٥ .

(٢) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الحَوْضِ، وَلَيُرْفَعَنَّ مَعِي رِجَالٌ مِنْكُمْ ثُمَّ لَيُخْتَلَجُنَّ دُونِي، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أَصْحَابِي، فَيُقَالُ: إِنَّكَ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الحَوْضِ رقم الحديث ٦٥٧٦ .

(لَيُخْتَلَجُنَّ) يعدل بهم عن الحوض ويجذبون من عندي. (دُونِي) قبل أن يصلوا إلي. (مَا أَحْدَثُوا) من بدعة وفتنة ومعصية . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري .

وفي رواية : عَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِي الحَوْضَ، حَتَّى عَرَفْتُهُمُ اخْتُلِجُوا دُونِي، فَأَقُولُ: أُصَيْحَابِي، فَيَقُولُ: لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الحَوْضِ رقم الحديث ٦٥٨٢ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ : أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَرِدُ عَلَيَّ يَوْمَ القِيَامَةِ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِي، فَيُحَلَّئُونَ عَنِ الحَوْضِ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أَصْحَابِي، فَيَقُولُ: إِنَّكَ لاَ عِلْمَ لَكَ بِمَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ، إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِهِمُ القَهْقَرَى . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الحَوْضِ رقم الحديث ٦٥٨٥ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ . عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَا أَنَا قَائِمٌ إِذَا زُمْرَةٌ حَتَّى إِذَا عَرَفْتُهُمْ خَرَجَ رَجُلٌ مِنْ بَيْنِي وَبَيْنِهِمْ، فَقَالَ: هَلُمَّ، فَقُلْتُ: أَيْنَ؟ قَالَ: إِلَى النَّارِ وَاللَّهِ، قُلْتُ: وَمَا شَأْنُهُمْ؟ قَالَ: إِنَّهُمُ ارْتَدُّوا بَعْدَكَ عَلَى أَدْبَارِهِمُ القَهْقَرَى. ثُمَّ إِذَا زُمْرَةٌ، حَتَّى إِذَا عَرَفْتُهُمْ خَرَجَ رَجُلٌ ←←←←

Scanned with CamScanner

# د جنت چینې

په جنت کې به د بهترينو اوبو چينې وي :

۱. الله تعالی فرمايي : ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴾ . (۱)

ترجمه : بیشکه مُتّقیان (پرهيزګاران) به په باغونو او چینو کې وي .

۲ . بل ځای فرمايي : ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴾ . (۲)

ترجمه : بیشکه مُتّقیان به ( د جنت د ونو ) په سيورو او چینو کې وي .

۳ . بل ځای فرمايي : ﴿ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴾ . (۳)

په دې جنت کې به چینه وي چې بهيږي به .

٤ . بل ځای ذکر دي : ﴿ فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴾ . (۴)

---

←←← مِنْ بَيْنِي وَبَيْنِهِمْ ، فَقَالَ : هَلُمَّ . قُلْتُ أَيْنَ ؟ قَالَ : إِلَى النَّارِ وَاللهِ . قُلْتُ : مَا شَأْنُهُمْ ؟ قَالَ : إِنَّهُمْ ارْتَدُّوا بَعْدَكَ عَلَى أَدْبَارِهِمُ الْقَهْقَرَى ، فَلَا أُرَاهُ يَخْلُصُ مِنْهُمْ إِلَّا مِثْلُ هَمَلِ النَّعَمِ . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ فِي الْحَوْضِ رقم الحديث ٦٥٨٧ .

وفي رواية : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ الْحَوْضَ رِجَالٌ مِمَّنْ صَاحَبَنِي ، حَتَّى إِذَا رَأَيْتُهُمْ وَرُفِعُوا إِلَيَّ اخْتُلِجُوا دُونِي ، فَلَأَقُولَنَّ : أَيْ رَبِّ أُصَيْحَابِي ، أُصَيْحَابِي ، فَلَيُقَالَنَّ لِي : إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ . صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ إِثْبَاتِ حَوْضِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِفَاتِهِ رقم الحديث ٤٠ (٢٣٠٤) .

( أُصَيْحَابِي ) وقع في الروايات مصغرا مكررا ، وفي بعض النسخ أَصْحَابِي أَصْحَابِي مكبرا مكررا . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم

(۱) الحجر آية ٤٥ . / بل ځای فرمايي : ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ۝ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴾ .

ترجمه : بیشکه متّقیان به په ځای د امن کې وي ، په باغونو او چینو کې به وي ﴾ . الدخان آية ٥١ ، ٥٢ .

(۲) المرسلات آية ٤١ .

(۳) الغاشية آية ١٢ .

(۴) الرحمن آية ٥٠ .

ترجمه: په دې دواړو جنتونو کې به دوه چينې وي چې بهیږي به. (۱)

# د جنتيانو د پاره به په جنت کې پاکيزه مزيدار شراب وي

په جنتيانو باندې به په جنت کې پاکيزه شراب څکلې شي.

**۱.** په قرآن کريم کې ذکر دي: ﴿ وَسَقٰىهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُوْرًا ﴾.(۲)

ترجمه: او د دوی رَب به په دوی باندې پاکيزه شراب څکي.

**۲.** د دُنيا شراب داسې دي چې دا په سَر باندې دَرد او بې خُودي پيدا کوي، په عقل پَرده راولي، بيا د انسان د خُلې نه بې هُوده خبرې اُوځي، بلکه د دُنيا شراب د ډيرو گناهونو جَرړه ده، خو د جنت شراب د دې ټولو نقصاناتو نه پاک دي.

الله تعالى فرمايي:

﴿ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝ بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۝ لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴾. (۳)

ترجمه: په جنتيانو باندې به د جاري شرابو ډک جامونه گرځولې شي، تک سپين به وي چې څښونکو ته به خوَند ورکونکي وي، نه به پدې کې د سَردرد وي، او نه به د دينه بې هوشه کيږي (يعنی په عقل به تياره نه راولي).

**۳.** همدغه شان مضمون په سورة الواقعة کې هم ذکر دی، الله تعالى فرمايي:

﴿ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُوْنَ ۝ بِأَكْوَابٍ وَّأَبَارِيْقَ ۙ وَكَأْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ۝ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴾. (۴)

---

(۱) بل ځای ذکر دي: ﴿ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴾. الرحمن آية ۶۶.
ترجمه: په دې دواړو باغونو کې به د اُوبو دوه راځوټيکيدونکي چينې وي.

(۲) الدهر (الانسان) آية ۲۱.

(۳) الصافات آية ۴۵ تا ۴۷.

(۴) الواقعة آية ۱۷ تا ۱۹.

Scanned with CamScanner

ترجمه : گرځوي به په دوی باندې داسې خادمان چې هميشه به ځوانان وي گلاسونه، جگونه، او د صفا شرابو ډک جامونه، چې نه به ددې شرابو په وجه د سَردرد راځي او نه به دوی بې هوشه کيږي.

بهر حال، د جنت شرابو ځکلو سره به د انسان په سَر باندې دَرد نه پيدا کيږي، په عقل به پَرده نه راځي، او نه به بې هوشه کيږي، بلکه د انسان طاقت به نور هم زياتوي، او خوَند به يې هم مزيدار وي.(١)

## د جنت په شرابو به د مشکو مهر لږيدلې وي او د تسنيم چينې اُوبه به ورسره گډې وي

الله ربّ العزت فرمايي :

﴿ يُسْقَوْنَ مِنْ رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ۝ خِتٰمُهٗ مِسْكٌ ۚ وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ۝ وَمِزَاجُهٗ مِنْ تَسْنِيْمٍ ۝ عَيْنًا يَّشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُوْنَ ﴾.(٢)

ترجمه : په نيکانو باندې به هغه خالص (پاکيزه) شراب ځکولې شي چې په هغې به مهر

---

(١) ﴿ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ ﴾ إِنَاءٍ فِيْهِ شَرَابٌ وَلَا يَكُوْنُ كَأْسًا حَتَّى يَكُوْنَ فِيْهِ شَرَابٌ وَإِلَّا فَهُوَ إِنَاءٌ ﴿ مِنْ مَعِيْنٍ ﴾ خَمْرٍ جَارِيَةٍ فِي الْأَنْهَارِ ظَاهِرَةٍ تَرَاهَا الْعُيُوْنُ ﴿ بَيْضَاءَ ﴾ قَالَ الحسن: خمر أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ. ﴿ لَذَّةٍ ﴾ أَيْ لَذِيْذَةٍ. ﴿ لِلشَّارِبِيْنَ. لَا فِيْهَا غَوْلٌ ﴾ قَالَ الشَّعْبِيُّ: لَا تَغْتَالُ عُقُوْلَهُمْ فَتَذْهَبَ بِهَا. قَالَ الْكَلْبِيُّ: لَيْسَ فِيْهَا إِثْمٌ. وَقَالَ قَتَادَةُ: وَجَعُ الْبَطْنِ. وَقَالَ الْحَسَنُ: صُدَاعٌ. وَقَالَ أَهْلُ الْمَعَانِيْ: اَلْغَوْلُ فَسَادٌ يَلْحَقُ فِيْ خَفَاءٍ، يُقَالُ: اِغْتَالَهُ اِغْتِيَالًا إِذَا أَفْسَدَ عَلَيْهِ أَمْرَهُ فِيْ خُفْيَةٍ. وَخَمْرَةُ الدُّنْيَا يَحْصُلُ مِنْهَا أَنْوَاعٌ مِنَ الْفَسَادِ، مِنْهَا السُّكْرُ وَذَهَابُ الْعَقْلِ وَوَجَعُ الْبَطْنِ وَالصُّدَاعُ وَالْقَيْءُ وَالْبَوْلُ، وَلَا يُوْجَدُ شَيْءٌ مِنْ ذٰلِكَ فِيْ خَمْرِ الْجَنَّةِ. ﴿ وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴾ قَرَأَ حَمْزَةُ وَالْكِسَائِيُّ يُنْزِفُوْنَ بِكَسْرِ الزَّايِ وَافَقَهُمَا عَاصِمٌ فِي الْوَاقِعَةِ، وَقَرَأَ الْآخَرُوْنَ بِفَتْحِ الزَّايِ فِيْهِمَا فَمَنْ فَتَحَ الزَّايَ فَمَعْنَاهُ: لَا يَغْلِبُهُمْ عَلَى عُقُوْلِهِمْ وَلَا يَسْكَرُوْنَ، يُقَالُ: نُزِفَ الرَّجُلُ فَهُوَ مَنْزُوْفٌ وَنَزِيْفٌ إِذَا سَكِرَ، وَمَنْ كَسَرَ الزَّايَ فَمَعْنَاهُ: لَا ينفد شَرَابُهُمْ، يُقَالُ أَنْزَفَ الرَّجُلُ فَهُوَ منزف إذا فنيت خمرته. تفسير البغوي ج ٤ ص ٣١ الصافات آية ٤٧.

(٢) المطففين آية ٢٥ تا ٢٨.

لړولې شوې وي ، ددې مهر به د مشکو وي ، او په همدې څيز کې د رغبت کوونکو د پاره رغبت کول پکار دی ( يعنی ددې د حاصلولو کوشش دې اوکړي ) ، او ددې شرابو سره به د تَسنيم اُوبه ګډې ( يو ځای ) وي ، تَسنيم داسې يوه چينه ده چې ددينه به مُقرّب خلق اُوبه څکي .

## د جنت شرابو سره به د کافور چينې اُوبه ګډې وي

الله تبارک و تعالی فرمايي :

﴿ إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴾ . (١)

ترجمه : بيشکه نيکان خلق به د شرابو داسې پيالې ( جامونه ) څکي چې په هغې کې به د کافور ګډون وي ، کافور داسې يوه چينه ده چې د هغې نه به د الله بندګان اُوبه څکي ، او کوم طرف ته چې د دوی خوښه وي دا اُوبه به د ځان سره بوځي .

( يعنی ددې چينې اُوبه به د دوی په کنټرول کې وي کوم طرف ته يې چې جاري کوي نو ورسره ځي به ) .

**نوټ** : ددې چينې اُوبه به د کافورو په شان ښائسته سپينې وي او خوَند به يې هم بهترين وي . (٢)

---

(١) الدهر آية ٥ ، ٦ .

(٢) ﴿ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴾ قَالَ قَتَادَةُ : يُمْزَجُ لَهُمْ بِالْكَافُورِ وَيُخْتَمُ بِالْمِسْكِ . قَالَ عِكْرِمَةُ مِزَاجُهَا طَعْمُهَا . وَقَالَ أَهْلُ الْمَعَانِي أَرَادَ كَالْكَافُورِ فِي بَيَاضِهِ وَطِيبِ رِيحِهِ وَبَرْدِهِ لِأَنَّ الْكَافُورَ لَا يُشْرَبُ . وَهُوَ كَقَوْلِهِ ﴿ حَتَّى إِذَا جَعَلَهُ نَارًا ﴾ [ الكهف : ٩٦ ] أَيْ كَنَارٍ . وَهَذَا مَعْنَى قَوْلِ قتادة .
وقال مجاهد: يُمَازِجُهُ رِيحُ الْكَافُورِ . وَقَالَ ابْنُ كَيْسَانَ: طُيِّبَتْ بِالْكَافُورِ وَالْمِسْكِ وَالزَّنْجَبِيلِ . وَقَالَ عَطَاءٌ وَالْكَلْبِيُّ : اَلْكَافُورُ اِسْمٌ لعين ماء في الجنة..... ﴿ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴾ أَيْ يَقُودُونَهَا حيث شاؤوا مِنْ مَنَازِلِهِمْ وَقُصُورِهِمْ . كَمَنْ يَكُونُ لَهُ نَهَرٌ يُفَجِّرُهُ هَاهُنَا وَهَاهُنَا إِلَى حَيْثُ يُرِيدُ . تفسير البغوي ج ٥ ص ١٩٠ الدهر آية ٥ ، ٦ .

# د جنت د شرابو سره به زَنجبیل ګډ وي

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿ وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ۝ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا ﴾. (۱)

ترجمه : په نېکانو بندګانو باندې به په جنت کې د شرابو داسې پيالې ( جامونه ) څکولې شي چې د هغې سره به زَنجبیل (سُونډ) ګډ وي ، زَنجبیل په جنت کې داسې يوه چينه ده چې نوم يې سَلسَبِيل دی .

د زَنجبیل نه مراد د جنت سُونډ دی کوم چې د خوشبوئي د پاره په اُوبو کې اچولې شي ، يا دا په جنت کې يوه چينه ده چې د هغې د اُوبو خوَند به د زَنجبیل (سُونډ) په شان وي . (۲)

## د جنت مشروبات پخپله راتلل

حضرت ابو امامة رضي الله عنه فرمايي :

إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيَشْتَهِي الشَّرَابَ مِنْ شَرَابِ الْجَنَّةِ فَيَجِيءُ الْإِبْرِيقُ فَيَقَعُ فِي يَدِهِ فَيَشْرَبُ ثُمَّ يَعُودُ إِلَى مَكَانِهِ . (۳)

چې کله يو جنّتي ته د جنت د مشروباتو څکلو خواهش اوشي نو ګوزه ( او ګلاس ) به پخپله دده لاس ته راشي ، دا به ورنه څکاک اوکړي ، بيا به دا ګوزه واپس خپل ځای ته لاړه شي .

---

(۱) الدهر آية ۱۷ ، ۱۸ .

(۲) وَالزَّنْجَبِيلُ: مِمَّا كَانَتِ الْعَرَبُ تَسْتَطِيبُهُ جِدًّا، فَوَعَدَهُمُ اللهُ تَعَالَى أَنَّهُمْ يُسْقَوْنَ فِي الْجَنَّةِ الْكَأْسَ الْمَمْزُوجَةَ بِزَنْجَبِيلِ الْجَنَّةِ. قَالَ مُقَاتِلٌ : لَا يُشْبِهُ زَنْجَبِيلَ الدُّنْيَا. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : كُلُّ مَا ذَكَرَ اللهُ فِي الْقُرْآنِ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ وَسَمَّاهُ لَيْسَ لَهُ فِي الدُّنْيَا مِثْلٌ. وَقِيلَ : هُوَ عَيْنٌ فِي الْجَنَّةِ يُوجَدُ مِنْهَا طَعْمُ الزَّنْجَبِيلِ. قَالَ قَتَادَةُ: يَشْرَبُهَا الْمُقَرَّبُونَ صِرْفًا، وَيُمْزَجُ لِسَائِرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. تفسير البغوي ج ٥ ص ۱۹۳ الدهر آية ۱۷ .

(۳) صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ شَرَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۲۸ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٨٣ فصل في أكل أهل الجنة وشربهم وغير ذلك . العمل الصالح رقم الحديث ۲۰۱۹ قال الالباني: حسن . التفسير المظهري ج ۱۰ ص ۱٦۱ ، الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج۷ ص ٦٥ .

# د جنت شراب څکونکي ته به خپله بي بي ښائسته معلومیږي

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایي چې جنتي ته به د جنت د شرابو یو ګلاس راوړې شي، دا به د خپلې بي بي سره ناست وي، پس دا به دا شراب اُوڅکي، بیا به خپلې بي بي ته مخ واړوي او هغې ته به اُووایي:

قَدِ ازْدَدْتِ فِيْ عَيْنِيْ سَبْعِيْنَ ضِعْفًا حُسْنًا.

زما په سترګو کې ستا حُسن د اَویا (۷۰) چَنده نه هم زیات شو. (۱)

# جنتیان به د اُونو په ښائسته سیوري کې ناست وي

جنتیان به د جنت د اُونو په ښائسته سیوري کې په تختونو باندې ناست وي:

۱. الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ٱلْيَوْمَ فِى شُغُلٍ فَٰكِهُونَ ۝ هُمْ وَأَزْوَٰجُهُمْ فِى ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ﴾. (۲)

ترجمه: بیشکه جنتیان به نن ورځ په مَشغلو کې خوشحاله وي، دوی اَو د دوی بیبیانې به (د اُونو) د سیورې لاندې په تَختونو باندې تکیه لږولي ناست وي.

۲. بل ځای فرمایي: ﴿وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا﴾. (۳)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيُؤْتَى بِالْكَأْسِ وَهُوَ جَالِسٌ مَعَ زَوْجَتِهِ فَيَشْرَبُهَا ثُمَّ يَلْتَفِتُ إِلَى زَوْجَتِهِ فَيَقُولُ: قَدِ ازْدَدْتِ فِيْ عَيْنِيْ سَبْعِيْنَ ضِعْفًا حُسْنًا. مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْجَنَّةِ مَا ذُكِرَ فِي الْجَنَّةِ وَمَا فِيهَا مِمَّا أُعِدَّ لِأَهْلِهَا رقم الحديث ۳۳۹۹۳، صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ شَرَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۳۴. الدرالمنثور في التفسير بالمأثور ج ۸ ص ۹.

(۲) يس آية ۵۵، ۵۶.

(۳) پوره آیت داسې دی: ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَآ أَزْوَٰجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا﴾. النساء آية ۵۷.

ترجمه: او کومو خلقو چې ایمان راوړو او نیک اعمال یې اوکړل نو ډیر زر به مونږ دوی په داسې جنتونو کې داخل کړو چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهیږي، دوی به په دې کې همیشه اُوسیږي، د دوی د پاره به په دې جنت کې پاکې بیبیانې وي، او مونږ به دوی په ډیر ګنړ (د راحت واله) سیوري کې داخل کړو.

Scanned with CamScanner

ترجمه: او مونږ به دوی په ډیر ګڼ (د راحت واله) سیوري کې داخل کړو.(۱)

۳. دا سیوري به همیشه وي ، ختمیږي به نه. الله ﷻ فرمايي:

﴿ اُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا ﴾.(۲)

ترجمه: د جنت میوې او سیوري به دائمي وي.

٤. د هغه اُونو سیورې به جنتیانو ته نژدې وي. الله رب العزت فرمايي:

﴿ وَدَانِيَةً عَلَيۡهِمۡ ظِلَٰلُهَا ﴾.(۳)

ترجمه: او د جنت د اُونو سیوري به دوی ته نژدې (راتیټ) وي.

## د جنت اُونې به د ګڼو څانګو او اُوږدو سیورو واله وي

د جنت اُونې به د ګڼو څانګو او اُوږدو سیورو واله وي.

۱. په سورة الرحمن کې ذکر دي: څوک چې د خپل رَب مخې ته د اُودرېدو نه ویرېږي نو د هغه د پاره دوه باغونه دي (۴)، بیا الله تعالی ددې باغونو په باره کې فرمايي:

﴿ ذَوَاتَآ أَفۡنَانٍ ﴾.(۵)

ترجمه: دا دواړه باغونه به د ډیرو څانګو واله وي.

۲. په همدې سورة کې روستو ذکر دي چې ددې دواړو باغونو نه علاوه نور دوه باغونه دي:

---

(۱) بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِي ظِلَٰلٖ وَعُيُونٖ ﴾. المرسلات آية ۴۱ .
ترجمه: بیشکه مُتّقیان به (د جنت د اُونو) په سیورو او چینو کې وي.

(۲) الرعد آية ۳۵.

(۳) الدهر آية ۱۴.

(۴) هغه آیتونه دادي ، الله تعالی فرمايي : ﴿ وَلِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ۝ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾. الرحمن آية ۳۶ ، ۴۷.

(۵) الرحمن آية ۴۸.

Scanned with CamScanner

﴿ مُدۡهَآمَّتَانِ ﴾ (١)

ترجمه: دا دواړه باغونه به تک شنه وي.

٣. د جنت د اونو سيورې به ډير اوږده وي: الله تعالى فرمايي:

﴿ وَظِلّٖ مَّمۡدُودٖ ﴾. (٢)

ترجمه: او جنتيان به په اوږد سيورې کې وي.

٤. د بخاري شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ سَنَةٍ، وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ ﴿ وَظِلّٖ مَّمۡدُودٖ ﴾.

بيشکه په جنت کې يوه اونه ده (چې نوم يې طوبلى) دى، که (په سورلى باندې) يو سور کس ددې اونې په سيورې کې سل (١٠٠) کاله مزل اوکړي خو بيا به هم دا سيورې ختم نکړي، (بيا نبي عليه السلام ددې خبرې د تصديق د پاره اوفرمايل:) که چيرته ستاسو خوښه وي نو د قرآن کريم دا آيت اولولئ: (الله تعالى فرمايي:) جنتيان به په اوږد سيورې کې وي. (٣)

٥. په يو بل حديث کې دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً، يَسِيرُ الرَّاكِبُ الْجَوَادَ الْمُضَمَّرَ السَّرِيعَ مِائَةَ عَامٍ مَا يَقْطَعُهَا. (٤)

---

(١) الرحمن آية ٦٤.

(٢) الواقعة ٣٠.

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥٢، و رقم الحديث ٤٨٨١ كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {وَظِلٍّ مَمْدُودٍ} [الواقعة: ٣٠]. سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣٣٥، سنن الترمذي رقم الحديث ٣٢٩٢.

وفي رواية: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ فِي الجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لاَ يَقْطَعُهَا. صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥١، و رقم الحديث ٦٥٥٢ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الجَنَّةِ وَالنَّارِ. سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥٢٣.

(٤) صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥٣.

Scanned with CamScanner

بيشکه په جنت کې يوه اُونه ده که ددې په سيورې کې يو تېز رَفتاره بنه آس باندې سور کس سل (١٠٠) کاله لاړ شي خو بيا به هم دا ختم نکړي.

٦. د سِدرةُ المُنتَهٰى اُونې ځانګې هم ډيرې غټې دي، د هغې پَتنګان به د سروزرو وي، او ميوې به يې د مَنګکو په اندازه غټې وي. (١)

**وضاحت**: سِدرةُ المُنتَهٰى د بېرې هغه اُونه ده چې د جنت په آخري غاړه باندې ولاړه ده د هغې نه اخوا عِلم بل هيچاته نشته، حضرت جبريل عليه السلام هم د هغې اُونې نه مخکې نشي تللی، صرف نبي عليه السلام د معراج په شپه باندې ددې اُونې نه مخکې تللې ؤ، دا په اُووم آسمان کې ده. (٢)

## د جنت د اُونو تنې او ځانګې به ډيرې قيمتي وي

١. د ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَا فِي الجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ. (٣)

په جنت کې د هرې اُونې تَنې به د سروزرو وي.

---

(١) عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ سِدْرَةَ الْمُنْتَهَى، فَقَالَ: «يَسْتَظِلُّ فِي ظِلِّ الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةُ رَاكِبٍ»، أَوْ قَالَ: «وَيَسِيرُ فِي ظِلِّ الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةُ رَاكِبٍ فِيهَا فِرَاشُ الذَّهَبِ كَأَنَّ ثَمَرَهَا الْقِلَالُ». المعجم الكبير للطبراني ج ٢٤ ص ٨٧ رقم الحديث ٢٣٤. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ ثِمَارِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٤١، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦٣٠(٢٩)، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٢٧١.

(٢) (سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى) قِيلَ: هِيَ شَجَرَةُ نَبْقٍ فِي السَّمَاءِ السَّابِعَةِ عَنْ يَمِينِ الْعَرْشِ ثَمَرُهَا كَقِلَالِ هَجَرَ، وَالْمُنْتَهَى بِمَعْنَى مَوْضِعِ الْإِنْتِهَاءِ أَوِ الْإِنْتِهَاءِ، كَأَنَّهَا فِي مُنْتَهَى الْجَنَّةِ وَآخِرِهَا، وَقِيلَ: لَمْ يُجَاوِزْهَا أَحَدٌ، وَإِلَيْهَا يَنْتَهِي عِلْمُ الْمَلَائِكَةِ وَغَيْرِهِمْ، وَلَا يَعْلَمُ أَحَدٌ مَا وَرَاءَهَا. مرقاة المفاتيح بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ج ٩ ص ٣٥٩٠.

(٣) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ شَجَرِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٢٥ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وقال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٣١(٢٠).

Scanned with CamScanner

**فائده** : په دې حدیث کې ذکر شو چې د جنت د هرې اُونې تنې به د سروزرو وي، البته د هغې اُونو څانګې به مختلف قِسمه وي، د ځنې اُونو څانګې به د سروزرو وي، د ځنې به د سپينو زرو وي، د ځنې به د ياقوتو او زمردو وي، او د ځنې به د چمکدارو ملغلرو وي.

همدارنګې په دې اُونو کې به قِسما قِسم ښائسته ميوې وي، او لاندې به ورنه نهرونه بهيږي. (١)

**٢**. حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي:

نَخْلُ الْجَنَّةِ جُذُوعُهَا مِنْ زُمُرُّدٍ أَخْضَرَ، وَكَرَبُهَا مِنْ ذَهَبٍ أَحْمَرَ. (٢)

د جنت د قجورو تنې به د شنو زمردو وي، جَرړې (بيخ) به يې د سروزرو وي.

## په جنت کې به هر قِسمه ميوې وي

د جنتيانو د پاره به په جنت کې هر قِسمه ميوې وي:

(١) ( مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ ) ، وَأَمَّا أَغْصَانُهَا مُخْتَلِفَةٌ ، فَتَارَةً مِنْ ذَهَبٍ، وَأُخْرَى مِنْ فِضَّةٍ أَوْ يَاقُوتَةٍ أَوْ زُمُرُّدَةٍ أَوْ لُؤْلُؤَةٍ أَوْ مُرَصَّعَةٌ مُلَمَّعَةٌ ، مُزَيَّنَةٌ بِأَنْوَاعِ الْأَزْهَارِ وَأَصْنَافِ الْأَنْوَارِ، وَمِنْ فَوْقِهَا أَجْنَاسُ الْأَثْمَارِ وَمِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ. مرقاة المفاتيح بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ج ٩ ص ٣٥٨٧ .

(٢) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: نَخْلُ الْجَنَّةِ جُذُوعُهَا مِنْ زُمُرُّدٍ أَخْضَرَ، وَكَرَبُهَا مِنْ ذَهَبٍ أَحْمَرَ، وَثَمَرُهَا مِثْلُ الْقِلَالِ وَالدِّلَاءِ ، أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ ، وَأَلْيَنُ مِنَ الزُّبْدِ ، لَيْسَ فِيهِ عَجَمٌ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا صفة شجر الجنة رقم الحديث ٣٨ . صحيح الترغيب والترهيب كتاب صفة الجنة رقم الحديث ٣٧٣٥ (١١) .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ} [الرحمن: ٦٨] قَالَ: «نَخْلُ الْجَنَّةِ جُذُوعُهَا زُمُرُّدٌ أَخْضَرُ وَكَرَانِيفُهَا ذَهَبٌ أَحْمَرُ ، وَسَعَفُهَا كِسْوَةٌ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْهَا مُقَطَّعَاتُهُمْ وَحُلَلُهُمْ ، وَثَمَرُهَا أَمْثَالُ الْقِلَالِ أَوِ الدِّلَاءِ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ ، وَأَلْيَنُ مِنَ الزُّبْدِ ، وَلَيْسَ لَهَا عَجَمٌ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الرَّحْمَنِ رقم الحديث ٣٧٧٦ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني رقم الحديث ٣٥٤ .

Scanned with CamScanner

١. الله تعالی فرمايي: ﴿ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ﴾. (١)

ترجمه: دوی به په جنت کې هر قسمه ميوې په اطمینان سره راغواړي.

٢. همدغه شان آیت په سورة ص کې هم ذکر دی: الله تعالی فرمايي:

﴿ مُتَّكِئِينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ﴾. (٢)

ترجمه: جنتیانو به په جنت کې تکیه لګولي وي، په دې کې به ډيرې ميوې او شربتونه راغواړي.

٣. بل ځای فرمايي: ﴿ وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴾. (٣)

ترجمه: او (ددې جنتیانو د پاره) داسې ميوې به وي کومې چې دوی خوښوي.

٤. بل ځای فرمايي:

﴿ وَفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ۝ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾. (٤)

ترجمه: او مُتّقیان به په هغه ميوو کې وي کومې چې د دوی زړه غواړي، (دوی ته به ويلې شي:) تاسو ښه په مزې سره خورئ او څکئ، دا د هغه نېکو اعمالو په بدله کې دي کوم چې تاسو په دُنیا کې کول.

٥. بل ځای فرمايي: ﴿ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴾. (٥)

ترجمه: په دې دواړو جنتونو کې به د هرې ميوې دوه دوه قِسمه وي.

٦. په جنت کې به قجورې او آنار وي. الله رب العزت فرمايي:

---

(١) الدخان آية ٥٥.

(٢) ص آية ٥١.

(٣) الواقعة آية ٢٠.

(٤) المرسلات آية ٤٢، ٤٣.

(٥) الرحمن آية ٥٢.

Scanned with CamScanner

﴿ فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ ﴾. (۱)

ترجمه: په دې دواړو باغونو کې به میوې، قجورې، او آنار وي.

۷. په جنت کې به انګور وي. ربِّ کریم فرمایي:

﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ۝ حَدَآئِقَ وَأَعْنَابًا ﴾. (۲)

ترجمه: بیشکه مُتقیانو د پاره کامیابي ده، باغونه او اَنګور دي.

۸. په جنت کې به بېرې او کېلې وي. په قرآن کریم کې ذکر دي:

﴿ فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ۝ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴾. (۳)

ترجمه: جنتیان به په بې اَزغو بېرو کې وي، او قَط په قَط کېلو کې به وي.

۹. په دې آیت کې ذکر شو چې د جنت بېرې به بې اَزغو وي، ددې په باره کې درته یو حدیث رانقل کوم: صحابه کرام رضي الله عنهم فرمایي چې یوه ورځ یو اَعرابي نبي علیه السلام ته راغی او عرض یې اوکړو:

اې د الله رسوله! الله تعالی په قرآن کریم کې د یوې تکلیف رسوونکې اُونې ذکر کړی، او زه نه پوهیږم چې آیا په جنت کې به هم داسې اُونه وي چې هغه به خپل مالِک ته تکلیف رسوي؟

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمایل:

وَمَا هِيَ؟ هغه کومه اُونه ده؟

اعرابي وویل: هغه د بېرې اُونه ده، ځکه (الله تعالی فرمایي چې دا به په جنت کې وي او د) بېرې سره خو اَزغي وي (چې خپل مالِک ته تکلیف رسوي).

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ورته د قرآن کریم دا آیت اُولوست:

---

(۱) الرحمن آية ۶۸ .

(۲) النبأ آية ۳۱، ۳۲.

(۳) الواقعة ۲۸، ۲۹ .

Scanned with CamScanner

﴿ فِي سِدۡرٍ مَّخۡضُودٍ ﴾. ترجمه: جنتيان به په بې اَزغو بېرو کې وي.

(بيا نبي عليه السلام اوفرمايل: ) الله ﷻ به ددې اُونې نه اَزغي ختم کړي، د هرَاَزغي په عِوض کې به ميوه رازرغونه کړي، بيا به ددې ميوې نه نورې ميوې رااُوباسي، په هره ميوه کې به دوه اَويا (٧٢) رنګونه (او خوَندونه) وي، يو رَنګ به د بل رنګ سره مشابِه نه وي. (١)

## د جنت د ميوو خوَند به ډېر مزيدار وي

اګر چې د جنت ميوې به ظاهرًا د دُنيا د ميوو په شکل وي، يا په نوم کې به ددې سره يو شان وي خو خوَند او مزه به يې ډيره مزيداره وي.

١. الله تعالى فرمايي: ﴿ كُلَّمَا رُزِقُواْ مِنۡهَا مِن ثَمَرَةٖ رِّزۡقٗا قَالُواْ هَٰذَا ٱلَّذِي رُزِقۡنَا مِن قَبۡلُۖ وَأُتُواْ بِهِۦ مُتَشَٰبِهٗاۖ ﴾. (٢)

ترجمه: هر کله چې جنتيانو ته ددې باغونو نه څه ميوه د خوراک د پاره ورکړې شي نو دوی به وايي چې دا خو مونږ ته مخکې هم راکړې شوې وه، او دوی ته به د دُنيا ميوو په شان ميوې ورکړې شي. (خو خوَند به يې ډېر مزيدار وي).

**تشريح**: جنتيانو ته چې کومه ميوه ورکولې شي نو په رنګونو کې به يو شان ښکاري، دوی به دا ګمان کوي چې ګني دا هماغه مخکينۍ ميوه ده خو چې کله يې

---

(١) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُونَ: إِنَّ اللهَ يَنْفَعُنَا بِالْأَعْرَابِ وَمَسَائِلِهِمْ أَقْبَلَ أَعْرَابِيٌّ يَوْمًا فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! لَقَدْ ذَكَرَ اللهُ فِي الْقُرْآنِ شَجَرَةً مُؤْذِيَةً وَمَا كُنْتُ أَرَى أَنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً تُؤْذِي صَاحِبَهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَمَا هِيَ؟» قَالَ: السِّدْرُ، فَإِنَّ لَهَا شَوْكًا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "{فِي سِدْرٍ مَخْضُودٍ} [الواقعة: ٢٨] يَخْضِدُ اللهُ شَوْكَهُ فَيَجْعَلُ مَكَانَ كُلِّ شَوْكَةٍ ثَمَرَةً، فَإِنَّهَا تُنْبِتُ ثَمَرًا تُفْتَقُ الثَّمَرَةُ مَعَهَا عَنِ اثْنَيْنِ وَسَبْعِينَ لَوْنًا مَا مِنْهَا لَوْنٌ يُشْبِهُ الْآخَرَ. المستدرک على الصحيحين للحاکم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الْوَاقِعَةِ رقم الحديث ٣٧٧٨ وقال الحاکم: صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٢٧٦.

(٢) البقرة آية ٢٥.

اُوخوري نو خوَند به يې مختلف وي.

يا دا مطلب دی چې د جنت ميوو ظاهري شکل و صورت او نوم به د دُنيا د ميوو په شان وي خو خوَند او مزه به يې ډيره مزيداره وي. (١)

٢. په يو حديث کې هم راځي، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

چې کله الله تعالی حضرت آدم عليه السلام لره د جنت نه راښکته کړو نو ده ته يې د جنت څه ميوې ورکړی او د هر څيز هُنريې ورته اُوخود،

فَثِمَارُكُمْ هَذِهِ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ غَيْرَ أَنَّ هَذِهِ تَغَيَّرُ وَتِلْكَ لَا تَتَغَيَّرُ.

پس ستاسو دا ميوې اصلاً د جنت ميوې دي خو فرق دومره دی چې د دُنيا ميوې خرابيږي او د جنت ميوې نه خرابيږي. (٢)

٣. د جنت ميوې به ډيرې خوَنده وَرې وي، حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي:

.... وَثَمَرُهَا مِثْلُ الْقِلَالِ وَالدِّلَاءِ، أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، وَأَلْيَنُ مِنَ

---

(١) {كُلَّمَا} مَتَى مَا {رُزِقُوا} أُطْعِمُوا {مِنْهَا} أَيْ مِنَ الْجَنَّةِ {مِنْ ثَمَرَةٍ} أَيْ ثَمَرَةً وَ "مِنْ" صِلَةٌ {رِزْقًا} طَعَامًا {قَالُوا هَذَا الَّذِي رُزِقْنَا مِنْ قَبْلُ} ... قِيلَ: مِنْ قَبْلُ فِي الدُّنْيَا. وَقِيلَ: اَلثِّمَارُ فِي الْجَنَّةِ مُتَشَابِهَةٌ فِي اللَّوْنِ، مُخْتَلِفَةٌ فِي الطَّعْمِ، فَإِذَا رُزِقُوا ثَمَرَةً بَعْدَ أُخْرَى ظَنُّوا أَنَّهَا الْأُولَى {وَأُتُوا بِهِ} بِالرِّزْقِ {مُتَشَابِهًا} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمُجَاهِدٌ وَالرَّبِيعُ: مُتَشَابِهًا فِي الْأَلْوَانِ مُخْتَلِفًا فِي الطُّعُومِ. وَقَالَ الْحَسَنُ وَقَتَادَةُ: {مُتَشَابِهًا} أَيْ يُشْبِهُ بَعْضُهَا بَعْضًا فِي الْجَوْدَةِ، أَيْ كُلُّهَا خِيَارٌ لَا رَذَالَةَ فِيهَا. وَقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ كَعْبٍ: يُشْبِهُ ثَمَرَ الدُّنْيَا غَيْرَ أَنَّهَا أَطْيَبُ. وَقِيلَ مُتَشَابِهًا فِي الْإِسْمِ مُخْتَلِفًا فِي الطَّعْمِ. قَالَ: ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: لَيْسَ فِي الدُّنْيَا مِمَّا فِي الْجَنَّةِ إِلَّا الْأَسَامِي. تفسير البغوي ج ١ ص ٩٤ سورة البقرة آية ٢٥.

(٢) وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ـ رَفَعَهُ ـ قَالَ: لَمَّا أَخْرَجَ اللهُ آدَمَ مِنَ الْجَنَّةِ زَوَّدَهُ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ وَعَلَّمَهُ صَنْعَةَ كُلِّ شَيْءٍ، فَثِمَارُكُمْ هَذِهِ مِنْ ثِمَارِ الْجَنَّةِ غَيْرَ أَنَّ هَذِهِ تَغَيَّرُ وَتِلْكَ لَا تَتَغَيَّرُ. مجمع الزوائد كِتَابٌ فِيهِ ذِكْرُ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ ذِكْرِ نَبِيِّنَا آدَمَ أَبِي الْبَشَرِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ١٣٧٤٨ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الْبَزَّارُ وَالطَّبَرَانِيُّ وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ تَوَارِيخِ الْمُتَقَدِّمِينَ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ ذِكْرُ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ رقم الحديث ٣٩٩٦ وقال الحاكم: صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١١٣، مسند البزار رقم الحديث ٣٠٢٩، كنز العمال رقم الحديث ٣٥٣٢٣.

Scanned with CamScanner

الزُّبْدِ، لَيْسَ فِيْهِ عَجَمٌ.

د جنت ميوې به د مټکو او بُوقو په شان غټې وي ، د شودو نه به سپينې وي ، د شهدو نه به خوږې وي ، د ګچو نه به نرمې وي ، او په دې ميوو کې به هډوکې ( زنړې ) نه وي . (١)

## د هوا په چليدو سره د جنت د اُونو نه ښائسته آواز راوتل

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً جُذُوْعُهَا مِنْ ذَهَبٍ، وَفُرُوْعُهَا مِنْ زَبَرْجَدٍ وَلُؤْلُؤٍ، فَتَهُبُّ لَهَا رِيْحٌ فَتَصَفِقُ، فَمَا سَمِعَ السَّامِعُوْنَ بِصَوْتِ شَيْءٍ قَطُّ أَلَذَّ مِنْهُ . (٢)

---

(١) صفة الجنة لابن ابي الدنيا صفة شجر الجنة رقم الحديث ٣٨ . صحيح الترغيب والترهيب كتاب صفة الجنة رقم الحديث ٣٧٣٥(١١) .

وفي رواية : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {فِيهِمَا فَاكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ} [الرحمن: ٦٨] قَالَ: « نَخْلُ الْجَنَّةِ جُذُوْعُهَا زُمُرُّدٌ أَخْضَرُ وَكَرَانِيفُهَا ذَهَبٌ أَحْمَرُ ، وَسَعَفُهَا كِسْوَةٌ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْهَا مُقَطَّعَاتُهُمْ وَحُلَلُهُمْ ، وَثَمَرُهَا أَمْثَالُ الْقِلَالِ أَوِ الدِّلَاءِ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ ، وَأَلْيَنُ مِنَ الزُّبْدِ، وَلَيْسَ لَهَا عَجَمٌ. المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الرَّحْمَنِ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ رقم الحديث ٣٧٧٦ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني رقم الحديث ٣٥٣ .

(٢) الترغيب والترهيب فصل في شجر الجنة وثمارها رقم الحديث ٥٦٨٠ . صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني ذِكْرُ حُبُورِ أَهْلِهَا وَاجْتِمَاعِهِمْ عَلَى الْغِنَاءِ وَالطَّرَبِ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {فَهُمْ فِي رَوْضَةٍ يُحْبَرُونَ} [الروم: ١٥] رقم الحديث ٤٣٣ .

وفي رواية : عَنْ عَبْدَةَ بْنِ أَبِي لُبَابَةَ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً ثَمَرُهَا زَبَرْجَدٌ وَيَاقُوتٌ وَلُؤْلُؤٌ فَيَبْعَثُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ رِيحًا فَتَصْفِقُ، فَيُسْمَعُ لَهَا أَصْوَاتٌ لَمْ يُسْمَعِ أَلَذُّ مِنْهَا . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ غِنَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣ .

وفي رواية : عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْحَارِثِيِّ، قَالَ: حُدِّثْتُ أَنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً آجَامُهَا مِنْ قَصَبٍ مِنْ ذَهَبٍ حِمْلُهَا اللُّؤْلُؤُ، فَإِذَا اشْتَهَى أَهْلُ الْجَنَّةِ أَنْ يَسْمَعُوا صَوْتًا حَسَنًا بَعَثَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى تِلْكَ الْآجَامِ رِيحًا فَتَأْتِي بِكُلِّ صَوْتٍ يَشْتَهُوْنَ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ غِنَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٦ .

Scanned with CamScanner

بیشکه په جنت کې به داسې یوه اُونه وي چې د هغې تنې به د سروزرو وي ، او شاخونه به یې د زَبرجدو او ملغلرو وي ، چې کله په دې باندې هوا اُولږي نو ددينه به داسې ښائسته آواز رااُوځي چې آوريدونکو به ددينه ډير مزيدار آواز د بل شي نه وي آوريدلی .

## په دُنيا کې د الله تعالی ذِکر کولو سره په جنت کې اُونه نال کيدل

کوم مسلمان چې دلته په دُنيا کې څومره د الله تعالی ذِکر کوي نو په همدې مقدار سره ده ته په جنت کې اُونې ناليږي .

د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې د معراج په شپه زما ملاقات د حضرت ابراهيم عليه السلام سره اوشو ، هغه راته اوفرمايل :

يَا مُحَمَّدُ ! أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيعَانٌ ، وَأَنَّ غِرَاسَهَا " سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ " .

اې محمد ! خپل اُمت ته زما سلام اُووايه او دا خبر ورکړه چې د جنت خاوره ډيره پاکيزه ده ، او اُوبه يې ډيرې خوږې (مزيدارې) دي خو دا خالي ميدان دی ، ددې اُونې نالول :

" سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ " ويل دي . (١)

( يعنی څومره چې څوک دا آذکار کوي نو په همدومره مقدار به ده د پاره په جنت کې اُونې ناليږي ) . (٢)

---

(١) عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَقِيتُ إِبْرَاهِيمَ عليه السلام لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ ! أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّي السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيعَانٌ ، وَأَنَّ غِرَاسَهَا " سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ " . سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّحْمِيدِ رقم الحديث ٣٤٦٢ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ . وقال الالباني : حسن . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٣٨٨ . الأذكار للنووي رقم الحديث ١٠١ ، مشكاة المصابيح كتاب الدَّعْوَات بَاب ثَوَابِ التَّسْبِيحِ وَالتَّحْمِيدِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٢٣١٥(٢٢) . رياض الصالحين باب فضل الذكر والحث عليه رقم الحديث ١٤٣٨/٣١ ، كنز العمال رقم الحديث ١٩٩٠ .

(٢) وَالْمَعْنَى أَعْلِمْهُمْ بِأَنَّ هَذِهِ الْكَلِمَاتِ وَنَحْوَهَا سَبَبٌ لِدُخُولِ قَائِلِهَا الْجَنَّةَ وَلِكَثْرَةِ أَشْجَارِ مَنْزِلِهِ فِيهَا ، لِأَنَّهُ كُلَّمَا كَرَّرَهَا نَبَتَتْ لَهُ أَشْجَارٌ بِعَدَدِهَا . قَالَ ابْنُ الْمَلَكِ : يَعْنِي أَنَّ هَذِهِ الْكَلِمَاتِ تُورِثُ قَائِلَهَا الْجَنَّةَ . ←←←

Scanned with CamScanner

# د جنت خوراک

په جنت کې به ډېر اعلی قسمه خوراک وي، تر دې چې د جنتي کوم قسمه مرغانو يا نورو غوښو خوړلو ته شوق پيدا شي هغه به ورته ملاويږي.

١. الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴾. (١)

ترجمه: او د مرغانو غوښه به وي کومه چې د دوی خوښېږي (او زړه يې اوغواړي).

٢. بل ځای فرمايي:

﴿ وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴾. (٢)

ترجمه: او مونږ به دې جنتيانو ته وخت په وخت ميوه او غوښه ورکوو کومه چې د دوی زړه اوغواړي. (٣)

٣. حضرت انس ﷺ فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل:

---

←←← فَأَطْلَقَ السَّبَبَ وَأَرَادَ الْمُسَبَّبَ. اهـ. وَفِيهِ بَحْثٌ. وَقَالَ الطِّيبِيُّ: أَقُولُ: فِي هَذَا الْحَدِيثِ إِشْكَالٌ لِأَنَّهُ يَدُلُّ عَلَى أَنَّ أَرْضَ الْجَنَّةِ خَالِيَةٌ عَنِ الْأَشْجَارِ وَالْقُصُورِ، وَيَدُلُّ قَوْلُهُ تَعَالَى: {جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ} [البقرة: ٢٥] عَلَى أَنَّهَا غَيْرُ خَالِيَةٍ عَنْهَا، لِأَنَّهَا إِنَّمَا سُمِّيَتْ جَنَّةً لِأَشْجَارِهَا الْمُتَكَاثِفَةِ الْمُظِلَّةِ بِالْتِفَافِ أَغْصَانِهَا. وَالْجَوَابُ: أَنَّهَا كَانَتْ قِيعَانًا، ثُمَّ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى أَوْجَدَ بِفَضْلِهِ فِيهَا أَشْجَارًا وَقُصُورًا، بِحَسَبِ أَعْمَالِ الْعَامِلِينَ لِكُلِّ عَامِلٍ مَا يَخْتَصُّ بِهِ بِسَبَبِ عَمَلِهِ، ثُمَّ إِنَّهُ تَعَالَى لَمَّا يَسَّرَهُ لِمَا خُلِقَ لَهُ مِنَ الْعَمَلِ لِيَنَالَ بِذَلِكَ الثَّوَابَ جَعَلَهُ كَالْغَارِسِ لِتِلْكَ الْأَشْجَارِ مَجَازًا إِطْلَاقًا لِلسَّبَبِ عَلَى الْمُسَبَّبِ. وَأُجِيبَ أَيْضًا: بِأَنَّهُ لَا دَلَالَةَ فِي الْحَدِيثِ عَلَى الْخُلُوِّ الْكُلِّيِّ مِنَ الْأَشْجَارِ وَالْقُصُورِ، لِأَنَّ مَعْنَى كَوْنِهَا قِيعَانًا أَنَّ أَكْثَرَهَا مَغْرُوسٌ، وَمَا عَدَاهُ مِنْهَا أَمْكِنَةٌ وَاسِعَةٌ بِلَا غَرْسٍ لِيَنْغَرِسَ بِتِلْكَ الْكَلِمَاتِ، وَيَتَمَيَّزَ غَرْسُهَا الْأَصْلِيُّ الَّذِي بِلَا سَبَبٍ، وَغَرْسُهَا الْمُسَبَّبُ عَنْ تِلْكَ الْكَلِمَاتِ.

مرقاة المفاتيح ج ۴ ص ١٦٠٢ كِتَابُ التَّسْبِيحِ وَالتَّحْمِيدِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّكْبِيرِ رقم الحديث ٢٣١٥.

(١) الواقعة آية ٢١.

(٢) الطور آية ٢٢.

(٣) {وَأَمْدَدْنَاهُمْ} زِدْنَاهُمْ فِي وَقْتٍ بَعْدَ وَقْتٍ {بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِمَّا يَشْتَهُونَ} وَإِنْ لَمْ يُصَرِّحُوا بِطَلَبِهِ. تفسير الجلالين سورة الطور آية ٢٢.

إِنَّ طَيْرَ الْجَنَّةِ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ، تَرْعَى فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ.

بیشکه د جنت مرغۍ به د بُختي (خُراساني) اُوښ په شان وي چې د جنت په اُونو کې به څرېږي.

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اوفرمایل: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ هَذِهِ لَطَيْرٌ نَاعِمَةٌ.

اې د الله رسوله! یقینًا دا مرغۍ خو به ډیرې په مزو کې وي (چې د جنت په اُونو کې الوځي).

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل: أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا.

د دوی خوړونکي به د دوی نه زیات په مزو کې وي.

دا خبره پیغمبر علیه السلام درې (۳) پیرې اوکړه. بیا یې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته اوفرمایل:

وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَأْكُلُ مِنْهَا يَا أَبَا بَكْرٍ.

اې ابوبکر! زما دا اُمید دی چې ته به د هغه خلقو په ډله کې یې کوم چې به د دې مرغو نه خوراک کوي. (۱)

(**نوټ**: همدغه شان سوال جواب د حضرت عُمر رضي الله عنه په باره کې هم نقل دی). (۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ طَيْرَ الْجَنَّةِ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ، تَرْعَى فِي شَجَرِ الْجَنَّةِ» فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ هَذِهِ لَطَيْرٌ نَاعِمَةٌ. فَقَالَ: «أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا» قَالَهَا ثَلَاثًا «وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَأْكُلُ مِنْهَا يَا أَبَا بَكْرٍ». مسند احمد مخرجا ج ۲۱ ص ۳۴ رقم الحديث ۱۳۳۱۱. الترغيب والترهيب للمنذري فصل في أكل أهل الجنة وشربهم وغير ذلك رقم الحديث ۵۶۹۰. مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابٌ فِيمَا أَعَدَّهُ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى لِأَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۸۷۳۳ وقال الهيثمي: رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ بِاخْتِصَارٍ، وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ غَيْرَ سَيَّارِ بْنِ حَاتِمٍ، وَهُوَ ثِقَةٌ. الزواجر ج ۲ ص ۴۳۲، الاحاديث المختارة رقم الحديث ۱۶۱۴.

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا الْكَوْثَرُ؟ قَالَ: ذَاكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللهُ – يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ – أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ، فِيهَا طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ ←←←

Scanned with CamScanner

٤. حضرت ابو امامة رضي الله عنه فرمايي:

إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيَشْتَهِي الطَّيْرَ مِنْ طُيُورِ الْجَنَّةِ فَيَقَعُ فِي يَدِهِ مُنْفَلِقًا نَضِيجًا.

چې کله د یو جنّتي د جنت مرغو (خوړلو) ته شوق اوشي نو هغه مرغی به دده لاس ته توټې توټې وريته شوې راشي (او دا به يې اوخوري). (١)

په دې خوړلو سره به دده ته ډير لذّت او قوّت هم ملاؤ شي. (٢)

٥. الله تعالى فرمايي: ﴿ قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُ رِزْقًا ﴾. (٣)

ترجمه: په تحقيق سره الله تعالى دې جنتي ته ډير ښه رزق ورکړو.

٦. جنتيانو ته به سهر او ماښام سپيشل بهترين رزق ورکولې شي. الله تعالى فرمايي:

---

←←← قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: إِنَّ هَذِهِ لَنَاعِمَةٌ. قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا. سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ طَيْرِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٤٢ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٣٣٠٦ و رقم الحديث ١٣٣١١، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ١١٦٣٩، مشكاة المصابيح بَاب صفة الجنة وأهلها الفَصل الثَاني رقم الحديث ٥٦٤١(٣٠)، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٧٣٣.

(١) الزواجر عن اقتراف الكبائر خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُورٍ أَرْبَعَةٍ الْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذَلِكَ ج ٢ ص ٤٣٢. الترغيب والترهيب للمنذري فصل في أكل أهل الجنّة وشربهم وَغير ذَلِك رقم الحديث ٥٦٩٢.

(٢) طيور الجنّة: وَرُوِيَ عَن النَّبِي صلى الله عَلَيْهِ وَسلم أَنه قَالَ: إِنَّه لينظر إِلَى الطير فِي الْجنَّة فيخر بَين يَدَيْهِ مشويًا. وَالطير أَمْثَال الإِبِل. فَيَقُول الطير مِنْهَا يَا ولي الله أما أَنا فقد رعيت فِي وَادي كَذَا وَكَذَا وأكلت من ثمار كَذَا وَكَذَا وشربت من مَاء عين كَذَا وَكَذَا وسقي كَذَا و ريحي كَذَا فَكُلْ مِنِّي. فَإِذا اشْتهى حسن الطير واشتهى صفته فَوَقع فِي نَفسه وَقع الطَّائِر على مَا يُرِيد قبل أَن يتَكَلَّم نصفه قديدا وَنصفه شواء كلما شبع أَلْقى الله عَلَيْهِ ألف بَاب من الشَّهْوَة فِي الْأكل ثمَّ يُؤْتى بِالشرابِ على برد الكافور وَلَيْسَ بِهَذَا الكافور وَطعم الزنجبيل وَلَيْسَ بِهَذَا الزنجبيل وعَلى ريح الْمسك وَلَيْسَ بِهَذَا الْمسك فَإِذا شرب هضم مَا أكل من الطَّعَام وَيَأْكُل مِقْدَار أَرْبَعِينَ عَامًا وَيُعْطِي قُوَّة مائَة شَاب فِي الْجِمَاع ويجامع مِقْدَار أَرْبَعِينَ سنة لَهُ فِي كل يَوْم مائَة عذراء بِذكر لَا يمل وَلَا ينثني وَفرج لَا يحفى وَلَا يمنى. بستان الواعظين ورياض السامعين لابن الجوزي ج ١ ص ١٣٢ طيور الجنة.

(٣) الطلاق آية ١١.

﴿ وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ﴾. (١)

ترجمه: او ددې مؤمنانو د پاره به جنت کې سهر او ماښام د دوی رزق وي.

٧. علامه ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي چې په جنت کې به د سهر ناشتې په وخت اَويا زره (٧٠٠٠٠) کاسې وي ، په دې کې به مختلف قِسمه د مرغو مزيدارې غوښې وي ، او د ماښام روټۍ په وخت به هم همدغه شان وي. (٢)

**نوټ**: په جنت کې به شپه نه وي ځکه هلته به هميشه نُور (رڼا) وي خو جنتيان به د پَردو ښکته کيدلو سره د ماښام اندازه معلوموي ، او د پَردو پورته کيدو سره به د سهر اندازه معلوموي.

٨. په سورة الصّافات کې ذکر دي : ﴿ أُولَٰئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُومٌ ﴾. (٣)

ترجمه: د دوی د پاره به داسې رزق وي چې د هغې حال به معلوم وي.
(يعنی سپيشل رزق به سهر او ماښام ورکولې شي).

## جنتيان به ښه په مزو سره خوراک کوي

١. جنتيانو ته به په جنت کې وويلې شي:

﴿ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾. (٤)

ترجمه: تاسو ښه په مزې سره خورئ او څکئ، دا د هغه نېکو اعمالو په بدله کې دي

(١) مريم آية ٦٢.

(٢) طَعَامُ الجنّة : ويبلغ غداؤه سبعين ألف صفحة من ألوان لحوم الطير كأنّها البخت لا ريش لها ولا زغب ولا عظم . فلا تطبخ بالنّار ولا تقليها القُدور ولذتها لذّة الزبد وحلاتها حلاوة العَسَل و رائحتها رائحة المسك . يأكل من كلها يجد لآخرها من الطعم كما يجد لأولها وفي عشائه مثل ذلك . بستان الواعظين ورياض السامعين لابن الجوزي ج ١ ص ١٣٢ طعام الجنّة

(٣) الصافات آية ٤١ .

(٤) المرسلات آية ٤٣ . الطلاق آية ١٩ .

کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول.

(همدغه شان مضمون په نورو ډيرو آيتونو کې هم ذکر دی). (١)

## جنتيانو ته به بې حِسابه رزق ورکولې شي

١. جنتيانو ته به بې حِسابه رزق ورکولې شي. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾. (٢)

ترجمه: او څوک چې نېک عمل اوکړي که نارينه وي يا زَنانه وي او مؤمن وي نو همدا خلق به جنت ته داخليږي، دوی ته به په جنت کې بې حسابه رزق ورکولې شي.

٢. د جنت رِزق به هيڅ کله نه ختميږي. په قرآن کريم سورة ص کې الله تعالی د جنت د نِعمتونو تذکره کړی، بيا فرمايي:

﴿ اِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهٗ مِنْ نَّفَادٍ ﴾. (٣)

ترجمه: بيشکه دا زمونږ هغه رِزق دی چې ددې د پاره ختميدل نشته.

## په جنت کې د جنّتيانو اَوّلنې خوراک

١. په بخاري شريف کې اُوږد حديث ذکر دی، په هغې کې دا هم دي چې حضرت عبدالله بن سلام ﷺ د نبي عليه السلام نه درې (٣) پوښتنې اوکړی (په هغې کې يوه دا هم وه:) مَا اَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ اَهْلُ الْجَنَّةِ؟

جنّتيان به د (د ميلمستيا په طور) اول کوم خوراک خوري؟

---

(١) جنتيانو ته به وويلې شي: ﴿ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓئًا بِمَآ اَسْلَفْتُمْ فِى الْاَيَّامِ الْخَالِيَةِ ﴾. الحاقة آية ٢٤.
ترجمه: تاسو به په مزو سره خورئ او څښئ، دا د هغه نېکو اعمالو په بدله کې دي کوم چې تاسو په تېرو شوو ورځو کې کړي دي.

(٢) غافر (المؤمن) آية ٤٠.

(٣) ص آية ٥٤.

Scanned with CamScanner

نبي علیه السلام ورته او فرمایل:

أَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ.

اول خوراک چې جنتیان (د میلمستیا په طور) خوري نو هغه به د ماهي د کلیجي (اینې) یوه حصه وي (کومه به چې ډیره مزیداره وي). (۱)

په ماهي د جِگر دا حصه ډیره خوندوره او مزیداره وي. (۲)

۲. په مسلم شریف کې یو اوږد حدیث ذکر دی، چې یو یهودي عالِم د نبي علیه السلام

(۱) پوره حدیث داسې دی: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: بَلَغَ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَلَامٍ ﷺ مَقْدَمُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ فَأَتَاهُ، فَقَالَ: إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا نَبِيٌّ. قَالَ: مَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ؟ وَ مَا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ؟ وَمِنْ أَيِّ شَيْءٍ يَنْزِعُ الْوَلَدُ إِلَى أَبِيهِ؟ وَمِنْ أَيِّ شَيْءٍ يَنْزِعُ إِلَى أَخْوَالِهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «خَبَّرَنِي بِهِنَّ آنِفًا جِبْرِيلُ» قَالَ: فَقَالَ عَبْدُ اللهِ ذَاكَ عَدُوُّ الْيَهُودِ مِنَ الْمَلَائِكَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ، وَ أَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ، وَأَمَّا الشَّبَهُ فِي الْوَلَدِ: فَإِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَشِيَ الْمَرْأَةَ فَسَبَقَهَا مَاؤُهُ كَانَ الشَّبَهُ لَهُ، وَإِذَا سَبَقَ مَاؤُهَا كَانَ الشَّبَهُ لَهَا" قَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ، ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهُتٌ، إِنْ عَلِمُوا بِإِسْلَامِي قَبْلَ أَنْ تَسْأَلَهُمْ بَهَتُونِي عِنْدَكَ، فَجَاءَتِ الْيَهُودُ وَدَخَلَ عَبْدُ اللهِ الْبَيْتَ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَيُّ رَجُلٍ فِيكُمْ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ» قَالُوا أَعْلَمُنَا، وَابْنُ أَعْلَمِنَا، وَأَخْيَرُنَا، وَابْنُ أَخْيَرِنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَفَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللهِ» قَالُوا: أَعَاذَهُ اللهُ مِنْ ذَلِكَ. فَخَرَجَ عَبْدُ اللهِ إِلَيْهِمْ فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. فَقَالُوا: شَرُّنَا، وَابْنُ شَرِّنَا، وَوَقَعُوا فِيهِ. صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ رقم الحديث ۳۳۲۹، و رقم الحديث ۴۴۸۰ كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ {مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ} [البقرة: ۹۷]. مشكاة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل بَابٌ فِي المعجزات الفَصْلُ الأول رقم الحديث ۵۸۷۰، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۳۸۶۸.

(۲) (فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ) أَيْ: طَرَفُهَا، وَهِيَ أَطْيَبُ مَا يَكُونُ مِنَ الْكَبِدِ، وَقَدْ يُقَالُ: إِنَّهُ الْحُوتُ الَّذِي عَلَى ظَهْرِهِ الْأَرْضُ، وَإِذَا جَعَلَ الْأَرْضَ طُعْمَةً لِأَهْلِ الْجَنَّةِ. فَالْحُوتُ كَالْإِدَامِ لَهُمْ، كَذَا ذَكَرَهُ شَارِحٌ، وَهُوَ مُشْعِرٌ بِأَنَّ هَذِهِ الطُّعْمَةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ. مرقاة المفاتيح بَابٌ فِي المعجزات ج ۹ ص ۳۷۷۹.

(فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ) هي القطعة المنفردة المتعلقة بالكبد وهي أطيبها وألذها. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري.

Scanned with CamScanner

نه څه پوښتني اوکړی، په هغې کې يوه پوښتنه هغه دا هم اوکړه:

فَمَا تُحْفَتُهُمْ حِيْنَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ؟

کله چې جنتيان اول جنت ته داخليږي نو د دوی د پاره به څه تحفه وي؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: زِيَادَةُ كَبِدِ النُّوْنِ. د ماهي د جِګر حصه.

يهودي عالم بيا پوښتنه اوکړه: د دينه پس به د دوی غِذا څه وي؟

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل:

يُنْحَرُ لَهُمْ ثَوْرُ الْجَنَّةِ الَّذِيْ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ أَطْرَافِهَا.

دوی ته به د جنت هغه غوائي ذبح کولې شي کوم چې د جنت په اَطرافو کې څريدلې وي.(١)

---

(١) پوره حديث داسې دی: عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: كُنْتُ قَائِمًا عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ حِبْرٌ مِنْ أَحْبَارِ الْيَهُوْدِ فَقَالَ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ. فَدَفَعْتُهُ دَفْعَةً كَادَ يُصْرَعُ مِنْهَا. فَقَالَ: لِمَ تَدْفَعُنِيْ؟ فَقُلْتُ: أَلَا تَقُوْلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ. فَقَالَ الْيَهُوْدِيُّ: إِنَّمَا نَدْعُوْهُ بِاسْمِهِ الَّذِيْ سَمَّاهُ بِهِ أَهْلُهُ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اسْمِيْ مُحَمَّدٌ الَّذِيْ سَمَّانِيْ بِهِ أَهْلِيْ». فَقَالَ الْيَهُوْدِيُّ: جِئْتُ أَسْأَلُكَ. فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيَنْفَعُكَ شَيْءٌ إِنْ حَدَّثْتُكَ؟» قَالَ: أَسْمَعُ بِأُذُنَيَّ. فَنَكَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُوْدٍ مَعَهُ. فَقَالَ: «سَلْ». فَقَالَ الْيَهُوْدِيُّ: أَيْنَ يَكُوْنُ النَّاسُ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُمْ فِي الظُّلْمَةِ دُوْنَ الْجِسْرِ» قَالَ: فَمَنْ أَوَّلُ النَّاسِ إِجَازَةً؟ قَالَ: «فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِيْنَ» قَالَ الْيَهُوْدِيُّ: فَمَا تُحْفَتُهُمْ حِيْنَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ؟ قَالَ: «زِيَادَةُ كَبِدِ النُّوْنِ». قَالَ: فَمَا غِذَاؤُهُمْ عَلَى إِثْرِهَا؟ قَالَ: «يُنْحَرُ لَهُمْ ثَوْرُ الْجَنَّةِ الَّذِيْ كَانَ يَأْكُلُ مِنْ أَطْرَافِهَا» قَالَ: فَمَا شَرَابُهُمْ عَلَيْهِ؟ قَالَ: «مِنْ عَيْنٍ فِيْهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيْلًا» قَالَ: صَدَقْتَ. قَالَ: وَجِئْتُ أَسْأَلُكَ عَنْ شَيْءٍ لَا يَعْلَمُهُ أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ رَجُلٌ أَوْ رَجُلَانِ. قَالَ: «يَنْفَعُكَ إِنْ حَدَّثْتُكَ؟» قَالَ: أَسْمَعُ بِأُذُنَيَّ. قَالَ: جِئْتُ أَسْأَلُكَ عَنِ الْوَلَدِ؟ قَالَ: «مَاءُ الرَّجُلِ أَبْيَضُ، وَمَاءُ الْمَرْأَةِ أَصْفَرُ، فَإِذَا اجْتَمَعَا فَعَلَا مَنِيُّ الرَّجُلِ مَنِيَّ الْمَرْأَةِ أَذْكَرَا بِإِذْنِ اللهِ، وَإِذَا عَلَا مَنِيُّ الْمَرْأَةِ مَنِيَّ الرَّجُلِ آنَثَا بِإِذْنِ اللهِ». قَالَ الْيَهُوْدِيُّ: لَقَدْ صَدَقْتَ، وَإِنَّكَ لَنَبِيٌّ، ثُمَّ انْصَرَفَ فَذَهَبَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَقَدْ سَأَلَنِيْ هَذَا عَنِ الَّذِيْ سَأَلَنِيْ عَنْهُ، وَمَا لِيْ عِلْمٌ بِشَيْءٍ مِنْهُ، حَتَّى أَتَانِيَ اللهُ بِهِ». صحيح مسلم كِتَابُ الْحَيْضِ بَابُ بَيَانِ صِفَةِ مَنِيِّ الرَّجُلِ، وَالْمَرْأَةِ وَأَنَّ الْوَلَدَ مَخْلُوْقٌ مِنْ مَائِهِمَا رقم الحديث ٣٤(٣١٥). صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ٢٣٢، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٤٢٢، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٧٩٨.

# جنتیانو ته به د اَودس ماتي کولو ضرورت نه وي

۱. د بخاري شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَا يَبُوْلُوْنَ وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ، وَلَا يَتْفِلُوْنَ وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ .(١)

جنتیان به نه تَش اَودس ماتې کوي او نه ډک اَودس ماتې، نه به لاړې تُوکي، او نه به پوزه سُوڼ کوي.

۲. د مسلم شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُوْنَ فِيْهَا وَيَشْرَبُوْنَ . وَلَا يَتْفُلُوْنَ وَلَا يَبُوْلُوْنَ وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ.

بیشکه جنتیان به په جنت کې خوراک څکاک کوي خو لاړې به نه تُوکي، تَشې مِتیازې او ډکې مِتیازې (اَودس ماتې) به نه کوي، او پُوزې به هم نه سُونړ کوي.

صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض اوکړو: بیا به دا خوراک چیرته ځي؟ (کوم چې جنتیانو خوړلې وي).

نبي علیه السلام اوفرمایل:

جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ، يُلْهَمُوْنَ التَّسْبِيْحَ وَالتَّحْمِيْدَ كَمَا تُلْهَمُوْنَ النَّفَسَ.

یو اَډرګې به کوي، او خوله به یې د بدن نه اُوځي چې د مشکو په شان خوشبوئي به کوي (چې په دې سره به د خوراک او څکاک فضلات ختم شي)، دوی ته به د تسبیح او تحمید

(۱) پوره حدیث داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ عَلَى صُوْرَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ عَلَى أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً. لَا يَبُوْلُوْنَ وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ، وَلَا يَتْفِلُوْنَ وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ، أَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ، وَرَشْحُهُمُ الْمِسْكُ، وَمَجَامِرُهُمُ الْأَلُوَّةُ الْأَلَنْجُوْجُ عُوْدُ الطِّيْبِ، وَأَزْوَاجُهُمُ الْحُوْرُ الْعِيْنُ، عَلَى خَلْقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، عَلَى صُوْرَةِ أَبِيْهِمْ آدَمَ، سِتُّوْنَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ». صحیح البخاري كِتَابُ أَحَادِيْثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ رقم الحدیث ۳۳۲۷، و رقم الحدیث ۳۲۴۶، و رقم الحدیث ۳۲۵۴. صحیح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيْمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ أَوَّلِ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُوْرَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَصِفَاتُهُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ رقم الحدیث ۱۵(۲۸۳۴).

ویلو اِلهام کیږي لکه څرنګې چې تاسو ته د ساه ویستلو اِلهام کیږي . (۱)

**تشریح** : جنت چونکه پاک ځای دی هلته به د دُنیا په شان د خوراک څکاک فُضله د انسان نه نه خارجیږي ، بلکه د آدرکي کولو او د بدن نه خوَلې وتلو سره به د خوراک فضلات ختمیږي .

علماؤ لیکلي چې په آدرکي سره به د خوراک فضلات ختمیږي او د بدن نه خوَله وتلو سره به د اُوبو فضلات ختمیږي ، او ددې خوَلو نه به د مشکو په شان خوشبوئي ځي .

په مذکوره حدیث کې د آخري جُملې مطلب دادی چې لکه څرنګې په دې دُنیا کې د ساه په اخیستلو سره ژوند موقوف دی او بغیر د څه تکلیف نه انسان ساه اخلي نو همدغه شان به جنت کې د جنتي په "سبحان الله" او "الحمد لله" ویلو سره رُوح خوشحالیږي ، او ددې په ویلو کې به هیڅ تکلیف نه محسوسوي .

د مذکوره حدیث د آخري جُملې نه دا هم معلومه شوه چې په جنت کې به د الله تعالی د حمد و ثناء او شکریې اداء کولو نه علاوه بل عبادت نه وي ، جنتیان به بغیر د تکلیف نه په آساني سره ذکر کوي ، او په دې باندې به نه ستړي کیږي . (۲)

---

(۱) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: « إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَأْكُلُونَ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ، وَلَا يَتْفُلُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ » قَالُوا : فَمَا بَالُ الطَّعَامِ؟ قَالَ : « جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ، يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ » . صحیح مسلم کتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي صِفَاتِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا وَتَسْبِيحِهِمْ فِيهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا رقم الحدیث ۱۸(۲۸۳۵) . مسند احمد مخرجا ۱۴۷۶۹ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۷۴۳۵ . المعجم الاوسط رقم الحدیث ۴۸۶۶ .

(۲) (يُلْهَمُونَ) أَيْ: أَهْلُ الْجَنَّةِ (التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ) أَيْ : وَنَحْوَهُمَا مِنَ الْأَذْكَارِ (كَمَا تُلْهَمُونَ) أَيْ: أَنْتُمْ فِي هَذِهِ الدَّارِ (النَّفَسَ) بِفَتْحَتَيْنِ أَيِ التَّنَفُّسَ. وَالْمَعْنَى لَا يَتْعَبُونَ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّهْلِيلِ كَمَا لَا تَتْعَبُونَ أَنْتُمْ. وَفِي الْجَامِعِ بِصِيغَةِ الْغَيْبَةِ أَيْ: « كَمَا يُلْهَمُونَ مِنَ النَّفَسِ، وَلَا يَشْغَلُهُمْ شَيْءٌ مِنْ ذَلِكَ. كَمَا لَا يَمْنَعُهُمْ مِنَ النَّفَسِ، كَالْمَلَائِكَةِ » . أَوْ يُرِيدُ أَنَّهَا تَصِيرُ صِفَةً لَازِمَةً لَا يَنْفَكُّونَ عَنْهَا كَالنَّفَسِ اللَّازِمِ لِلْحَيَوَانِ . وَالْحَاصِلُ أَنَّهُ لَا يَخْرُجُ مِنْهُمْ نَفَسٌ إِلَّا مَقْرُونًا بِذِكْرِهِ وَشُكْرِهِ سُبْحَانَهُ . مرقاة المفاتیح بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ج ۹ ص ۳۵۸۲ في تشریح حدیث ۵۶۲۰ .

Scanned with CamScanner

# د جنتيانو د خوراک او څښاک لوخي به د سروزرو او سپينو زرو وي

په جنت کې به د جنتيانو د خوراک څښاک لوخي د سروزرو او سپينوزرو وي، په قرآن کريم او احاديثو کې د دې بيان شته:

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ يُطَافُ عَلَيْهِم بِصِحَافٍ مِّن ذَهَبٍ وَأَكْوَابٍ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ وَتَلَذُّ الْأَعْيُنُ وَأَنتُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴾. (١)

ترجمه: ګرځولې به شي پدې جنتيانو باندې د سروزرو رکيبۍ او ګلاسونه، او په دې کې به هغه څه وي چې کوم (د دوی) نفسونه غواړي او سترګې ورباندې خوشحاليږي، او تاسو به په دې جنت کې همېشه يئ.

۲. بل ځای فرمايي: ﴿ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا ۝ قَوَارِيرَ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴾. (٢)

ترجمه: او ګرځولې به شي په دوی باندې د سپينوزرو لوخي او د شيشې ګلاسونه، دا شيشې به د سپينوزرو نه جوړې وي (يعنی دا سپين زر به په ډېر صفاوالي کې د شيشې په شان وي)، دا لوخي به يې پوره پوره (په ناپ) اندازه کړي وي. (يعنی چې څومره څکونکي وي په هم دغه مقدار به لوخي او خادمان وي). (٣)

---

(١) الزخرف آية ٧١.

(٢) الدهر آية ١٥، ١٦.

(٣) {قَوَارِيرَ مِن فِضَّةٍ} قَالَ الْمُفَسِّرُوْنَ: أَرَادَ بَيَاضَ الفِضَّةِ فِي صَفَاءِ الْقَوَارِيرِ. فَهِيَ مِنْ فِضَّةٍ فِي صَفَاءِ الزُّجَاجِ. يَرَى مَا فِيْ دَاخِلِهَا مِنْ خَارِجِهَا. قَالَ الكَلْبِيُّ إِنَّ اللهَ جَعَلَ قَوَارِيْرَ كُلِّ قَوْمٍ مِنْ تُرَابِ أَرْضِهِمْ، وَإِنَّ أَرْضَ الْجَنَّةِ مِنْ فِضَّةٍ. فَجَعَلَ مِنْهَا قَوَارِيْرَ يَشْرَبُوْنَ فِيْهَا {قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا} قَدَّرُوا الكَأْسَ عَلَى قَدْرِ رِيِّهِمْ لَا يَزِيْدُ وَلَا يَنْقُصُ. أَيْ قَدَّرَهَا لَهُمُ السُّقَاةُ وَالْخَدَمُ الَّذِيْنَ يَطُوْفُوْنَ عَلَيْهِمْ يُقَدِّرُوْنَهَا ثُمَّ يُسْقَوْنَ. تفسير البغوي ج٥ ص ١٩٣ سورة الدهر آية ١٦.

Scanned with CamScanner

۳. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

... آنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالفِضَّةُ ، وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ ، وَوَقُودُ مَجَامِرِهِمُ الأَلُوَّةُ ، وَ رَشْحُهُمُ المِسْكُ .(۱)

د جنتيانو لوخي به د سروزرو او سپينوزرو وي، ګومنزې به يې د سروزرو وي، (د خوشبو پيدا کولو د پاره) د دوی د انګيټو خشاک به عُود وي، د دوی (د بدن) خوله به د مشکو په شان خوشبوئي کوي.

(**نوټ**: په جنت کې به اُور نه وي خو بغير د اُور نه به پدې انګيټو کې د عُودو خوشبوئي خورېږي، يا دا هم کيدې شي چې د يو نُور "رَنا" په ذريعه به د عُودو خوشبوئي خورېږي ).(۲)

---

(۱) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، وَالَّذِينَ عَلَى إِثْرِهِمْ كَأَشَدِّ كَوْكَبٍ إِضَاءَةً، قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ، لاَ اخْتِلاَفَ بَيْنَهُمْ وَلاَ تَبَاغُضَ، لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ لَحْمِهَا مِنَ الحُسْنِ، يُسَبِّحُونَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا، لاَ يَسْقَمُونَ، وَلاَ يَمْتَخِطُونَ، وَلاَ يَبْصُقُونَ، آنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالفِضَّةُ، وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ، وَوَقُودُ مَجَامِرِهِمُ الأَلُوَّةُ - قَالَ أَبُو اليَمَانِ: يَعْنِي العُودَ -، وَرَشْحُهُمُ المِسْكُ. صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۴۶. مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفصل الأول رقم الحديث ۵۶۱۹(۸).

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَلِجُ الجَنَّةَ صُورَتُهُمْ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ، لاَ يَبْصُقُونَ فِيهَا، وَلاَ يَمْتَخِطُونَ، وَلاَ يَتَغَوَّطُونَ، آنِيَتُهُمْ فِيهَا الذَّهَبُ، أَمْشَاطُهُمْ مِنَ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَمَجَامِرُهُمُ الأَلُوَّةُ، وَرَشْحُهُمُ المِسْكُ، وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِمَا مِنْ وَرَاءِ اللَّحْمِ مِنَ الحُسْنِ، لاَ اخْتِلاَفَ بَيْنَهُمْ وَلاَ تَبَاغُضَ، قُلُوبُهُمْ قَلْبٌ وَاحِدٌ، يُسَبِّحُونَ اللهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا. صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۴۵.

(۲) (وَقُودُ مَجَامِرِهِمْ) أَيْ: مَا يُوقَدُ بِهِ مَبَاخِرُهُمْ (الأَلُوَّةُ) بِفَتْحِ الهَمْزَةِ وَيُضَمُّ، وَبِضَمِّ اللاَّمِ وَتَشْدِيدِ الوَاوِ. قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: هُوَ العُودُ الهِنْدِيُّ، وَقَالَ شَارِحٌ: المَجْمَرُ بِالفَتْحِ مَا يُوضَعُ فِيهِ الجَمْرُ وَيَحْتَرِقُ فِيهِ العُودُ، وَبِالكَسْرِ الآلَةُ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ: فِيهِ أَنَّهُ لاَ نَارَ فِي الجَنَّةِ. وَأُجِيبَ: بِأَنَّهُ يَفُوحُ بِغَيْرِ نَارٍ. ←←←←

Scanned with CamScanner

٤. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

جَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا، وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا. (١)

دوه (٢) جنتونه به داسې وي چې د هغې لوخي او څه چې په هغې کې جنتونو کې دي دا ټول هر څه به د سپينوزرو وي، او دوه (٢) جنتونه به داسې وي چې د هغې لوخي او څه چې په هغې کې دي دا ټول هر څه به د سروزرو وي.

٥. په جنتيانو باندې به دا لوخي او ګلاسونه داسې خادمان ګرځوي چې هغوی به هميشه ځوانان وي. الله تعالی فرمايي:

﴿ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُخَلَّدُونَ ۝ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِنْ مَعِينٍ ﴾. (٢)

ترجمه: ګرځوي به په دوی باندې داسې خادمان چې هميشه به ځوانان وي ګلاسونه، جګونه، او د صفا شرابو ډک جامونه.

٦. نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ أَسْفَلَ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَجْمَعِينَ دَرَجَةً لَمَنْ يَقُومُ عَلَى رَأْسِهِ عَشَرَةُ آلَافِ خَادِمٍ، بِيَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ صَحْفَتَانِ، وَاحِدَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَالْأُخْرَى مِنْ فِضَّةٍ، فِي كُلِّ وَاحِدَةٍ لَوْنٌ لَيْسَ فِي الْأُخْرَى مِثْلُهُ، يَأْكُلُ مِنْ آخِرِهَا مِثْلَ مَا يَأْكُلُ مِنْ أَوَّلِهَا، يَجِدُ لِآخِرِهَا مِنَ الطِّيبِ وَاللَّذَّةِ مِثْلَ الَّذِي يَجِدُ لِأَوَّلِهَا....

---

←←← أَقُولُ: وَقَدْ يَكُونُ بِالنُّورِ، وَهُوَ فِي غَايَةٍ مِنَ الظُّهُورِ. وَفِي النِّهَايَةِ: الْمَجَامِرُ جَمْعُ مِجْمَرٍ بِالْكَسْرِ وَهِيَ الَّتِي تُوضَعُ فِيهِ النَّارُ لِلْبَخُورِ..... وَفَائِدَةُ الْإِضَافَةِ أَنَّ الْأَلُوَّةَ هُوَ الْوَقُودُ نَفْسُهُ، بِخِلَافِ الْمُتَعَارَفِ. فَإِنَّ وَقُودَهُمْ غَيْرُ الْأَلُوَّةِ. انْتَهَى. مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٥٨١ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا

(١) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ إِثْبَاتِ رُؤْيَةِ الْمُؤْمِنِينَ فِي الْآخِرَةِ رَبَّهُمْ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى رقم الحديث ٢٩٦ (١٨٠). صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ {حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ} [الرحمن: ٧٢] رقم الحديث ٤٨٧٩. سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥٢٨. مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٦١٦(٥)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٩٦٨٢. سنن ابن ماجة رقم الحديث ١٨٦. سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٦٤.

(٢) الواقعة آية ١٧، ١٨.

په ټولو جنتيانو کې به د آدنى درجې واله جنتي هغه کس وي چې لس زره (۱۰۰۰۰) خادمان به ده ته ولاړ وي ، د هر خادم په لاس کې به دوه رکيبۍ وي ، يوه به د سروزرو وي او بله به د سپينو زرو وي ، په هره رکيبۍ کې به داسې نعمت وي چې هغه به په بله کې نه وي (يعنى جدا جدا خوراکونه به په کې وي) ، جنتي به د آخري رکيبۍ نه داسې په شوق باندې خوراک کوي لکه څرنګې چې د اولې نه کوي ، په آخري خوراک کې به داسې خوشبو او خوَند مومي څنګه چې په اول کې مومي. (۱)

۷. اګر چې د مسلمان د پاره په دُنيا کې د سروزرو او سپينوزرو په لوخو کې خوراک کول ناجائز دی خو په آخرت کې به د سروزرو او سپينوزرو په لوخو کې خوراک او څکاک کوي.

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

لَا تَشْرَبُوْا فِيْ آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَلَا تَأْكُلُوْا فِيْ صِحَافِهَا ؛ فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَنَا فِي الْآخِرَةِ . (۲)

---

(۱) المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۷۶۷۴ بَابُ الْمِيمِ مَنِ اسْمُهُ: مُحَمَّدٌ . الترغيب والترهيب للمنذري فصل فِيمَا لأدنى أهل الجنة فِيهَا رقم الحديث ۵۶۴۰ وقال المنذري: رَوَاهُ ابن أبي الدُّنْيَا وَالطَّبَرَانِيّ وَاللَّفْظ لَهُ وَرُوَاته ثِقَات . الدرالمنثور في التفسير بالمأثور ج ۷ ص ۳۹۰ .

(۲) پوره حديث داسې دی : عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى: أَنَّهُمْ كَانُوا عِنْدَ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، فَاسْتَسْقَى ، فَسَقَاهُ مَجُوسِيٌّ، فَلَمَّا وَضَعَ القَدَحَ فِي يَدِهِ رَمَاهُ بِهِ، وَقَالَ : لَوْلاَ أَنِّي نَهَيْتُهُ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلاَ مَرَّتَيْنِ، كَأَنَّهُ يَقُولُ : لَمْ أَفْعَلْ هَذَا، وَلَكِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « لاَ تَلْبَسُوا الحَرِيرَ وَلاَ الدِّيبَاجَ ، وَلاَ تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَلاَ تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا ؛ فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا وَلَنَا فِي الآخِرَةِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الأَطْعِمَةِ بَابُ الأَكْلِ فِي إِنَاءٍ مُفَضَّضٍ رقم الحديث ۵۴۲۶ . و رقم الحديث ۵۶۳۳ كِتَابُ الأَشْرِبَةِ بَابُ آنِيَةِ الفِضَّةِ . صحيح مسلم كتاب اللِّبَاسِ وَالزِّينَةِ بَابُ تَحْرِيمِ اسْتِعْمَالِ إِنَاءِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ عَلَى الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ... رقم الحديث ۴(۲۰۶۷) .مشكاة المصابيح بَابُ الأَشْرِبَةِ الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۴۲۷۲(۱۰).

وفي رواية : عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: « نَهَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَشْرَبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالفِضَّةِ، وَأَنْ نَأْكُلَ فِيهَا، وَعَنْ لُبْسِ الحَرِيرِ وَالدِّيبَاجِ ، وَأَنْ نَجْلِسَ عَلَيْهِ » . صحيح البخاري كِتَابُ اللِّبَاسِ بَابُ افْتِرَاشِ الحَرِيرِ رقم الحديث ۵۸۳۷ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ۳۴۱۳ ، سنن ابى داؤد رقم الحديث ۳۷۲۳ .

Scanned with CamScanner

تاسو د سروزرو او سپینوزرو په لوخو کې څکاک مه کوئ، او د سروزرو او سپینوزرو په رکبو (پلېټونو) کې خوراک مه کوئ؛ ځکه دا د سروزرو او سپینوزرو لوخي په دُنیا کې د کافرانو د پاره دي، او ستاسو (مسلمانانو) د پاره به په آخرت کې وي.

## د جنتیانو د زِینت شیان، کپړې، او زیورات

په جنت کې به د جنتیانو د پاره د شنو باریکو او غټو وریښمو بهترینې کپړې وي، په لاس کې د اچولو د پاره به د سروزرو سپینوزرو او ملغلرو کنګړ (باهوګان) وي، د زِینت قیمتي شیان، او بهترینې تکیه ګانې به وي.

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ أُولَٰئِكَ لَهُمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِّن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ ۚ نِعْمَ ٱلثَّوَابُ وَحَسُنَتْ مُرْتَفَقًا ﴾. (١)

ترجمه: دوی ته به پدې جنت کې د سروزرو کنګړ (باهوګان) په لاسونو کې اچولې شي، او دا جنتیان به د شنو باریکو او غټو وریښمو کپړې اغوندي، او په دې جنت کې به دوی په تختونو باندې تکیه لګولي وي، دا څه ښه بدله ده او څه ښه د آرام ځای دی.

۲. بل ځای فرمايي: ﴿ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَٰبِلِينَ ﴾. (٢)

دوی به د وریښمو نرۍ او غټې کپړې اغوندي، یو بل ته به مخامخ ناست وي.

۳. بل ځای فرمايي:

﴿ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴾. (٣)

ترجمه: دوی ته به پدې جنت کې د سروزرو او ملغلرو کنګړ (باهوګان) اچولې شي،

---

(١) الکهف آیة ٣١.

(٢) الدخان آیة ٥٣.

(٣) الحج آیة ٢٣.

Scanned with CamScanner

او د دوی لباس به په جنت کې د وريښمو وي. (۱)

۴. بل ځای فرمايي:

﴿ عٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوٓا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ ﴾. (۲)

ترجمه: په دې جنتيانو باندې به د باريکه وريښمو او غټو وريښمو شنې کپړې وي او دوی ته به (په لاسونو کې) د سپينو زرو کنګړ (باهوګان) وراچولې شي.

**فائده**: ددې آيتونو نه دا معلومه شوه چې د جنتيانو د پاره به په جنت کې د باريکه نري وريښمو او غټو مضبوطو وريښمو شنې کپړې وي، ورسره به د دوی د تعظيم د پاره دوی ته په لاسونو کې د سروزرو، سپينوزرو، او ملغلرو کنګړ (بَنګړي) وراچولې شي.

## سړو ته د کنګړ اچولو مطلب

کيدې شي ستاسو ذهن ته دا **سوال** راځي چې کنګړ (بَنګړي) خو ښځې اچوي نو بيا جنتيانو ته به څنګه دا اچولې شي؟

نو ددې **جواب** دادی: لکه څرنګې چې په دُنيا کې سړي په لاس کې ګهړی (ګهِتته) اچوي او ښځې يې هم اچوي خو د سړو ګهړی جدا وي او د ښځو جدا وي همدغه شان به په قيامت کې ښځې هم د سروزرو، سپينوزرو او ملغلرو بنګړي اچوي او سړي به يې هم اچوي خو د سړو بَنګړي (کنګړ) به جدا وي او د ښځو به جدا وي.

او دا به د جنتيانو د تعظيم او ښائست د پاره وي، دغه وجه ده چې مخکيني بادشاهانو به هم په لاس کې د سروزرو مخصوص بَنګړي د تعظيم د پاره اچول.

په قرآن کريم کې هم ذکر دي چې فرعون د حضرت موسیٰ عليه السلام په باره کې وويل:

---

(۱) همداسې آيت په سورة فاطر کې هم دی؛ الله تعالی فرمايي: ﴿ جَنَّٰتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴾. فاطر آية ۳۳.

ترجمه: (د دوی د پاره) جنتونه د هميشه اوسيدو دي، دوی ته به پدې جنت کې د سروزرو او ملغلرو باهوګان (په لاسونو کې) اچولې شي، او د دوی لباس به پدې جنت کې د وريښمو وي.

(۲) الدهر آية ۲۱.

﴿ فَلَوْلَآ أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِّن ذَهَبٍ ﴾. (١)

ترجمه: (كه دا يقيني پيغمبر وي) نو ده ته ولې د سروزرو كنګڼ (بنګړي) ندي اچول شوي؟ (٢)

پس معلومه شوه چې په جنت كې به جنتيانو ته د دوی د تعظيم د پاره درې (٣) قسمه كنګڼ (بَنګړي، باهوګان) وراچولې شي: د سروزرو، د سپينوزرو، او د ملغلرو. او دا به د ښځو د بَنګړو نه جدا وي. (٣)

---

(١) الزخرف آية ٥٣.

(٢) ( فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ أَسْوِرَةٌ مِنْ ذَهَبٍ ) وَالْمُرَادُ أَنَّ عَادَةَ الْقَوْمِ جَرَتْ بِأَنَّهُمْ إِذَا جَعَلُوا وَاحِدًا مِنْهُمْ رَئِيسًا لَهُمْ سَوَّرُوهُ بِسِوَارٍ مِنْ ذَهَبٍ وَطَوَّقُوهُ بِطَوْقٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَطَلَبَ فِرْعَوْنُ مِنْ مُوسَى عليه السلام مِثْلَ هَذِهِ الْحَالَةِ. التفسير الكبير ج ٢٧ ص ٦٣٧ سورة الزخرف آية ٥٣.

(٣) (يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ) قَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ اللَّهُ: يُحَلَّى كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ ثَلَاثَ أَسَاوِرَ: وَاحِدٌ مِنْ ذَهَبٍ وَوَاحِدٌ مِنْ فِضَّةٍ وَ وَاحِدٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَيَوَاقِيتَ {وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ} وَهُوَ مَا رَقَّ مِنَ الدِّيبَاجِ {وَإِسْتَبْرَقٍ} وَهُوَ مَا غَلُظَ مِنْهُ، وَمَعْنَى الْغِلَظِ فِي ثِيَابِ الْجَنَّةِ: إِحْكَامُهُ. وَعَنْ أَبِي عِمْرَانَ الْجَوْنِيِّ قَالَ: اَلسُّنْدُسُ هُوَ الدِّيبَاجُ الْمَنْسُوجُ بِالذَّهَبِ. تفسير البغوي ج ٥ ص ١٦٩ الزخرف آية ٥٣.

امام رازي رحمه الله ليكلي: إِنَّ لِبَاسَ أَهْلِ الدُّنْيَا إِمَّا لِبَاسُ التَّحَلِّي، وَإِمَّا لِبَاسُ التَّسَتُّرِ. أَمَّا لِبَاسُ التَّحَلِّي فَقَالَ تَعَالَى فِي صِفَتِهِ: ﴿ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ ﴾ وَالْمَعْنَى أَنَّهُ يُحَلِّيهِمُ اللهُ تَعَالَى ذَلِكَ أَوْ تُحَلِّيهِمُ الْمَلَائِكَةُ. وَقَالَ بَعْضُهُمْ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمْ ثَلَاثَةُ أَسْوِرَةٍ: سِوَارٌ مِنْ ذَهَبٍ لِأَجْلِ هَذِهِ الْآيَةِ. وَسِوَارٌ مِنْ فِضَّةٍ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿ وَحُلُّوا أَسَاوِرَ مِنْ فِضَّةٍ ﴾ [الإنسان: ٢١]، وَسِوَارٌ مِنْ لُؤْلُؤٍ لِقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿ وَلُؤْلُؤًا وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴾ [الحج: ٢٣] وَأَمَّا لِبَاسُ التَّسَتُّرِ فَقَوْلُهُ: ﴿ وَيَلْبَسُونَ ثِيَابًا خُضْرًا مِنْ سُنْدُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ ﴾ وَالْمُرَادُ مِنْ سُنْدُسِ الْآخِرَةِ وَ إِسْتَبْرَقِ الْآخِرَةِ، وَالْأَوَّلُ هُوَ الدِّيبَاجُ الرَّقِيقُ وَهُوَ الْخَزُّ، وَالثَّانِي هُوَ الدِّيبَاجُ الصَّفِيقُ وَقِيلَ أَصْلُهُ فَارِسِيٌّ مُعَرَّبٌ وَهُوَ اسْتَبْرَهْ، أَيْ غَلِيظٌ. فَإِنْ قِيلَ: مَا السَّبَبُ فِي أَنَّهُ تَعَالَى قَالَ فِي الْحُلِيِّ: ﴿ يُحَلَّوْنَ ﴾ عَلَى فِعْلِ مَا لَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهُ. وَقَالَ فِي السُّنْدُسِ وَالْإِسْتَبْرَقِ ﴿ وَيَلْبَسُونَ ﴾ فَأَضَافَ اللُّبْسَ إِلَيْهِمْ؟ قُلْنَا: يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ اللُّبْسُ إِشَارَةً إِلَى مَا اسْتَوْجَبُوهُ بِعَمَلِهِمْ وَأَنْ يَكُونَ الْحُلِيُّ إِشَارَةً إِلَى مَا تَفَضَّلَ اللهُ عَلَيْهِمِ ابْتِدَاءً مِنْ زَوَائِدِ الْكَرَمِ. التفسير الكبير ج ٢١ ص ٣٦١ سورة الكهف في تفسير آية ٣١.

Scanned with CamScanner

# د جنت زیورات به ډیر ښائسته وي

د جنت زیورات به ډیر ښائسته وي.

د ترمذي شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَوْ أَنَّ مَا يُقِلُّ ظُفُرٌ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ بَدَا لَتَزَخْرَفَتْ لَهُ مَا بَيْنَ خَوَافِقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ . وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَ فَبَدَا أَسَاوِرُهُ لَطَمَسَ ضَوْءَ الشَّمْسِ كَمَا تَطْمِسُ الشَّمْسُ ضَوْءَ النُّجُومِ .(۱)

په جنت کې چې کوم (د زینت) څیزونه دي که چیرته د هغې نه د یو نوک په اندازه څیز دُنیا ته راښکاره شي نو د آسمانونو او زمکې اَطرافو کې چې څومره څیزونه دي دا ټول به ددې په وجه اُوپرقیږي، او که چیرته د جنّتیانو یو کس دُنیا ته راښکاره شي او د هغه د لاس (د سروزرو، سپینوزرو، او ملغلرو) کنګړ ښکاره شي نو دا به د نمر رڼا داسې تَتَه (پَست) کړي لکه څرنګې چې نمر د ستورو رڼا تَتوي.

# د ټولې دُنیا زیورات د جنت د معمولي زیور مقابله نشي کولی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَوْ أَنَّ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ حِلْيَةً عَدَلَتْ حِلْيَتُهُ بِحِلْيَةِ أَهْلِ الدُّنْيَا جَمِيعًا لَكَانَ مَا يُحَلِّيهِ اللهُ بِهِ فِي الْآخِرَةِ أَفْضَلَ مِنْ حِلْيَةِ أَهْلِ الدُّنْيَا جَمِيعًا .(۲)

په جنت کې چې د ټولو نه کمه درجه زِیورات د چا وي که چیرته دده زیورات د دُنیا د ټولو زیوراتو سره مقابله کړې شي نو الله تعالی چې دې جنتي ته کوم زیورات اچوي دا به د ټولې

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲۵۳۸ قال الالباني: صحيح. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۴۴۹، و رقم الحديث ۱۴۶۷. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال الْقِيَامَة وبدء الخلق بَاب صفة الجنة وأهلها الفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۳۷(۲۶)، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۳۷۷، كنز العمال رقم الحديث ۳۹۳۴۳، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۷۵۳.

(۲) المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۸۷۸ بَابُ الْمِيمِ مَنِ اسْمُهُ: مِقْدَامٌ . كنز العمال كتاب الحدود الفرع الثاني: في حد الخمر رقم الحديث ۱۳۲۲۰، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۲۶۶، و رقم الحديث ۳۰۲.

Scanned with CamScanner

دُنیا د زِیوراتو نه افضل وي.

## د جنتیانو د تاج یوه ملغلره د دُنیا او مَافِیهَا نه ډیره بهتر ده

**١.** د ترمذي شريف او مشكوة شريف حديث دی، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

...وَيُوْضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ، اَلْيَاقُوْتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا... (١)

د شهيد په سَر به داسې د وَقار (او عِزت) تاج وَر په سَر کړې شي چې د هغې يو ياقوت به د دُنيا او مَافِيهَا نه ډير بهتر وي.

**٢.** همدارنګې د حافظِ قرآن والدينو ته چې د قيامت په ورځ کوم تاج وَر په سَر کولې شي نو د هغې رَڼا به هم د نمر د رَڼا نه زياته وي. او داسې دوه کپړې به وَر اغوستلې شي چې ټوله دُنيا به د هغې قيمت نشي پوره کولی. (٢)

---

(١) پوره حديث داسې دی: رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

لِلشَّهِيْدِ عِنْدَ اللهِ سِتُّ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دفْعَةٍ، وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْأَكْبَرِ، وَيُوْضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ، اَلْيَاقُوْتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا، وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِيْنَ مِنْ أَقَارِبِهِ.

د شهيد د پاره الله ﷻ سره شپږ (٦) خصلتونه (اِمتيازي اِنعامات) دي: ١. د وِينې اول څاڅکي توييدلو سره ده ته بخنه کولې شي. ٢. په جنت کې به خپل ځای اوګوري. ٣. د عذابِ قبر نه به ورته پناه ورکړې شي او د قيامت په ورځ د لوې يَرې نه به په اَمن وي. ٤. ده ته به داسې د وَقار (او عِزت) تاج وَر په سَر کړې شي چې د هغې يو ياقوت به د دُنيا او مَافِيها نه ډير بهتر وي. ٥. دوه اَويا (٧٢) حُورِعِين به ده ته په نکاح ورکړې شي. ٦. دده د رِشته دارو اَويا (٧٠) کسانو په باره کې به دده شفاعت قبلولې شي.

سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ بَابٌ فِي ثَوَابِ الشَّهِيدِ رقم الحديث ١٦٦٣، وقال الترمذي: هذا حديث صحيح غريب، وقال الالباني: هذا حديث صحيح. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم ٣٨٣٤(٤٧)، سنن ابن ماجة بابُ فضلِ الشهادة في سبيل الله رقم الحديث ٢٧٩٩، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩٤٦٧، كنزالعمال رقم الحديث ١١١٤٣، مسند احمد رقم ١٧١٨٢، و رقم ١٧٧٨٣، مجمع الزوائد رقم ٩٥١٦، الجهاد لابن ابي عاصم رقم ٢٠٤.

(٢) رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَتَعَلَّمَهُ وَعَمِلَ بِهِ أُلْبِسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَاجًا مِنْ نُوْرٍ ضَوْءُهُ مِثْلُ ضَوْءِ الشَّمْسِ، وَيُكْسَى وَالِدَيْهِ حُلَّتَانِ لَا يَقُوْمُ بِهِمَا الدُّنْيَا، فَيَقُوْلَانِ: بِمَا كُسِيْنَا؟ ←←←←←

# د جنتیانو کپړې به نه زړیږي

**۱.** د مسلم شریف حدیث دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ. (۱)

څوک چې جنت ته داخل شي نو هغه به همیشه په نعمتونو کې وي، هیڅ کله به په بَدحالۍ (او سختۍ) کې نه مبتلاء کیږي، نه به یې کپړې زړیږي، او نه به یې ځواني ختمیږي.

**۲.** د ترمذي شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كُحْلٌ لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ. (۲)

---

←←← فَيُقَالُ: بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ.

چا چې قرآن کریم اُولوست، بل ته یې اُوخود، او په دې یې عمل وکړو نو د قیامت په ورځ به ده ته ذاسې د نُور تاج وَر په سَر کړې شي چې د هغې رڼا به د نمَر د رڼا په شان وي، او دده والدینو ته به دوه داسې قیمتي جوړې وَرواغوستلې شي چې ټوله دُنیا به ددې دواړو قیمت ته نشي رسیدی، دده والدین به ووایي: مونږ ته دا جوړې د څه شي په عِوض کې راواغوستلې شوی؟ دوی ته به وویلې شي:

بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ. ځکه چې ستاسو بچي قرآن کریم لوستلې وُ (نو د هغې په عِوض کې مو تاسو ته دا قیمتي جوړې دَر واغوستی).

المستدرک على الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۲۰۸۶ ذِكْرُ فَضَائِلِ سُوَرٍ، وَآيٍ مُتَفَرِّقَةٍ. وقال الحاکم: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وصححه العلامة الالباني رحمه الله في صحیح الترغیب ۱۴۳۴، کنزالعمال رقم الحدیث ۲۳۸۷، المتجرالرابح في ثواب العمل الصالح ص ۲۴۹ ابواب قراءة القرآن.

(۱) صحیح مسلم کتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابٌ فِي دَوَامِ نَعِيمِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَقَوْلِهِ تَعَالَى: {وَنُودُوا أَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ} [الأعراف: ۴۳] ،رقم الحدیث ۲۱ (۲۸۳۶). مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۹۲۷۹، و رقم الحدیث ۹۳۹۱. مسند ابي داؤد الطیالسي رقم الحدیث ۲۷۰۶، سنن الدارمي رقم الحدیث ۲۸۶۱. مسند البزار رقم الحدیث ۹۴۶۸.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ ثِيَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحدیث ۲۵۳۹ قال الالباني: حسن. سنن الدارمي رقم الحدیث ۲۸۶۸. شرح السنّة للبغوي ج ۱۵ ص ۲۲۰ مشکاة المصابیح کتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفصل الثاني رقم ۵۶۳۸ (۲۷). کنزالعمال رقم ۳۹۳۰۱.

Scanned with CamScanner

د جنتیانو په وجود به ویښتان نه وي ، په مخ به یې ګیره نه وي (یعنی ښائسته به وي) ، سترګې به یې بې رَنجو قدرتي) توري وي ، د دوی ځواني به نه ختمیږي ، او کپړې به یې نه زړیږي . (۱)

۳ . په احادیثو کې دا هم راغلي چې د جنتیانو کپړې به د جنت د میوو نه جوړولې شي . (۲)

٤ . په ځنې احادیثو کې راځي چې جنتیان به د طوبٰی اُونې د غوټو نه د خپلې خوښې مطابق د مختلف رنګونو واله کپړې ځانله برابروي . (۳)

---

(۱) ( جُرْدٌ ) جَمْعُ أَجْرَدَ، وَهُوَ الَّذِي لَا شَعَرَ عَلَى جَسَدِهِ وَضِدُّهُ الْأَشْعَرُ (مُرْدٌ) : جَمْعُ أَمْرَدَ وَهُوَ غُلَامٌ لَا شَعَرَ عَلَى ذَقْنِهِ، وَقَدْ يُرَادُ بِهِ الْحُسْنُ بِنَاءً عَلَى الْغَالِبِ (كُحْلٌ) وَهُوَ عَيْنٌ فِي أَجْفَانِهَا سَوَادٌ خِلْقَةً . كَذَا قَالَهُ شَارِحٌ . مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۳۵۹۰ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا .

(۲) .... قَالَ : ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ ثِيَابَ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، أَتُنْسَجُ نَسْجًا ، أَمْ تَشَقَّقُ عَنْهُ ثَمَرُ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : فَكَأَنَّ الْقَوْمَ تَعَجَّبُوا مِنْ مَسْأَلَةِ الْأَعْرَابِيِّ ، فَقَالَ : « مَا تَعْجَبُونَ مِنْ جَاهِلٍ يَسْأَلُ عَالِمًا ؟ » قَالَ : فَسَكَتَ هُنَيَّةً ، ثُمَّ قَالَ : « أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ ثِيَابِ الْجَنَّةِ ؟ » ، قَالَ : أَنَا ، قَالَ : « لَا ، بَلْ تُشَقَّقُ عَنْ ثَمَرِ الْجَنَّةِ » . مسند احمد مخرجا ج ۱۱ ص ٤۹۰ رقم الحديث ٦۸۹۰ .

وفي رواية : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ، قَالَ : بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنَا عَنْ ثِيَابِ الْجَنَّةِ أَخَلْقٌ يُخْلَقُ أَوْ نَسِيجٌ يُنْسَجُ ، فَضَحِكَ بَعْضُ الْقَوْمِ ، فَقَالَ لَهُمْ : « تَضْحَكُونَ أَنَّ جَاهِلًا يَسْأَلُ عَالِمًا » ، فَجَلَسَ يَسِيرًا أَوْ قَلِيلًا ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ ثِيَابِ الْجَنَّةِ ؟ » قَالَ : هَا هُوَ ذَا يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ : « لَا بَلْ تُشَقَّقُ عَنْهَا ثَمَرُ الْجَنَّةِ » ، قَالَهَا ثَلَاثًا . السنن الكبرى للنسائي كِتَابُ الْعِلْمِ الضَّحِكُ عِنْدَ السُّؤَالِ رقم الحديث ٥۸٤۱ .

وفي رواية : عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ أَتَى أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَرَأَيْتَ ثِيَابَ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَنَعْمَلُهَا بِأَيْدِينَا ؟ فَضَحِكَ الْقَوْمُ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يُضْحِكُكُمْ مِنْ جَاهِلٍ يَسْأَلُ عَالِمًا ؟ لَا وَلَكِنَّهَا ثَمَرَاتٌ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ لِبَاسِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱٥۳ .

(۳) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ ، أَنَّ رَجُلًا ، قَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! طُوبَى لِمَنْ رَآكَ وَآمَنَ بِكَ ، قَالَ : « طُوبَى لِمَنْ رَآنِي وَآمَنَ بِي ، وَطُوبَى ثُمَّ طُوبَى ، ثُمَّ طُوبَى لِمَنْ آمَنَ بِي وَلَمْ يَرَنِي » فَقَالَ رَجُلٌ " وَمَا طُوبَى ؟ قَالَ : « شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ مِائَةِ عَامٍ ثِيَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ تَخْرُجُ مِنْ أَكْمَامِهَا » . صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ لِبَاسِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۳۸ .

Scanned with CamScanner

۵. د جنتيانو به دومره ښائسته کپړې وي که چيرته هغه کپړې دُنيا ته راښکاره شي نو هيڅوک به هغې ته د ځمک په وجه او نه کتلی شي.(۱)

جنتي چې د جنت کپړې واغوندي نو دا کپړې به په لږ ساعت کې آويا (۷۰) قِسمه رنګونه بدلوي.(۲)

## د جنت خوشبوئي د ډيرې لرې فاصلې نه محسوسيږي

د جنت دومره بهترينه خوشبوئي ده چې دا د ډيرې لرې فاصلې نه محسوسيږي.

۱. د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

.... وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا.(۳)

... او بيشکه د جنت خوشبوئي د څلويښت کاله مسافت په اندازه (د لرې نه) محسوسيږي.

۲. په بعضو رواياتو کې راځي چې د آويا (۷۰) کاله مسافت په اندازه د.لرې نه محسوسيږي.(۴)

---

(۱) قَالَ كَعْبٌ: لَوْ أَنَّ ثَوْبًا مِنْ ثِيَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ نُشِرَ الْيَوْمَ فِي الدُّنْيَا لَصَعِقَ مَنْ يَنْظُرُ إِلَيْهِ وَمَا حَمَلَتْهُ أَبْصَارُهُمْ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ لِبَاسِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۴۵.

(۲) عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ لَيَلْبَسُ الْحُلَّةَ فَتَتَلَوَّنُ فِي سَاعَةٍ سَبْعِينَ لَوْنًا. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ لِبَاسِ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۴۶.

(۳) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا. صحيح البخاري كِتَابُ الْجِزْيَةِ بَابُ إِثْمِ مَنْ قَتَلَ مُعَاهَدًا بِغَيْرِ جُرْمٍ رقم الحديث ۳۱۶۶، و رقم الحديث ۶۹۱۴ كِتَابُ الدِّيَاتِ بَابُ إِثْمِ مَنْ قَتَلَ ذِمِّيًّا بِغَيْرِ جُرْمٍ. سنن ابن ماجة رقم الحديث ۲۶۸۶.

(۴) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَلَا مَنْ قَتَلَ نَفْسًا مُعَاهِدًا لَهُ ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُولِهِ فَقَدْ أَخْفَرَ بِذِمَّةِ اللهِ، فَلَا يُرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ، وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ سَبْعِينَ خَرِيفًا. سنن الترمذي رقم الحديث ۱۴۰۳ وقال الترمذي: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۵۸۱.

Scanned with CamScanner

۳. په ځنې احاديثو کې ذکر دي چې د جنت خوشبوئي د سل (۱۰۰) کاله مسافت، په ځنو کې د پنځه سوه (۵۰۰) کاله، او په ځنو کې د زر (۱۰۰۰) کاله مسافت په اندازه د لرې نه محسوسيږي.

**تطبيق**: امام سيوطي رَحِمَهُ اللهُ ددې احاديثو په مينځ کې تطبيق داسې کړی چې د يو چا درجه د الله تعالی په نزد باندې هر څومره اُوچته وي نو د هغې په مقدار به دا کس د جنت خوشبوئي د لرې نه محسوسوي.

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ ليکلي: دا احتمال هم شته چې د نبي عليه السلام مقصد دا وي چې د جنت خوشبوئي د ډيرې لرې نه محسوسيږي او دا کوم عددونه چې په احاديثو کې ذکر شوي نو ددينه لرې فاصله مراد ده همدا مُعيّن عدد ورنه مراد ندی.(۱)

## د جنت مَحلونه او بالاخانې

د جنتيانو د پاره به په جنت کې بهترين مَحلونه او بالاخانې وي، په قرآن کريم او احاديثو کې ددې تذکره شته:

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴾.(۲)

ترجمه: چاچې ايمان راوړو، او نيک عملونه يې اوکړل نو مونږ به دوی ته د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږي، دوی به په هغې کې هميشه

(۱) (مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا) أَيْ عَامًا كَمَا فِي رِوَايَةٍ. قَالَ السُّيُوطِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَفِي رِوَايَةٍ سَبْعِينَ عَامًا، وَفِي الْأُخْرَى مِائَةَ عَامٍ، وَفِي الْفِرْدَوْسِ أَلْفَ عَامٍ، وَجَمَعَ بِأَنَّ ذَلِكَ بِحَسَبِ اخْتِلَافِ الْأَشْخَاصِ وَالْأَعْمَالِ، وَتَفَاوُتِ الدَّرَجَاتِ. فَيُدْرِكُهَا مَنْ شَاءَ اللهُ مِنْ مَسِيرَةِ أَلْفِ عَامٍ، وَمَنْ شَاءَ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا، وَمَا بَيْنَ ذَلِكَ قَالَهُ ابْنُ الْعَرَبِيِّ وَغَيْرُهُ. قُلْتُ: وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ الْمُرَادُ مِنَ الْكُلِّ طُولَ الْمَسَافَةِ لَا تَحْدِيدَهَا. مرقاة المفاتيح ج ٦ ص ۲۲٦۱ كِتَابُ الْقِصَاصِ.

(۲) العنكبوت آية ۵۸.

اوسیږي ، د (نیک) عمل کوونکو ډیره ښه بدله ده .

٢ . په سورة الفرقان کې الله تعالی د نېکانو بندګانو څه صفات ذکر کړي ، بیا فرمایي :

﴿ أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا ﴾ . (١)

ترجمه : همدې خلقو ته به (په جنت کې) بالاخانې ورکولې شي ؛ ځکه چې دوی (په دُنیا کې په تکلیفونو او عبادت باندې) صبر کړې وُ .

٣ . جنتیان به په خپلو بالاخانو کې په اِطمینان او سکون سره ژوند تیروي . الله ربّ العزت فرمایي : ﴿ وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : او دوی به (د جنت) په بالاخانو کې په اَمن وي .

٤ . په جنت کې به څو څو چَته بالاخانې وي . الله جلّ جلاله فرمایي :

﴿ لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ غُرَفٌ مِّن فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ وَعْدَ اللَّهِ ۖ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ ﴾ . (٣)

ترجمه : لیکن کوم خلق چې د خپل رَب نه اُویریدل نو د دوی د پاره به داسې بالاخانې وي چې د هغې د پاسه به نورې بالاخانې جوړې شوې وي ، د هغې د لاندې به نهرونه بهیږي ، دا د الله تعالی وعده ده ، (او) الله تعالی (هیڅ کله) د وعدې خلاف نه کوي .

٥ . د جنت بالاخانې به د مرتبو په اعتبار سره وي ، یعنی د چا مرتبه چې څومره اُوچته وي نو د هغه بالاخانې او محلات به هم اُوچت وي ، خو بیا به هم د لاندې بالاخانو واله جنیتان د پورته بالاخانو واله خلق په آسانه ګوري .

---

(١) ﴿ أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴾ . الفرقان آية ٧٥ .

(٢) ﴿ وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُم بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِندَنَا زُلْفَىٰ إِلَّا مَنْ آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ﴾ . سبا آية ٣٧ .

(٣) الزمر آية ٢٠ .

Scanned with CamScanner

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ، كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ، لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ.

بیشکه جنتیان به خپل پورته بالاخانو واله خلق داسې ګوري لکه څرنګې چې تاسو د آسمان په مشرقي یا مغربي غاړو کې پړقیدونکې ستورې ګورئ، او ددې بالاخانو اُوچت والې به د خپل مینځې مرتبو په اعتبار سره وي.

(یعنی چې د چا مرتبه څومره اُوچته وي نو بالاخانې به یې هم اُوچتې وي).

صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نبي علیه السلام ته عرض اوکړو:

يَا رَسُولَ اللهِ! تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ.

اې د الله رسوله! آیا دا اُوچت مَحَلات به د انبیاء کرامو وي؟ دیته به ددوی نه علاوه بل څوک نشي رسیدی؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، رِجَالٌ آمَنُوا بِاللهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ.

ولې نه، قسم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده دغه اُوچتو بالاخانو ته به د هغه خلقو رسیدګي هم کیږي چې هغوی په الله جَلَّ جَلَالُهُ باندې ایمان راوړي او د رسولانو تصدیق اوکړي. (١)

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ، كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ، لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ » قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ، قَالَ: « بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، رِجَالٌ آمَنُوا بِاللهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ ». صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥٦. صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ تَرَائِي أَهْلِ الْجَنَّةِ أَهْلَ الْغُرَفِ، كَمَا يُرَى الْكَوْكَبُ فِي السَّمَاءِ رقم الحديث ١١ (٢٨٣١). صحيح ابن حبان رقم الحديث ٢٠٩، و رقم الحديث ٧٣٩٣، المعجم الكبير للطبراني رقم ٥٧٧٦. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفصل الأول رقم الحديث ٥٦٢٤(١٣).

Scanned with CamScanner

# د جنت مَحلونه او کورونه به پاکیزه وي

د جنت مَحلات او کورونه به ډیر پاکیزه وي. په قرآن کریم کې ذکر دي:

﴿... وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾. (۱)

ترجمه: او (الله تعالی به تاسو داخل کړي) داسې پاکیزه مَحلونو ته چې هغه د همیشه اُوسیدو په باغونو کې دي، (او) همدا لویه کامیابي ده.

(همداسې مضمون په نورو آیتونو کې هم ذکر دی). (۲)

# د جنت بالاخانې په نېکو اعمالو کولو سره حاصلیږي

د جنت دا ښائسته بالاخانې انسان په نېکو اعمالو سره حاصلولي شي.

۱. رسولُ الله صلی الله علیه وسلم (صحابه کرامو ته) اوفرمایل:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا، وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا.

بیشکه په جنت کې داسې بالاخانې دي چې (د ډیر صفاوالي او ښائسته والي په وجه) ددې بهر به د دننه نه ښکاري، او د دننه طرف به یې د بهر نه ښکاري.

ابومالک اشعري رضی الله عنه عرض اوکړو:

---

(۱) پوره آیتونه دادي: ﴿يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيكُمْ مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ تُؤْمِنُونَ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ ۚ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۚ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾. الصف آیة ۱۰ تا ۱۲.

(۲) همداسې مضمون په یو بل آیت کې هم ذکر دی: ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ خٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ۚ وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ أَكْبَرُ ۚ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾. التوبة آیة ۷۲.

ترجمه: الله تعالی د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو سره د (هغه) جنتونو وعده کړې د کوم نه لاندې چې به نهرونه بهیږي، دوی به په هغې کې همیشه وي، او د داسې پاکیزه مکانونو وعده یې ورسره کړې کوم چې به د همیشه اُوسیدو په جنت کې وي، او د الله تعالی رضامندي (ددې مذکوره) ټولو نعمتونو نه لوی نعمت دی (او) همدا لویه کامیابي ده.

Scanned with CamScanner

لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ اې د الله رسوله ! دا به د چا د پاره وي ؟

نبي عليه السلام ورته او فرمايل :

لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَبَاتَ قَائِمًا وَالنَّاسُ نِيَامٌ .

دا به د هغه چا د پاره وي چې د خلقو سره په نرمۍ خبرې کوي ، په خلقو باندې خوراک کوي ، او د شپې عبادت کوي چې کله (اکثر) خلق اُوده وي . (١)

٢ . په څنې احاديثو کې ورسره دا هم دي چې دا بالاخانې به د هغه چا د پاره هم وي چې هميشه نفلي روژې نيسي ، او په هر چا سلام اچوي . (٢)

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا، وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا » قَالَ أَبُو مَالِكٍ الْأَشْعَرِيُّ : لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَبَاتَ قَائِمًا وَالنَّاسُ نِيَامٌ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْوِتْرِ رقم الحديث ١٢٠٠ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و رقم الحديث ٢٧٠ كِتَابُ الْإِيمَانِ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٦٦١٥ ، و رقم الحديث ٢٢٩٠٥ . صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ٢١٣٧ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٥٠٩ . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٤٦٦ ، و رقم الحديث ٣٤٦٧ . شعب الايمان رقم الحديث ٢٨٢٥ ، و رقم الحديث ٣٦٠٩ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٢٣٢(١٤) ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٥٨ . مجمع الزوائد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ ثَانٍ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ رقم الحديث ٣٥٣٣ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ.

(٢) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا تُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا » . فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَ أَدَامَ الصِّيَامَ، وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي قَوْلِ الْمَعْرُوفِ رقم الحديث ١٩٨٤ قال الالباني: حسنٌ . و رقم الحديث ٢٥٢٧ أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ غُرَفِ الْجَنَّةِ . صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ٢١٣٦ .

وفي رواية : عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا تُرَى ظُهُورُهَا مِنْ بُطُونِهَا، وَبُطُونُهَا مِنْ ظُهُورِهَا » . فَقَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: لِمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: « هِيَ لِمَنْ قَالَ طَيِّبَ الْكَلَامِ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَأَفْشَى السَّلَامَ، وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ » . مصنف ابن ابى شيبة كِتَابُ الْأَدَبِ مَا قَالُوا فِي إِفْشَاءِ السَّلَامِ رقم ٢٥٧٤٣ ، و رقم الحديث ٣٣٩٧٢ . شعب الايمان رقم ٣٠٨٩ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٢٥٢ .

Scanned with CamScanner

( امام بيهقي رَحِمَهُ‌اللّٰهُ بيا دا حديث پوره تفصيل او اضافې سره هم نقل کړی ) .(١)

**فائده** : د مذکوره احاديثو نه معلومه شوه چې د جنت بالاخانې مسلمانانو ته د عباداتو په اعتبار سره ملاويږي چې د چا درجه څومره اُوچته وي نو د هغه محل به هم اُوچت وي.

لهذا مسلمان ته په کار دي چې په نېکو اعمالو کې د يو بل نه د مخکې کيدو کوشش اوکړي.

په دُنيا کې مونږ ګورو چې خلق د يو بل نه په دُنياوي شيانو کې د مخکې کيدو کوشش کوي نو همدغه شان مونږ ته هم په کار دي چې د جنت په اُوچتو درجو حاصلولو کې هم د يو بل نه سبقت اوکړو او نېک اعمال اوکړو .(٢)

---

(١) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِغُرَفِ الْجَنَّةِ؟ »، قَالَ: قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ بِأَبِينَا أَنْتَ وَأُمِّنَا. قَالَ: « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا مِنْ أَصْنَافِ الْجَوْهَرِ كُلِّهِ يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا، وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا، فِيهَا مِنَ النَّعِيمِ وَاللَّذَّاتِ وَالسَّرَفِ، مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ »، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! وَلِمَنْ هَذِهِ الْغُرَفُ؟ قَالَ: « لِمَنْ أَفْشَى السَّلَامَ، وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَأَدَامَ الصِّيَامَ، وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ »، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَمَنْ يُطِيقُ ذَلِكَ؟ قَالَ: أُمَّتِي تُطِيقُ ذَلِكَ، وَسَأُخْبِرُكُمْ عَنْ ذَلِكَ: مَنْ لَقِيَ أَخَاهُ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ أَوْ رَدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ أَفْشَى السَّلَامَ، وَمَنْ أَطْعَمَ أَهْلَهُ وَعِيَالَهُ مِنَ الطَّعَامِ حَتَّى يُشْبِعَهُمْ فَقَدْ أَطْعَمَ الطَّعَامَ، وَمَنْ صَامَ رَمَضَانَ وَمِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَقَدْ أَدَامَ الصِّيَامَ، وَمَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ وَصَلَّى الْغَدَاةَ فِي جَمَاعَةٍ فَقَدْ صَلَّى اللَّيْلَ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، وَالْيَهُودُ، وَالنَّصَارَى وَالْمَجُوسُ . البعث والنشور للبيهقي بَابُ مَا جَاءَ فِي غُرَفِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣ وقال البيهقي: وَهَذَا الْإِسْنَادُ غَيْرُ قَوِيٍّ إِلَّا أَنَّهُ مِنَ الْإِسْنَادَيْنِ الْأَوَّلَيْنِ يُقَوِّي بَعْضُهُ بَعْضًا. وَاللهُ أَعْلَمُ. الترغيب والترهيب للمنذري رقم ٥٦٤٥ فصل في درجات الجنة وغرفها . احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٣٧ .

(٢) ثم تأمل الآن في غرف الجنة واختلاف درجات العلو فيها فَإِنَّ الْآخِرَةَ أَكْبَرُ دَرَجَاتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا وَكَمَا أَنَّ بين الناس في الطَّاعَاتِ الظَّاهِرَةِ وَالْأَخْلَاقِ الْبَاطِنَةِ الْمَحْمُودَةِ تَفَاوُتًا ظَاهِرًا فَكَذَلِكَ فِيمَا يُجَازَوْنَ بِهِ تَفَاوُتٌ ظَاهِرٌ فَإِنْ كُنْتَ تَطْلُبُ أَعْلَى الدَّرَجَاتِ فَاجْتَهِدْ أَنْ لَا يَسْبِقَكَ أَحَدٌ بِطَاعَةِ اللهِ تَعَالَى فَقَدْ أَمَرَكَ الله بالمسابقة والمنافسة فيها فقال تعالى {سابقوا إلى مغفرة من ربكم} وقال تعالى {وفي ذلك فليتنافس المتنافسون} والعجب أنه لو تقدم عليك أقرانك أو جيرانك بزيادة درهم أو بعلو بناء ثقل عليك ذلك وضاق به صدرك وتنغص بسبب الحسد عيشك وأحسن أحوالك أن تستقر في الجنة وأنت لا تسلم فيها من أقوام يسبقونك بلطائف لا توازيها الدنيا بحذافيرها .احياء علوم الدين ج ٤ ص ٥٣٧ القول في صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَصْنَافِ نَعِيمِهَا .

Scanned with CamScanner

# په جنت کې به د جنتیانو د پاره د ملغلرو نه جوړې شوې خیمې وي

د جنت د بالاخانو او محلاتو نه علاوه به د جنتیانو د پاره د ملغلرو نه جوړې شوې خیمې هم وي. دا به د جنت په باغونو کې او د باغونو په غاړو باندې وي، په دې کې به د جنتیانو د پاره بنائسته حورې وي.

۱. الله تعالی فرمایي: ﴿ حُورٌ مَّقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ﴾. (۱)

ترجمه: دا حورې به په خیمو کې محفوظې وي. (۲)

۲. د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ خَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ مُجَوَّفَةٍ، عَرْضُهَا سِتُّونَ مِيلًا، فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ، يَطُوفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُونَ ... (۳)

یشکه (د مؤمن د پاره) په جنت کې به یوه خیمه وي چې صرف د یوې ډډې ملغلرې نه به جوړه شوې وي (یعنی دا ملغلره به په مینځ کې ډډه وي او د دېنه به خیمه جوړه وي)، د دې خیمې اوږدوالې به شپېته (۶۰) میله وي، د دې خیمې په هر ګنج کې به د ده کورواله (بیبیانې) وي چې د یو ګنج واله به د بل ګنج واله نشي لیدلی (ځکه چې سرې د یوې بې بې سره وي نو دا نه خوښوي چې بله بې بې یې اوګوري)، مؤمنان به پدې خپلو بیبیانو باندې ګرځي. (یعنی د خپل کورني ضرورت پوره کولو د پاره به هرې بې بې ته ورځي).

(۱) الرحمن آية ۷۲.

(۲) (حُورٌ مَقْصُورَاتٌ) مَخْبُوءَاتٌ مَسْتُورَاتٌ فِي الْحِجَالِ. يُقَالُ: اِمْرَأَةٌ مَقْصُورَةٌ وَقَصِيرَةٌ إِذَا كَانَتْ مُخَدَّرَةً مَسْتُورَةً لَا تَخْرُجُ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ رَحِمَهُ اللهُ: يَعْنِي قَصَرْنَ طَرْفَهُنَّ وَأَنْفُسَهُنَّ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ فَلَا يَبْغِينَ لَهُمْ بَدَلًا.
تفسير البغوي ج ۷ ص ۴۵۸ سورة الرحمن آية ۷۲.

(۳) صحيح البخاري كتاب تفسير القرآن باب (حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ) [الرحمن: ۷۲] رقم الحديث ۴۸۷۹. صحيح مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها باب في صفة خيام الجنة وما للمؤمنين فيها من الأهلين رقم الحديث ۲۴ (۲۸۳۸). سنن الترمذي رقم الحديث ۲۵۲۸. صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۳۹۵. مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفصل الأول رقم الحديث ۵۶۱۶ (۵).

Scanned with CamScanner

۳. په یو روایت کې ددې خیمو اوږدوالې هم شپیته (۶۰) میله ذکر شوی.(۱)

٤. د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه ددې آیت ﴿ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ فِي الْخِيَامِ ﴾ په تفسیر کې نقل دي:

اَلْخَيْمَةُ مِنْ دُرَّةٍ مُجَوَّفَةٍ طُوْلُهَا فَرْسَخٌ وَعَرْضُهَا فَرْسَخٌ وَلَهَا أَلْفُ بَابٍ مِنْ ذَهَبٍ حَوْلَهُ سُرَادِقٌ دَوْرُهُ خَمْسُوْنَ فَرْسَخًا يَدْخُلُ عَلَيْهِ مِنْ كُلِّ بَابٍ مِنْهَا مَلَكٌ بِهَدِيَّةٍ مِنْ عِنْدِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَذٰلِكَ قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَدْخُلُوْنَ عَلَيْهِمْ مِّنْ كُلِّ بَابٍ ﴾

دا خیمې به د ددې ملغلرې نه جوړې شوې وي، اوږدوالې او پلنوالې به یې یو فرسخ وي، ددې به د سروزرو زر (۱۰۰۰) دروازې وي، ددې ګېرچاپېره به د پنځوس (۵۰) فرسخه په اندازه پردې وي، ددې هرې دروازې نه به پدې جنتي باندې یوه فرښته راداخلیږي چې ده ته به د الله جل جلاله د طرفه هدیه راوړي، دا خبره د قرآن کریم ددې آیت موافق ده (الله تعالی فرمایي:) او فرښتې به په دوی باندې د هرې دروازې نه راداخلیږي.(۲)

۵. د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه دا هم نقل دي: چې ددې خیمې به څلور زره (۴۰۰۰) د سروزرو دُرشلې وي.(۳)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ، طُوْلُهَا سِتُّوْنَ مِيْلًا، لِلْمُؤْمِنِ فِيْهَا أَهْلُوْنَ، يَطُوْفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ فَلَا يَرَى بَعْضُهُمْ بَعْضًا. صحيح مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها باب في صفة خيام الجنة وما للمؤمنين فيها من الأهلين رقم الحديث ۲۳ (۲۸۳۸). و رقم الحديث ۲۵(۲۸۳۸). صحيح البخاري كتاب بدء الخلق باب ما جاء في صفة الجنة وأنها مخلوقة رقم الحديث ۳۲۴۳.

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: { حُوْرٌ مَقْصُوْرَاتٌ فِي الْخِيَامِ } قَالَ: اَلْخَيْمَةُ مِنْ دُرَّةٍ .... صفة الجنة لابن ابي الدنيا باب صفة الحور العين رقم الحديث ۳۱۸. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۶۶۷ فصل في خيام الجنة وغرفها وغير ذلک. الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ۲ ص ۴۳۰.

(۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: الْخَيْمَةُ دُرَّةٌ مُجَوَّفَةٌ، فَرْسَخٌ فِي فَرْسَخٍ، لَهَا أَرْبَعَةُ آلَافِ مِصْرَاعٍ مِنْ ذَهَبٍ. الزهد والرقائق لابن المبارک ج ۲ ص ۷۱ في صفة الجنة وما أعد الله فيها. صفة الجنة لابن ابي الدنيا باب صفة الحور العين رقم الحديث ۳۱۴. مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۴۰۵۸. البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۳۰۲. ←←←

Scanned with CamScanner

٦. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي:

لِكُلِّ مُسْلِمٍ خَيْرَةٌ ، وَلِكُلِّ خَيْرَةٍ خَيْمَةٌ ، وَلِكُلِّ خَيْمَةٍ أَرْبَعَةُ أَبْوَابٍ تَدْخُلُ عَلَيْهَا كُلَّ يَوْمٍ مِنْ كُلِّ بَابٍ تُحْفَةٌ وَهَدِيَّةٌ وَكَرَامَةٌ لَمْ تَكُنْ قَبْلَ ذَلِكَ، لَا مَرَاحَاتٌ، وَلَا ذَفِرَاتٌ، وَلَا سَخِرَاتٌ ، وَلَا طَمَّاحَاتٌ ، حُورٌ عِينٌ كَأَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَكْنُونٌ . (١)

د هر مسلمان د پاره به (په جنت کې) د بهترينو اخلاقو (ښائسته مخونو) واله حُورې وي ، د هرې حُورې د پاره به يوه خيمه وي ، او د هرې خيمې د پاره به څلور دَروازې وي ، ددې هرې دَروازې نه به ده ته داسې (نوې نوې) تُحفې ، هَديې ، او د عزت واله څيزونه راځي چې دا به مخکې نه وي راغلي ، دا حُورې به نه ګنده وي ، نه به بَدبويه وي ، نه به (د خاوند) اِستهزاء کوونکې وي ، او نه به د خاوند نافرماني کوونکې وي ، بلکه دا به د غټو (ښائسته) سترګو واله حُورې وي ، په ښائست کې به د شُترمرغ د هغه هګۍ په شان وي کومه چې په پَرده کې محفوظه وي. (يعنى د ملغلرې په شان به ښائسته وي).

## د جنت تختونه

د جنتيانو د پاره به په جنت کې داسې بهترين اُوچت تَختونه وي چې د سروزرو په تارونو به بَنړل شوي وي ، دوى به په هغې باندې يو بل ته مخامخ ناست وي ، تکيه به پرې وهلي وي ، او مزې به کوي.

١. الله تعالى فرمايي: ﴿ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴾. (٢)

ترجمه: په دې جنت کې به اُوچت اُوچت تَختونه وي.

←←← الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٦٧ فصل في خيام الجنة وغرفها وغير ذلك . الزواجر عن اقتراف الكبائر ج ٢ ص ٤٣٠ . تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٤٦٩ . تفسير القرطبي ج ١٧ ص ١٨٨ سورة الرحمن في تفسير آية ٧٢ .

(١) صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ صِفَةِ الْحُورِ الْعِينِ رقم الحديث ٣٠٦ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٥٦ فصل في خيام الجنة وغرفها وغير ذلك . تفسير ابن كثير ج ٧ ص ٤٦٨ سورة الرحمن في تفسير آية ٧٠ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٧ ص ٧٢٠ . التفسير المظهري ج ٩ ص ١٦٣ سورة الرحمن في تفسير آية ٧٠ .

(٢) الغاشية آية ١٣ .

Scanned with CamScanner

٢. بل ځای ذکر دي: ﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصۡفُوفَةٍ ﴾. (١)

ترجمه: دوی به تکیه لګولي وي په داسې تختونو باندې چې صَف صَف (برابر) به ایخودل شوي وي.

٣. بل ځای ذکر دي: ﴿ هُمۡ وَأَزۡوَٰجُهُمۡ فِي ظِلَٰلٍ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ مُتَّكِـُٔونَ ﴾. (٢)

ترجمه: دوی او د دوی بیبیانې به (د اُونو) په سیورو کې وي، په تَختونو باندې یې تکیه لګولي وي.

٤. دا تختونه به د سروزرو په تارونو باندې بَنړل شوي وي. الله تعالی فرمایي:

﴿ عَلَىٰ سُرُرٖ مَّوۡضُونَةٖ ۝ مُّتَّكِـِٔينَ عَلَيۡهَا مُتَقَٰبِلِينَ ﴾. (٣)

ترجمه: دوی به په داسې تَختونو باندې وي چې د سروزرو تارونو نه به بَنړل شوي وي، دوی به په هغې باندې تَکیه وهلي وي، او يو بل ته به مخامخ ناست وي.

٥. په سورة المطففين کې ذکر دي:

﴿ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ۝ عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴾. (٤)

ترجمه: بیشکه نېکان خلق به په نِعمت کې وي، په تَختونو باندې به (ناست وي، کوم نِعمتونه چې الله تعالی ورکړي هغې ته به) ګوري (یعنی سېل به کوي). (٥)

---

(١) الطور آية ٢٠.

(٢) يس آية ٥٦. / په سورة الكهف کې ذکر دي: ﴿مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلۡأَرَآئِكِ﴾. الكهف آية ٣١.
ترجمه: دوی به پدې جنت کې په تختونو باندې تکیه لګولي وي.

(٣) الواقعة آية ١٥، ١٦.

(٤) المطففين آية ٢٢، ٢٣.

(٥) { عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ } إِلَىٰ مَا أَعْطَاهُمُ اللهُ مِنَ الْكَرَامَةِ وَالنِّعْمَةِ. وَقَالَ مُقَاتِلٌ: يَنظُرُونَ إِلَىٰ عَدُوِّهِمْ كَيْفَ يُعَذَّبُونَ. تفسير البغوي ج ٥ ص ٢٢٦ سورة المطففين آية ٢٣.
{يَنظُرُونَ} مَا أُعْطُوا مِنَ النَّعِيمِ. تفسير الجلالين.

Scanned with CamScanner

# د جنتيانو په زړونو کې به د يو بل سره بُغض او حسَد نه وي

د جنتيانو په زړونو کې به د يو بل سره هيڅ بُغض او حسَد نه وي ، بلکه د وروڼو په شان به يو بل ته مخامخ په تختونو باندې ناست وي .

۱. الله تعالی فرمايي :

﴿ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او مونږ به ورنه اُوباسو هغه کِينه ( او بُغض ) کوم چې د دوی په سِينو کې وي ، د وروڼو په شان به په تختونو باندې يو بل ته مخامخ ناست وي .

۲. د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ ، لَا تَبَاغُضَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَحَاسُدَ . (۲)

د ټولو جنتيانو زړونه به ( په محبت او اتفاق کې ) د يو سړي د زړه په شان وي ، نه خو به د دوی په خپل مينځ کې څه بُغض وي ، او نه به حسَد وي .

۳. د بخاري شريف په يو روايت کې داسې الفاظ دي :

قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ ، لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ . (۳)

د ټولو جنتيانو زړونه به د يو سړي د زړه په شان وي ( يعنی په خپل مينځ کې به يې تعلق او محبت وي ) ، نه به د دوی په مينځ کې څه اختلاف وي ، او نه به بُغض وي .

---

(۱) الحجر آية ۴۷ . / په سورة الصّافات کې ذکر دي : ﴿ عَلَىٰ سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴾ . الصّافات آية ۴۴ .
ترجمه : دوی به په تختونو باندې يو بل ته مخامخ ناست وي .

(۲) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ « أَوَّلُ زُمْرَةٍ تَدْخُلُ الجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ ، وَالَّذِينَ عَلَى آثَارِهِمْ كَأَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً ، قُلُوبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ ، لَا تَبَاغُضَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَحَاسُدَ ، لِكُلِّ امْرِئٍ زَوْجَتَانِ مِنَ الحُورِ العِينِ ، يُرَى مُخُّ سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ العَظْمِ وَاللَّحْمِ » . صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۵۴ .

(۳) . صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ۳۲۴۶ .

Scanned with CamScanner

# د جنت بسترې، تکته ګانې، او قالینونه

په جنت کې به د جنتیانو د پاره قیمتي بِسترې، تَکیه ګانې، او قالینونه وي، دوی به د قالینونو د پاسه په بِسترو باندې ناست وي، او تکیه به یې وهلې وي.

**۱.** الله ربّ العزت فرمایي: ﴿ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴾. (۱)

ترجمه: او جنتیان به په اُوچتو بِسترو (فرشونو) باندې وي.

**۲.** بل ځای فرمایي:

﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾. (۲)

ترجمه: دوی به په داسې بِسترو (فرشونو) باندې تَکیه لګولي وي چې د هغې دَنَنَه آستر به د وریښمو وي.

**فائده**: په دې آیت کې ذکر شو چې د جنت د بِسترو دَنَنَه طرف آستر به دومره قیمتي وي چې د وریښمو نه به جوړ شوې وي حالانکه هغه چاته په سترګو باندې نه ښکاري، نو چې کله هغه دومره قیمتي شو نو د بِسترو بهر طرف کېږه خو به ډېره زیاته قیمتي وي.

د بِسترو د بهر طرف آستر ذکر الله تعالی اونکړو دا ځکه چې هغه به دومره قیمتي وي چې د هغې عِلم به صرف الله ﷻ ته وي. (۳)

---

(۱) الواقعة آیة ۳۴.

(۲) الرحمن آیة ۵۴.

(۳) ﴿ مُتَّكِئِينَ عَلَى فُرُشٍ ﴾، جَمْعُ فِرَاشٍ، ﴿ بَطَائِنُهَا ﴾ جَمْعُ بِطَانَةٍ وَهِيَ الَّتِي تَحْتَ الظِّهَارَةِ . وَقَالَ الزَّجَّاجُ: وَهِيَ مِمَّا يَلِي الْأَرْضَ. ﴿ مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ وَهُوَ مَا غَلُظَ مِنَ الدِّيبَاجِ . قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه وَأَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: هَذِهِ الْبَطَائِنُ فَمَا ظَنُّكُمْ بِالظَّوَاهِرِ؟ وَقِيلَ لِسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ رَحِمَهُ اللَّهُ: الْبَطَائِنُ مِنْ إِسْتَبْرَقٍ فَمَا الظَّوَاهِرُ؟ قَالَ: هَذَا مِمَّا قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ [السجدة: ۱۷] . وَعَنْهُ أَيْضًا قَالَ: بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ فَظَوَاهِرُهَا مِنْ نُورٍ جَامِدٍ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: وَصَفَ الْبَطَائِنَ وَتَرَكَ الظَّوَاهِرَ لِأَنَّهُ لَيْسَ فِي الْأَرْضِ أَحَدٌ يَعْرِفُ مَا الظَّوَاهِرُ. تفسير البغوي ج ۴ ص ۳۳۱ .سورة الرحمن آية ۵۴. ←←←←←←

Scanned with CamScanner

۳. د جنت د بالختونو او قالينونو په باره کې الله تعالی فرمايي:

﴿ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ رَفۡرَفٍ خُضۡرٍ وَعَبۡقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴾. (١)

ترجمه: دې جنتيانو به په شنو بالختونو او ښائسته قالينونو باندې تکيه وهلي وي.

٤. بل ځای فرمايي:

﴿ وَنَمَارِقُ مَصۡفُوفَةٌ ۝ وَزَرَابِيُّ مَبۡثُوثَةٌ ﴾. (٢)

ترجمه: او (په دې جنت کې به) په قطار کې ايخودل شوي بالختونه وي، او (هر طرف ته به) غوړول شوي قالينونه (او درۍ) وي.

٥. جنتيانو چې کله تکيه وهلي وي نو ځان ته به هر قسم ميوې او شربتونه راغواړي، دا به ښه په مزو سره خوري او څکي.

الله تعالی فرمايي:

﴿ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴾. (٣)

ترجمه: جنتيانو به په جنت کې تکيه لګولې وي، په دې کې به ډيرې ميوې او شربتونه راغواړي.

---

←←← اَلْمَسْأَلَةُ السَّادِسَةُ: قَالَ أَهْلُ التَّفْسِيرِ قَوْلُهُ: ﴿بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ﴾ يَدُلُّ عَلَى نِهَايَةِ شَرَفِهَا فَإِنَّ مَا تَكُونُ بَطَائِنُهَا مِنَ الإِسْتَبْرَقِ تَكُونُ ظَهَائِرُهَا خَيْرًا مِنْهَا. وَكَأَنَّهُ شَيْءٌ لَا يُدْرِكُهُ الْبَصَرُ مِنْ سُنْدُسٍ وَهُوَ الدِّيبَاجُ الرَّقِيقُ النَّاعِمُ. وَفِيهِ وَجْهٌ آخَرُ مَعْنَوِيٌّ وَهُوَ أَنَّ أَهْلَ الدُّنْيَا يُظْهِرُونَ الزِّينَةَ وَلَا يَتَمَكَّنُونَ مِنْ أَنْ يَجْعَلُوا الْبَطَائِنَ كَالظَّهَائِرِ. لِأَنَّ غَرَضَهُمْ إِظْهَارُ الزِّينَةِ وَالْبَطَائِنُ لَا تَظْهَرُ. وَإِذَا انْتَفَى السَّبَبُ إِنْتَفَى الْمُسَبَّبُ. فَلَمَّا لَمْ يَحْصُلْ فِي جَعْلِ الْبَطَائِنِ مِنَ الدِّيبَاجِ مَقْصُودُهُمْ وَهُوَ الإِظْهَارُ تَرَكُوهُ. وَفِي الآخِرَةِ الأَمْرُ مَبْنِيٌّ عَلَى الإِكْرَامِ وَالتَّنْعِيمِ فَتَكُونُ الْبَطَائِنُ كَالظَّهَائِرِ فَذَكَرَ الْبَطَائِنَ. التفسير الكبير ج ٢٩ ص ٣٧٣ سورة الرحمن ٥٤.

(١) الرحمن آية ٧٦.

(٢) الغاشية آية ١٥، ١٦.

(٣) ص آية ٥١.

# د جنتیانو سورلي

د جنتیانو د پاره به بهترینې سورلۍ وي ، دوی به په دې باندې سورېږي او په جنت کې به پرې چکرې وهي .

۱ . حضرت عبدالرحمن بن ساعدة ﷺ فرمايي چې : زما به آسونه خوښ وو نو ما نبي علیه السلام ته عرض اوکړو :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هَلْ فِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ ؟

اې د الله رسوله ! آیا په جنت کې آسونه شته ؟

نبي علیه السلام راته اوفرمایل :

إِنْ أَدْخَلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ كَانَ لَكَ فِيْهَا فَرَسٌ مِنْ يَاقُوْتٍ، لَهُ جَنَاحَانِ يَطِيْرُ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ .

اې عبدالرحمن ! که چیرته الله تعالی تا جنت ته داخل کړي نو ستا د پاره به په دې جنت کې د یاقوتو آس وي ، د هغه به دوه وزرې وي ، ستا چې چیرته خوښه وي هلته به تا الوزوي .(۱)

۲ . حضرت بُرَيدة ﷺ فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته یو کس راغی او دا پوښتنه یې اوکړه :

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنِّيْ أُحِبُّ الْخَيْلَ . فَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ ؟

اې د الله رسوله ! زما آسونه ډیر خوښ دي ، نو آیا په جنت کې به آسونه وي ؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل :

---

(۱) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَاعِدَةَ ﷺ قَالَ : كُنْتُ أُحِبُّ الْخَيْلَ فَقُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! هَلْ فِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ ؟ فَقَالَ : إِنْ أَدْخَلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ يَا عَبْدَ الرَّحْمَنِ كَانَ لَكَ فِيْهَا فَرَسٌ مِنْ يَاقُوْتٍ، لَهُ جَنَاحَانِ يَطِيْرُ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ . مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابٌ فِي خَيْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۸۷۲۵ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ. صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۷۵۵(۱) كتاب صفة الجنة فصل في تزاورهم ومراكبهم . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۳۹۶ .

إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ فَلَا تَشَاءُ أَنْ تَرْكَبَ فَرَسًا مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ تَطِيرُ بِكَ فِي أَيِّ الْجَنَّةِ شِئْتَ إِلَّا رَكِبْتَ .

كه چيرته الله تعالى تا لره جنت ته داخل كړي نو آيا ستا دا خوښه نده چې ته د سرو ياقوتو په آس باندې سور شى او په جنت كې چې ستا چيرته خوښه وي هلته به تا آلوزوي ؟

بيا نبي عليه السلام ته يو بل كس راغى او دا پوښتنه يې ورنه اوكړه :

يَا رَسُولَ اللهِ ! أَفِي الْجَنَّةِ إِبِلٌ ؟

اې د الله رسوله ! آيا په جنت كې اُوښان شته ؟

نو پيغمبر عليه السلام ده ته (هغه جواب ورنكړو كوم يې چې مخكيني كس ته وركړې وُ بلكه ده ته يې) او فرمايل :

يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ كَانَ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ .

اې د الله بنده ! كه چيرته الله تعالىٰ تا جنت ته داخل كړي نو ستا د پاره به په دې جنت كې هر هغه څه وي چې ستا زړه يې غواړي ، او ستا سترګې يې خوښوي .(١)

٣. جنتيان به په قيمتي اَسونو باندې د يو بل ملاقات له ځي ، دا اَسونه به داسې وي

---

(١) پوره حديث داسې دى : عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ .فَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ ؟ قَالَ: « إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ فَلَا تَشَاءُ أَنْ تَرْكَبَ فَرَسًا مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ تَطِيرُ بِكَ فِي أَيِّ الْجَنَّةِ شِئْتَ إِلَّا رَكِبْتَ » . وَأَتَاهُ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَفِي الْجَنَّةِ إِبِلٌ ؟ قَالَ: « يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ يُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ كَانَ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ، وَلَذَّتْ عَيْنُكَ » . مسند احمد مخرجا حَدِيثُ بُرَيْدَةَ الْأَسْلَمِيِّ رقم الحديث ٢٢٩٨٢ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٣٣٩٩١ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ خَيْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٤٣ ، مسند البزار رقم الحديث ٤٣٧٧ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٥٠٢٣ ، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٤٢(٣١) . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٩٤ . شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤٣٨٥ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب صفة الجنة فصل في تزاورهم ومراكبهم رقم الحديث ٣٧٥٦(٢) . كنزالعمال رقم الحدي ث ٣٩٣٢٨ ، و رقم الحديث ٣٩٧٧٦ . التفسير المظهري ج٨ ص ٣٦٢ . الدرالمنثور ج ٧ ص ٣٩٢ . تفسير القرطبي ج ١٦ ص ١١٤ . تفسير البغوي ج ٤ ص ١٦٩ سورة الزخرف آية ٧١ .

Scanned with CamScanner

چې تَشې مِتيازې او خراشنه به نه کوي.

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ مِنْ نَعِيمِ أَهْلِ الْجَنَّةِ أَنَّهُمْ يَتَزَاوَرُونَ عَلَى الْمَطَايَا وَالنُّجُبِ وَأَنَّهُمْ يُؤْتَوْنَ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ بِخَيْلٍ مُسَرَّجَةٍ مُلْجَمَةٍ لَا تَرُوثُ وَلَا تَبُولُ فَيَرْكَبُونَهَا حَيْثُ شَاءَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ... (١)

بيشکه جنتيانو ته چې کوم نعمتونه ورکولې شي په هغې کې به يو نعمت دا هم وي چې دوی به په قيمتي سوَرلو باندې سواره وي او د يو بل ملاقات به کوي، او دوی ته به د جُمعې په ورځ داسې آسونه راوستې شي چې هغه به تيار زِين کړې شوي وي او په خُله کې به يې واګې وي، دا آسونه به خراشنه او تَشې متيازې نه کوي، دوی به په دې باندې سواره شي او چيرته چې الله ﷻ اوغواړي هلته به يې بوځي.

٤. جنتيانو ته چې د سوَرلۍ د پاره کوم آسونو ورکولې شي د هغې به وَزرې هم وي، او ډير به تيز رفتاره وي. (٢)

همدارنګې جنتيانو ته به داسې قيمتي سپين اُوښان د سوَرلۍ د پاره ورکولې شي چې ددې اُوښانو واګې به د دُنيا او مَافِيهَا نه ډيرې بهترې وي. (٣)

---

(١) صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِمْ رقم الحديث ٢٣٥، الترغيب والترهيب للمنذري فصل في تزاورهم ومراكبهم رقم ٥٧٣٢، الزواجر عن اقتراف الكبائر خَاتِمَةٌ فِي ذِكْرِ أُمُورٍ أَرْبَعَةٍ الْأَمْرُ الرَّابِعُ فِي الْجَنَّةِ وَنَعِيمِهَا وَمَا يَتَعَلَّقُ بِذَلِكَ ج٢ ص٤٣٦، تفسير المظهري ج ٢ ص ٢٠ الزهد والرقائق لابن المبارك ج ٢ ص ٦٩.

(٢) عَنْ عَلِيٍّ رضي الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَخْرُجُ مِنْ أَعْلَاهَا حُلَلٌ، وَمِنْ أَسْفَلِهَا خَيْلٌ مِنْ ذَهَبٍ مُسْرَجَةٍ مُلْجَمَةٍ مِنْ يَاقُوتٍ وَدُرٍّ، لَا تَرُوثُ وَلَا تَبُولُ، لَهَا أَجْنِحَةٌ خَطْوُهَا مَدُّ بَصَرِهَا فَيَرْكَبُهَا أَهْلُ الْجَنَّةِ فَتَطِيرُ بِهِمْ حَيْثُ شَاءُوا.... صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِمْ رقم الحديث ٢٣٨.، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٩١١ التَّرْغِيبُ فِي قِيَامِ اللَّيْلِ، و رقم الحديث ٥٧٣٥ فصل في تزاورهم ومراكبهم.

(٣) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَزَاوَرُونَ عَلَى الْعِيسِ الْجُونِ عَلَيْهَا رِحَالُ الْمَيْسِ، تُثِيرُ مَنَاسِمُهَا غُبَارَ الْمِسْكِ، خِطَامُ أَوْ زِمَامُ أَحَدِهِمَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِمْ رقم الحديث ٢٣٨. الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٧٣٤ فصل في تزاورهم ومراكبهم. شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٤٣٩٠. ←←←←

# د جنتیانو عُمر، قدو قامت، او ژبه

جنتیان چې جنت ته داخلیږي نو عُمر به یې دري دیرش (۳۳) کاله وي، په بدن باندې به یې ویښتان نه وي، بې ګیرې تکړه ځوانان به وي، سترګې به یې بغیر د رَنجو نه قدرتي تورې وي، ټول به د حضرت آدم علیه السلام په قد و قامت وي، اُوږدوالی به یې شپیته (۶۰) ګزه وي او پَلن والی به یې اُووه (۷) ګزه وي. او ژبه به یې عربي وي.

دا خبرې صراحةً په احادیثو کې ذکر دي:

**۱.** د ترمذي شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً.** (۱)

جنتیان به جنت ته په داسې حالت کې داخلیږي چې په بدن باندې به یې ویښتان نه وي، بې ګیرې ښائسته ځوانان به وي، بغیر د رَنجو به یې سترګې تورې وي، د دیرشو (۳۰) یا دري دیرشو (۳۳) کالو په عُمر به وي. (۲)

---

←←← العيس إبل بيض في بياضها ظلمة خفية. والمناسم بالنون والسين المهملة جمع منسم وهو باطن خف البعير. الترغيب والترهيب للمنذري.

وفي رواية: عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَزَاوَرُونَ عَلَى نَجَائِبَ بِيضٍ كَأَنَّهُمُ الْيَاقُوتُ وَلَيْسَ فِي الْجَنَّةِ شَيْءٌ مِنَ الْبَهَائِمِ إِلَّا الْإِبِلُ وَالطَّيْرُ. صفة الجنة لابن ابي الدنيا بَابُ تَزَاوُرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمُتَنَزَّهَاتِهِم رقم الحديث ۲۴۳. ورقم الحديث ۹۷، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۷۲۴ باب في نوق الجنة.

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي سِنِّ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲۵۴۵ قال الالباني: حسنٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۱۰۶. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۱۸. صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۱۹. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق بَاب صفة الجنة وَأَهْلِهَا اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ۵۶۳۹(۲۸)، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۶۲۸. مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۶۵۵ باب كيف يدخل اهل الجنة الجنة

(۲) (جُرْدٌ) جَمْعُ أَجْرَدَ، وَهُوَ الَّذِي لَا شَعَرَ عَلَى جَسَدِهِ وَضِدُّهُ الْأَشْعَرُ (مُرْدٌ): جَمْعُ أَمْرَدَ وَهُوَ غُلَامٌ لَا شَعَرَ عَلَى ذَقَنِهِ، وَقَدْ يُرَادُ بِهِ الْحُسْنُ بِنَاءً عَلَى الْغَالِبِ (كُحْلٌ) وَهُوَ عَيْنٌ فِي أَجْفَانِهَا سَوَادٌ خِلْقَةً. كَذَا قَالَهُ شَارِحٌ. مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۳۵۹۰ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا.

۲ . په يو حديث کې ددې سره نوره اِضافه هم شته ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا ، مُرْدًا ، بِيضًا ، جِعَادًا ، مُكَحَّلِينَ ، أَبْنَاءَ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ ، عَلَى خَلْقِ آدَمَ ، سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي عَرْضِ سَبْعِ أَذْرُعٍ . (۱)

جنتيان به جنت ته په داسې حالت کې داخليږي چې په بدن باندې به يې ويښتان نه وي ، بې ګيرې ښائسته ځوانان به وي ، رَنګونه به يې سپين مزيدار وي ، ويښتان به يې ګرګوتي وي ، سترګې به يې بغير د رَنجو نه قدرتي تورې وي ، د درې ديرشو (۳۳) کالو په عُمر به وي ، قد و قامت به يې د حضرت آدم عليه السلام په صورت وي ، اُوږدوالې به يې شپيته (۶۰) ګزه وي ، او پَلن والي به يې اُووه (۷) ګزه وي .

**تطبيق** : په اوّلني حديث کې ذکر شو چې د جنتيانو عُمر به ديرش (۳۰) يا درې ديرش (۳۳) کاله وي ، هلته شک د راوي وُ چې نبي عليه السلام ديرش (۳۰) کاله ذکر کړي او که درې ديرش (۳۳) کاله.

او په دې دويم حديث کې ذکر شو چې د جنتيانو عُمر به درې ديرش (۳۳) کاله وي.

ددينه معلوميږي چې د جنتيانو عُمر به درې ديرش (۳۳) کاله وي ؛ ځکه په دې عُمر کې مکمل ځواني او قوّت وي ، او په کوم حديث کې چې ديرش کاله ذکر شوي نو دا د عربو عادت دی چې د عدد سره کوم کسَر (کمه هِندسه) راشي نو هغه کله ذکر کوي او کله يې حذف کوي.

۳ . د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(۱) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۷۹۳۳ ، و رقم الحديث ۹۳۷۵ ، و رقم الحديث ۸۵۲۴ . المعجم الاوسط رقم الحديث ۵۴۲۲ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ۱۳ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۴۰۰۶ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۶۲۹ باب صفة دخول اهل الجنة الجنة وغيرذلک . مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ كَيْفَ يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ رقم الحديث ۱۸۶۵۸ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الصَّغِيرِ وَالْأَوْسَطِ، وَإِسْنَادُهُ حَسَنٌ . كنز العمال رقم الحديث ۳۹۳۸۳ ، و رقم الحديث ۳۹۳۸۱ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۴۲۰ .

Scanned with CamScanner

فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ . (۱)

پس هر څوک چې جنت ته داخلیږي نو هغه به د حضرت آدم علیه السلام په شکل و صورت باندې وي. (او د حضرت آدم علیه السلام اوږدوالي شپېته ګزه وو).

۴ . په احادیثو کې دا هم راځي چې جنتیان کله جنت ته داخلیږي نو الله تعالی به ورته د حضرت یوسف علیه السلام په شان حُسن ورکړي. (۲)

---

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : خَلَقَ اللهُ آدَمَ عَلَى صُورَتِهِ ، طُولُهُ سِتُّونَ ذِرَاعًا ، فَلَمَّا خَلَقَهُ قَالَ : اِذْهَبْ فَسَلِّمْ عَلَى أُولَئِكَ النَّفَرِ مِنَ الْمَلاَئِكَةِ ، جُلُوسٌ ، فَاسْتَمِعْ مَا يُحَيُّونَكَ ، فَإِنَّهَا تَحِيَّتُكَ وَتَحِيَّةُ ذُرِّيَّتِكَ ، فَقَالَ : اَلسَّلاَمُ عَلَيْكُمْ ، فَقَالُوا : اَلسَّلاَمُ عَلَيْكَ وَرَحْمَةُ اللهِ ، فَزَادُوهُ : وَرَحْمَةُ اللهِ ، فَكُلُّ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ آدَمَ ، فَلَمْ يَزَلِ الْخَلْقُ يَنْقُصُ بَعْدُ حَتَّى الْآنَ . صحيح البخاري كِتَابُ الإِسْتِئْذَانِ بَابُ بَدْءِ السَّلاَمِ رقم الحديث ۶۲۲۷ ، و رقم الحديث ۳۳۲۶ كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ خَلْقِ آدَمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيْهِ وَذُرِّيَّتِهِ . صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ رقم الحديث ۲۸(۲۸۴۱) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۱۷۱ .

(۲) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .... يُحْشَرُ مَا بَيْنَ السِّقْطِ إِلَى الشَّيْخِ الْفَانِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي خَلْقِ آدَمَ ، وَقَلْبِ أَيُّوبَ ، وَحُسْنِ يُوسُفَ مُرْدًا مُكَحَّلِينَ . المعجم الكبير للطبراني ج ۲۰ ص ۲۸۰ رقم الحديث ۶۶۴ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۴۲۱ . مجمع الزوائد كِتَابُ الْبَعْثِ بَابُ كَيْفَ يُحْشَرُ النَّاسُ رقم الحديث وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ بِإِسْنَادَيْنِ ، وَأَحَدُهُمَا حَسَنٌ . و رقم الحديث ۱۸۳۴۶ . كنزالعمال رقم الحديث ۳۹۳۸۴ .

وفي رواية : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ سِقْطًا وَلَا هَرِمًا _ وَإِنَّمَا النَّاسُ فِيمَا بَيْنَ ذَلِكَ _ إِلَّا بُعِثَ ابْنَ ثَلَاثِينَ سَنَةً ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ كَانَ عَلَى مَسْحَةِ آدَمَ ، وَصُورَةِ يُوسُفَ ، وَقَلْبِ أَيُّوبَ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ عُظِّمُوا وَفُخِّمُوا كَالْجِبَالِ . المعجم الكبير للطبراني ج ۲۰ ص ۲۸۰ رقم الحديث ۶۶۳ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۴۲۲ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۷۰۱(۹) وقال المنذري : رواه المنذري بإسناد حسن . الزواجر ج ۲ ص ۴۲۷ .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ عَلَى طُولِ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ سِتُّونَ ذِرَاعًا بِذِرَاعِ الْمَلِكِ عَلَى حُسْنِ يُوسُفَ عَلَى مِيلَادِ عِيسَى ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ سَنَةً ، وَعَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُرْدٌ مُرْدٌ مُكَحَّلُونَ . صفة الجنة لابن ابی الدنيا ۲۱۰ بَابُ لِسَانِ أَهْلِ الْجَنَّةِ . تفسير ابن كثير ج ۸ ص ۲۴ .

Scanned with CamScanner

٥. د جنتيانو ښځې به هم د دوی همزولې وي.(١)

دا ځکه چې کله بي بي د سړي سره په عُمر او قد کې همزولې وي نو دا ده ته ډير خوند ورکوي.

٦. په جنت کې به د جنتيانو ژبه عربي وي. په کتابونو کې ذکر دي:

لِسَانُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ. (٢) د جنتيانو ژبه به عربي وي.

په فتاوی هِنديه او شامي کې دا خبره ذکر ده چې عربي ته په نورو ټولو ژبو باندې فضيلت حاصل دی، ځکه دا د جنتيانو ژبه ده، پس څوک چې دا پخپله زده کړي او يا يې بل ته اوښائي نو ده ته به په دې باندې اَجر ورکولې شي. (٣)

---

(١) په قرآن کريم کې ددې بيان شته، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ أَتْرَابٌ ﴾. ص آية ٥٢.
ترجمه: او ددې جنتيانو سره به داسې ښځې وي چې د حياء د وجې به خپلې سترګې ښکته ساتي، (او) د دوی همزولې به وي.

بل ځای فرمايي: ﴿ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴾. النبا آية ٣٣.
ترجمه: او (د متقيانو د پاره به) پيغلې همزولې جينکۍ وي.

بل ځای فرمايي: ﴿ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ۝ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴾. الواقعة آية ٣٦، ٣٧.
ترجمه: پس مونږ دا د جنت ښځې پيغلې، محبوبې او همزولې جوړې کړي. (يعنی هميشه به پيغلې وي، په خپلو خاوندانو باندې به عاشقانې وي، او د دوی همزولې به وي).

(٢) عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، قَالَ: «لِسَانُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ».
عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: «لِسَانُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ». عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: لِسَانُ أَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ.
عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ: سَأَلْتُ الزُّهْرِيَّ عَنْ لِسَانِ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَقَالَ: «بَلَغَنِي أَنَّهُ عَرَبِيٌّ».
صفة الجنة لابن ابي الدنيا ص ١٥٧ بَابُ لِسَانِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. الزهد والرقائق لابن المبارک ج ٢ ص ٧١. مجمع الانهر ج ١ ص ٩٣. البناية ج ٢ ص ١٧٦.

(٣) لِلْعَرَبِيَّةِ فَضْلٌ عَلَى سَائِرِ الْأَلْسُنِ وَهُوَ لِسَانُ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمَنْ تَعَلَّمَهَا أَوْ عَلَّمَ غَيْرَهُ فَهُوَ مَأْجُورٌ كَذَا فِي السِّرَاجِيَّةِ. الفتاوی الهندية ج ٥ ص ٣٧٨ اَلْبَابُ الثَّلَاثُونَ فِي الْمُتَفَرِّقَاتِ. رد المحتار على الدر المختار كِتَابُ الْحَظْرِ وَالْإِبَاحَةِ ج ٦ ص ٤١٩.

# د جنت آبادي او خاوره

د جنت آبادي چې د کومو خَښتو نه جوړه شوی د هغې يوه خَښته به د سروزرو وي او بله خَښته به يې د سپينوزرو وي ، خاوره به يې د مشکو او زَعفرانو وي .

١. په بخاري شريف او مسلم شريف کې اُوږد حديث ذکر دی په کوم کې چې د معراج واقعه ذکر ده ، د هغې حديث په آخر کې ذکر دي ، نبي عليه السلام فرمايي :

.... ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ ، وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ .

بيا زه جنت ته داخل کړې شوم نو په هغې کې د ملغلرو قبې ( ګنبدونه ) وو ، او خاوره يې د مشکو وه .(١)

٢. په يو بل حديث کې ددې پوره تفصيل بيان شوی : حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې مونږ نبي عليه السلام ته عرض اوکړو :

يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنَا عَنِ الْجَنَّةِ ، مَا بِنَاؤُهَا ؟

اې د الله رسوله ! مونږ ته د جنت په باره کې خبر راکړه ، چې آيا ددې آبادي د څه شي نه جوړه ده ؟

نو پيغمبر عليه السلام اوفرمايل :

لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ ، وَلَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ ، مِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ ، حَصْبَاؤُهَا الْيَاقُوتُ وَاللُّؤْلُؤُ ، وَتُرْبَتُهَا الْوَرْسُ وَالزَّعْفَرَانُ ، مَنْ يَدْخُلُهَا يَخْلُدُ لَا يَمُوتُ ، وَيَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ ، لَا يَبْلَى شَبَابُهُمْ ، وَلَا تُخَرَّقُ ثِيَابُهُمْ .

يوه خَښته يې د سروزرو ده او بله يې د سپينوزرو ده ، ددې خَټه ( کومه چې د خَښتو په مينځ کې لږي دا ) به د تېزو خوشبودارو مشکو وي ، ددې واړه واړه کاڼي ( کوم چې په

(١) صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ ذِكْرِ إِدْرِيسَ عَلَيْهِ السَّلَامُ رقم الحديث ٣٣٤٢ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ الإِسْرَاءِ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى السَّمَاوَاتِ ، وَفَرْضِ الصَّلَوَاتِ رقم الحديث ٢٦٣ (١٦٣) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢١٢٨٨ . مشكاة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل بَابٌ فِي الْمِعْرَاجِ الفصل الأول رقم الحديث ٥٨٦۴(٣) .

نهرونو کې پراته وي دا ) به د ياقوتو او ملغلرو وي ، ددې خاوره به د زعفرانو وي ، څوک چې دیته داخل شي نو همیشه به په کې وي وفات کیږي به نه ، همیشه به په نعمتونو کې وي په بَدحالی (او سختی ) کې به نه مبتلاء کیږي ، نه به یې ځواني ختمیږي ، او نه به یې کپړې شلیږي . (١)

( ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ په مرقاة کې ددې حدیث بهترینه تشریح هم کړی ) . (٢)

**تطبیق** : په اوّلني حدیث کې ذکر شو " چې د جنت خاوره به د مشکو وي " او په دې دویم حدیث کې ذکر شو " چې د جنت خاوره به د زعفرانو وي " . نو په دې دواړو خبرو کې هیڅ تضاد نشته ځکه د جنت د خاورې خوشبوئي به د مشکو په شان ښائسته وي او رنګ به یې د زعفرانو په شان وي .

چا تطبیق داسې کړی چې د جنت خاوره به د مشک او زعفران دواړو نه مرکب وي .

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . قَالَ : قُلْنَا : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَخْبِرْنَا عَنِ الْجَنَّةِ ، مَا بِنَاؤُهَا ؟ قَالَ : « لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ..... مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٩٧٤٤ مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . و رقم الحديث ٨٧٤٧ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٣٧١١(١) كتاب صفة الجنة فصل في بناء الجنة وترابها وحصبائها وغير ذلك . و رقم الحديث ٣٧١٣(٣) . مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٢٧٠٦ . سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٦٣ . صفة الجنة لابن ابي الدنيا رقم الحديث ١٠ صفة الجنة . مسند البزار رقم الحديث ٩٥٠١ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٣٨٧ . المعجم الاوسط رقم الحديث ٧١١١ ، شعب الايمان رقم الحديث ٦٦٩٩ ، مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال الْقِيَامَة وبدء الخلق بَاب صفة الجنة وَأَهْلهَا اَلْفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ٥٦٣٠(١٩) ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٦٣٠ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ بِإِسْنَادٍ حَسَّنَ التِّرْمِذِيُّ لِرِجَالِهِ.

(٢) ( لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ ) أَيْ بِنَاؤُهَا مُلَمَّعٌ وَمُرَصَّعٌ مِنْهُمَا ، أَوْ ذَكَرَ النَّوْعَيْنِ بِاعْتِبَارِ الْجَنَّتَيْنِ كَمَا تَقَدَّمَ . وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ . ( وَمِلَاطُهَا ) بِكَسْرِ الْمِيمِ ، أَيْ مَا بَيْنَ اللَّبِنَتَيْنِ مَوْضِعُ النُّورَةِ ( الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ ) أَيِ الشَّدِيدُ الرِّيحِ . فِي " النِّهَايَةِ " : الْمِلَاطُ الطِّينُ الَّذِي يُجْعَلُ بَيْنَ سَاقِ الْبِنَاءِ يُمَلَّطُ بِهِ الْحَائِطُ أَيْ: يُخْلَطُ ( وَحَصْبَاؤُهَا ) أَيْ: حَصْبَاؤُهَا الصِّغَارُ الَّتِي فِي الْأَنْهَارِ ( اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ ) أَيْ مِثْلُهُمَا فِي اللَّوْنِ وَالصَّفَاءِ . ( وَتُرْبَتُهَا ) أَيْ: مَكَانُ تُرَابِهَا ( الزَّعْفَرَانُ ) . أَيِ النَّاعِمُ الْأَصْفَرُ الطَّيِّبُ الرِّيحِ ، فَجَمَعَ بَيْنَ أَلْوَانِ الزِّينَةِ وَهِيَ الْبَيَاضُ وَالْحُمْرَةُ وَالصُّفْرَةُ ، وَيَتَكَمَّلُ بِالْأَشْجَارِ الْمُلَوَّنَةِ بِالْخُضْرَةِ ، وَلَمَّا كَانَ السَّوَادُ مِمَّا يَغُمُّ الْفُؤَادَ خُصَّ بِأَهْلِ الْعِنَادِ مِنَ الْعِبَادِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٩ ص ٣٥٨٧ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا .

Scanned with CamScanner

## مکمل د سروزرو نه جوړ شوي مَحلونه

په جنت کې ځنې مَحلونه داسې هم شته چې مکمل د سروزرو نه جوړ شوي وي لکه نبي عليه السلام چې په خُوب کې په جنت کې د سروزرو محل ليدلې وُ کوم چې د حضرت عُمر ﷺ د پاره جوړ شوې وُ. (۱)

۳. په جنت کې به د څارو څملاستلو ځای دومره قيمتي وي چې د مشکو نه به جوړ وي نو د جنتيانو د اُوسيدو ځای خو به ډير قيمتي وي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مَرَاغًا مِنْ مِسْكٍ مِثْلَ مَرَاغِ دَوَابِّكُمْ فِي الدُّنْيَا. (۲)

بيشکه په جنت کې د څارو څملاستلو ځای دی چې د مشکو نه جوړ شوی، لکه څرنګې چې په دُنيا کې ستاسو د څارو په خاورو کې د څملاستلو ځای وي.

## د جنت لږ ځای ډير قيمتي دی

د جنت لږ ځای ډير قيمتي دی.

د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

---

(۱) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِقَصْرٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا؟ فَقَالُوا: لِرَجُلٍ مِنْ قُرَيْشٍ، فَمَا مَنَعَنِي أَنْ أَدْخُلَهُ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ إِلَّا مَا أَعْلَمُ مِنْ غَيْرَتِكَ" قَالَ: وَعَلَيْكَ أَغَارُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ . صحيح البخاري كِتَابُ التَّعْبِيرِ بَابُ القَصْرِ فِي المَنَامِ رقم الحديث ۷۰۲۴ .

وفي رواية: عَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا أَنَا بِقَصْرٍ مِنْ ذَهَبٍ فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ؟" قَالُوا: لِشَابٍّ مِنْ قُرَيْشٍ، فَظَنَنْتُ أَنِّي أَنَا هُوَ، فَقُلْتُ: «وَمَنْ هُوَ؟» فَقَالُوا: عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ (ﷺ). سنن الترمذي أَبْوَابُ المَنَاقِبِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۳۶۸۸ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

(۲) مجمع الزوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابٌ فِي تُرْبَةِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۱۸۷۲۳ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَالْأَوْسَطِ، وَرِجَالُهُمَا ثِقَاتٌ. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۵۸۴۵ . المعجم الاوسط رقم الحديث ۱۷۶۱ ، و رقم الحديث ۴۵۶۶ ، و رقم الحديث ۶۹۱۳ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۶۵۳ فصل في بناء الجنة وترابها وحصائها وغير ذلک.

مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. (١)

په جنت کې د يوې کوړې په مقدار (ډير لږ) ځای د دُنيا او مَافِيهَا نه ډير بهتر دی.

دا ځکه چې د جنت نِعمتونه هميشه باقي دي او د دُنيا نعمتونه فناء کيدونکي دي. (٢)

## جنت د سدرة المنتهٰى سره دی

١. جنت د سِدرةُالمنتهٰى سره دی. الله تعالى فرمايي:

﴿ عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ﴾. (٣)

ترجمه: د سِدرة المُنتهٰى سره جنّة المأوٰى دی.

٢. په سورة الذاريات کې ذکر دي: ﴿ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴾. (٤)

ترجمه: او په آسمان کې ستاسو رزق دی او هغه څه دي چې د تاسو سره يې وعده کولې شي.

مُفسِّرينو د " وَمَا تُوعَدُونَ " ډير مطلبونه بيان کړي دي، يو په کې دا هم دی چې ددينه مراد جنت او هر خېر و شر دی. (٥)

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥٠ ، و رقم الحديث ٦٤١٥ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ مَثَلِ الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ. سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٣٣٠. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٦٦٦٤ ، و رقم الحديث ١٥٥٦٧. سنن الترمذي رقم الحديث ٣٠١٣ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٣١٧٠. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال الْقِيَامَة وبدء الْخلق بَاب صفة الجنة وَأَهْلهَا الفصل الاول رقم الحديث ٥٦١٣(٢).

(٢) (مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ) أُرِيدَ بِهِ قَدْرٌ قَلِيلٌ مِنْهَا أَوْ مِقْدَارُ مَوْضِعِهِ فِيهَا (خَيْرٌ) أَيْ كَمِّيَّةً وَكَيْفِيَّةً (مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا) لِأَنَّ الْجَنَّةَ مَعَ نَعِيمِهَا بَاقِيَةٌ وَالدُّنْيَا مَعَ مَا فِيهَا فَانِيَةٌ. مرقاة المفاتيح ج ٩ ص ٣٥٧٦ بَاب صفة الجنة وَأَهْلهَا.

(٣) النجم آية ١٥.

(٤) الذاريات آية ٢٢.

(٥) عَنْ مُجَاهِدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ {وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ} يَقُولُ: «اَلْجَنَّةُ فِي السَّمَاءِ. ←←←←

Scanned with CamScanner

**جنت اوس هم موجود دی** : ددي مذكوره آيتونو نه معلومه شوه چي جنت په آسمان کي د سِدرةُالمنتهٰی سره دی ، او اوس هم موجود دی، همدا خبره د احادیثو نه هم معلومیږي .

په بخاري شريف کي د نبي عليه السلام معراج ته د تللو أورِد حديث ذکر دی ، په هغې کي دا هم ذکر دي :

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

ثُمَّ انْطَلَقَ حَتَّى أَتَى بِيَ السِّدْرَةَ الْمُنْتَهَى ، فَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لاَ أَدْرِي مَا هِيَ ، ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ .

بيا حضرت جبريل عليه السلام زه سِدرةُالمنتهٰی ته راوَستم ، په دي باندي مختلف قِسمه رنگونو احاطه کړې وه ، ما ته معلومه نده چي هغه څه شی وُ ، بيا زه جنت ته داخل کړې شوم .(۱)

همدغه رنگي د بخاري شريف او مسلم شريف په ډيرو احاديثو کي چي د معراج کومه واقعه ذکر شوی په هغې کي د نبي عليه السلام جنت ته د داخليدو ذکر دی .

ددینه معلومه شوه چي جنت د مخکي نه پيدا شوی ، او اوس هم موجود دی .

---

←←←← وَمَا تُوعَدُونَ مِنْ خَيْرٍ أَوْ شَرٍّ»

وَقَالَ آخَرُونَ : بَلْ مَعْنَى ذَلِكَ : وَمَا تُوعَدُونَ مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ .

عَنِ الضَّحَّاكِ ، فِي قَوْلِهِ : {وَمَا تُوعَدُونَ} قَالَ : الْجَنَّةُ وَالنَّارُ .

عَنْ سُفْيَانَ . {وَمَا تُوعَدُونَ} مِنَ «الْجَنَّةِ» ، وَأَوْلَى الْقَوْلَيْنِ بِالصَّوَابِ فِي ذَلِكَ عِنْدِي الْقَوْلُ الَّذِي قَالَهُ مُجَاهِدٌ ، لِأَنَّ اللَّهَ عَمَّ الْخَبَرَ بِقَوْلِهِ : {وَمَا تُوعَدُونَ} عَنْ كُلِّ مَا وَعَدَنَا مِنْ خَيْرٍ أَوْ شَرٍّ ، وَلَمْ يُخَصِّصْ بِذَلِكَ بَعْضًا دُونَ بَعْضٍ ، فَهُوَ عَلَى عُمُومِهِ كَمَا عَمَّهُ اللَّهُ جَلَّ ثَنَاؤُهُ . تفسير الطبري (جامع البيان عن تأويل آي القرآن) ج ۲۱ ص ۵۲۲ .

﴿ وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ ﴾ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَمُجَاهِدٌ وَمُقَاتِلٌ : يَعْنِي الْمَطَرَ الَّذِي هُوَ سَبَبُ الْأَرْزَاقِ ، ﴿ وَمَا تُوعَدُونَ ﴾ قَالَ عَطَاءٌ : مِنَ الثَّوَابِ وَالْعِقَابِ . وَقَالَ مُجَاهِدٌ : مِنَ الْخَيْرِ وَالشَّرِّ . وَقَالَ الضَّحَّاكُ : وَمَا تُوعَدُونَ مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ . تفسير البغوي ج ۴ ص ۲۸۳ .

(۱) صحيح البخاري رقم الحديث ۳۳۴۲ .

Scanned with CamScanner

# د جنت دَروازې او ددې تعداد

جنتیان چې جنت ته داخلیږي نو دَروازې به ورته د مخکې نه کلاؤ وي، په دې دروازو به ورته ملائکې راځي، او په دوی به سلام اچوي.

۱. الله تعالی فرمایي:

﴿ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ۝ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَٰبُ ﴾. (۱)

ترجمه: او بیشکه د متقیانو د پاره ښه ځای د ورتللو دی چې هغه د همیشه اوسیدلو باغونه دي، د مخکې نه به دَروازې د دوی د پاره کلاؤ شوي وي.

۲. په سورة الزمر کې دي، الله ربّ العزت فرمایي:

﴿وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَٰلِدِينَ ﴾. (۲)

ترجمه: او کوم خلق چې د خپل رب نه ویریدل نو هغوی به جنت ته ډلې ډلې روان کړې شي، تر دې چې کله دوی دې جنت ته راشي نو (د دوی د اِعزاز د پاره) د مخکې نه به دوی ته د جنت دروازې کلاؤ کړې شوي وي، او د جنت نِگرانې فرښتې به دوی ته اُووایي: په تاسو دې سلام وي، تاسو د گناهونو نه پاک (او خوشحاله) شوئ، پس تاسو دې جنت ته د همیشه د پاره ورداخل شئ.

**فایده:** جنّتیانو ته به د دوی د تعظیم په وجه د جنت دروازې د مخکې نه کلاؤ کړې شوي وي. (۳)

---

(۱) ص آیة ۴۹، ۵۰.

(۲) الزمر آیة ۷۳.

په سورة مریم کې ذکر دي: ﴿ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴾. مریم آیة ۸۵.

(۳) قَوْلُهُ تَعَالَىٰ: ﴿ وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا ﴾ فَإِنْ قِيلَ قَالَ أَهْلَ النَّارِ فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا بِغَيْرِ الْوَاوِ، وَقَالَ هَاهُنَا بِالْوَاوِ فَمَا الْفَرْقُ؟ قُلْنَا: اَلْفَرْقُ أَنَّ أَبْوَابَ جَهَنَّمَ لَا تُفْتَحُ إِلَّا عِنْدَ دُخُولِ أَهْلِهَا فِيهَا. فَأَمَّا أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ←←←←

۳. په بخاري شريف کې د جنت د اته (۸) دروازو ذکر راغلی.(۱)

د مونځ کوونکو ، روژه دارو ، جهاد کوونکو ، او صدقه کوونکو د پاره به جداجدا دروازه وي چې په هغې باندې به جنت ته داخلیږي.

بعضي خلق به داسې هم وي چې هغوی ته به د جنت د اته وارو دروازو نه آواز کولې شي چې " راشه په دې لاره جنت ته داخل شه " .(۲)

---

←←← فَفَتْحُهَا يَكُونُ مُتَقَدِّمًا عَلَى وُصُولِهِمْ إِلَيْهَا بِدَلِيلِ قَوْلِهِ ﴿ جَنَّاتِ عَدْنٍ مُفَتَّحَةً لَهُمُ الْأَبْوَابُ [ص : ٥٠] فَلِذَلِكَ جِيءَ بِالْوَاوِ كَأَنَّهُ قِيلَ: حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَقَدْ فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا. اَلْقَيْدُ الثَّالِثُ: قَوْلِهِ ﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴾ فَبَيَّنَ تَعَالَى أَنَّ خَزَنَةَ الْجَنَّةِ يَذْكُرُونَ لِأَهْلِ الثَّوَابِ هَذِهِ الْكَلِمَاتِ الثَّلَاثَ فَأَوَّلُهَا: قَوْلُهُمْ ﴿ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ﴾ وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّهُمْ يُبَشِّرُونَهُمْ بِالسَّلَامَةِ مِنْ كُلِّ الْآفَاتِ. وَثَانِيهَا: قَوْلُهُمْ ﴿ طِبْتُمْ ﴾ وَالْمَعْنَى طِبْتُمْ مِنْ دَنَسِ الْمَعَاصِي وَطَهُرْتُمْ مِنْ خُبْثِ الْخَطَايَا. وَثَالِثُهَا: قَوْلُهُمْ ﴿ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ﴾ وَالْفَاءُ فِي قَوْلِهِ فَادْخُلُوهَا يَدُلُّ عَلَى كَوْنِ ذَلِكَ الدُّخُولُ مُعَلَّلًا بِالطِّيبِ وَالطَّهَارَةِ. التفسير الكبير ج ۲۷ ص ۴۸۰ .

﴿ وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ ﴾ يُرِيدُ أَنَّ خَزَنَةَ الْجَنَّةِ يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِمْ وَيَقُولُونَ طِبْتُمْ. قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : طَابَ لَكُمُ الْمَقَامُ. تفسير البغوي ج ۴ ص ۱۰۲ .

(۱) د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ، فِيهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ، لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُونَ.

د جنت اته (۸) دروازې دي په هغې کې د يوې دروازې نوم "رَيّان" دی ، په دې دروازه به صرف روژه دار (جنت ته) داخليږي.

صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۳۲۵۷ ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۷ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۵۱۲ ، شعب الايمان رقم ۳۳۱۱ . وفي رواة الدارمي: لِلْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ...

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ : مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ، نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ : يَا عَبْدَ اللهِ هٰذَا خَيْرٌ ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلٰوةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلٰوةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ . فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلَى مَنْ ←←←←

٤. همدارنګې د اودس نه پس کلمه شهادت ويونکي انسان ته به د قيامت په ورځ دا اِختيار ورکړې شي چې د جنت په اَتو (۸) دَروازو کې په کومه دَروازه داخليدل غواړي نو داخل دې شي. (۱)

۵. همدارنګې چې د چا درې (۳) نابالغ بچي وفات شي او دا وربانديې صبر اوکړي نو ده ته به هم دا اِختيار ورکړې شي چې د جنت په اَتو (۸) دروازو کې په کومه دروازه داخليږي داخل دې شي. (۲)

## د جنت درجې

د اعمالو په اعتبار سره به د جنت اُوچتې درجې وي، د الله ﷻ په نزد چې د چا مقام څومره

←←← دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا، قَالَ: «نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ». صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ رقم الحديث ۱۸۹۷، و رقم الحديث ۳٦٦٦ كتاب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا». صحيح مسلم كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ۵۸ (۱۰۲۷).

(۱) عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: كَانَتْ عَلَيْنَا رِعَايَةُ الْإِبِلِ فَجَاءَتْ نَوْبَتِي فَرَوَّحْتُهَا بِعَشِيٍّ فَأَدْرَكْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا يُحَدِّثُ النَّاسَ فَأَدْرَكْتُ مِنْ قَوْلِهِ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» قَالَ فَقُلْتُ: مَا أَجْوَدَ هَذِهِ فَإِذَا قَائِلٌ بَيْنَ يَدَيَّ يَقُولُ: الَّتِي قَبْلَهَا أَجْوَدُ. فَنَظَرْتُ فَإِذَا عُمَرُ رضي الله عنه قَالَ: إِنِّي قَدْ رَأَيْتُكَ جِئْتَ آنِفًا، قَالَ: "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ أَوْ فَيُسْبِغُ الْوَضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ". صحيح مسلم كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوءِ رقم الحديث ۱۷ (۲۳۴). سنن ابي داود كِتَابُ الطَّهَارَةِ بَابُ مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا تَوَضَّأَ رقم الحديث ۱٦۹.

(۲) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ لَهُ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، إِلَّا تَلَقَّوْهُ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ، مِنْ أَيِّهَا شَاءَ دَخَلَ». سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ مَنْ أُصِيبَ بِوَلَدِهِ رقم الحديث ۱٦۰۳. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۷٦۳۹. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۹۳، و رقم الحديث ۳۰۹، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۲۳٦، الترغيب والترهيب للمنذري ۳۰۳۹.

Scanned with CamScanner

اُوچت وي نو همدومره به يې درجه هم اُوچته وي.

**١. الله تعالى فرمايي:**

﴿وَمَنْ يَأْتِهِ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصَّٰلِحَٰتِ فَأُولَٰئِكَ لَهُمُ الدَّرَجَٰتُ الْعُلَىٰ﴾.(١)

ترجمه: او څوک چې الله تعالى ته په داسې حالت کې راشي چې مؤمن وي او نېک اعمال يې کړي وي نو د همداسې خلقو د پاره اُوچتې درجې مقرر دي.

**٢. بل ځای فرمايي:**

﴿انْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ وَلَلْآخِرَةُ أَكْبَرُ دَرَجَٰتٍ وَأَكْبَرُ تَفْضِيلًا﴾.(٢)

ترجمه: ته اوګوره چې مونږ څنګه بعضو ته په بعضو نورو باندې فضيلت ورکړی، او خامخا د آخرت ډيرې لوې درجې دي، او ډير لوي فضيلت يې دی.

**٣. د ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:**

فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ.(٣)

په جنت کې سل (١٠٠) درجې دي، د هرو دوه درجو په مينځ کې سل (١٠٠) کاله فاصله ده.

**٤. د جهاد په وجه هم الله تعالى په جنت کې د مجاهدينو سل (١٠٠) درجې اُوچتوي.(٤)**

---

(١) طه آية ٧٥.

(٢) الاسراء (بني اسرائيل) آية ٢١.

(٣) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ دَرَجَاتِ الجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣٠، و رقم ٢٥٣١ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٩٢٣. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق صفة الجنة وأهلها الفصل الأول رقم الحديث ٥٦١٧(٦).

(٤) پوره حديث داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَبِرَسُولِهِ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا»، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: «إِنَّ فِي الجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، ←←←

Scanned with CamScanner

# د اُوچتو درجوواله خلق

**١.** په دې کې هيڅ شک نشته چې په جنت کې به د ټولو انبياء کرامو او نورو ټولو مخلوقاتو نه اُوچته درجه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم وي.

د بخاري شريف د يو حديث نه معلوميږي چې په جنت کې به د انبياء کرامو او د دوی تصديق کوونکو مؤمنانو درجې ډيرې اُوچتې وي. (١)

**٢.** مجاهدينو، مؤمنانو، او اهلِ علمو ته به الله تعالى اُوچتې درجې ورکوي. (٢)

---

←←← أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوْهُ الْفِرْدَوْسَ، فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ ـ أُرَاهُ ـ فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ ». صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ٢٧٩٠.

وفي رواية: عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « يَا أَبَا سَعِيْدٍ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ »، فَعَجِبَ لَهَا أَبُوْ سَعِيْدٍ رضي الله عنه، فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُوْلَ اللهِ. فَفَعَلَ، ثُمَّ قَالَ: « وَأُخْرٰى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ »، قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: « اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ، اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ».. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ مَا أَعَدَّهُ اللهُ تَعَالٰى لِلْمُجَاهِدِ فِي الْجَنَّةِ مِنَ الدَّرَجَاتِ رقم الحديث ١١٦ (١٨٨٤)، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ٣٨٥١ (٦٤).

(١) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ، كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ، لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ » قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللهِ! تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ، قَالَ: « بَلٰى وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ، رِجَالٌ آمَنُوْا بِاللهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِيْنَ ». صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوْقَةٌ رقم الحديث ٣٢٥٦. صحيح مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها بَابُ تَرَائِي أَهْلِ الْجَنَّةِ أَهْلَ الْغُرَفِ، كَمَا يُرَى الْكَوْكَبُ فِي السَّمَاءِ رقم الحديث ١١ (٢٨٣١). صحيح ابن حبان رقم الحديث ٢٠٩، و رقم الحديث ٧٣٩٣، المعجم الكبير للطبراني رقم ٥٧٧٦. مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وبدء الخلق باب صفة الجنة وأهلها الفصل الأول رقم الحديث ٥٦٢٤ (١٣).

(٢) الله تعالى د مجاهدينو په باره کې فرمايي: ﴿ فَضَّلَ اللهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ عَلَى ←←←←

۳ . همدارنګې چې څوک د الله تعالى رَضا طلب کوي نو د هغوى د پاره هم اُوچتې درجې مقرر شوي . (۱)

٤ . همدارنګې د الله تعالى نه ويريدونکو ، په هغه باندې توکّل کوونکو ، مونځ قائموونکو ، او د هغه په لار کې مال خرچ کوونکو د پاره هم اُوچتې درجې مقرر شوي . (۲)

٥ . د حافظِ قرآن درجه به په جنت کې نوره هم اُوچته وي ځکه د هر آيت په لوستلو سره به دده درجه زياتولې شي . د ابوداوٗد شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ : اِقْرَأْ ، وَارْتَقِ ، وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا ، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا . (۳)

---

←←← الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۚ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۚ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ . النساء ٩٥ .
الله تعالى هغه مجاهدينو ته کوم چې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي دوی ته يې په ناستو خلقو باندې اُوچته درجه ورکړې ، او د هر يو سره يې د نېکۍ ( جنت ) وعده کړې ده ، خو بيا هم الله تعالى مجاهدينو ته په ناستو خلقو باندې د ډير لوی آجر په ذريعه فضيلت ورکړی .
الله تعالى دمؤمنانو او اهلِ عِلمو په باره کې فرمايي : ﴿ يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ﴾ . ترجمه : الله تعالى به په تاسو کې د مومنانو او اهل علمو درجې اوچتې کړي . المجادلة آية ١١ .

(۱) الله تعالى فرمايي : ﴿ اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۞ هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴾ . آل عمران آية ١٦٢ ، ١٦٣ .

(۲) الله تعالى فرمايي : ﴿ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ۞ الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ۞ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ۚ لَهُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴾ . الانفال آية ٢ تا ٤ .

(۳) سنن ابی داؤد بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّرْتِيلِ فِي الْقِرَاءَةِ رقم الحديث ١٤٦٤ قال الالباني : حسن صحيح . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٦٧٩٩ ، ورقم الحديث ١٠٠٨٧ ، ورقم الحديث ١١٣٦٠ . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٨٠٠٢ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٧٦٦ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٠٣٠ . مشكاة المصابيح كِتَاب فَضَائِلِ الْقُرْآنِ اَلْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٢١٣٤(٢٦) . كنز العمال رقم ٢٣٣٠ .

Scanned with CamScanner

د قيامت په ورځ به صاحبِ قرآن ته وويلې شي : ته قرآن کريم لوله او د جنت په درجو خيجه ، او په دُنيا کې چې څنګه تا په مزه مزه (صحيح تجويد سره) لوستلو نو هماغه شان تِلاوت کوه ، بيشکه ستا منزل (د اُوسيدو ځای) به هغه آخري آيت وي چې ته يې لولې . (يعنی چيرته چې آخِري آيت ختم شو هلته به ستا د اُوسيدو ځای وي) .

٦ . په يو بل حديث کې همدا خبره صراحةً ذکر ده . نبي کريم عليه السلام فرمايي :

عَدَدُ دَرَجِ الْجَنَّةِ عَدَدُ آيِ الْقُرْآنِ، فَمَنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ مِنْ أَهْلِ الْقُرْآنِ فَلَيْسَ فَوْقَهُ دَرَجَةٌ .

د جنت د درجو تعداد د قرآن کريم د آيتونو د تعداد برابر دی (يعنی چې څومره د قرآن کريم آيتونه دي په هماغه مِقدار د جنت درجې دي) ، پس د قرآن کريم په حافظانو کې چې څوک جنت ته داخل شي نو (د اَنبياء کرامو نه علاوه په نورو اُمّتيانو کې به) د ده نه پورته د بل هيڅ درجه نه وي . (١)

٧ . د بچي په دُعا سره هم په جنت کې د پلار درجې اُوچتيږي .

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل : بيشکه الله تعالی به په جنت کې د نېک بنده درجې اُوچتې کړي . دا سړی به عرض اوکړي :

يَا رَبِّ ! أَنَّى لِيْ هَذِهِ ؟

اې ربه ! زما دا درجې څنګه اُوچتې شوی ؟

الله تعالی به ورته اوفرمايي : بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ .

---

(١) شعب الايمان رقم الحديث ١٨٢٣ تعظيم القرآن . وقال البيهقي : قَالَ الحَاكِمُ : هَذَا إِسْنَادٌ صَحِيحٌ وَلَمْ يُكْتَبْ هَذَا المَتْنُ إِلَّا بِهَذَا الإِسْنَادِ وَهُوَ مِنَ الشَّوَاذِ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٩٩٥٢ . كنزالعمال رقم الحديث ٢٢٧٢ ، و رقم الحديث ٢٣٢٣ . تفسير القرطبي ج ١ ص ٩ . تنبيه الغافلين ص ٣٢٢ باب ما جاء في فضل القرآن .

امام رازي رحمه الله په تفسيرِ کبير کې ذکر کړي ؛ قَالَ أَبُو سُلَيْمَانَ الخَطَّابِيُّ : جَاءَ فِي الأَثَرِ : أَنَّ عَدَدَ آيِ القُرْآنِ عَلَى عَدَدِ دَرَجِ الجَنَّةِ . يُقَالُ لِلقَارِئِ : اِقْرَأْ وَارْقَ فِي الدَّرَجِ عَلَى عَدَدِ مَا كُنْتَ تَقْرَأُ مِنَ القُرْآنِ . فَمَنِ اسْتَوْفَى قِرَاءَةَ جَمِيعِ آيِ القُرْآنِ اِسْتَوْلَى عَلَى أَقْصَى الجَنَّةِ . تفسير الرازي ١ / ٢٩ وَبَقِيَ مِنْ مَسَائِلِ الفَاتِحَةِ أَشْيَاءُ نذكرها هاهنا : السنة في القراءة المسألة الثامنة : هكذا ذكر في المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٥٩

داستا بچي ستا د پاره اِستغفار ويلی -(١)

# جَنَّةُ الفِردوس أعلی جنت دی

جَنَّةُ الفِردَوس بیا په ټولو جنّتونو کې اعلیٰ جنت دی .

١. په حدیث کې راځي ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

....فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ .

چې کله تاسو د الله تعالی نه سوال کوی، نو جنّة الفردوس ورنه غواړئ ځکه دا افضل او اعلیٰ جنت دی ٠(٢)

د مشکوة شريف الفاظ دادي : وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً . (٣)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَرْفَعُ الدَّرَجَةَ لِلْعَبْدِ الصَّالِحِ فِي الْجَنَّةِ . فَيَقُولُ : يَا رَبِّ ! أَنَّى لِي هَذِهِ ؟ فَيَقُولُ : بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ . مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ١٠٦١٠ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الدُّعَاءِ مَا قَالُوا: إِنَّ الدُّعَاءَ يَلْحَقُ الرَّجُلَ وَوَلَدَهُ رقم الحديث ٢٩٧٤٠ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ بِرِّ الْوَالِدَيْنِ رقم الحديث ٣٦٦٠ في الزوائد إسناده صحيح. رجاله ثقات. المعجم الاوسط رقم الحديث ١٨٩٤ ، و رقم ٥١٠٨ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٣٥٤(٣٢) . مجمع الزوائد كِتَابُ التَّوْبَةِ بَابُ اسْتِغْفَارِ الْوَلَدِ لِوَالِدِهِ رقم الحديث ١٧٥٩٥ .

(٢) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَبِرَسُولِهِ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا » ، فَقَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ ! أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ ؟ قَالَ : « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ ، فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ الْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ، يُقَالُ: هَذِهِ سَبِيلِي وَهَذَا سَبِيلِي رقم الحديث ٢٧٩٠ ، و رقم الحديث ٧٤٢٣ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ {وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ} [هود: ٧] ، {وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ} [التوبة: ١٢٩]. مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الأول رقم الحديث ٣٧٨٧(١) .

(٣) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ، وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً مِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْأَرْبَعَةُ . ←←←←←

Scanned with CamScanner

جنّة الفِردوس د درجې په اعتبار سره په ټولو جنتونو کې اُوچت دی .

۲ . نبي عليه السلام ته يوه ښځه (اُمّ حارثه) راغله او ورته وې ويل چې ماته د خپل شهيد شوي ځوي څه حال بيان کړه . نو نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

يَا أُمَّ حَارِثَةَ ! إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى .

اې د حارثه مور ! خبره داده چې په جنت کې ډير باغونه ( درجې (۱) ) دي ، او بيشکه ستا ځوي جنّتُ الفِردوس ( د جنت اعلی درجې ) ته رسيدلې دی . (۲)

۳ . د جَنّةُ الفِردَوس په باره کې دا هم راځي چې الله تعالی دا په خپل دَستِ قدرت سره جوړ کړی ( او خپل خاص بندګان به ورته داخلوي ) . (۳)

---

←←← وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُونُ الْعَرْشُ ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَالِ الْقِيَامَة وبدء الخلق بَابُ صفة الجنة وَأَهْلِهَا الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ٥٦١٧(٦) . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ دَرَجَاتِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٢٥٣١ ، و رقم الحديث ٢٥٣٠ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٢٦٩ .

(۱) (جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ) : اَلتَّنْوِينُ لِلتَّعْظِيمِ ، وَالْمُرَادُ بِهَا دَرَجَاتٌ فِيهَا ، لِمَا وَرَدَ : « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا » . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ٢٤٦٧/٦ كتاب الجهاد الفصل الاول في تشريح رقم الحديث ٣٨٠٩ (٢٣) .

(۲) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه أَنَّ أُمَّ الرُّبَيِّعِ بِنْتَ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وَهِيَ أُمُّ حَارِثَةَ بْنِ سُرَاقَةَ رضي الله عنه أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَتْ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! أَلَا تُحَدِّثُنِي عَنْ حَارِثَةَ . وَكَانَ قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ أَصَابَهُ سَهْمٌ غَرْبٌ ، فَإِنْ كَانَ فِي الْجَنَّةِ صَبَرْتُ ، وَإِنْ كَانَ غَيْرَ ذَلِكَ اجْتَهَدْتُ عَلَيْهِ فِي الْبُكَاءِ ، قَالَ : « يَا أُمَّ حَارِثَةَ ! إِنَّهَا جِنَانٌ فِي الْجَنَّةِ ، وَإِنَّ ابْنَكِ أَصَابَ الْفِرْدَوْسَ الْأَعْلَى » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ مَنْ أَتَاهُ سَهْمٌ غَرْبٌ فَقَتَلَهُ رقم الحديث ٢٨٠٩ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ٣٨٠٩ (٢٣) ، مسند احمد رقم الحديث ١٣٧٣١ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٣٨٣ (٣٢) .

(۳) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِنَّ اللهَ تَعَالَى بَنَى الْفِرْدَوْسَ بِيَدِهِ ، وَحَظَرَهَا عَلَى كُلِّ مُشْرِكٍ وَكُلِّ مُدْمِنٍ لِلْخَمْرِ سِكِّيرٍ . حلية الاولياء ج ٣ ص ٩٣ . الابانة الكبرى لابن بطة رقم الحديث ٢٤٢ . كنز العمال رقم الحديث ١٣١٨٥ ، و رقم الحديث ٣٩٢٣١ . الدر المنثور في التفسير بالماثور ج ٣ ص ١٧٦ .

Scanned with CamScanner

# د جنت دروازه به د ټولو نه مخکې نبي عليه السلام ته کلاویږي

د قيامت په ورځ به د جنت دروازه د ټولو نه مخکې نبي عليه السلام د کلاوُولو د پاره ټکوي، او د ټولو نه مخکې به دوی ته کلاویږي، او د ټولو انبیاء کرامو نه مخکې به دوی جنت ته داخليږي، همدا رنګې د نورو اُمّتونو نه مخکې به د نبي ﷺ دا اُمت جنت ته داخليږي

۱. د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله ﷺ فرمايي:

أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يَقْرَعُ بَابَ الْجَنَّةِ. (۱)

د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات مُتَّبِعين (پيروکار) زما وي، او زه به اوّلني هغه کس يم چې د جنت دروازه به (د کلاوُولو د پاره) ټکوم.

۲. د مسلم شريف په يو بل حديث کې دی، نبي عليه السلام فرمايي: چې د قيامت په ورځ به زه د جنت دروازې ته (د کلاوُولو د پاره) راشم، او به يې ټکوم، د جنت خزانچي (داروغه) به پوښتنه اوکړي: مَنْ أَنْتَ؟ ته څوک يې؟

زه به ورته اووايم: محمد (ﷺ).

هغه به اووايي: بِكَ أُمِرْتُ لَا أَفْتَحُ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ.

همدا ستاسو په باره کې ماته دا حکم شوی چې د تاسو نه مخکې يې بل هيچا ته کلاوُ نکړم. (يعنی اول به يې تاسو ته کلاوُوم). (۲)

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابٌ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ يَشْفَعُ فِي الْجَنَّةِ وَأَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا رقم الحديث ۳۳۰(۱۹٦). مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۱۷۸۱، ورقم الحديث ۳۵۸۴۸. صحيح ابن حبان رقم الحديث ٦۴۸۱. شعب الايمان رقم الحديث ۸۲۴۷. مشكاة المصابيح كتاب الْفَضَائِلِ وَالشَّمَائِلِ بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ الْفَصْلُ الأول رقم الحديث ۵۷۴۲(۴).

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: آتِي بَابَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَسْتَفْتِحُ، فَيَقُولُ الْخَازِنُ: مَنْ أَنْتَ؟ فَأَقُولُ: مُحَمَّدٌ، فَيَقُولُ: بِكَ أُمِرْتُ لَا أَفْتَحُ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابٌ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ يَشْفَعُ فِي الْجَنَّةِ وَأَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ تَبَعًا» رقم الحديث ۳۳۳(۱۹۷). شرح السنة للبغوي رقم ۴۳۳۹، معجم ابن عساكر رقم ۹۵۵.

Scanned with CamScanner

۳. په یوه موقع باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضي الله عنهم ته او فرمایل:

... أَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حَلْقَةَ الْجَنَّةِ فَيُفْتَحُ لِي فَأَدْخُلُهَا وَمَعِي فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَا فَخْرَ.

زه به اوّلني هغه کس يم چې د جنت زنځير به اُوخوزوم ، پس ماته به کلاؤ کړې شي ، نو ديته به زه او د ما سره فقيران مؤمنان جنت ته داخل شي ، دا خبره زه د فخر په وجه نه کوم (بلکه د الله تعالی احسان يې ګڼړم). (۱)

٤. په يو حديث کې راځي ، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ مِنَ النَّبِيِّينَ حَتَّى أَدْخُلَهَا أَنَا ، وَلَا يَدْخُلُهَا أَحَدٌ مِنَ الْأُمَمِ حَتَّى تَدْخُلَهَا أُمَّتِي.

په پيغمبرانو کې به هيڅوک تر هغې پورې جنت ته نه داخليږي تر دې چې زه اول داخل شم (بيا به دوی داخليږي) ، او په اُمتونو کې به بل هيڅ اُمت اول جنت ته نه داخليږي تر دې چې اول زما اُمت جنت ته داخل شي (بيا به نور اُمتونه داخليږي). (۲)

٥. همدغه شان مضمون په يو بل حديث کې هم ذکر دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

اَلْجَنَّةُ مُحَرَّمَةٌ عَلَى جَمِيعِ الْأُمَمِ حَتَّى أَدْخُلَهَا أَنَا وَأُمَّتِي ، اَلْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ.

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: جَلَسَ نَاسٌ مِنَ الصَّحَابَةِ يَتَذَاكَرُونَ فَسَمِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثَهُمْ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: عَجَبًا إِنَّ اللهَ اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا ، وَقَالَ آخَرُ: مَاذَا بِأَعْجَبَ مِنْ كَلَامِ مُوسَى كَلَّمَهُ تَكْلِيمًا ، وَقَالَ آخَرُ: فَعِيسَى كَلِمَةُ اللهِ وَرُوحُهُ ، وَقَالَ آخَرُ: آدَمُ اصْطَفَاهُ اللهُ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: قَدْ سَمِعْتُ كَلَامَكُمْ وَحُجَّتَكُمْ أَنَّ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلُ اللهِ وَهُوَ كَذَلِكَ ، وَمُوسَى نَجِيُّ اللهِ وَهُوَ كَذَلِكَ ، وَعِيسَى رُوحُ اللهِ وَهُوَ كَذَلِكَ ، وَآدَمُ اصْطَفَاهُ اللهُ تَعَالَى وَهُوَ كَذَلِكَ ، أَلَا وَأَنَا حَبِيبُ اللهِ وَلَا فَخْرَ ، وَأَنَا حَامِلُ لِوَاءِ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ ، وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَنَا أَوَّلُ مُشَفَّعٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ ، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حَلْقَةَ الْجَنَّةِ فَيُفْتَحُ لِي فَأَدْخُلُهَا وَمَعِي فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ وَلَا فَخْرَ ، وَأَنَا أَكْرَمُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ وَلَا فَخْرَ. التفسير الكبير ج٦ ص٥٢٣ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣.

(۲) التفسير الكبير ج٦ ص٥٢٣ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣.

Scanned with CamScanner

جنت تر هغې پورې په ټولو اُمتونو حرام کړې شوی تر دې چې اول دیته زه او زما اُمت ټول داخل شو. (۱)

## په جنت کې به ډیر صفونه ددې اُمت وي

په جنت کې به ډیر صفونه ددې اُمت وي.

۱. د ترمذي شریف حدیث دی، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ، ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ.

د جنتیانو به یو سل او شل (۱۲۰) صفونه وي، په دې کې به آتیا (۸۰) صفونه ددې اُمت وي، او څلویښت به د نورو اُمتونو وي. (۲)

**فائده**: په دې حدیث کې ذکر شو چې په درې حصو کې دوه حصې تعداد به په جنت کې ددې اُمت وي.

۲. د بخاري شریف په یو حدیث کې ذکر دي چې نیم جنتیان به ددې اُمت وي، هغه حدیث دادی:

حضرت عبدالله (بن مسعود) ﷺ فرمایي چې مونږ (صحابه کرام) د نبي علیه السلام سره په یوه خیمه کې موجود وو، دوی اوفرمایل: أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟
آیا ستاسو دا خوښه ده چې تاسو دې د ټولو جنتیانو په څلورمه حصه یې؟

---

(۱) المعجم الاوسط بَابُ الْعَيْنِ رقم الحديث ۴۱۵۳، مجمع الزوائد كِتَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْأُمَّةِ رقم الحديث ۱۶۷۱۷ وقَالَ الهيثمي: إِسْنَادُهُ حَسَنٌ. التفسير المظهري ج ۲ ص ۱۹۹، تنبيه الغافلين ص ۵۱۰ باب فضل امة محمد صلى الله عليه وسلم.

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَفِّ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۲۵۴۶ وقَالَ الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۹۴۰، ورقم الحديث ۲۳۰۰۲، ورقم الحديث ۲۳۰۶۱. سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۲۸۹. سنن الدارمي رقم الحديث ۲۸۷۷. صحيح ابن حبان رقم الحديث ۷۴۵۹. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۰۳۵۰. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۷۳ وقَالَ الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي ، و رقم الحديث ۲۷۵. مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۶۴۴(۲۳). مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸۶۷۶.

Scanned with CamScanner

مونږ ورته وويل : آو (زمونږ دا خوښه ده).

پيغمبر عليه السلام دوباره اوفرمايل : أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ ؟

آيا ستاسو دا خوښه ده چې تاسو دې د جنتيانو په دريمه حصه يَې ؟

مونږ ورته وويل : آو (زمونږ دا هم خوښه ده) .

نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دريم ځل اوفرمايل :

أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ ؟

آيا ستاسو دا خوښه ده چې تاسو دې د جنتيانو نيمائي حصه يَې ؟

مونږ ورته جواب وركړو : آو (زمونږ دا هم خوښه ده) .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنُوْا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، وَذَلِكَ أَنَّ الْجَنَّةَ لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَمَا أَنْتُمْ فِيْ أَهْلِ الشِّرْكِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِيْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ، أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِيْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَحْمَرِ .

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه كې د محمد (ﷺ) ساه ده بيشكه زما دا أُميد دى چې په جنتيانو كې به نيم خلق تاسو يَې ؛ او دا ځكه چې جنت ته به صرف مسلمان داخليږي ، او تاسو په مشركانو كې داسې يَى لكه د تور غوائي په وجود كې سپين يو ويښته ، يا د سُور غوائي په وجود كې تور يو ويښته . (١)

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ قُبَّةٍ، فَقَالَ : « أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » قُلْنَا : نَعَمْ. قَالَ : « أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » قُلْنَا : نَعَمْ. قَالَ : « أَتَرْضَوْنَ أَنْ تَكُوْنُوْا شَطْرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » قُلْنَا : نَعَمْ. قَالَ : « وَالَّذِيْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنِّيْ لَأَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنُوْا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَذَلِكَ أَنَّ الْجَنَّةَ لَا يَدْخُلُهَا إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَمَا أَنْتُمْ فِيْ أَهْلِ الشِّرْكِ إِلَّا كَالشَّعْرَةِ الْبَيْضَاءِ فِيْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَسْوَدِ، أَوْ كَالشَّعْرَةِ السَّوْدَاءِ فِيْ جِلْدِ الثَّوْرِ الْأَحْمَرِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: كَيْفَ الحَشْرُ رقم الحديث ٢٥٢٨ ، و رقم الحديث ٦٥٣٠ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: {إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ} [ الحج : ١] . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ كَوْنِ هَذِهِ الْأُمَّةِ نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ٣٧٦ (٢٢١) . و رقم الحديث ٣٧٨ (٢٢١) . سنن الترمذي رقم الحديث ٢٥٤٧ . المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٦٩٧ .

Scanned with CamScanner

**فائده** : په دې حديث کې ذکر شو چې نيم جنتيان به د دې اُمت وي.

**په دواړو احاديثو کې تطبيق** : په مذکوره دواړه احاديثو کې په ظاهره باندې تضاد معلوميږي ځکه په اول حديث کې ذکر شو "چې په درې حصو کې دوه حصې جنتيان به د دې اُمت وي" ، او په دويم حديث کې ذکر شو " چې نيم جنتيان به د دې اُمت وي"

نو په حقيقت کې هيڅ تضاد نشته ؛ ځکه کيدې شي چې اول به د نبي عليه السلام دا اُميد وُ چې په جنت کې به نيم خلق د دې اُمت وي خو بيا الله تعالى په خپل خاص رحمت سره د نبي ﷺ دا اُميد نور هم زيات کړو او په درې حصو کې دوه حصې جنتيان يې د دې اُمت اوګرځول، او دا د الله تعالى خصوصي اِحسان دى د دې اُمت سره.(۱)

بهر حال په جنت کې به د ټولو نه زياته حصه خلق د دې اُمت وي.(۲)

## په مختصرو الفاظو کې د جنت نظاره

حضرت اُسامه بن زيد ﷺ فرمايي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم يوه ورځ خپلو صحابه کرامو ته اوفرمايل :

أَلَا هَلْ مُشَمِّرٍ لِلْجَنَّةِ، فَإِنَّ الْجَنَّةَ لَا خَطَرَ لَهَا هِيَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ نُوْرٌ يَتَلَأْلَأُ، وَرَيْحَانَةٌ تَهْتَزُّ، وَقَصْرٌ مُشَيَّدٌ، وَنَهْرٌ مُطَّرِدٌ، وَفَاكِهَةٌ كَثِيْرَةٌ نَضِيْجَةٌ، وَزَوْجَةٌ حَسْنَاءُ جَمِيْلَةٌ، وَحُلَلٌ كَثِيْرَةٌ فِيْ

---

(۱) مظاهر حق ج ۹.

(۲) ( وَأَرْبَعُوْنَ ) أَيْ: صَفًّا ( مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ) . وَالْمَقْصُوْدُ بَيَانُ تَكْثِيْرِ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَنَّهُمْ ثُلُثَانِ فِي الْقِسْمَةِ، قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ فَإِنْ قُلْتَ : كَيْفَ التَّوْفِيْقُ بَيْنَ هَذَا وَمَا وَرَدَ مِنْ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ أَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنُوْا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » فَكَبَّرْنَا. فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنُوْا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » . فَكَبَّرْنَا . فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَرْجُوْ أَنْ تَكُوْنُوْا نِصْفَ أَهْلِ الْجَنَّةِ » . قُلْتُ: يُحْتَمَلُ أَنْ يَكُوْنَ الثَّمَانُوْنَ صَفًّا مُسَاوِيًا فِي الْعَدَدِ لِلْأَرْبَعِيْنَ صَفًّا، وَأَنْ يَكُوْنُوْا كَمَا زَادَ عَلَى الرُّبُعِ وَالثُّلُثِ يَزِيْدُ عَلَى النِّصْفِ كَرَامَةً لَهُ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قُلْتُ: وَهَذَا هُوَ الْأَظْهَرُ، عَلَى أَنَّ النِّصْفَ قَدْ يُطْلَقُ وَلَمْ يُرَدْ بِهِ التَّسَاوِيَ فِي الْعَدَدِ وَالصَّفِّ، وَلِذَا يُوْصَفُ بِالْأَقَلِّ وَالْأَكْثَرِ. مرقاة المفاتيح بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ج ۹ ص ۳۵۹۲ في تشريح حديث ۵۶۴۴.

مَقَامٍ أَبَدًا فِي حَبْرَةٍ وَنَضْرَةٍ فِي دَارٍ عَالِيَةٍ سَلِيمَةٍ بَهِيَّةٍ .

آيا څوک د جنت د پاره تياري کوونکی شته ؟ ځکه د جنت د پاره فناء کيدل ( او ختميدل ) نشته ، په رَب د کعبې قسَم چې جنت داسې نُور دی چې پرقيږي ، د ګلانو داسې ګلدسته ده چې حرکت کوي ، مضبوط او اُوچت محل دی ، داسې نهر دی چې جاري دي ، داسې ميوې دي چې تياري پَخ شوي دي ، داسې ښځې دي چې د ښائسته مخونو واله ډَولي دي ، داسې کپړې دي چې ډيرې ( او ښائسته ) دي ، د هميشه اُوسيدو ځای دی ، د خوشحالی تازګی سلامتيا او اُوچتو ښائسته محلونو ځای دی .

صحابه کرامو ورته جواب ورکړو : نَحْنُ الْمُشَمِّرُونَ لَهَا يَا رَسُولَ اللهِ .

اې د الله رسوله ! مونږ ديته تيارې کوونکي يو .

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل : تاسو إِنْ شَاءَ الله اووايئ .

بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته د جهاد ترغيب ورکړو . (١)

## د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا رااُووته چې په جنت کې د جنتيانو د پاره بې شماره نِعمتونه مقرر شوي :

د جنت اُونو لاندې به د صفا اُوبو ، شودو ، شرابو او شهدو ښائسته نهرونه بهيږي .

---

(١) عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رضي الله عنهما ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ لِأَصْحَابِهِ: « أَلَا هَلْ مُشَمِّرٍ لِلْجَنَّةِ، فَإِنَّ الْجَنَّةَ لَا خَطَرَ لَهَا هِيَ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ نُورٌ يَتَلَأْلَأُ، وَرَيْحَانَةٌ تَهْتَزُّ، وَقَصْرٌ مُشَيَّدٌ، وَنَهْرٌ مُطَّرِدٌ، وَفَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ نَضِيجَةٌ، وَزَوْجَةٌ حَسْنَاءُ جَمِيلَةٌ، وَحُلَلٌ كَثِيرَةٌ فِي مَقَامٍ أَبَدًا فِي حَبْرَةٍ وَنَضْرَةٍ فِي دَارٍ عَالِيَةٍ سَلِيمَةٍ بَهِيَّةٍ ». قَالُوا: نَحْنُ الْمُشَمِّرُونَ لَهَا يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ: « قُولُوا: إِنْ شَاءَ اللهُ ». ثُمَّ ذَكَرَ الْجِهَادَ وَحَضَّ عَلَيْهِ. صحيح ابن حبان مخرجا بَابُ وَصْفِ الْجَنَّةِ وَأَهْلِهَا ذِكْرُ الْإِخْبَارِ بِأَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا يَكُونُ لَهُمْ حَالَةُ نَقْصٍ وَتَقْذِيرٍ إِذْ هِيَ دَارُ رِفْعَةٍ وَعَلَاءٍ رقم الحديث ٧٣٨١ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ٣٩١ . الترغيب والترهيب لقوام السنة رقم الحديث ١٠٠٣ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٦٥٤ . كنز العمال رقم الحديث ١١٣٣٦ ، و رقم الحديث ٣٩٢٦٨ . الاحاديث المختارة رقم الحديث ١٣٤٣ . موارد الظمآن لي زوائد ابن حبان رقم الحديث ٢٦٢٠ كتاب صفة الجنة بَابٌ فِيمَا فِي الْجَنَّةِ من الخيرات .

په جنتيانو باندې به د کوثر اُوبه څکلې شي.

په جنت کې به د جاري اُوبو مزيدارې چينې وي.

په جنتيانو باندې به داسې پاکيزه شراب څکلې شي چې په هغې سره به د سَردرد او بې هوشي نه راځي.

د جنت په شرابو کې به ورته د تَسنيم چينې اُوبه، کافور، او زَنجبيل هم گډولې شي.

د جنت مشروبات به انسان ته پخپله راځي.

جنتيان به د اُونو په ښائسته سيورې کې ناست وي، دا اُونې به د گنړو څانگو واله وي، او ددې سيورې به هم نه ختميږي.

د جنت د اُونو تَنې او څانگې به ډيرې قيمتي وي، ددې اُونو په څانگو باندې چې هوا لږي نو ښائسته آواز به ورنه رااُوځي.

په جنت کې به د جنتيانو د پاره مختلف قِسمه خوَنده وَرې ميوې وي، د جنتي مرغانو غوښې او نور داسې خوراکونه به وي چې کومو ته د دوی خواهش کيږي، دوی به دا خوراک ښه په مزو سره خوري، دوی ته به بې حسابه رِزق ورکولې شي.

جنتيان چې اول جنت ته داخل شي نو د ميلمستيا په طور به دوی ته د خوراک د پاره اول د ماهي د ځِگر بهترينه حصه ورکولې شي.

د جنتيانو د خوراک او څکاک لوخي به د سروزرو او سپينوزرو وي.

د خوراک او څکاک نه روستو به جنتيانو ته د تَش يا ډک اَودس ماتي کولو ضرورت نه پيښيږي.

د جنتيانو د پاره به د شنو باريکو او غټو وريښمو بهترينې کپړې وي، دا کپړې به هيڅ کله نه زړيږي.

د جنتيانو د تعظيم د پاره به د دوی په لاس کې د سروزرو سپينوزرو او ملغلرو کنگڼ (باهوگان) اچولې شي، چې دا به د ښځو د کنگڼو نه جدا وي.

د زِينت د پاره به ورته داسې قيمتي تاجونه او زيورات ورکولې شي چې د هغې يوه ملغلره به د دُنيا او مَافِيهَا نه بهتر وي.

Scanned with CamScanner

د جنتيانو د پاره به ښائسته اُوچت محلات او بالاخانې وي ، دوى به په اِطمينان سره په دې کې اُوسيږي . ورسره به د جنت په باغونو او د نهرونو په غاړه باندې د ملغلرو نه جوړې شوې قيمتي خيمې وي ، په دې خيمو کې به د دوى د پاره ښائسته ښائسته حُورې وي .

په جنت کې به د جنتيانو د پاره داسې تَختونه وي چې د سروزرو په تارونو به بنړل شوي وي ، دوى به پدې تختونو باندې يو بل ته مخامخ ناست وي .

همدارنګې د دوى د پاره به قيمتي فرشونه ، او قالينونه وي ، دوى به په دې ناست وي ، بالختونو ته به يې تکيه وهلې وي او د جنت مختلف قِسمه ميوې او شربتونه به راغواړي .

د جنتيانو د پاره به په جنت کې د چکرلړولو دپاره قيمتي سوَرلۍ وي .

د جنتيانو عُمر به هم پوره د ځوانۍ وي ، ټول به د درې ديرش ( ٣٣ ) کالو په عُمر تکړه ځوانان وي ، ژبه به يې عربي وي .

د جنت آبادي چې د کومو خَښتو نه جوړه شوې د هغې يوه خَښته به د سروزرو وي ، بله به يې د سپينو زرو وي ، او خَټه به يې د مشکو او زعفرانو وي .

د اَعمالو په اعتبار سره به د جنتيانو اُوچتې اُوچتې مرتبې وي ، يعنى د الله ﷻ په نزد چې د چا مقام څومره اُوچت وي نو همدومره به يې مرتبه هم اُوچته وي .

د ټولو نه اُوچته درجه د جَنّة الفِردوس ده ، دا په ټولو جنتونو کې اعلیٰ جنّت دى ، دا الله تعالىٰ په خپل دستِ قدرت سره جوړ کړى ، او ديته به خپل محبوب بندګان داخلوي .

د ټولو نه مخکې به جنت ته نبي عليه السلام داخليږي ، او په ټولو اُمتونو کې به اول دا اُمت جنت ته داخليږي .

په جنت کې به د ټولو نه زيات صفونه د دې اُمت وي .

## دُعا

الله تعالىٰ مونږ ټول په خپل فضل و کرم سره جنت ته داخل کړي .

ربِّ کريم دې دا ټول نِعمتونه او د جنت اُوچتې درجې مونږ ته هم رانصيبه کړي .

الله ربّ العزت دې د قيامت په ورځ مونږ ټولو ته د نبي عليه السلام په لاس مبارک باندې د حوضِ کوثر اُوبه او د دوى شفاعتِ کُبریٰ رانصيبه کړي .

Scanned with CamScanner

الله ﷻ دې د مونږنه راضي شي او په خپل ديدار باندې مو دې مشرّف کړي.

يَا اِلٰهَ الْعَالَمِيْنَ ! لکه څرنګې چې تا مونږ دلته راجمع کړي يو همدغه شان مو د قيامت په ورځ د خپل عرش د سيوري لاندې راجمع کړې ، او همدغه شان مو د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د حوضِ کوثر په غاړه او جنت کې راجمع کړې.

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

## نوټ

'' **د جنت حُورې او غِلمان** '' دا موضوع به اِنْ شَاءَ الله په راتلونکي شپږم (٦) جلد کې وي. ابوالشمس عفي عنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾

البقرة آية ٨٢ .

# جنت ته داخلوونکي نیک اعمال

**تالیف**


آبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

# نوټ

" **جنت ته داخلوونکي نېک اعمال** " دا موضوع اګر چې ډېره اُوږده ده ، ځکه ما په دې کې څه د پاسه سل (۱۰۰) داسې اعمال ذکر کړي چې د هغې په باره کې په قرآن کریم او احادیثو کې صراحةً دا ذکر شوي وي چې د دې عمل په وجه انسان جنت ته داخلیږي .

خو بیا هم په دې موضوع کې داسې رَبط شته چې که مُقرِّر په هر ځای کې تقریر اُودروي نو آئنده جُمعه یې د هغې نه اَخوا په آسانه شروع کولې شي .

لهذا مُقرِّرینو ته په کار دي چې دا موضوع په دوه یا درې جُمعو کې بیان کړي .

**ابوالشمس عفي عنه**

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# جنت ته داخلوونکي نيک اعمال

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِيۡنَ ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الۡأَنۡبِيَاءِ وَأَشۡرَفِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصۡحَابِهٖ وَمَنۡ تَبِعَهُمۡ بِإِحۡسَانٍ إِلٰى يَوۡمِ الدِّيۡنِ .

اَمَّابَعۡدُ فَأَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ . قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الۡقُرۡآنِ الۡمَجِيۡدِ وَالۡفُرۡقَانِ الۡحَمِيۡدِ :

﴿ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ ۚ هُمۡ فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴾ . (١)

وَقَالَ تَعَالٰى : ﴿ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَاۤ اَبَدًا ۗ لَهُمۡ فِيۡهَاۤ اَزۡوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫ وَّنُدۡخِلُهُمۡ ظِلًّا ظَلِيۡلًا ﴾ . (٢)

وَقَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : قَالَ اللّٰهُ : أَعۡدَدۡتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيۡنَ مَا لَا عَيۡنٌ رَأَتۡ ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتۡ ، وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلۡبِ بَشَرٍ . (٣)

وَقَالَ عَلَيۡهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : مَنۡ آمَنَ بِاللّٰهِ وَبِرَسُوۡلِهٖ ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنۡ يُدۡخِلَهُ الۡجَنَّةَ ... (٤)

---

(١) البقرة آية ٨٢ .

(٢) النساء آية ٥٧ .

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوۡحِيۡدِ رقم الحديث ٧٤٩٨ .

وفي رواية : قَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : قَالَ اللّٰهُ : أَعۡدَدۡتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيۡنَ مَا لَا عَيۡنٌ رَأَتۡ ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتۡ ، وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلۡبِ بَشَرٍ ، فَاقۡرَءُوۡا إِنۡ شِئۡتُمۡ ﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّاۤ اُخۡفِيَ لَهُمۡ مِّنۡ قُرَّةِ اَعۡيُنٍ﴾ . صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٤٤ كِتَابُ بَدۡءِ الۡخَلۡقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الۡجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخۡلُوۡقَةٌ ، و رقم الحديث ٤٧٧٩ كِتَابُ تَفۡسِيۡرِ الۡقُرۡآنِ بَابُ قَوۡلِهٖ : {فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَا أُخۡفِيَ لَهُمۡ مِنۡ قُرَّةِ أَعۡيُنٍ} . [ السجدة : ١٧] . صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيۡمِهَا وَأَهۡلِهَا رقم الحديث ٢(٢٨٢٤)

(٤) صحيح البخاري كِتَابُ الۡجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ الۡمُجَاهِدِيۡنَ فِي سَبِيۡلِ اللّٰهِ رقم ٢٧٩٠ ، و رقم ٧٤٢٣ كِتَابُ التَّوۡحِيۡدِ.

Scanned with CamScanner

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمِ .

# تمهيدي خبره

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! هر کس دا خوښوي چې زه دې په دُنيا او آخرت دواړو کې کامياب شم ، بيا خاصکر چې کله مسلمان په قرآن کريم او احاديثو کې د جنت د نعمتونو تذکره واوري نو بيا خو د هريو دا آرزو وي چې الله تعالى راته په آخرت کې جنت او د جنت ښائسته نعمتونه راکړي .

## د جنت نعمتونه د هغه مؤمنانو د پاره دي چې نېک اعمال کوي

خو جنت صرف په آرزوګانو باندې نه حاصليږي بلکه ددې د پاره دا ضروري ده چې بنده به ايمان راوړي ، او د ايمان نه پس به نېک اعمال کوي .

الله تعالى پخپله په قرآن کريم کې ځای په ځای ددې تذکره کړی ، فرمايي :

١. ﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : او کومو خلقو چې ايمان راوړو او نېک عملونه يې اوکړل نو همدغه خلق جنّتيان دي ، دوی به په دې جنت کې هميشه اوسيږي .

٢ . بل ځای فرمايي : ﴿ وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾ . (٢)

ترجمه : او (اې پيغمبره !) ته زيرې ورکړه هغه خلقو ته چې هغوی ايمان راوړی او نېک کارونه يې کړي چې بيشکه د دوی د پاره داسې جنتونه (باغونه) دي چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي .

٣ . بل ځای فرمايي :

﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

(١) البقرة آية ٨٢ .

(٢) البقرة آية ٢٥ .

أَبَدًا ۖ لَّهُمْ فِيهَا أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۖ وَنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيلًا ﴾. (١)

ترجمه: او کومو خلقو چې ايمان راوړو او نېک اعمال يې اوکړل نو ډير زر به مونږ دوی په داسې جنتونو کې داخل کړو چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په دې کې هميشه اُوسيږي ، د دوی د پاره به په دې جنت کې پاکې بيبيانې وي ، او مونږ به دوی په ډير ګڼړ (د راحت واله) سيورې کې داخل کړو.

٤ . بل ځای فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ۝ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾. (٢)

ترجمه: چاچې ايمان راوړو ، او نيک عملونه يې اوکړل نو مونږ به دوی ته د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په هغې کې هميشه اوسيږي ، د (نيک) عمل کوونکو بدله ډيره ښه ده ، (دا عاملين هغه خلق دي) کومو چې صبر اوکړو او په خپل رب باندې توکّل کوي.

٥ . الله تعالى د نيکي کوونکو په باره کې فرمايي:

﴿ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ۖ ﴾. (٣)

ترجمه: کومو خلقو چې نيکي اوکړه نو د هغوی د پاره جنت دی ، او ورسره نور زياتي نِعمت هم دی (چې هغه د الله په ديدار باندې مُشرّف کيدل دي) . (٤)

---

(١) النساء آية ٥٧.

(٢) العنكبوت آية ٥٨ ، ٥٩.

(٣) يونس آية ٢٦.

(٤) {لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا} بِالإِيمَانِ {الْحُسْنَى} الْجَنَّة {وَزِيَادَة} هِيَ النَّظَر إِلَيْهِ تَعَالَى كَمَا فِي حَدِيث مُسْلِم . تفسير الجلالين ص ٢٧٠ يونس آية ٢٦.

قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ﴾، أَيْ: لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْعَمَلَ فِي الدُّنْيَا الْحُسْنَى، وَهِيَ الْجَنَّةُ وَ زِيَادَةٌ وَهِيَ النَّظَرُ إِلَى وَجْهِ اللهِ الْكَرِيمِ. وَهَذَا قَوْلُ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ، مِنْهُمْ ←←←← ←←←

Scanned with CamScanner

ددینه علاوه د قرآن کریم په نورو ډیرو آیتونو کې هم دا مضمون ذکر دی چې د ایمان او نېکو اعمالو په وجه انسان د جنت مستحق کرځي . (۱)

## الله تعالی بندګانو ته د جنت حاصلولو ترغیب ورکړی

الله تعالی په قرآن کریم کې ځای په ځای د جنت د نِعمتونو تذکره په ډیر ښائسته آنداز باندې کړی ، او بندګانو ته یې ددې د حاصلولو ترغیب ورکړی :

---

←←←← أَبُوْ بَكْرِ الصِّدِّيْقُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَحُذَيْفَةُ وَأَبُوْ مُوْسَى وَعُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ. وَهُوَ قَوْلُ الْحَسَنِ وَعِكْرِمَةَ وَعَطَاءٍ وَمُقَاتِلٍ وَالضَّحَّاكِ وَالسُّدِّيِّ رحمهم الله. تفسير البغوي ج۲ ص ۴۱۷ سورة يونس آية ۲۶ .

(۱) نور یو څو آیتونه درته رانقل کوم : الله تعالی فرمایي : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ۝ خَالِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ عَنْهَا حِوَلًا ﴾ . الكهف آية ۱۰۷ ، ۱۰۸ .

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتُ النَّعِيمِ ۝ خَالِدِينَ فِيهَا ۖ وَعْدَ اللَّهِ حَقًّا ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾. لقمان آية ۸ ، ۹ .

﴿ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴾ . الحج آية ۱۴ . / ﴿ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴾. الحج آية ۵۶ .

﴿ سَابِقُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴾ . الحديد آية ۲۱ .

﴿ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾ . التغابن آية ۹ .

﴿ وَمَنْ يُؤْمِنْ بِاللَّهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ اللَّهُ لَهُ رِزْقًا ﴾. الطلاق آية ۱۱ .

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ ۝ جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾. البينة آية ۷ ، ۸ .

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ﴾. البروج آية ۱۱ .

Scanned with CamScanner

۱ . په سورة مُطَفِّفِيْن کې الله ﷻ د جنت تذکره کولو نه روستو فرمايي :

﴿ وَفِيْ ذٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او په همدې نعمتونو کې دې رغبت کوونکي رغبت اوکړي .

۲ . بل ځای فرمايي : ﴿ وَسَارِعُوْٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ اُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او تاسو مَنډه کړئ د خپل رب د طرفه مغفرت طرف ته ، او هغه جنت طرف ته چې د هغې پلنوالې د آسمانونو او زمکې برابر دی ، کوم چې د مُتّقيانو د پاره تيار کړې شوې دی .

(يعنی داسې اعمال اوکړئ چې ستاسو د بَخنې او جنت ګټلو ذريعه ګرځي) .

۳ . بل ځای الله تعالی فرمايي : ﴿ وَاللّٰهُ يَدْعُوْٓا اِلٰى دَارِ السَّلٰمِ ﴾ . (۳)

ترجمه : او الله تعالی (تاسو) رابلي کور د سلامتيا (جنت) طرف ته .

## نبي عليه السلام هم خپل اُمت ته د جنت حاصلولو ترغيب ورکړی

نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم خپل اُمت ته وخت په وخت د جنت حاصلولو ترغيب ورکړی .

۱ . د جهاد په يوه موقع يې صحابه کرامو ته اوفرمايل :

قُوْمُوْا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ .

تاسو داسې جنت ته ورپاڅئ چې د هغې پلنوالې د آسمانونو او زمکې برابر دی . (۴)

---

(۱) المطففين آية ۲۶ .

(۲) آل عمران آية ۱۳۳ .

(۳) يونس آية ۲۵ .

(۴) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : اِنْطَلَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى سَبَقُوا الْمُشْرِكِيْنَ إِلَى بَدْرٍ ، وَجَاءَ الْمُشْرِكُوْنَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « قُوْمُوْا إِلَى جَنَّةٍ ←←←←

Scanned with CamScanner

۲. په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا حديثِ قدسي ذکر دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي چې الله تعالی فرمايلي دي:

أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ. (١)

ما د خپلو نېکانو بندګانو د پاره (په جنت کې) داسې نعمتونه تيار کړي دي چې نه خو سترګو ليدلي دي، نه غوږونو اورېدلي دي، او نه د يو انسان په زړه کې د هغې خيالات تېر شوي دي.

**خپلې موضوع ته واپس راتلل**: مخکې ذکر شو چې د جنت حاصلولو د پاره دا ضروري ده چې انسان به نېک اعمال کوي.

نو اوس هر نېک عمل چې د الله تعالی د رَضا د پاره اوشي نو د هغې په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي، خو بيا هم بعضې نېک اعمال داسې دي چې د هغې په باره کې په قرآن کريم او احاديثو مبارکهٔ کې صراحةً ذکر شوي " چې څوک دا عمل اوکړي نو الله تعالی

←←← عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ». قَالَ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ ﷺ: بَخٍ بَخٍ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ: بَخٍ بَخٍ؟ قَالَ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ إِلَّا رَجَاءَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا. قَالَ: «فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا» قَالَ: فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرْنِهِ فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ. ثُمَّ قَالَ: لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي إِنَّهَا الْحَيَاةُ طَوِيلَةٌ. قَالَ: فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ. مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ٣٨١٠ (٢٣)، صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ١٤٥ (١٩٠١)، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم ٥٧٩٧، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٧٩١٥، ورقم ١٨١٩٧، مسند احمد رقم الحديث ١٢٣٩٨.

(١) صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ رقم الحديث ٧٤٩٨.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ. فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ ﴿فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ﴾. صحيح البخاري رقم الحديث ٣٢٤٤ كِتَابُ بَدْءِ الخَلْقِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الجَنَّةِ وَأَنَّهَا مَخْلُوقَةٌ، ورقم الحديث ٤٧٧٩ كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ}. [السجدة: ١٧]. صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا رقم الحديث ٢ (٢٨٢٤)

داسې کس جنت ته داخلوي " ، يا " په داسې کس باندې جنت واجب شي " .

د جنت دا موضوع چونکه ډيره تفصيلي او اوږده ده ؛ ځکه په قرآن کريم او احاديثو کې د جنت د هر نعمت پوره تفصيل ذکر دی ، خو زه به درته نن صرف او صرف هغه نيک اعمال ذکر کړم چې د هغې په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي ، او په قرآن کريم او احاديثو کې هم صراحةً ذکر شوي وي چې د دې عمل په وجه انسان جنت ته داخليږي . ( دا اعمال اګر چې زيات دي خو زه به درته اِن شاء الله د هغې نه څه د پاسه سل ۱۰۰ اعمال ذکر کوم ) . هغه اعمال دادي :

## په اِخلاص باندې د الله ﷻ د وَحدانِيت او د نبي عليه السلام د رِسالت ګواهي ورکولو سره د جنت مستحق کيدل

څوک چې په اِخلاص باندې د الله ﷻ د وَحدانِيت او د نبي عليه السلام د رِسالت ګواهي ورکړي نو دا سړې به جنت ته داخليږي . د دې په باره کې درته يو څو احاديث ذکر کوم :

۱ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ شَهِدَ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصًا مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . (۱)

څوک چې د زړه د اِخلاصه دا ګواهي ورکړي چې " د الله ﷻ نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته " نو دا سړې به جنت ته داخليږي .

۲ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَالَ " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " دَخَلَ الْجَنَّةَ ، وَوَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (۲)

---

(۱) صحيح ابن حبان محققا باب فرض الإيمان ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْجَنَّةَ إِنَّمَا تَجِبُ لِمَنْ شَهِدَ لِلّٰهِ جَلَّ وَعَلَا بِالْوَحْدَانِيَّةِ وَكَانَ ذٰلِكَ عَنْ يَقِينٍ مِنْ قَلْبِهِ رقم الحديث ۲۰۰ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۳ ، معجم ابن الاعرابي رقم الحديث ۳۷۴ ، تخريج الاحاديث المرفوعة المسندة رقم الحديث ۸۳۶ .

(۲) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّوْبَةِ وَالْإِنَابَةِ رقم الحديث ۷۶۳۸ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ . و وافقه الذهبي . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْإِيمَانِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ يَمُوتُ وَهُوَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ رقم الحديث ۲۶۳۸ ، مسند البزار رقم الحديث ۱۰۰۸۰ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۱۵۱ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۲۴۲۶ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۸ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۱۰ .

Scanned with CamScanner

څوک چې " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " اووايي نو دا به جنت ته داخليږي ، او دده د پاره جنت واجب شو .

٣ . په مسلم شريف کې اوږد حديث دی ، د هغې په آخر کې ذکر دي :

حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د أنصارو په يو باغ کې وُ ، ماته يې خپلې څپلۍ راکړې (چې دا زما تصديق وي) ، او راته وې فرمايل :

اِذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ، فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ يَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ .

ته ځان سره زما دا څپلۍ (د تصديق) د پاره ويسه او ته چې دد ې ديوال نه آخوا د هر چا سره ملاؤ شی او دا ګواهي ورکوي " چې د الله ﷻ نه علاوه بل څوک د عبادت لائق نشته " او په دې باندې يې زړه مطمئن وي نو هغه ته د جنت زيرې ورکړه ....

اګرچې بيا حضرت عُمر ﷺ نبي عليه السلام ته اوفرمايل : که تاسو خلقو ته دا زيرې ورکړې نو بيا د ما سره دا يَره ده چې خلق به په دې زيري باندې اعتماد کوي ( او نېک اعمال به نه کوي ) لهذا دوی پرېږدئ چې نېک اعمال اوکړي .

بيا رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل :

فَخَلِّهِمْ . پس دوی پرېږده ( چې نېک اعمال اوکړي ) .(١)

---

(١) پوره حديث داسې دی : قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ ﷺ : كُنَّا قُعُودًا حَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مَعَنَا أَبُوبَكْرٍ، وَعُمَرُ فِي نَفَرٍ، فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَيْنِ أَظْهُرِنَا، فَأَبْطَأَ عَلَيْنَا، وَخَشِينَا أَنْ يُقْتَطَعَ دُونَنَا، وَفَزِعْنَا، فَقُمْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ ، فَخَرَجْتُ أَبْتَغِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَيْتُ حَائِطًا لِلْأَنْصَارِ لِبَنِي النَّجَّارِ ، فَدُرْتُ بِهِ هَلْ أَجِدُ لَهُ بَابًا ؟ فَلَمْ أَجِدْ ، فَإِذَا رَبِيعٌ يَدْخُلُ فِي جَوْفِ حَائِطٍ مِنْ بِئْرٍ خَارِجَةٍ وَالرَّبِيعُ الْجَدْوَلُ فَاحْتَفَزْتُ، فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «أَبُو هُرَيْرَةَ» فَقُلْتُ: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ : « مَا شَأْنُكَ ؟ » قُلْتُ: كُنْتَ بَيْنَ أَظْهُرِنَا، فَقُمْتَ فَأَبْطَأْتَ عَلَيْنَا، فَخَشِينَا أَنْ تُقْتَطَعَ دُونَنَا، فَفَزِعْنَا، فَكُنْتُ أَوَّلَ مَنْ فَزِعَ ، فَأَتَيْتُ هَذَا الْحَائِطَ، فَاحْتَفَزْتُ كَمَا يَحْتَفِزُ الثَّعْلَبُ، وَهَؤُلَاءِ النَّاسُ وَرَائِي ، فَقَالَ: «يَا أَبَا هُرَيْرَةَ» وَأَعْطَانِي نَعْلَيْهِ، قَالَ: «اِذْهَبْ بِنَعْلَيَّ هَاتَيْنِ، فَمَنْ لَقِيتَ مِنْ وَرَاءِ هَذَا الْحَائِطِ ←←←←

٤. د بخاري شريف حديث په آخر کې دي :

... أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ .

که ده هر څنګه عمل کړې وي خو آخر به هم الله تعالی دا کس جنت ته داخل کړي .(١)

## په الله او رسول باندې اِيمان راوړلو ، مونځ کولو ، او روژې نيولو سره جنت واجب کيدل

د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَبِرَسُولِهِ ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ ...

---

←←← يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، فَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ » . فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيتُ عُمَرُ ﷺ، فَقَالَ: مَا هَاتَانِ النَّعْلَانِ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ فَقُلْتُ: هَاتَانِ نَعْلَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَعَثَنِي بِهِمَا مَنْ لَقِيتُ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ، بَشَّرْتُهُ بِالْجَنَّةِ، فَضَرَبَ عُمَرُ بِيَدِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ فَخَرَرْتُ لِاسْتِي، فَقَالَ: ارْجِعْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ، فَرَجَعْتُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَجْهَشْتُ بُكَاءً، وَرَكِبَنِي عُمَرُ، فَإِذَا هُوَ عَلَى أَثَرِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَا لَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ؟ » قُلْتُ : لَقِيتُ عُمَرَ ﷺ، فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي بَعَثْتَنِي بِهِ، فَضَرَبَ بَيْنَ ثَدْيَيَّ ضَرْبَةً خَرَرْتُ لِاسْتِي، قَالَ: ارْجِعْ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَا عُمَرُ! مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا فَعَلْتَ؟ » قَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ! بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي، أَبَعَثْتَ أَبَا هُرَيْرَةَ بِنَعْلَيْكَ، مَنْ لَقِيَ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُسْتَيْقِنًا بِهَا قَلْبُهُ بَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ؟ قَالَ: « نَعَمْ »، قَالَ: فَلَا تَفْعَلْ، فَإِنِّي أَخْشَى أَنْ يَتَّكِلَ النَّاسُ عَلَيْهَا، فَخَلِّهِمْ يَعْمَلُونَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « فَخَلِّهِمْ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَنْ لَقِيَ اللهَ بِالْإِيمَانِ وَهُوَ غَيْرُ شَاكٍّ فِيهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَحُرِّمَ عَلَى النَّارِ رقم الحديث ٥٢(٣١) . صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ٤٥٤٣ .

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ عُبَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنَّ عِيسَى عَبْدُ اللهِ وَرَسُولُهُ، وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ، وَالْجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ عَلَى مَا كَانَ مِنَ الْعَمَلِ» مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ أَيُّهَا شَاءَ . صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الْأَنْبِيَاءِ بَابُ قَوْلِهِ: {يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ} رقم الحديث ٣٤٣٥ .

Scanned with CamScanner

څوک چې په الله ﷻ او د هغه په رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ايمان راوړي ، مونځ په پابندۍ سره کوي ، او د رمضان روژې نيسي نو د الله ﷻ وعده ده چې داسې کس به جنت ته داخلوي.... (۱)

## څوک چې په الله ، رسول ، او اسلام باندې راضي شو نو دده د پاره جنت واجب شو

۱ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت ابوسعيد خُدري ﷺ فرمايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ( ماته ) او فرمايل :

يَا أَبَا سَعِيدٍ ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ .

اې ابوسعيد ! څوک چې د الله ﷻ په رَب کيدو ، اسلام ( دده د پاره ) دِين کيدو ، او محمد ﷺ رسول کيدو باندې راضي شو ( يعنی په زړه سره يې دا ټول اُومنل ) نو دده د پاره جنت واجب شو .... (۲)

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَبِرَسُولِهِ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، جَاهَدَ فِي سَبِيلِ اللهِ أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا »، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَفَلَا نُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ، أَعَدَّهَا اللهُ لِلْمُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَاسْأَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ، فَإِنَّهُ أَوْسَطُ الْجَنَّةِ وَأَعْلَى الْجَنَّةِ - أُرَاهُ - فَوْقَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهُ تَفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ المُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۲۷۹۰ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَرَسُولِهِ، وَأَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَامَ رَمَضَانَ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، هَاجَرَ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ جَلَسَ فِي أَرْضِهِ الَّتِي وُلِدَ فِيهَا ... صحيح البخاري رقم ۷۴۲۳ كِتَابُ التَّوْحِيدِ.

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « يَا أَبَا سَعِيدٍ ! مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ »، فَعَجِبَ لَهَا أَبُو سَعِيدٍ ﷺ ، فَقَالَ: أَعِدْهَا عَلَيَّ يَا رَسُولَ اللهِ، فَفَعَلَ، ثُمَّ قَالَ: « وَأُخْرَى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ ←←←← ←←←←

۳ . په ابوداؤد شريف کې دا حديث داسې ذکر دی : رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : چا چې دا وويل :

رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا ، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا ، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا .

زه په دې باندې راضي يم چې الله تعالی زما رَب دی ، اسلام زما دِين دی ، او محمد ﷺ زما رسول دی .

وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . نو دده د پاره جنت واجب شو . (۱)

## د شِرک نه ځان ساتلو سره د جنت مستحق كيدل

څوک چې د الله ﷻ سره په ذات او صفاتو کې بل څوک شريک جوړ نکړي او په همدې حالت باندې وفات شي نو داسې کس به جنت ته داخليږي .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم حضرت معاذ رضي الله عنه ته اوفرمايل :

مَنْ لَقِيَ اللهَ لَا يُشْرِكُ بِهٖ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ .

څوک چې د الله ﷻ سره په داسې حالت کې ملاقات اوکړي چې ده د هغه سره څوک

---

←←←. كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ »، قَالَ: وَمَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ بَيَانِ مَا أَعَدَّهُ اللهُ تَعَالَى لِلْمُجَاهِدِ فِي الْجَنَّةِ مِنَ الدَّرَجَاتِ رقم الحديث ۱۱۶ (۱۸۸۴) ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۵۱ (۶۴) ، سنن النسائي رقم الحديث ۳۱۳۱ درجة المجاهد في سبيل الله عز وجلّ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۲ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۴۶۱ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۴۹۳ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۵۳ ، شرح السنّة للبغوي رقم ۲۶۱۱ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۸۱ .

(۱) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : مَنْ قَالَ : رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا. وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . سنن ابي داؤد بَابٌ فِي الْإِسْتِغْفَارِ رقم الحديث ۱۵۲۹ قال الالباني : صحيح. صحيح ابن حبان رقم الحديث ۸۶۳ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الدُّعَاءِ، وَالتَّكْبِيْرِ، وَالتَّهْلِيْلِ، وَالتَّسْبِيْحِ وَالذِّكْرِ رقم الحديث ۱۹۰۴ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ.

Scanned with CamScanner

شریک نه وي جوړ کړی نو دا کس به یقیني جنت ته داخلیږي.

حضرت معاذ ﷺ ورته اوفرمایل: اې د الله رسوله! آیا زه خلقو ته ددې خوشخبري ورکړم؟ نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

لَا، إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَّكِلُوا.

نه، ځکه (که ته خلقو ته ددې خبر ورکړې نو) زه ویریږم چې دوی به د الله ﷻ په مهربانۍ اعتماد اوکړي (او نیک اعمال به نه کوي). (١)

البته حضرت معاذ ﷺ د وفات کیدو په وخت ددې حدیث خبر ورکړو؛ ددې د پاره چې د

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، قَالَ: ذُكِرَ لِي أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ: «مَنْ لَقِيَ اللهَ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ»، قَالَ: أَلَا أُبَشِّرُ النَّاسَ؟ قَالَ: «لَا إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَتَّكِلُوا». صحيح البخاري كِتَابُ الْعِلْمِ بَابُ مَنْ خَصَّ بِالْعِلْمِ قَوْمًا دُونَ قَوْمٍ، كَرَاهِيَةَ أَنْ لَا يَفْهَمُوا رقم الحديث ١٢٩، ورقم الحديث ١٢٣٨ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْجَنَائِزِ، وَمَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ مَاتَ مُشْرِكًا دَخَلَ النَّارَ رقم الحديث ١٥٠(٩٢)، ورقم الحديث ١٥٢(٩٣).

وفي رواية: عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَانِي آتٍ مِنْ رَبِّي، فَأَخْبَرَنِي - أَوْ قَالَ: بَشَّرَنِي - أَنَّهُ: مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ" قُلْتُ: وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ قَالَ: «وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ». صحيح البخاري كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْجَنَائِزِ، وَمَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رقم الحديث ١٢٣٨. ورقم ٧٤٨٧ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ كَلَامِ الرَّبِّ مَعَ جِبْرِيلَ، وَنِدَاءِ اللهِ المَلَائِكَةَ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ مَاتَ مُشْرِكًا دَخَلَ النَّارَ رقم الحديث ١٥٣(٩٤). ورقم الحديث ٣٣(٩٤).

(قَالَ: إِذًا يَتَّكِلُوا) إِذَنْ حَرْفُ جَوَابٍ وَجَزَاءٍ، وَقَدْ يُسْتَعْمَلُ لِمَحْضِ الْجَوَابِ كَمَا هُنَا. أَيْ لَا تُخْبِرْهُمْ بِذَلِكَ، لِأَنَّكَ إِنْ أَخْبَرْتَهُمْ وَبِهَذِهِ الْبِشَارَةِ بَشَّرْتَهُمْ يَعْتَمِدُوا عَلَى أَلْطَافِ الرُّبُوبِيَّةِ، وَيَتْرُكُوا حَقَّ الْعُبُودِيَّةِ فَيَنْجَرُّوا إِلَى نُقْصَانِ دَرَجَاتِهِمْ، وَتَنَزُّلُ حَالَاتِهِمْ. وَهَذَا حُكْمُ الْأَغْلَبِ مِنَ الْعَوَامِّ، وَإِلَّا فَالْخَوَاصُّ كُلَّمَا بُشِّرُوا زَادُوا فِي الْعِبَادَةِ كَمَا وَقَعَ لِلْعَشَرَةِ الْمُبَشَّرَةِ وَغَيْرِهِمْ. وَلِذَا قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ لَهُ: «أَتَقُومُ فِي اللَّيْلِ حَتَّى تَتَوَرَّمَ قَدَمَاكَ وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا)». مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج١ ص ٩٩ كِتَابُ الْإِيمَانِ.

Scanned with CamScanner

عِلم پټولو په گناه کې راننښي ( لکه دا خبره د بخاري شريف او مسلم شريف په نورو احاديثو کې شته ) .

## د الله او رسول د اِطاعت په وجه جنت ته داخليدل

څوک چې د الله ﷻ او رسول ﷺ اطاعت کوي نو داسې کس به جنت ته داخليږي .

١ . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ وَمَنْ يَتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾.(١)

ترجمه : او څوک چې د الله او د هغه د رسول اِطاعت اوکړي ( يعنی د دوی خبره اُومني ) نو الله تعالى به دا داسې جنّتونو ( باغونو ) ته داخل کړي چې د هغې ( د اُونو ) لاندې به نهرونه بهيږي ، او څوک چې ترې مخ واړوي نو ده ته به دَردناک عذاب ورکړي .

٢ . د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمايل :

كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى .

زما هريو اُمتي به جنت ته داخليږي مگر ( هغه کس به جنت ته نه داخليږي ) چا چې اِنکار اوکړو .

صحابه کرامو پوښتنه اوکړه : يَا رَسُولَ اللهِ ! وَمَنْ يَأْبَى ؟

اې د الله رسوله ! انکار به څوک کوي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى .

چا چې زما تابعداري اوکړه نو هغه به جنت ته داخل شي ، او چا چې زما نافرماني اوکړه نو هغه اِنکار او سرکشي وکړه ( يعنی چا چې زما اِطاعت اُو نه کړو نو هغه سرکشي او اِنکار کوونکې دی ، د جنت مستحق نه دی ، بلکه دا به د دې خپل اِنکار او نافرمانۍ په وجه د الله

(١) الفتح آية ١٧ .

ﷻ د عذاب او جهنم مستحق اوکرځي) . (۱)

۳ . د ترمذي شريف حديث دى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا وَعَمِلَ فِي سُنَّةٍ وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ .

چا چې حلال رِزق اوخوړو ، په سُنت طريقه يې عمل اوکړو ، او دده د ضَرر نه خلق په اَمن کې شو نو دا به جنت ته داخل شي . (۲)

٤ . رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ تَمَسَّكَ بِالسُّنَّةِ دَخَلَ الْجَنَّةَ .

څوک چې ( زما ) سُنت مضبوط اونيسي ( يعنى عمل پرې اوکړي ) نو دا به جنت ته داخل شي . (۳)

## د نبي عليه السلام د اِتباع او اِطاعت په وجه په جنت کې د هغوی سره ملګرتيا

څوک چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ اِتباع کوي نو دا کس به په جنت کې د نبي عليه السلام ملګرې وي ، او دا دانسان د پاره ډير لوي سعادت او عظيم نعمت دى .

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: « كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى » ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ ! وَمَنْ يَأْبَى ؟ قَالَ : « مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى » . صحيح البخاري كِتَابُ الاِعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ بَابُ الاِقْتِدَاءِ بِسُنَنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۷۲۸۰ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ وُجُوبِ طَاعَةِ الأُمَرَاءِ فِي غَيْرِ مَعْصِيَةٍ، وَتَحْرِيمِهَا فِي الْمَعْصِيَةِ رقم الحديث ۳۲ (۱۸۳۵) .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالرَّقَائِقِ وَالْوَرَعِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ٦٠ رقم الحديث ۲۵۲۰ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الأَطْعِمَةِ رقم الحديث ۷۰۷۳ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . ووافقه الذهبي . مشكاة المصابيح باب الاعتصام بالكتاب والسنة الفصل الثاني حديث ۳۷ .

(۳) كنزالعمال الكتاب الأول من حرف الهمزة: في الإيمان والإسلام من قسم الأقوال الباب الثاني: في الاعتصام بالكتاب والسنة رقم الحديث ۹۳۵ . و رقم الحديث ۳۲۷۰۵ الفصل الثاني: في فضائل الخلفاء الأربعة رضوان الله تعالى أجمعين فضل أبو بكر الصديق رضي الله عنه . الفتح الكبير في ضم الزيادة إلى الجامع الصغير حرف الميم رقم الحديث ۱۱۶۴۰ .

Scanned with CamScanner

١ . الله رب العزت فرمايي :

﴿ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ﴾ . (١)

ترجمه : او څوک چې د الله او د رسول حکم اُومني نو دوی به ( په جنت کې ) د هغه خلقو سره وي په چا باندې چې الله ﷻ انعام کړې دی چې هغه پيغمبران ، صديقين ، شهداء او صالحين دي ، او دا خلق ډير ښه دي په ملګرتيا کې ( يعنی دا خلق ډير ښه ملګري دي ) .

٢ . نبي عليه السلام حضرت انس ﷺ ته څه نصيحت اوکړو ، د هغې په آخر کې يې ورته دا هم اوفرمايل :

يَا بُنَيَّ ! وَذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِيْ ، وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِيْ فَقَدْ أَحَبَّنِيْ ، وَمَنْ أَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيْ فِي الْجَنَّةِ .

اې زما بچيه ! دا زما سُنت دي ، او چا چې زما سُنت ژوندي کړل نو هغه د ما سره محبت اوکړو ، او چا چې د ما سره محبت اوکړو نو هغه به په جنت کې د ما سره وي . (٢)

پيغمبر عليه السلام خو تر قيامته پورې خلق اسلام طرف ته رابللي ، اوس چې څوک دا قبول کړي او د دوی اِتباع اوکړي نو ضرور به جنت ته داخليږي . (٣)

---

(١) النساء آية ٦٩ .

(٢) قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ ﷺ . قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا بُنَيَّ ! إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ لَيْسَ فِيْ قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ . ثُمَّ قَالَ لِيْ : يَا بُنَيَّ ! وَذٰلِكَ مِنْ سُنَّتِيْ ، وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِيْ فَقَدْ أَحَبَّنِيْ ، وَمَنْ أَحَبَّنِيْ كَانَ مَعِيْ فِي الْجَنَّةِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْعِلْمِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَخْذِ بِالسُّنَّةِ وَاجْتِنَابِ الْبِدَعِ رقم الحديث ٢٦٧٨ وقال الترمذي : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٧٥ (٣٦) ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٢٧٠ ، كنز العمال رقم الحديث ٩٣٣ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٩٤٣٩ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ٢٥٤ .

نوټ : دا حديث اګر چې ضعيف دی ، خو په ضعيف حديث کې چې خپل شرائط برابر وي نو په فضائلو کې معتبر وي . ابو الشمس علي عنه

(٣) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ الْأَنْصَارِيِّ ، قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ : ←←←

Scanned with CamScanner

# د عِلم زده کړه پسې وتونکي کس د پاره د جنت خوشخبري

**١ .** د مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

... وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ.

څوک چې د علم په طلب کې په یوه لاره باندې ځي نو الله تعالی به ده ته ددې په عوض کې د جنت لاره آسانه کړي . (١)

**٢ .** په یو بل حدیث کې دي ، نبي علیه السلام فرمایي :

مَنْ غَدَا يُرِيدُ الْعِلْمَ يَتَعَلَّمُهُ لِلّٰهِ فَتَحَ اللهُ لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ . (٢)

څوک چې د علم د زده کړې په اراده باندې اُووځي او خالص د الله ﷻ د رضا د پاره یې

---

←←← إِنِّي رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ جِبْرِيلَ عِنْدَ رَأْسِي وَمِيكَائِيلَ عِنْدَ رِجْلَيَّ يَقُولُ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ : اِضْرِبْ لَهُ مَثَلًا ، فَقَالَ : اِسْمَعْ سَمِعَتْ أُذُنُكَ وَاعْقِلْ عَقَلَ قَلْبُكَ ، إِنَّمَا مَثَلُكَ وَمَثَلُ أُمَّتِكَ كَمَثَلِ مَلِكٍ اِتَّخَذَ دَارًا ، ثُمَّ بَنَى فِيهَا بَيْتًا ، ثُمَّ جَعَلَ فِيهَا مَائِدَةً ، ثُمَّ بَعَثَ رَسُولًا يَدْعُوا النَّاسَ إِلَى طَعَامِهِ ، فَمِنْهُمْ مَنْ أَجَابَ الرَّسُولَ وَمِنْهُمْ مَنْ تَرَكَهُ . فَاللهُ هُوَ الْمَلِكُ وَالدَّارُ الْإِسْلَامُ وَالْبَيْتُ الْجَنَّةُ وَأَنْتَ يَا مُحَمَّدُ رَسُولٌ ، فَمَنْ أَجَابَكَ دَخَلَ الْإِسْلَامَ وَمَنْ دَخَلَ الْإِسْلَامَ دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ أَكَلَ مَا فِيهَا . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْأَمْثَالِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي مَثَلِ اللهِ لِعِبَادِهِ رقم الحديث ٢٨٦٠ ، المستدرک علی الصحیحین رقم الحدیث ٣٢٩٩ ، و رقم الحدیث ٨١٨٨ ، وهکذا رواه البخاري کتاب الاعتصام بالکتاب والسنّة ( ٧٢٨١ ) .

(١) صحیح مسلم كِتَابُ الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ فَضْلِ الِاجْتِمَاعِ عَلَى تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَعَلَى الذِّكْرِ رقم الحدیث ٣٨ (٢٦٩٩) . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ٧٤٢٧ ، سنن الترمذي رقم الحدیث ٢٩٤٥ ، مشکاة المصابیح رقم الحدیث ٢٠٤ (٧) ، سنن ابن ماجة رقم الحدیث ٢٢٥ .

(٢) پوره حدیث داسې دی ؛ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضی الله عنه قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : مَنْ غَدَا يُرِيدُ الْعِلْمَ يَتَعَلَّمُهُ لِلّٰهِ فَتَحَ اللهُ لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ، وَفَرَشَتْ لَهُ الْمَلَائِكَةُ أَكْنَافَهَا، وَصَلَّتْ عَلَيْهِ مَلَائِكَةُ السَّمَوَاتِ وَحِيتَانُ الْبَحْرِ. وَلِلْعَالِمِ مِنَ الْفَضْلِ عَلَى الْعَابِدِ كَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ عَلَى أَصْغَرِ كَوْكَبٍ فِي السَّمَاءِ . شعب الایمان فصل في فضل العلم وشرف مقداره رقم الحدیث ١٥٧٦ ، الترغیب والترهیب للمنذري رقم الحدیث ١٣٩ ، کنز العمال رقم الحدیث ٢٨٨٥٨ .

حاصلوي نو الله ﷻ به ده ته د جنت دروازه کلاوْ کړي.

۳. په يو حديث کې دي، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

مَا مِنْ رَجُلٍ يَعْلَمُ كَلِمَةً أَوْ كَلِمَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا مِمَّا فَرَضَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَتَعَلَّمُهُنَّ وَيُعَلِّمُهُنَّ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ.

څوک چې د الله تعالی د فرائضو نه يوه خبره، يا دوه، يا درې، يا څلور، يا پنځه خبرې زده کړي، او بيا يې بل ته هم اوښايي نو دا کس به ضرور جنت ته داخليږي. (١)

## په دِين باندې اِستقامت لرونکو خلقو د پاره د جنت زيرې

څوک چې د اِيمان نه روستو په خپل دِين باندې استقامت اختيار کړي او ټينګ پاتې شي نو دداسې کس د پاره الله تعالی په قرآن کريم کې د جنت خوشخبري اورولی. فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ ۝ نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ۝ نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ ﴾. (٢)

ترجمه: بيشکه کومو خلقو چې دا اِقرار اوکړو چې زمونږ رب يو الله دی او بيا په دې باندې ټينګ پاتې شو نو په هغوی به (د رحمت) فرښتې (اول د مرګ په وخت، بيا په قبر کې او بيا په قيامت کې) راکوزيږي، او ورته وايي به: تاسو مه ويريږئ، او مه غمجن کيږئ، او د هغه جنت زيرې واورئ د کوم چې تاسو سره وعده شوې وه، مونږ (فرښتې) په دُنيا کې هم ستاسو دوستان وو، او په آخرت کې به هم يو، او چې څه (لذتونه او عزتونه) مو

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ رَجُلٍ يَعْلَمُ كَلِمَةً أَوْ كَلِمَتَيْنِ أَوْ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا مِمَّا فَرَضَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فَيَتَعَلَّمُهُنَّ وَيُعَلِّمُهُنَّ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ» قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: فَمَا نَسِيتُ حَدِيثًا بَعْدَ إِذْ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج٢ ص ١٥٩. كنز العمال كتاب العلم من قسم الأقوال الباب الأول: في الترغيب فيه رقم الحديث ٢٨٨٥٨. الترغيب والترهيب ج١ ص ٥٤ كتاب العلم الترغيب في العلم وطلبه وتعلمه وتعليمه.

(٢) فصلت (حم السجدة) آية ٣٠ تا ٣٢.

زړه غواړي هغه به درته په جنت کې حاضر وي ، او ستاسو د پاره به په جنت کې هر هغه څه موجود وي چې تاسو يې غواړئ ، دا (نعمتونه وغيره ستاسو د پاره) د بښونکي او مهربان رب د طرف نه ميلمستيا ده .

**د استقامت تشريح**: په دې آيت کې دا ذکر شو چې څوک په دِين باندې استقامت اوکړي نو داسې کس به جنت ته داخليږي .

اوس د صحابه کرامو رضي الله عنهم ، او تابعينو نه د استقامت ډيرې معناګانې نقل شوي :

حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د استقامت معنٰى دا کړې چې : دا کس د الله جل جلاله سره بل څوک شريک جوړ نکړي او په دې وَحدانيت باندې ټينګ پاتې شي .

حضرت عمر رضي الله عنه د استقامت معنٰى دا کړې چې دا انسان د الله تعالٰى اَوامِر او نواهي پوره اداء کوي .

حضرت عثمان رضي الله عنه د استقامت معنٰى دا کړې چې هر عمل خالصه د الله جل جلاله د رَضا د پاره کوي .

حَضرت علي رضي الله عنه د استقامت معنٰى دا کړې چې فرائض پوره اداء کوي .

د دينه علاوه د نورو صحابه کرامو او تابعينو نه هم د استقامت مختلفې معناګانې را نقل شوي او ټولې په دې ځای کې صحيح کيږي . (۱)

---

(۱) په تفسير بغوي کې د استقامت تشريح داسې ذکر ده : قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا ﴾ . سُئِلَ أَبُوْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقُ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنِ الْإِسْتِقَامَةِ فَقَالَ: أَنْ لَا تُشْرِكَ بِاللهِ شَيْئًا. وَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: اَلْإِسْتِقَامَةُ أَنْ تَسْتَقِيْمَ عَلَى الْأَمْرِ وَالنَّهْيِ، وَلَا تَرُوْغَ رَوَغَانَ الثَّعْلَبِ. وَقَالَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَخْلِصُوا الْعَمَلَ لِلّٰهِ. وَقَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَدُّوا الْفَرَائِضَ. وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : اِسْتَقَامُوا عَلَى أَدَاءِ الْفَرَائِضِ. وَقَالَ الْحَسَنُ: اِسْتَقَامُوْا عَلَى أَمْرِ اللهِ تَعَالَى فَعَمِلُوْا بِطَاعَتِهٖ وَاجْتَنَبُوْا مَعْصِيَتَهٗ. وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَعِكْرِمَةُ : اِسْتَقَامُوْا عَلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ حَتّٰى لَحِقُوْا بِاللهِ. وَقَالَ مُقَاتِلٌ: اِسْتَقَامُوْا عَلَى الْمَعْرِفَةِ وَلَمْ يَرْتَدُّوْا. وَقَالَ قَتَادَةُ: كَانَ الْحَسَنُ إِذَا تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ قَالَ: اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبُّنَا فَارْزُقْنَا الْإِسْتِقَامَةَ. ←←←←

Scanned with CamScanner

# د تقوٰی په وجه د جنت مستحق کیدل

د تقوٰی په وجه انسان د جنت مستحق گرځي، په قرآن کریم کې ځای په ځای د مُتّقیانو د پاره دجنت وعده شوی ، یو څو آیتونه درته رانقل کوم :

۱. الله تعالی فرمایي :

﴿ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴾.(۱)

ترجمه : دا هغه جنت دی چې ددې وارثان به مونږ په خپلو بندگانو کې هغه خلق جوړوو چې کوم متّقیان (پرهیزگار) دي.

۲. ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۝ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ آمِنِينَ ﴾.(۲)

ترجمه : بیشکه مُتّقیان (پرهیزگاران) به په باغونو او چینو کې وي ، (دوی ته به وویلې شي چې) تاسو دیته په سلامتیا او امن سره داخل شئ .

---

←←← قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ ﴾ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: عِنْدَ الْمَوْتِ. وَقَالَ قَتَادَةُ وَمُقَاتِلٌ: إِذَا قَامُوا مِنْ قُبُورِهِمْ. قَالَ وَكِيعُ بْنُ الْجَرَّاحِ: اَلْبُشْرَى تَكُونُ فِي ثَلَاثِ مَوَاطِنَ: عِنْدَ الْمَوْتِ وَفِي الْقَبْرِ وَعِنْدَ الْبَعْثِ . تفسير البغوي ج۴ ص۱۳۲ سورة فصلت آية ۳۰ .

په تفسیر زاد المسیر کې د استقامت تشریح داسې ذکر ده : ﴿ ثُمَّ اسْتَقَامُوا ﴾: فِيهِ ثَلَاثَةُ أَقْوَالٍ: أَحَدُهَا: اِسْتَقَامُوا عَلَى التَّوْحِيدِ. قاله ابوبكر الصديق ومجاهد . وَالثَّانِي: عَلَى طَاعَةِ اللهِ ، وَأَدَاءِ فَرَائِضِهِ . قاله ابن عباس والحسن وقتادة. وَالثَّالِثُ: عَلَى الْإِخْلَاصِ وَالْعَمَلِ إِلَى الْمَوْتِ. قاله ابو العالية والسدي .

﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ ﴾: وَفِي وَقْتِ نُزُولِهَا عَلَيْهِمْ قَوْلَانِ : أَحَدُهُمَا : عِنْدَ الْمَوْتِ . قاله ابن عباس ومجاهد. اَلثَّانِي: تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمْ إِذَا قَامُوا مِنَ الْقُبُورِ. قاله قتادة . زاد المسير في علم التفسير ج۴ ص ۵۱ سورة حم السجدة آيت ۳۰ .

(۱) سورة مريم آية ۶۳ .

(۲) الحجر آية ۴۵ تا ۴۶ .

همداسې مضمون په یو بل آیت کې هم ذکر دی : ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَعِيمٍ ۝ فَاكِهِينَ بِمَا آتَاهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَاهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ۝ كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾. الطور آية ۱۷ تا ۱۹ .

Scanned with CamScanner

٣ . ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ﴾.(١)

ترجمه: بيشکه د متّقيانو د پاره د خپل رب سره جنّتونه د نعمت دي.

٤ . ﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ۝ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ۝ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ۝ وَكَأْسًا دِهَاقًا ۝ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ۝ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً حِسَابًا﴾.(٢)

ترجمه: بيشکه د متّقيانو د پاره کاميابي ده، (د دوی د پاره به) باغيچې، انګور، پيغلې همزولې جينکۍ، او د جنّتي شرابو ډک جامونه وي، دوی به په دې (جنت) کې عبث خبرې او دروغ نه اوري، دا ستا د رب د طرفه بدله ده چې په حساب (يعنی پوره پوره) به درکولې شي.

٥ . ﴿وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ ۝ جَنَّٰتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ ٱلْأَبْوَٰبُ ۝ مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ۝ وَعِندَهُمْ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ أَتْرَابٌ﴾.(٣)

ترجمه: بيشکه د متّقيانو د پاره ښه ځای د ورتللو دی چې هغه جنتونه (باغونه) د هميشه اُوسيدلو دي، دوی ته به د هغې دَروازې پرانستلې شوي وي، دوی به په دې کې تکيه وهلي وي ډيرې ميوې او شراب به راغواړي، او د دوی سره به داسې همزولې ښځې وي چې د حياء د وجې به خپل نظرونه ښکته ساتونکي وي (يعنی د خپل خاوند نه علاوه به يې په بل چا نظر نه وي لېدلی)، دا هغه نِعمتونه دي چې د تاسو سره يې د حساب د ورځې د پاره ددې وعده کولې شي.

٦ . ﴿إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِى ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ۝ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ۝ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ﴾.(٤)

---

(١) القلم آية ٣٤.
(٢) النبأ آية ٣١ تا ٣٦.
(٣) ص آية ٤٩ تا ٥٢.
(٤) المرسلات آية ٤١ تا ٤٤.

Scanned with CamScanner

ترجمه : بيشکه مُتّقيان به (د جنت د اُونو) په سيورو او چينو کې وي ، او په هغه ميوو کې به وي کومې چې دوی غواړي ، (دوی ته به وويلې شي :) تاسو ښه په مزې (او فراخه طريقې) سره خورئ او سکئ ، دا د هغه ښه عملونو په بدله کې دي کوم چې تاسو (په دُنيا کې) کول .

ددينه علاوه په نورو آيتونو کې هم د متّقيانو د پاره د جنت او د جنت د نعِمتونو وعده شوی . (١)

---

(١) ﴿ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي مَقَامٍ أَمِينٍ ۝ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ۝ يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ ۝ كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ۝ يَدْعُونَ فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ۝ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ ۖ وَوَقَاهُمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ﴾ الدخان آية ٥١ تا ٥٦ .

ترجمه : بيشکه متّقيان (پرهيزګاران) به د اَمن په ځای کې (دېره) وي ، په باغونو او چينو کې به وي ، دوی به د نري او غټو وريښمو کپړې اغوندي ، يو بل ته به مخامخ ناست وي ، دا خبره همداسې (يقيني) ده ، او مونږ به دوی ته د غټو سترګو واله (ښائسته) حُورې ورکړو ، دوی به په دې (جنت) کې هر قِسمه ميوې په اطمينان سره راغواړي ، دوی به د ړومبي مرګ نه علاوه د بل مرګ مزه نه څکي (يعنی د دُنيا د تير شوي مرګ نه علاوه به دوی ته بل مرګ نه راځي) ، او الله تعالى به دوی د جهنم د عذاب نه اُوساتي .

﴿ مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ أُكُلُهَا دَائِمٌ وَظِلُّهَا ۚ تِلْكَ عُقْبَى الَّذِينَ اتَّقَوا ۖ وَّعُقْبَى الْكَافِرِينَ النَّارُ ﴾ . الرعد آية ٣٥ .

ترجمه : مثال د هغه جنت چې د مُتّقيانو سره د هغې وعده شوی (د هغې کيفيت دادی) چې د هغې (د اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي ، د هغې ميوې او د هغې سيورې به هميشه وي ، دا انجام د هغه خلقو دی کوم چې مُتّقيان (پرهيزګار) دي ، او د کافرانو اَنجام (د جهنم) اُور دی .

الله تعالى د جنت د نهرونو بيان هم پخپله کړی :

﴿ مَّثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۖ فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۖ وَلَهُمْ فِيهَا مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ ﴾ . سورة محمد آية ١٥ .

ترجمه : مثال د هغه جنت چې د مُتّقيانو سره د هغې وعده شوی (د هغې بيان دادی چې) په دې کې به د داسې (تازه) اُوبو نهرونه وي چې خرابې (مُتغيّرې) به نه وي ، او د داسې شودو نهرونه به وي چې د هغې خوَند به نه وي بدل شوی ، او د داسې شرابو نهرونه به وي چې څکونکو ته به خوَند ورکوونکي وي ، او د داسې شهدو نهرونه به وي چې صاف کړې شوي به وي ، او د دوی د پاره به په دې جنت کې هر قِسمه ميوې او د خپل رب د طرفه بخَنه وي .

Scanned with CamScanner

# جنت ته ډیر بوتلونکې څيز " تقوی او خوش اخلاقي " ده

١. حضرت ابوهريرة ﷺ فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه اوشوه :

مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ ؟

هغه کوم څيز دی چې هغه عام طور انسان جنت ته داخلوي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

تَقْوَى اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ . د الله ﷻ نه يَره او ښائسته اخلاق .... (١)

٢. د ترمذي شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د حَجّة الوَداع په موقع په خُطبه کې اوفرمايل :

اِتَّقُوا اللهَ رَبَّكُمْ ، وَصَلُّوا خَمْسَكُمْ ، وَصُومُوا شَهْرَكُمْ ، وَأَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ ، وَأَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُمْ . (٢)

تاسو د الله ﷻ نه اُووېرېږئ کوم چې ستاسو رب دی ، خپل پنځه وخته مونځ کوئ ، د رمضان روژې نيسئ ، د خپلو مالونو زکوة ورکوئ ، دخپل امير اِطاعت کوئ نو تاسو به د

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ : سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ: « تَقْوَى اللهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ » . قَالَ : وَمَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّارَ ؟ قَالَ : "الْأَجْوَفَانِ : الْفَمُ وَالْفَرْجُ " . الادب المفرد مخرجا للبخاري رقم الحديث ٢٩٤ بَابُ حُسْنِ الْخُلُقِ إِذَا فَقِهُوا .

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ، فَقَالَ: « تَقْوَى اللهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ »، وَسُئِلَ عَنْ أَكْثَرِ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ، فَقَالَ: « الْفَمُ وَالْفَرْجُ » . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ بَابُ مَا جَاءَ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ رقم الحديث ٢٠٠٤ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٢٤٦ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٤٨٣٢ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٩١٩ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. و وافقه الذهبي. شعب الايمان رقم الحديث ٥٠٢٥ .

(٢) سنن الترمذي بَابُ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ باب ٤٣٣ رقم الحديث ٦١٦ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. شرح السنّة للبغوي ج١ ص٢٣ رقم الحديث ١٠ .

Scanned with CamScanner

خپل رَب جنت ته داخل شيْ.

## خوش اخلاقه کس د پاره نبي ﷺ په اعلى جنت کې د کور ضمانت کړی

د چا اَخلاق چې ښه وي نو دداسې کس د پاره نبي عليه السلام د جنت په مينځ کې د کور ضمانت کړی، د ابوداؤد شريف حديث دی، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا، وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ.

زه د هغه کس د پاره د جنت په اَطرافو کې د کور ضامِن يم چې هغه په حق باندې د کيدلو باوجود جګړه پريږدي، او دهغه چا د پاره د جنت په مينځ کې د کور ضامِن يم چې هغه په توقو کې هم دروغ پريږدي، او د هغه چا د پاره په اعلى جنت کې د کور ضامِن يم چې هغه خپل اخلاق ښائسته کړي. (١)

## په خوش اخلاقۍ خبرو کولو سره جنت واجب کيدل

يو صحابي د نبي عليه السلام نه پوښتنه اوکړه:

يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَخْبِرْنِيْ بِشَيْءٍ يُوْجِبُ الْجَنَّةَ.

اې د الله رسوله! ماته د داسې څيز په باره کې خبر راکړه چې هغه د انسان د پاره جنت واجبوي.

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: عَلَيْكَ بِحُسْنِ الْكَلَامِ، وَبَذْلِ الطَّعَامِ.

د خلقو سره په ښه طريقه خبرې کوه، او په فقيرانو باندې خوراک کوه. (٢)

(١) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ رقم الحديث ٤٨٠٠ قال الالباني: حسنٌ. المعجم الاوسط رقم الحديث ٨٧٨، و رقم الحديث ٤٦٩٣، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٤٨٨، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١١٧٦، شعب الايمان فصلٌ فى المزاح، و رقم الحديث ٧٦٥٣، مجمع الزوائد رقم الحديث ٧٠٧، كنزالعمال رقم الحديث ٨٢٩٩، و رقم الحديث ٨٣٠٨.

(٢) عَنْ هَانِئِ بْنِ يَزِيْدَ أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَخْبِرْنِيْ بِشَيْءٍ يُوْجِبُ الْجَنَّةَ. قَالَ: «عَلَيْكَ بِحُسْنِ الْكَلَامِ، وَبَذْلِ الطَّعَامِ». المعجم الكبير للطبراني ٢٢/ ١٨٠ رقم الحديث ٤٧٠. صحيح الادب المفرد ←←←←←

Scanned with CamScanner

# د الله ﷻ نه ويريدونکو د پاره جنت

د چا په زړه کې چې د الله ﷻ د عذاب او د هغه مخې ته د پيش کيدلو نه ويره وي نو دداسې کس د پاره الله تعالى د جنت وعده کړې.

١. فرمايي: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾. (١)

ترجمه: او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اودريدلو نه ويريږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه دي.

٢. بل ځاى فرمايي: ﴿ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهُ ﴾. (٢)

ترجمه: دا (وعده د جنت) د هغه چا د پاره ده چې هغه د خپل رب نه ويريږي.

٣. بل ځاى فرمايي: ﴿ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ۝ هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ ۝ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمَٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ ۝ ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُودِ ۝ لَهُمْ مَا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾. (٣)

ترجمه: او مُتّقيانو ته به جنت رانږدې کړې شي چې لرې به نه وي، (دوى ته به وويلې شي چې:) دا هغه جنت دى د کوم چې د تاسو سره (په دُنيا کې) وعده کولې شوه، (دا)

←←← رقم الحديث ٣١٥ باب كنية ابي الحكم، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٥٣٣٢، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٦١، شعب الايمان رقم الحديث ٤٥٩٣، و رقم الحديث ٨٥٠٤.

وفي رواية: عَنْ هَانِئٍ أَنَّهُ، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ يُوجِبُ لِيَ الْجَنَّةَ. قَالَ: «عَلَيْكَ بِحُسْنِ الْكَلَامِ، وَبَذْلِ السَّلَامِ». صحيح ابن حبان مخرجا كِتَابُ الْبِرِّ وَالْإِحْسَانِ بَابُ إِفْشَاءِ السَّلَامِ وَإِطْعَامِ الطَّعَامِ ذِكْرُ إِيجَابِ الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ كَلَامَهُ وَبَذَلَ سَلَامَهُ رقم الحديث ٤٩٠ . إسناده قوي، رجاله ثقات غير يزيد بن المقدام، فهو صدوق، وهانئ هو ابن يزيد المذحجي رضي الله عنه.

(١) الرحمن آية ٤٦.

(٢) البينة آية ٨.

(٣) ق آية ٣١ تا ٣٥.

Scanned with CamScanner

د هغه چا د پاره دي چې الله ﷻ طرف ته رجوع کوونکی او (د حقوقو) حفاظت کوونکی وي کوم چې بې ليدلو د الله ﷻ نه ويرېږي، او په داسې زړه سره راشي چې الله طرف ته رجوع کوونکې وي، (دوی ته به وويلې شي) تاسو دې جنت ته په سلامتيا سره داخل شئ، همدا د هميشه اُوسيدو ورځ ده، د دوی د پاره به په دې جنت کې هر هغه څه وي چې دوی يې غواړي، او مونږ سره (د دوی د پاره) نور هم زيات څه دي. (چې هغه د الله ﷻ ديدار او د هغه رضا ده).

ددينه علاوه په نورو ډيرو سورتونو کې هم د الله تعالى نه ويريدونکو خلقو د پاره د جنت د نِعمتونو وعده شوی.

## د الله ﷻ نه ويريدونکی به آخر هم جنت ته ځي اګرچې ګناهونه يې کړي وي

په مسند احمد، مشکاة شريف او نورو ډيرو د احاديثو په کتابونو کې دا حديث ذکر دی:

حضرت ابودَرداء رضي الله عنه فرمايي: ما د نبي عليه السلام نه په ممبر باندې واوريدل چې وعظ يې کولو او دا آيتِ مبارکه يې تلاوت کړو:

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾.

ترجمه: او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اُودريدلو نه ويرېږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه (باغونه) دي.

نو ما نبي عليه السلام ته اوفرمايل: وَإِنْ زَنَىٰ وَإِنْ سَرَقَ؟ يَارَسُوْلَ اللهِ.

اې د الله رسوله! اګر که دا کس زِنا او غلا اوکړي؟

نبي ﷺ په دويمه پيره (د تاکيد د پاره) دا آيتِ مبارکه تلاوت کړو:

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾.

ترجمه: او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اُودريدلو نه ويرېږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه دي.

ما ورنه په دويمه پيره هم همدا پوښتنه اوکړه:

وَإِنْ زَنَىٰ وَإِنْ سَرَقَ؟ يَارَسُوْلَ اللهِ.

اې د الله رسوله ! اګر که دا کس زِنا او غلا اوکړي ؟

نبي علیه السلام په دریمه پېره (د تاکید د پاره) همدا آیتِ مبارکه تلاوت کړو :

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ ﴾ .

ترجمه : او څوک چې د خپل رب په وړاندې د اُودریدلو نه ویریږي نو د هغه د پاره دوه جنتونه دي .

ما ورنه په دریمه پېره پوښتنه اوکړه :

وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ .

اې د الله رسوله ! اګر که دا کس زِنا او غلا اوکړي ؟

نبي علیه السلام اوفرمایل :

آو (دا کس به جنت ته داخلیږي) اګر چې د ابودَرداء پُوزه په خاورو باندې ککړه شي . (۱)

## د الله جل جلاله نه یریدونکي ځوان ته نبي علیه السلام د جنت زیرې ورکړو

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي چې کله الله تعالی په خپل پیغمبر باندې دا آیت نازل کړو :

(۱) عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَهُوَ يَقُصُّ عَلَى الْمِنْبَرِ : {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} ، فَقُلْتُ : وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : الثَّانِيَةَ : {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} ، فَقُلْتُ فِي الثَّانِيَةِ : وَإِنْ زَنَى ، وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الثَّالِثَةَ : {وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ} فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ : وَإِنْ زَنَى وَإِنْ سَرَقَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ : « نَعَمْ ، وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۶۸۳ ، مشكاة المصابيح كتاب الدَّعوات بَاب سَعَة رَحْمَة الله الفَصل الثَّاني رقم الحديث ۲۳۷۶ (۱۳) ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۴۹۶ ، تفسير البغوي ج ۴ ص ۳۴۰ سورة الرحمن في تفسير آية۴۶ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۱۸۹ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۱۳۹۰ .

(رَغِمَ) بِكَسْرِ الْغَيْنِ ، أَيْ : لَصِقَ بِالتُّرَابِ ذُلًّا وَهَوَانًا (أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ) وَضُبِطَ بِفَتْحِهَا ، فَقِيلَ : مَعْنَاهُ ذَلَّ ، وَقِيلَ اضْطَرَبَ ، وَقِيلَ غَضِبَ ، وَظَاهِرُ الْحَدِيثِ أَنَّ مِنْ عَلَى عُمُومِهِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۴ ص ۱۶۴۷ رقم الحديث ۲۳۷۶ (۱۳) .

Scanned with CamScanner

﴿ يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴾.(۱)

ترجمه : اې مؤمنانو ! تاسو خپل ځانونه او خپل کوروالـه د هغه اُور نه اُوساتئ چې د هغې خشاک خلق او کانړي دي .

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه دا آیت صحابه کرامو ته تلاوت کړو ، یو ځوان ( ددې په آوریدو سره ) رااُوغورځید او بې هوشه شو .

رسول الله ﷺ خپل لاس مبارک د هغه په زړه باندې کیښود نو هغه خوَزیدو ، نو ورته وې فرمایل :

يَا فَتَى ! قُلْ " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ " . اې ځوانه ! " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ " اُووایه .

هغه دا اُوویله ، نو نبي علیه السلام هغه ته د جنت زیرې ورکړو .

صحابه کرامو ورته اوفرمایل : اې د الله رسوله ! تاسو زمونږ د وړاندې ده ته د جنت زیرې ورکوی ؟

رسول الله ﷺ ورته اوفرمایل :

أَمَا سَمِعْتُمْ قَوْلَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ ﴾ .

آیا تاسو د الله تعالی دا قول ندې آوریدلی ؟ چې هغه فرمایي : دا ( د اِنعام وعده ) د هغه چا د پاره ده چې هغه زما په وړاندې د اُودریدو او زما د عذاب نه ویریږي .(۲)

(۱) التحريم آية ٦ .

(۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: لَمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى نَبِيِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيْكُمْ نَارًا} تَلَاهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِهِ ذَاتَ لَيْلَةٍ، أَوْ قَالَ يَوْمٍ فَخَرَّ فَتًى مَغْشِيًّا عَلَيْهِ . فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى فُؤَادِهِ . فَإِذَا هُوَ يَتَحَرَّكُ، فَقَالَ: « يَا فَتَى ! قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ » . فَقَالَهَا . فَبَشَّرَهُ بِالْجَنَّةِ، فَقَالَ أَصْحَابُهُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! أَمِنْ بَيْنِنَا ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَمَا سَمِعْتُمْ قَوْلَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ {ذٰلِكَ لِمَنْ خَافَ مَقَامِيْ وَخَافَ وَعِيْدِ} ( سورة إبراهيم آية ١٤ ) . المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٣٣٣٨ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخْرِجَاهُ. شعب الايمان رقم الحديث ٧٢٠ .

## د خلقو نه سوال نه کوونکي د پاره نبي علیه السلام د جنت ضمانت کړی

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَنْ تَكَفَّلَ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَأَتَكَفَّلَ لَهُ بِالْجَنَّةِ ؟ ....

څوک چې ماته دا ضمانت راکړي چې دا به د خلقو نه (بِلا ضرورت) د هیڅ څیز سوال نه کوي نو زه به هغه ته د جنت ضمانت ورکړم ... (۱)

## په مونځ کولو سره د جنت مستحق کیدل

څوک چې په پابندۍ سره مونځ کوي نو دداسې کس د پاره په قرآن کریم او احادیثو کې د جنت وعده شوی ، ددې په باره کې درته یو آیت او نهه (۹) احادیث رانقل کوم:

۱. الله تعالی فرمايي:

﴿ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ . أُولَئِكَ فِي جَنَّتٍ مُكْرَمُونَ ﴾. (۲)

ترجمه : او هغه خلق چې د خپلو مونځونو حفاظت کوي ، همدا خلق به په جنتونو کې وي، عزت مند به وي.

۲. په ابوداؤ شریف کې دا حدیثِ قُدسي ذکر دی ، الله تعالی نبي ﷺ ته فرمايي:

إِنِّي فَرَضْتُ عَلَى أُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَعَهِدْتُ عِنْدِي عَهْدًا أَنَّهُ مَنْ جَاءَ يُحَافِظُ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهُ عِنْدِي . (۳)

---

(۱) عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ تَكَفَّلَ لِي أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ شَيْئًا فَأَتَكَفَّلَ لَهُ بِالْجَنَّةِ ؟ » فَقَالَ ثَوْبَانُ: أَنَا، فَكَانَ لَا يَسْأَلُ النَّاسَ شَيْئًا. المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ الزَّكَاةِ رقم الحدیث ۱۵۰۰ وقال الحاکم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ كَرَاهِيَةِ الْمَسْأَلَةِ رقم الحدیث ۱۶۴۳ ، المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ۱۴۳۳ ، شعب الایمان رقم الحدیث ۳۲۴۵ ، مشکاة المصابیح رقم الحدیث ۱۸۵۷(۲۱) ، سنن النسائي رقم الحدیث ۲۵۹۰ .

(۲) سورة المعارج آیة ۳۴ ، ۳۵ .

(۳) سنن ابي داؤد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابٌ فِي الْمُحَافَظَةِ عَلَى وَقْتِ الصَّلَوَاتِ رقم الحدیث ۴۳۰ ، سنن ابن ماجه باب ماجاء في فرض الصلوات الخمس والمحافظة علیها رقم ۱۴۰۳ ، کنز العمال کتاب الصلاة الباب الاول في فضل الصلوة و وجوبها رقم ۱۸۸۷۲ .

Scanned with CamScanner

اې پيغمبره ! ما ستا په اُمت باندې پنځه مونځونه فرض کړي دي ، او ما په خپله ددې خبرې ذِمه داري هم اخيستې ده چې څوک ماته په داسې حالت کې راشي چې ده ددې پنځو مونځونو په خپل وخت کې د اَداء کولو حفاظت او اِهتمام کړې وي نو زه به دا کس جنت ته داخل کړم ، اوچا چې ددې مونځونو حفاظت نه وي کړی نو دده په ما هيڅ ذِمه داري نشته ( دا زما خوښه ده چې معاف کوم يې ، يا سزا ورکوم ) .

۳ . د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ وُضُوءَهُ ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ، مُقْبِلٌ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (۱)

کوم مسلمان چې په ښه طريقې سره اَودس اوکړي ، بيا پاڅي او دوه رکعته داسې مونځ اوکړي چې د زړه نه په پوره توَجّه سره الله ﷻ طرف ته متوَجِّه وي نو دداسې مسلمان د پاره جنت واجبيږي .

۴ . د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د حَجّة الوَداع په موقع په خُطبه کې اوفرمايل :

اِتَّقُوا اللهَ رَبَّكُمْ ، وَصَلُّوْا خَمْسَكُمْ ، وَصُوْمُوْا شَهْرَكُمْ ، وَأَدُّوْا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ ، وَأَطِيعُوْا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوْا جَنَّةَ رَبِّكُمْ . (۲)

تاسو د الله ﷻ نه اُوويريږئ ، خپل پنځه وخته مونځ کوئ ، د رمضان روژې نيسئ ، د خپلو مالونو زکوة ورکوئ ، دخپل امير اِطاعت کوئ نو تاسو به د خپل رَب جنت ته داخل شئ .

۵ . بيا خاصکر د سهَر او مازيگر په مانځه کولو سره خو د جنت خوشخبري په ډيرو احاديثو کې راغلې ده ، د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ فرمايي :

---

(۱) صحيح مسلم كِتَابِ الطَّهَارَةِ بَابُ الذِّكْرِ الْمُسْتَحَبِّ عَقِبَ الْوُضُوءِ رقم الحديث ۱۷ ( ۲۳۴ ) ، سنن ابي داؤد باب كراهية الوسوسة و حديث النفس فى الصلاة رقم الحديث ۹۰۶ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الاول رقم ۲۸۸ (۸) ، شرح السنّة للبغوي باب فضل من تطهّر فصلى عقيبه رقم الحديث ۱۰۱۴ .

(۲) سنن الترمذي بَابُ مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ باب ۴۳۴ رقم الحديث ۶۱۶ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. شرح السنّة للبغوي ج۱ ص ۲۳ رقم الحديث ۱۰ .

Scanned with CamScanner

مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ . (۱)

څوک چې د یَخ وخت دواړه مونځونه (یعنی د سهَر او مازیګر مونځ) کوي هغه به جنت ته داخلیږي .

٦ . د بخاري او مسلم شریف حدیث دی ، حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یو أعرابي (بانډیچي) راغی ، او وې ویل :

دُلَّنِيْ عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ .

اې د الله رسوله ! ما ته داسې یو عمل اُوښایه چې زه د هغې په کولو سره جنت ته داخل شم .

نبي عليه السلام ورته وفرمایل : د الله تعالی عبادت کوه ، د هغه سره هیڅوک مه شریکوه ، فرض مونځونه په پابندۍ سره کوه ، فرضي زکوة ورکوه ، او د رمضان روژې نیسه .

بانډیچي وویل : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا أَزِيْدُ عَلَى هٰذَا .

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده زه به په دې باندې هیڅ زیادت نه کوم

هر کله چې هغه بانډیچي واپس روان شو نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ . فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا . (۲)

که چیرته څوک دا تمَنّا لري چې هغه یو جنّتي کس ته اُوګوري نو هغه دې دې بانډیچي

---

(۱) صحیح البخاري كِتَابُ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ صَلَاةِ الْفَجْرِ رقم الحدیث ٥٧٤ ، صحیح مسلم باب فضل صلاتي الصبح والعصر والمحافظة علیها رقم الحدیث ٢١٥ (٦٣٥) ، شعب الایمان رقم ٢٥٨٠ ، مشکاة المصابیح باب فضائل الصلاة الفصل الاول رقم ٦٢٥ (٢).

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ . قَالَ : « تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ » قَالَ : وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هٰذَا . فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا » صحیح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ وُجُوبِ الزَّكَاةِ رقم الحدیث ١٣٩٧ ، صحیح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ الإِيمَانِ الَّذِي يُدْخَلُ بِهِ الْجَنَّةُ .. رقم الحدیث ١٥ (١٤) .

(أعرابي) قيل هو سعد بن الأخرم . تعلیق مصطفی البغا علی البخاري .

ته اوکوري . ( ځکه دا جنتي دی ) .

۷ . حضرت ابوهریرة ﷺ فرمايي چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کر ُسو ته وفرمایل :

أُكْفُلُوا لِي بِسِتِّ خِصَالٍ وَأَكْفُلُ لَكُمُ الْجَنَّةَ .

ٔاسو ماته د شپږو شیانو ضَمانت راکړئ ( چې ددې حفاظت به کوئ ) زه به تاسو ته د جن ، ضَمانت درکړم .

حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایي چې ماورته وفرمايل :

مَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ اې د الله رسوله ! هغه شپږ شیان کوم دي ؟

نبي علیه الصلاة والسلام وفرمایل :

اَلصَّلَاةُ ، وَالزَّكَاةُ ، وَالْأَمَانَةُ ، وَالْفَرْجُ ، وَالْبَطْنُ ، وَاللِّسَانُ . (۲)

( هغه شپږ شیان دادي : ) د مونځ ، زکوة ، اَمانت ، شرمگاه ، خېټې او ژبې حفاظت کول .

۸ . حضرت ابوهریرة ﷺ فرمایي چې د قضاعه قبیلې دوه کسانو په یو ځل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس باندې اِسلام راوړو ، په دې دواړو کې یو کس په جهاد کې شهید شو ، دا دویم یو کال پس ( په خپل مرګ ) وفات شو .

حضرت طلحة بن عبيد الله ﷺ فرمایي چې ما دا روستي کس په خوب کې اُولید چې د شهید نه مخکې جنت ته داخل کړې شو ، نو زه په دې سره ډېر حیران شوم ( چې د شهید مرتبه خو ډېره اُوچته وي نو په کار ده چې جنت ته اول دا داخل شوې وی ) ، کله چې سهر

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَنَّهُ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ مِنْ أُمَّتِهِ : « أُكْفُلُوا لِي بِسِتٍّ خِصَالٍ وَأَكْفُلُ لَكُمُ الْجَنَّةَ » . قُلْتُ : مَا هِيَ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « اَلصَّلَاةُ ، وَالزَّكَاةُ ، وَالْأَمَانَةُ ، وَالْفَرْجُ ، وَالْبَطْنُ ، وَاللِّسَانُ » . اسناده حسن . رواه الطبراني في المعجم الاوسط رقم الحديث ۴۹۲۵ ، و رقم ۵۸۹۹ ، و مجمع الزوائد و منبع الفوائد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَرْضِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ۱۶۱۷ ، و رواه المنذري في الترغيب ۲/۴ ، وابن كثير في التفسير ۴۴/۶ ، والسيوطي في الدر ۲۴۶/۱ ، ۲۹۵ ، والهندي في الكنز رقم ۲۳۵۴۴ ، و رقم ۴۳۵۳۰ .

Scanned with CamScanner

شو نو ما په خپله يا يو بل کس رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ددې تذکره اوکړه ، نبي عليه السلام وفرمايل :

أَلَيْسَ قَدْ صَامَ بَعْدَهُ رَمَضَانَ ، وَصَلَّى سِتَّةَ آلَافِ رَكْعَةٍ ، أَوْ كَذَا وَكَذَا رَكْعَةً صَلَاةَ السَّنَةِ ؟ (١)

(په دې کې د تعجب څه خبره ده ) آيا دې روستي کس د اول د شهادت نه پس د رمضان روژې نه وې نيولى ؟ آيا ده (په دې کال کې ) شپږ زره رکعته مونځ زيات نه دې کړى ؟ آيا ده دومره دومره رکعته د کال د مانځه ندي کړي ؟

دا حديث په سنن ابن ماجه او نورو د احاديثو په کتابونو کې په تفصيل سره ذکر دى ، د هغې په آخر کې دا هم ذکر دي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وفرمايل :

فَلَمَا بَيْنَهُمَا أَبْعَدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ . (٢)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَجُلَانِ مِنْ بَلِيٍّ حَيٍّ مِنْ قُضَاعَةَ أَسْلَمَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَاسْتُشْهِدَ أَحَدُهُمَا ، وَأُخِّرَ الْآخَرُ سَنَةً ، قَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ ﷺ : فَأُرِيتُ الْجَنَّةَ ، فَرَأَيْتُ الْمُؤَخَّرَ مِنْهُمَا أُدْخِلَ قَبْلَ الشَّهِيدِ ، فَتَعَجَّبْتُ لِذَلِكَ ، فَأَصْبَحْتُ ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، أَوْ ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَلَيْسَ قَدْ صَامَ بَعْدَهُ رَمَضَانَ ، وَصَلَّى سِتَّةَ آلَافِ رَكْعَةٍ ، أَوْ كَذَا وَكَذَا رَكْعَةً صَلَاةَ السَّنَةِ ؟ » رواه احمد في مسنده مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ١٢٦/١٤ رقم الحديث ٨٣٩٩ ، والسيوطي في الدرالمنثور ١ / ٢٩٥ ، والهيثمي في المجمع ١٠ /٢٠٣ ، والمنذري في الترغيب ٢٤٤/٤ ، صحيح الترغيب والترغيب رقم الحديث ٣٧٢ (٢٣) ، المتجرالرابح ص ٤٧ رقم الحديث ١٤٥ .

(٢) پوره حديث په ابن ماجه او نورو د احاديثو په کتابونو کې داسې ذکر دى : عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ ﷺ : أَنَّ رَجُلَيْنِ قَدِمَا عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ إِسْلَامُهُمَا جَمِيعًا ، وَكَانَ أَحَدُهُمَا أَشَدَّ اجْتِهَادًا مِنْ صَاحِبِهِ ، فَغَزَا الْمُجْتَهِدُ مِنْهُمَا فَاسْتُشْهِدَ ، ثُمَّ مَكَثَ الْآخَرُ بَعْدَهُ سَنَةً ، ثُمَّ تُوُفِّيَ ، قَالَ طَلْحَةُ ﷺ : فَرَأَيْتُ فِيمَا يَرَى النَّائِمُ كَأَنِّي عِنْدَ بَابِ الْجَنَّةِ ، إِذَا أَنَا بِهِمَا وَقَدْ خَرَجَ خَارِجٌ مِنَ الْجَنَّةِ ، فَأَذِنَ لِلَّذِي تُوُفِّيَ الْآخِرَ مِنْهُمَا ، ثُمَّ خَرَجَ فَأَذِنَ لِلَّذِي اسْتُشْهِدَ ، ثُمَّ رَجَعَا إِلَيَّ فَقَالَا لِي : ارْجِعْ فَإِنَّهُ لَمْ يَأْنِ لَكَ بَعْدُ ، فَأَصْبَحَ طَلْحَةُ يُحَدِّثُ بِهِ النَّاسَ ، فَعَجِبُوا لِذَلِكَ ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « مِنْ أَيِّ ذَلِكَ تَعْجَبُونَ ؟ » قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ ! هَذَا كَانَ أَشَدَّ اجْتِهَادًا ثُمَّ اسْتُشْهِدَ فِي سَبِيلِ اللهِ ، وَدَخَلَ هَذَا الْجَنَّةَ قَبْلَهُ ، فَقَالَ : « أَلَيْسَ قَدْ مَكَثَ هَذَا بَعْدَهُ سَنَةً ؟ » قَالُوا : بَلَى . قَالَ : « وَأَدْرَكَ رَمَضَانَ فَصَامَهُ ؟ » قَالُوا : بَلَى . قَالَ : ←←←←←←

( چې کله دې دویم کس د اول د شهادت نه پس یو کال د رمضان روژې زیاتې نیولي ، او په یو کال کې یې ډیرې سجدې کړي ) نو بیا خو د دوی دواړو په مینځ کې د زمکې او آسمان فرق دی .

**فائده** : تاسو واوریدل چې دا دویم کس د ډیرو روژو او ډیرو مونځونو په وجه د شهید نه مخکې جنت ته داخل کړې شو .

۹ . حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایي چې یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم په صحابه کرامو تېر شو ، نو دوی ته یې وفرمایل :

هَلْ تَدْرُوْنَ مَا يَقُوْلُ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ ؟ آیا تاسو پوهیږئ چې ستاسو رَب څه فرمایي :

صحابه کرامو ورته اوفرمایل :

اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . الله جل جلاله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږي .

پیغمبر علیه السلام ( د اِهتمام د پاره ) درې پیرې دا پوښتنه اوکړه ، بیا یې وفرمایل چې الله تعالی فرمایي :

وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا يُصَلِّيْهَا عَبْدٌ لِوَقْتِهَا إِلَّا أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ صَلَّاهَا لِغَيْرِ وَقْتِهَا إِنْ شِئْتُ رَحِمْتُهُ ، وَإِنْ شِئْتُ عَذَّبْتُهُ . (١)

---

←←← « وَصَلَّى كَذَا وَكَذَا سَجْدَةً فِي السَّنَةِ ؟ » قَالُوْا : بَلٰى . قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « فَلَمَا بَيْنَهُمَا أَبْعَدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ » . سنن ابن ماجه كِتَابُ تَعْبِيرِ الرُّؤْيَا بَابُ تَعْبِيرِ الرُّؤْيَا رقم الحديث ٣٩٢٥ ، مسند احمد رقم ١٤٠٣ مُسْنَدُ أَبِي مُحَمَّدٍ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، صحیح ابن حبان رقم ٢٩٨٢ ، کنزالعمال رقم ٤٢٦٣٦ ، السنن الکبری للنسائي رقم ٦٥٣٠ .

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلٰى أَصْحَابِهِ يَوْمًا . فَقَالَ لَهُمْ : « هَلْ تَدْرُوْنَ مَا يَقُوْلُ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ ؟ » قَالُوْا : اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ . قَالَهَا ثَلَاثًا . قَالَ : « وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ لَا يُصَلِّيْهَا عَبْدٌ لِوَقْتِهَا إِلَّا أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ . وَمَنْ صَلَّاهَا لِغَيْرِ وَقْتِهَا إِنْ شِئْتُ رَحِمْتُهُ ، وَإِنْ شِئْتُ عَذَّبْتُهُ » . المعجم الکبیر للطبراني ١٠/ ٢٢٨ رقم الحديث ١٠٥٥٥ ، والهيثمي في المجمع ١/ ٣٠٢ ، والهندي في الکنز رقم الحديث ٣٠٣٧ ، ١٩٣٠ ، ١٩٣٢ ، والسيوطي في الدر المنثور ١/ ٢٩٥ ، ٢٩٦ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٥٢ رقم الحديث ١٧٣ .

Scanned with CamScanner

زما دې په خپل عزت او جَلال باندې قسَم وي چې څوک هم دا مونځونه په خپل وخت باندې اداء کړي زه به دا کس جنت ته داخل کړم ، او چې څوک یې بې وَخته اداء کوي نو که زما خوَښه شي رَحم به وربانډې اوکړم ، او که مې خوَښه شي نو عذاب به ورکړم.

۱۰. د مسلم شریف حدیث دی ، حضرت معدان بن طلحة رحمه الله فرمایي چې ما د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم آزاد کرده غلام " حضرت ثوبان رضي الله عنه " سره ملاقات اوکړو ما ورته وویل : أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ ؟

ماته د داسې یو عمل په باره کې خبر راکړه چې زه هغه اوکړم او دهغې په وجه الله جل جلاله ماته جنت راکړي.

حضرت ثوبان رضي الله عنه ( زما سوال اَوریدو سره ) چپ شو ، ما ورنه دوباره همدا پوښتنه اوکړه ، هغه بیا خاموش ؤ ، ما په دریم ځل ورنه همدا پوښتنه اوکړه ، هغه راته وویل :
دا سوال ما د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه کړې ؤ نو هغوی راته په جواب کې وفرمایل :

عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلهِ ، فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً ، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً .

ته ډیرې سجدې کوه ، ځکه چې ته کله هم د الله جل جلاله د رَضا د پاره یوه سجده اوکړې نو الله رب العزت به په دې سره ستا یوه درجه اُوچتوي ، او ستا یوه ګناه به معاف کوي . ( چې ددې په وجه به ته جنت ته هم داخل شې ) .
معدان رحمه الله فرمایي چې بیا زما ملاقات د حضرت ابودرداء رضي الله عنه سره اوشو ، د هغه نه هم ما همدا سوال اوکړو ( چې داسې عمل راته اُوښایه چې د هغې په کولو سره الله جل جلاله ما جنت ته داخل کړي ) نو هغه هم راته همدا جواب راکړو کوم چې راته حضرت ثوبان رضي الله عنه راکړې ؤ . (۱)

(۱) عن مَعْدَان بْن أَبِي طَلْحَةَ الْيَعْمَرِيّ ، قَالَ : لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ←←←

Scanned with CamScanner

# د ورځې دولس (۱۲) رکعته سُنت اداء کولو سره په جنت کې کور جوړيدل

څوک چې د ورځې دولس (۱۲) رکعته سُنت مونځ اداء کوي (کوم چې د فرض مونځونو نه مخکې يا روستو دي) نو الله تعالى به ده ته په جنت کې کور جوړ کړي.

۱. د مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّيْ لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا، غَيْرَ فَرِيْضَةٍ إِلَّا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ.

کوم مسلمان بنده چې په هره ورځ د فرائضو نه علاوه دولس (۱۲) رکعته نفل (يعنى سُنت) مونځ اداء کوي نو الله تعالى به ده ته په جنت کې کور جوړ کړي. (۱)

۲. په ترمذي شريف کې ددې دولسو (۱۲) رکعتونو تفصيل ذکر شوی، چې څلور رکعته سُنت د ماسپخين د فرضو نه مخکې دي، دوه رکعته سُنت د فرضو نه پس دي، دوه

---

←←← فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ؟ أَوْ قَالَ قُلْتُ: بِأَحَبِّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ. فَسَكَتَ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ، فَقَالَ: سَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: «عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ لِلّٰهِ. فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيْئَةً». قَالَ مَعْدَانُ ثُمَّ لَقِيْتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ، فَقَالَ لِيْ: مِثْلَ مَا قَالَ لِيْ ثَوْبَانُ. صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ السُّجُوْدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ۲۲۵ - (۴۸۸)، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم الحديث ۸۹۷ (۱۱)، صحيح الترغيب والترهيب رقم ۳۸۵ (۳).

(۱) عَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُوْلُ: «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّيْ لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا، غَيْرَ فَرِيْضَةٍ إِلَّا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، أَوْ إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ» قَالَتْ أُمُّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: «فَمَا بَرِحْتُ أُصَلِّيْهِنَّ بَعْدُ» وَقَالَ عَمْرٌو: «مَا بَرِحْتُ أُصَلِّيْهِنَّ بَعْدُ»، وَقَالَ النُّعْمَانُ مِثْلَ ذٰلِكَ. صحيح مسلم كِتَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِيْنَ وَقَصْرِهَا بَابُ فَضْلِ السُّنَنِ الرَّاتِبَةِ قَبْلَ الْفَرَائِضِ وَبَعْدَهُنَّ، وَبَيَانِ عَدَدِهِنَّ رقم الحديث ۱۰۳ (۷۲۸)، و رقم الحديث ۱۰۲ (۷۲۸)، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۹۷۰۹، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۵۹۸۰، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۰۴۶۲، و رقم الحديث ۱۹۷۰۹، سنن الدارمي رقم الحديث ۱۴۷۸.

Scanned with CamScanner

رکعته سُنت د ماښام د فرضو نه پس دي ، دوه رکعته سُنت د ماسخوتن د فرضو نه پس دي ، او دوه رکعته سُنت د سهر د فرضو نه مخکې دي . (۱)

## مونځ د جنت ګنجي ده

د ترمذي شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الْوُضُوءُ . (۲)

د جنت ګنجي (چابي) مونځ دی ، او د مانځه ګنجي اَودس دی .

## د مونځ په وجه په جنت کې د نبي ﷺ ملګرتیا نصیب کیدل

د مسلم شریف حدیث دی ، حضرت رَبیعة بن کعب رضي الله عنه فرمایي چې زه به د شپې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې ووم ، دوی ته به مې د اَودس اَوبه او نور د ضرورت اَشیاء ( لکه مسواک وغیره ) راوړل ، ( یوه ورځ ) نبي کریم صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل :

سَلْ . ( د دِین او دُنیا په څیزونو کې ) چې څه غواړې د هغې سوال اوکړه .

ما ورته وویل :

أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ . زه په جنت کې ستاسو ملګرتیا غواړم .

نبي علیه السلام وفرمایل : آیا د دینه علاوه بل شی غواړې ؟

---

(۱) عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ: أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ صَلَاةِ الْغَدَاةِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الصَّلَاةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنَ السُّنَّةِ، مَا لَهُ فِيهِ مِنَ الْفَضْلِ رقم الحديث ۴۱۵ وقال الترمذي: حَدِيثُ عَنْبَسَةَ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ فِي هَذَا الْبَابِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۱۴۰ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۵۹۷۸ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ الطَّهَارَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ مِفْتَاحَ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ رقم الحديث ۴ ، مشكاة المصابيح كتاب الطهارة الفصل الثالث رقم الحديث ۲۹۴ (۱۴) ، مسند احمد ۳/ ۳۴۰ .

ما ورته وویل : زما سوال همدا دی (بل څه نه غواړم) ، رسول الله ﷺ وفرمایل :

فَأَعِنِّيْ عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ .

(چې کله ته دا مرتبه حاصلولو غواړې نو) ته په ډیرو سجدو کولو سره زما مدد اوکړه .

(یعنی ته ډیر نفلي مونځونه او ډیرې سجدې کوه ، دُعاګانې غواړه ، او زه به هم ستا د آرزو پوره کولو د پاره د الله ﷻ په دَربار کې دُعا او سفارش کوم نو ستا دا آرزو به پوره شي ). (١)

## په جَمعې سره د مونځ کولو په عِوض کې په جَنت کې میلمَستیا

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْرَاحَ . (٢)

څوک چې د سهَر یا ماښام مانځه د پاره جُمات ته لاړ شي نو الله تعالی به ده ته په دې هر ځل تللو سره په جنت کې کور او میلمَستیا تیاره کړي .

## د مانځه په صفونو کې خالي ځای ډکولو سره په جنت کې کور جوړیدل

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِيْ صَفٍّ رَفَعَهُ اللهُ بِهَا دَرَجَةً وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ .

---

(١) عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيِّ رضي الله عنه قَالَ: كُنْتُ أَبِيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوْئِهِ وَحَاجَتِهِ . فَقَالَ لِيْ : « سَلْ » فَقُلْتُ : أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ . قَالَ : « أَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ » قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ . قَالَ : « فَأَعِنِّيْ عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ » . صحيح مسلم كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ السُّجُودِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ رقم الحديث ٢٢٦ (٤٨٩) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ١٣٢٠ ، مشكاة المصابيح باب السجود وفضله الفصل الاول رقم الحديث ٨٩٦ (١٠)

(٢) صحيح البخاري بَابُ فَضْلِ مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَمَنْ رَاحَ رقم الحديث ٦٦٢ ، صحيح مسلم بَابُ الْمَشْيِ إِلَى الصَّلَاةِ تُمْحَى بِهِ الْخَطَايَا، وَتُرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتُ رقم الحديث ٢٥٨ (٦٦٩) ، شعب الايمان رقم الحديث ٢٦٢١ فضل المشي الى المساجد ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٣١٤ (١٨) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ٤٩٧٠ .

(غَدَا) ذهب . (رَاحَ) رجع . (نُزُلَهُ) مكانه وضيافته . تعليق مصطفى البغا علي صحيح البخاري .

(نُزُلًا) النزل ما يهيأ للضيف عند قدومه . شرح محمد فؤاد عبد الباقي علي صحيح مسلم

Scanned with CamScanner

څوک چې د مانځه په صف کې خالي ځاه ډکه کړي نو الله تعالی به په دې سره دده درجه اُوچته کړي او ده ته به په جنت کې کور جوړ کړي . (١)

## جُمعې مانځه ته وَختي تلونکي به په جنت کې د الله ﷻ د دِيدار په وخت الله ﷻ ته ډير مُقرّب وي

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ په مرقاة شرح مشکوة کې دا حديث رانقل کړی ، نبي عليه الصلاة والسلام فرمايي :

إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَزُورُونَ رَبَّهُمْ فِي كُلِّ يَوْمِ جُمُعَةٍ فِي رِمَالِ الْكَافُورِ، وَأَقْرَبُهُمْ مِنْهُ مَجْلِسًا أَسْرَعُهُمْ إِلَيْهِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَأَبْكَرُهُمْ غُدُوًّا. (٢)

بيشکه جنتيان به د هرې جُمعې په ورځ د الله ﷻ دِيدار د کافورو په غونډۍ باندې کوي، او الله ﷻ فرمايي چې په دوی کې به ماته ډير نزدې ( او مقرّب (٣)) هغه کس وي څوک چې په دُنيا کې د جُمعې مانځه ته په اِهتمام سره او د وَخته تللو .

## سلام اَچولو ، په فقيرانو خوراک کولو ، او د تهجدو مونځ کولو په وجه د جنت مستحق کيدل

رسولُ اللهصلی اللہعليه وسلم په يوه موقع صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته اوفرمايل :

---

(١) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ صِلَةِ الصُّفُوفِ وَسَدِّ الْفُرَجِ رقم الحديث ٢٥٠٢ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ وَفِيهِ مُسْلِمُ بْنُ خَالِدٍ الزَّنْجِيُّ وَهُوَ ضَعِيفٌ وَقَدْ وَثَّقَهُ ابْنُ حِبَّانَ . كنز العمال رقم الحديث ٢٠٦٣٤ ، الزواجر ج١ ص ٢٤١ اَلْكَبِيرَةُ السَّابِعَةُ وَالثَّامِنَةُ وَالثَّمَانُونَ قَطْعُ الصَّفِّ وَعَدَمُ تَسْوِيَتِهِ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٧١٩ الترغيب في وصل الصفوف وسد الفرج .

(٢) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح بَابُ الْجُمُعَةِ ٣/١٠١٩ في تشريح رقم الحديث ١٣٦٤ (١١) .

(٣) نوټ : الله ﷻ ته د نزدې کيناستلو مطلب دادی چې دداسې کس مرتبه او مقام به د الله ﷻ په نزد زيات وي، دا معنی څکه کوو چې الله ﷻ د مکان او جهت نه مُنزّه او پاک دی . وَاللهُ سُبْحَانَهُ مُنَزَّهٌ عَنِ الْمَسَافَةِ وَالْجِهَةِ، وَإِنَّمَا ذَلِكَ كِنَايَةٌ عَنِ الْمَكَانَةِ وَالْقُرْبَةِ. مرقاة المفاتيح

Scanned with CamScanner

يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ ، وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ.

اې خلقو ! تاسو سلام عام کړئ ، په فقيرانو خوراک کوئ ، د شپې چې کله خلق اُوده وي نو تاسو د تهجدو مونځ کوئ ، نو تاسو به جنت ته په سلامتيا سره داخل شئ . (١)

فائده: ددې حديث نه معلومه شوه چې په مسلمان باندې سلام اچولو ، په فقيرانو باندې خوراک کولو ، او د شپې د تهجدو مونځ کولو سره انسان د جنت مستحق کرځي .

**نوټ** : دا حديث د قرآن کريم د سورة الفرقان د څه آيتونو سره په معنٰی کې هم موافق دی . (٢)

## د څاښت مونځ کولو سره په جنت کې د سروزرو محل جوړيدل

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَنْ صَلَّى الضُّحَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ.

څوک چې د څاښت دولس (١٢) رکعته مونځ اوکړي نو الله تعالی به ده ته په جنت کې د

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ انْجَفَلَ النَّاسُ إِلَيْهِ، وَقِيلَ: قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجِئْتُ فِي النَّاسِ لِأَنْظُرَ إِلَيْهِ، فَلَمَّا اسْتَبَنْتُ وَجْهَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرَفْتُ أَنَّ وَجْهَهُ لَيْسَ بِوَجْهِ كَذَّابٍ، فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ تَكَلَّمَ بِهِ أَنْ قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ! أَفْشُوا السَّلَامَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ، تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ. سنن ابن ماجه كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابُ مَا جَاءَ فِي قِيَامِ اللَّيْلِ رقم الحديث ١٣٣٤ قال الالباني: صحيح. و رقم الحديث ٣٢٥١ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الأَطْعِمَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ إِطْعَامِ الطَّعَامِ رقم الحديث ١٨٥٥ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . شعب الايمان رقم الحديث ٨٣٧٥

(٢) وهذا الحديث موافق لقوله تعالى { وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا } فإفشاء السلام إشارة إلى قوله { وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا } وإطعام الطعام إلى قوله { وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا } الآية. وصلاة الليل إلى قوله { وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا } . وقوله يدخلون الجنة موافق لقوله { أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا } . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة في تشريح حديث ١٣٣٤ .

سروزرو محل جوړ کړي.(١)

( **نوټ**: دې حديث ته اګر چې علماؤ ضعيف ويلي خو ضعيف حديث په فضائلو کې معتبروي.(٢) )

## د مازيګر فرضو نه مخکې څلور رکعته سُنتِ غيرمؤکد اداء کولو سره په جنت کې کور جوړيدل

څوک چې په پابندۍ سره د مازيګر فرضو نه مخکې څلور رکعته سنتِ غير مؤکد (يعنی نفل) مونځ اداء کوي نو په احاديثو کې ده د پاره د جنت خوشخبري راغلی.

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الْعَصْرِ بَنَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ.(٣)

څوک چې په پابندۍ سره د مازيګر د فرضو نه مخکې څلور رکعته نفل (سُنتِ غير مؤکد) اداء کوي نو الله تعالی به ده ته په جنت کې کور جوړ کړي.

---

(١) سنن الترمذي أَبْوَابُ الوِتْرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الضُّحَى رقم الحديث ٤٧٣ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ١٣٨٠ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ١٠٠٦ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٣١٦(٨) ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٩٩٨ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢١٥٠٢.

وفي رواية : عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ صَلَّى الضُّحَى وَقَبْلَ الضُّحَى أَرْبَعًا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ. مجمع الزوائد رقم الحديث ٣٣٢٦ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَفِيهِ جَمَاعَةٌ لَمْ أَرَ مَنْ تَرْجَمَهُمْ.

(٢) (وَ) نُدِبَ (أَرْبَعٌ فَصَاعِدًا فِي الضُّحَى) عَلَى الصَّحِيحِ مِنْ بَعْدِ الطُّلُوعِ إِلَى الزَّوَالِ . وَوَقْتُهَا الْمُخْتَارُ بَعْدَ رُبُعِ النَّهَارِ. وَفِي الْمُنْيَةِ: أَقَلُّهَا رَكْعَتَانِ وَأَكْثَرُهَا اثْنَيْ عَشَرَ. وَأَوْسَطُهَا ثَمَانٍ وَهُوَ أَفْضَلُهَا كَمَا فِي الذَّخَائِرِ الْأَشْرَفِيَّةِ، لِثُبُوتِهِ بِفِعْلِهِ . الدر المختار

(قَوْلُهُ : وَأَكْثَرُهَا اثْنَا عَشَرَ) لِمَا رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ بِسَنَدٍ فِيهِ ضَعْفٌ أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ «مَنْ صَلَّى الضُّحَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ» وَقَدْ تَقَرَّرَ أَنَّ الْحَدِيثَ الضَّعِيفَ يَجُوزُ الْعَمَلُ بِهِ فِي الْفَضَائِلِ شَرْحُ الْمُنْيَةِ. رد المحتار على الدر المختار ج٢ ص٢٣ بَابُ الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ.

(٣) مجمع الزوائد كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ الصَّلَاةِ قَبْلَ الْعَصْرِ رقم الحديث ٣٣٣٢ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٨٥٨ الترغيب فى الصلوة قبل العصر

Scanned with CamScanner

## همیشه په اَودس کې اُوسیدلو او اَذان نه پس دوه رکعته نفل مونځ کولو سره د جنت مستحق کیدل

یو سهر رسولُ اللہ صلی اللہ علیہ وسلم حضرت بلال ﷺ رااوغوښت او ورته وې ویل :

يَا بِلَالُ ! بِمَ سَبَقْتَنِي إِلَى الْجَنَّةِ ؟ إِنِّي دَخَلْتُ الْبَارِحَةَ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي .

اې بلال ! د څه شي په وجه تا د ما نه مخکې جنت ته سَبقت کړی ؟ بېګاه شپه زه په خوب کې جنت ته داخل شوم نو ما خپلې مخې ته ستا د قدمونو آواز واورید .

حضرت بلال ﷺ ورته اوفرمایل :

يَا رَسُولَ اللهِ ! مَا أَذَّنْتُ قَطُّ إِلَّا صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، وَمَا أَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ إِلَّا تَوَضَّأْتُ عِنْدَهُ .

اې د اللہ رسوله ! چې زه کله هم اَذان اوکړم نو دوه رکعته نفل مونځ کوم ، او چې کله هم زما اَودس مات شي نو فورًا اودس کوم .

رسولُ اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ورته اوفرمایل :

بِهَذَا . د همدې عمل په وجه تا جنت ته د ما نه سبقت کړی . (۱)

**نوټ** : د حضرت بلال ﷺ جنت ته مخکې تلل د نبي علیه السلام د خادمانو په حیثیت وُ ، ګني د ټولو نه مخکې به جنت ته رسولُ اللہ صلی اللہ علیہ وسلم داخلیږي . (۲)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَصْبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَدَعَا بِلَالًا، فَقَالَ: «يَا بِلَالُ ! بِمَ سَبَقْتَنِي إِلَى الْجَنَّةِ ؟ إِنِّي دَخَلْتُ الْبَارِحَةَ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي » . فَقَالَ بِلَالٌ: يَا رَسُولَ اللهِ ! مَا أَذَّنْتُ قَطُّ إِلَّا صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، وَمَا أَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ إِلَّا تَوَضَّأْتُ عِنْدَهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بِهَذَا». المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ الْوِتْرِ رقم الحدیث ۱۱۷۹ وقال الحاکم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و رقم الحدیث ۵۲۴۵ . صحیح ابن خزیمة رقم الحدیث ۱۲۰۹ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۷۰۸۶ ، و رقم ۷۰۸۷ ، شعب الایمان رقم الحدیث ۲۴۶۱ ، مشکاة المصابیح رقم الحدیث ۱۳۲۶(۵) ، شرح السنة للبغوي رقم الحدیث ۱۰۱۲ .

(۲) (بِمَ سَبَقْتَنِي) . أَيْ: خَدَامِي، أَوْ قُدَّامِي . مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح ج۳ ص ۹۹۰ في تشریح حدیث ۱۳۲۶ بَابُ التَّطَوُّعِ

( په ترمذي شريف کې دا حديث د نورې اضافې سره هم ذکر شوی . (١) )

## د فرض مانځه نه پس آية الکرسي ويلو سره د جنت مستحق کيدل

رسولُ اللهصلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ يَمُوتَ .

څوک چې د هر فرض مانځه نه پس آية الکرسي لولي نو دا جنت ته د اخلولو نه صرف مرګ منع کړې وي ( يعنی د وفات کيدو سره به جنت ته داخليږي ) . (٢)

## د هر مانځه نه پس ، او د اوده کيدو په وخت مخصوص اَذکار ويلو سره د جنت مستحق کيدل

د ابوداؤد شريف حديث دی ، حضرت عبدالله بن عَمرو رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم اوفرمايل :

خَصْلَتَانِ، أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ. هُمَا يَسِيرٌ، وَمَنْ يَعْمَلُ

---

(١) عَنْ أَبِي بُرَيْدَةَ. قَالَ: أَصْبَحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِلَالًا فَقَالَ : يَا بِلَالُ ! بِمَ سَبَقْتَنِي إِلَى الْجَنَّةِ ؟ مَا دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَطُّ إِلَّا سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي، دَخَلْتُ الْبَارِحَةَ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي، فَأَتَيْتُ عَلَى قَصْرٍ مُرَبَّعٍ مُشْرِفٍ مِنْ ذَهَبٍ. فَقُلْتُ: لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ ؟ فَقَالُوا : لِرَجُلٍ مِنَ الْعَرَبِ. فَقُلْتُ: أَنَا عَرَبِيٌّ، لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ ؟ قَالُوا لِرَجُلٍ مِنْ قُرَيْشٍ. فَقُلْتُ: أَنَا قُرَشِيٌّ، لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ ؟ قَالُوا: لِرَجُلٍ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقُلْتُ: أَنَا مُحَمَّدٌ لِمَنْ هَذَا الْقَصْرُ ؟ قَالُوا: لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. فَقَالَ بِلَالٌ : يَا رَسُولَ اللهِ ! مَا أَذَّنْتُ قَطُّ إِلَّا صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، وَمَا أَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ إِلَّا تَوَضَّأْتُ عِنْدَهَا وَرَأَيْتُ أَنَّ لِلَّهِ عَلَيَّ رَكْعَتَيْنِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بِهِمَا . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي مَنَاقِبِ أَبِي حَفْصٍ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ٣٦٨٩ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. وقال الالباني : صحيح .

(٢) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْأَذْكَارِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَذْكَارِ عَقِبَ الصَّلَاةِ رقم الحديث ١٦٩٢٢ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَالْأَوْسَطِ بِأَسَانِيدَ، وَأَحَدُهَا جَيِّدٌ. السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٩٨٤٨ ، الدعاء للطبراني ٦٧٥ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٨٠٦٨ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٧٥٣٢ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٣٦٨ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٥٣٣ ، و رقم الحديث ٢٥٧٠ ، تفسير الرازي ج٧ ص ٥ سورة البقرة في تفسير آية ٢٥٥ .

بِهِمَا قَلِيْلٌ.

دوه عادتونه (خصلتونه) داسې دي چې کوم مسلمان بنده ددې حفاظت اوکړي (یعنی دا په پابندۍ سره اوکړي) نو دا به جنت ته داخلیږي ، دا دواړه کارونه آسان دي خو په دې باندې (د سستۍ په وجه) عمل کوونکي ډیر کم دي.

(بیا نبي علیه السلام د هغه دوه خصلتونو تفصیل بیان کړو ، یو خصلت دا دی چې) د هر مانځه نه پس لس (١٠) پېرې سبحان الله ویل ، لس پېرې الحمدُ لله ویل ، او لس پېرې الله اکبر ویل ، نو دا په ژبه باندې یو نیم سل (١٥٠) پېرې شو (١) لیکن په تله د میزان کې پینځلس سوه (١٥٠٠) پېرې شو (٢)

دویم خصلت دا دی چې کله مسلمان بنده د اُوده کیدو د پاره بِسترې ته لاړ شي او څلوردیرش (٣٤) پېرې اللهُ اکبر اووایي ، درې دیرش (٣٣) پېرې الحمدلله اووایي ، او درې دیرش (٣٣) پېرې سبحان الله اووایي نو دا په ژبه باندې سل (١٠٠) پېرې شو خو په تله د میزان کې زر (١٠٠٠) پېرې شو.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمایي چې ما پخپله رسولُ الله صلی الله علیه وسلم لیدلې وُ چې دا اَذکار یې په خپلو ګوتو مبارکو باندې شمیرل.

صحابه کرامو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوفرمایل :

يَارَسُوْلَ اللهِ ! كَيْفَ هُمَا يَسِيْرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيْلٌ ؟

اې د الله رسوله ! دا دواړه خصلتونه څنګه آسان دي او په دې باندې عمل کوونکي ډیر لږ دي ؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل : شیطان په تاسو کې یو کس ته د اُوده کیدو په وخت کې راشي او ددې کلماتو ویلو نه مخکې مخکې یې اُوده کړي ، او شیطان تاسو ته په هر

(١) څکه دا مجموعه دیرش (٣٠) اَذکار شو ، خو په هره ورځ باندې پینځه مونځونه فرض دي نو د هر فرض مانځه نه پس چې دیرش (٣٠) حساب کړې شي نو دا یو نیم سل (١٥٠) جوړیږي.

(٢) څکه الله تعالی د هرې نېکۍ په عوض کې لس چنده ثواب ورکوي نو یونیم سلو (١٥٠) ته چې په لس (١٠) کې ضرب ورکړې شي نو ددینه پنځلس سوه (١٥٠٠) جوړیږي.

مانځه کې راشي ددې کلماتو ویلو نه مخکې مخکې ده ته یو بل حاجت وریاد کړي (نو دا کس د مانځه نه پس سمدست لاړ شي او دا کلمات او نه وایي). (١)

## په هره پېره '' سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ '' ویلو سره په جنت کې ځنې اونه نال کیدل

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم په ما باندې تېر شو، ما اونې کرلی، پوښتنه یې رانه اوکړه:

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! مَا الَّذِي تَغْرِسُ؟ اې ابوهریره ! څه کرې؟

ما ورته وویل: ځان له اونې کرم. دوی راته اوفرمایل:

أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى غِرَاسٍ خَيْرٍ لَكَ مِنْ هٰذَا ؟

آیا زه تاته ددینه بهترینې اونې کرل اونښایم ؟

ما ورته وویل: اې د الله رسوله ! راته وې ښایې. نبي علیه السلام اوفرمایل:

قُلْ: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ. يُغْرَسْ لَكَ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ.

---

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « خَصْلَتَانِ، أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ، هُمَا يَسِيرٌ، وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ. يُسَبِّحُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا، وَيَحْمَدُ عَشْرًا، وَيُكَبِّرُ عَشْرًا، فَذَلِكَ خَمْسُونَ وَمِائَةٌ بِاللِّسَانِ، وَأَلْفٌ وَخَمْسُ مِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ، وَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ، وَيَحْمَدُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَيُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، فَذَلِكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ، وَأَلْفٌ فِي الْمِيزَانِ » فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ ! كَيْفَ هُمَا يَسِيرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيلٌ ؟ قَالَ: « يَأْتِي أَحَدَكُمْ - يَعْنِي الشَّيْطَانَ - فِي مَنَامِهِ فَيُنَوِّمُهُ قَبْلَ أَنْ يَقُولَهُ، وَيَأْتِيهِ فِي صَلَاتِهِ فَيُذَكِّرُهُ حَاجَةً قَبْلَ أَنْ يَقُولَهَا ».

سنن ابي داؤد أَبْوَابُ النَّوْمِ بَابٌ فِي التَّسْبِيحِ عِنْدَ النَّوْمِ رقم الحديث ٥٠٦٥ قال الالباني: صحيح. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٦٩١٠، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٢٩٢٦٤، مسند البزار رقم الحديث ٢٤٠٣، صحيح ابن حبان ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ مَا وَصَفْنَا مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّحْمِيدِ وَالتَّكْبِيرِ إِنَّمَا أُمِرَ بِاسْتِعْمَالِهِ فِي عَقِبِ الصَّلَاةِ لَا فِي الصَّلَاةِ نَفْسِهَا رقم الحديث ٢٠١٢، المعجم الاوسط رقم الحديث ٢٩٥٣، و رقم الحديث ٧٤٨٥، الاذكار للنووي رقم الحديث ٢١١، كنز العمال رقم الحديث ٢١٩٦٨.

Scanned with CamScanner

سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ وايه نو تا ته به ددئ هر يو ذِکر ويلو په عِوض کې په جنت کې غټه اُونه کرلې شي . (۱)

## په هره پېره ''سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهِ'' ويلو سره په جنت کې د ققجورې غټه اُونه نال کيدل

د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ

څوک چې '' سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهِ '' اووايي نو دده د پاره (ددې په عِوض کې) په جنت کې د ققجورې غټه اُونه اُوکرل شي . (۲)

## لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ويل د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم حضرت عبدالله بن قيس رضي الله عنه (يعنی ابوموسیٰ اشعري رضي الله عنه) ته اوفرمايل :

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ يَغْرِسُ غَرْسًا، فَقَالَ: « يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ! مَا الَّذِي تَغْرِسُ ؟» قُلْتُ: غِرَاسًا لِي. قَالَ: « أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى غِرَاسٍ خَيْرٍ لَكَ مِنْ هٰذَا ؟» قَالَ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ: " قُلْ: سُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، يُغْرَسْ لَكَ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ " . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ فَضْلِ التَّسْبِيحِ رقم الحديث ۳۸۰۷ قال الالباني: صحيح . المستدرک علی الصحيحين كِتَابُ الدُّعَاءِ، وَالتَّكْبِيرِ، وَالتَّهْلِيلِ، وَالتَّسْبِيحِ وَالذِّكْرِ رقم الحديث ۱۸۸۷ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ۷۶۸ .

(۲) عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَهُ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّحْمِيدِ رقم الحديث ۳۴۶۴ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. و رقم الحديث ۳۴۶۵ . المستدرک علی الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۸۴۷ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. مسند البزار رقم الحديث ۳۴۶۸ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۳۰۴(۱۱) ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۶۸۷۵ وقال الهيثمي : رواه البزار و اسناده جيد.

Scanned with CamScanner

أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ ؟

آيا زه تاته داسې يوه كلمه اُوښايم چې هغه د جنت د خزانو نه يوه خزانه ده .

عبدالله بن قيس رضي الله عنه فرمايي چې ما ورته وويل :

اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي ضرور يې راته اُوښايې . نو نبي عليه السلام اوفرمايل : هغه كلِمه داده :

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ .

( ترجمه يې داده : نشته بچ كيدل د ګناه نه ، اونشته قوّت په نيكۍ كولو باندې مګر د الله جل جلاله په مدد سره دى ) .(۱)

## په بازار كې داخليدو په وخت كلمهٔ توحيد ويلو سره په جنت كې كور جوړيدل

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : څوک چې په بازار كې ( يعنى بازار ته د داخليدو په وخت ) دا كلمات اووايي :

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ ، بِيَدِهِ

---

(۱) عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ ....... وَأَنَا خَلْفَ دَابَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَسَمِعَنِي وَأَنَا أَقُولُ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ. فَقَالَ لِي : « يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ ». قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ . قَالَ: « أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ» قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ. فَدَاكَ أَبِي وَأُمِّي. قَالَ : « لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ غَزْوَةِ خَيْبَرَ رقم الحديث ۴۲۰۵ ، و رقم الحديث ۶۳۸۴ ، و رقم الحديث ۶۶۱۰ ، و رقم الحديث ۷۳۸۶ . صحيح مسلم كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ اسْتِحْبَابِ خَفْضِ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ رقم الحديث ۴۴(۲۷۰۴) ، و رقم الحديث ۴۵(۲۷۰۴) ، سنن ابي داؤد رقم الحديث ۱۵۲۶ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۳۴۶۱ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ : قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَلِمَةٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ _ أَوْ قَالَ: عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ _ ؟ " فَقُلْتُ : بَلَى. فَقَالَ: « لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ » . صحيح مسلم كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابُ اسْتِحْبَابِ خَفْضِ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ رقم الحديث ۴۷(۲۷۰۴)

Scanned with CamScanner

الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

نو الله تعالی دده د پاره لس لکه (١٠٠٠٠٠٠) نیکۍ اُولیکي، لس لکه ګناهونه یې معاف کړي، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ. او دده د پاره په جنت کې کور جوړ کړي. (١)

## په سَيِّدُ الإستغفار ويلو سره جنت ته داخليدل

د بخاري شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: سَيِّدُ الإستغفار دادی چې ته دا اُووايې:

اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَآ إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِيْ وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوْءُ لَكَ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْ لِيْ، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ.

بیا نبي علیه السلام اوفرمایل: څوک چې دا د ورځې په اخلاص سره اُووايي او په دې ورځ باندې د ماښام نه مخکې وفات شي فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ نو دا به جنتي وي.

او څوک چې دا د شپې په اِخلاص سره اُووايي او د سهر راتلو نه مخکې وفات شي فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ. نو دا به جنّتي وي. (٢)

---

(١) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قَالَ فِي السُّوْقِ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ. يُحْيِيْ وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ، وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب مَا يَقُوْلُ إِذَا دَخَلَ السُّوقَ رقم الحديث ٣٤٢٩ قال الالباني: حسنٌ. المستدرک علی الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١٩٧٤، حلية الاولياء ج٢ ص ٣٥٥، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٤٣١(١٦)، كنزالعمال رقم الحديث ٩٣٢٧، ورقم الحديث ٩٤٤٣، سلاح المؤمن فی الدعاء رقم الحديث ٩١٥ باب مايقول اذا دخل السوق.

(٢) عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَيِّدُ الإِسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُوْلَ: اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِيْ وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوْءُ لَكَ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْ لِيْ، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ". قَالَ: « وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوْقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوْقِنٌ بِهَا، ←←←

Scanned with CamScanner

د ترمذي شريف د حديث په آخر کې الفاظ دادي:

إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. ده ته جنت واجب شو. (١)

## اَسماء حُسنىٰ (يعنى د الله تعالى نهه نوي ٩٩ نومونه) يادولو سره د جنت مستحق کيدل

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اِسْمًا، مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ.

بيشکه د الله تعالى نهه نوي (٩٩) يعنى يو کم سل نومونه دي، چا چې دا ټول ياد کړل نو جنت ته به داخل شي. (٢)

**نوټ**: دا نهه نوي (٩٩) نومونه د احاديثو په کتابونو کې ذکر دي. (٣)

---

←←← فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ». صحيح البخاري كِتَابُ الدَّعَوَاتِ بَابُ أَفْضَلِ الِاسْتِغْفَارِ رقم الحديث ٦٣٠٦، و رقم الحديث ٦٣٢٣ كِتَابُ الدَّعَوَاتِ بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا أَصْبَحَ، سنن النسائي رقم الحديث ٥٥٢٢، صحيح الادب المفرد رقم الحديث ٦٢٠/٤٨٤، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٧١١، و رقم الحديث ١٧١٣٠.

(١) عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى سَيِّدِ الِاسْتِغْفَارِ: اَللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، وَأَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَعْتَرِفُ بِذُنُوبِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ. لَا يَقُولُهَا أَحَدُكُمْ حِينَ يُمْسِي فَيَأْتِي عَلَيْهِ قَدَرٌ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَلَا يَقُولُهَا حِينَ يُصْبِحُ فَيَأْتِي عَلَيْهِ قَدَرٌ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ إِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الدَّعَوَاتِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ إِذَا أَصْبَحَ وَإِذَا أَمْسَى رقم الحديث ٣٣٩٣.

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الشُّرُوطِ بَابُ مَا يَجُوزُ مِنَ الِاشْتِرَاطِ وَالثُّنْيَا فِي الإِقْرَارِ، وَالشُّرُوطِ الَّتِي يَتَعَارَفُهَا النَّاسُ بَيْنَهُمْ، وَإِذَا قَالَ: مِائَةٌ إِلَّا وَاحِدَةً أَوْ ثِنْتَيْنِ رقم الحديث ٢٧٣٦، و رقم الحديث ٧٣٩٢ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ: إِنَّ لِلَّهِ مِائَةَ اسْمٍ إِلَّا وَاحِدًا. صحيح مسلم كتاب الذِّكْرِ وَالدُّعَاءِ وَالتَّوْبَةِ وَالِاسْتِغْفَارِ بَابٌ فِي أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى وَفَضْلِ مَنْ أَحْصَاهَا رقم الحديث ٥(٢٦٧٧)، سنن ابن ماجة رقم الحديث ٣٨٦٠، سنن الترمذي رقم الحديث ٣٥٠٦، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٢٨٧(١) باب اسماء الله تعالى الفصل الاول.

(٣) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اِسْمًا ←←←

# د الله تعالی نور نومونه هم شته

د مذکوره حدیث مطلب دا ندی چې ګني د الله تعالی همدا نهه نوي (٩٩) نومونه دي او نور نشته ، بلکه د الله تعالی نومونه نور هم شته کوم چې مونږ ته ندي معلوم ، لکه په یو حدیث کې صراحةً ذکر دي چې د الله ﷻ نور نومونه هم شته . (١)

---

←←← مِائَةً إِلَّا وَاحِدَةً، مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ. إِنَّهُ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ هُوَ اللهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ، الرَّحِيمُ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ، السَّلَامُ، الْمُؤْمِنُ ، الْمُهَيْمِنُ ، الْعَزِيزُ، الْجَبَّارُ، الْمُتَكَبِّرُ، الْخَالِقُ، الْبَارِئُ، الْمُصَوِّرُ، الْغَفَّارُ، الْقَهَّارُ، الْوَهَّابُ، الرَّزَّاقُ، الْفَتَّاحُ، الْعَلِيمُ، الْقَابِضُ، الْبَاسِطُ، الْخَافِضُ، الرَّافِعُ، الْمُعِزُّ، الْمُذِلُّ، السَّمِيعُ، الْبَصِيرُ، الْحَكَمُ، الْعَدْلُ ، اللَّطِيفُ، الْخَبِيرُ ، الْحَلِيمُ، الْعَظِيمُ ، الْغَفُورُ ، الشَّكُورُ ، الْعَلِيُّ، الْكَبِيرُ، الْحَفِيظُ، الْمُغِيثُ» . وَقَالَ صَفْوَانُ فِي حَدِيثِهِ: الْمُقِيتُ، وَإِلَيْهِ ذَهَبَ أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ فِي مُخْتَصَرِ الصَّحِيحِ، الْحَسِيبُ، الْجَلِيلُ، الْكَرِيمُ، الرَّقِيبُ، الْمُجِيبُ، الْوَاسِعُ، الْحَكِيمُ، الْوَدُودُ، الْمَجِيدُ، الْبَاعِثُ، الشَّهِيدُ، الْحَقُّ، الْوَكِيلُ، الْقَوِيُّ، الْمَتِينُ، الْوَلِيُّ، الْحَمِيدُ، الْمُحْصِي، الْمُبْدِي، الْمُعِيدُ، الْمُحْيِي، الْمُمِيتُ، الْحَيُّ، الْقَيُّومُ، الْوَاجِدُ، الْمَاجِدُ، الْوَاحِدُ، الصَّمَدُ، الْقَادِرُ، الْمُقْتَدِرُ، الْمُقَدِّمُ، الْمُؤَخِّرُ، الْأَوَّلُ، الْآخِرُ، الظَّاهِرُ، الْبَاطِنُ، الْوَالِي، الْمُتَعَالِي، الْبَرُّ، التَّوَّابُ، الْمُنْتَقِمُ، الْعَفُوُّ، الرَّءُوفُ، مَالِكُ الْمُلْكِ، ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، الْمُقْسِطُ، الْجَامِعُ، الْغَنِيُّ، الْمُغْنِي، الْمَانِعُ، الضَّارُّ، النَّافِعُ، النُّورُ، الْهَادِي، الْبَدِيعُ، الْبَاقِي، الْوَارِثُ، الرَّشِيدُ، الصَّبُورُ . المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ الْإِيمَانِ رقم الحدیث ٤١ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيثٌ قَدْ خَرَّجَاهُ فِي الصَّحِيحَيْنِ بِأَسَانِيدَ صَحِيحَةٍ دُونَ ذِكْرِ الْأَسَامِي فِيهِ . صحیح ابن حبان محققا ذِكْرُ تَفْصِيلِ الْأَسَامِي الَّتِي يُدْخِلُ اللهُ مُحْصِيهَا الْجَنَّةَ رقم الحدیث ٨٠٨ ، السنن الکبری للبیهقي رقم الحدیث ١٩٨١٧ ، شعب الایمان رقم الحدیث ١٠١ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحدیث ١٢٥٧ ، سنن الترمذي رقم الحدیث ٣٥٠٧ .

(١) عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ ﷺ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَا قَالَ عَبْدٌ قَطُّ إِذَا أَصَابَهُ هَمٌّ أَوْ حُزْنٌ: اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ ابْنُ عَبْدِكَ ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ بَصَرِي، وَجِلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي، إِلَّا أَذْهَبَ اللهُ هَمَّهُ وَأَبْدَلَهُ مَكَانَ حُزْنِهِ فَرَحًا» . قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ ! يَنْبَغِي لَنَا أَنْ نَتَعَلَّمَ هَذِهِ الْكَلِمَاتِ ؟ قَالَ : « أَجَلْ، يَنْبَغِي لِمَنْ سَمِعَهُنَّ أَنْ يَتَعَلَّمَهُنَّ » . إسناده صحيح، رجاله رجال الصحيح . صحیح ابن حبان محققا ذِكْرُ الْأَمْرِ لِمَنْ أَصَابَهُ حُزْنٌ أَنْ يَسْأَلَ اللهَ ذَهَابَهُ عَنْهُ وَإِبْدَالَهُ إِيَّاهُ فَرَحًا رقم الحدیث ٩٧٢ .

په دې ځای کې د مذکوره حديث مطلب دادی چې څوک د الله تعالی همدا نهه نوي (۹۹) نومونه ياد کړي ، ددې په مُقتَضَا باندې عمل اوکړي ، او په دې نومونو سره دُعا اوغواړي نو الله تعالی به داسې کس جنت ته داخل کړي . (۱)

## په درود شريف ويلو سره د جنت مستحق کيدل

څوک چې په نبي عليه السلام باندې درود شريف وايي نو په دې سره دا کس د جنت مستحق ګرځي ، ځکه په احاديثو کې راځي چې څوک د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نوم مبارک واوري او درود شريف اُو نه وايي نو ده د جنت لاره خطاء کړه ، نو چې کله په درود شريف نه ويلو سره د جنت لاره خطاء کيږي نو لازمي خبره ده چې په درود شريف ويلو سره به انسان جنت ته داخليږي .

هغه حديث دادی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ عَلَيَّ خَطِئَ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ . (۲)

څوک چې په ما باندې درود ويل هير کړي نو هغه ذ جنت لا ره خطاء کړه .

په يو بل حديث کې ذکر دي ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ خَطِئَ طَرِيْقَ الْجَنَّةِ . (۳)

د چا د وړاندې چې زما ذکر اوشي او هغه په ما باندې درود اُو نه وايي نو ده د جنت لاره خطاء کړه .

(۱) الطريق الى الجنة ص ۱۱۸ .

(۲) سنن ابن ماجة كِتَابُ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ، وَالسُّنَّةُ فِيهَا بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۹۰۸ قال الالباني: حسن صحيح . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۳۱۷۹۳ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۲۸۱۹ ، شعب الايمان رقم الحديث ۱۴۷۲ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۱۵۸ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ۱۶۸۵ ، الزواجر ج۱ ص ۱۹۱ .

(۳) شعب الايمان تعظيم النبي صلى الله عليه وسلم و توقيره صلى الله عليه وسلم رقم الحديث ۱۴۷۲ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۲۵۹۸ ، الزواجر ج۱ ص ۱۹۱ ، كنزالعمال رقم الحديث ۲۱۶۰ .

Scanned with CamScanner

# د قرآن کریم زده کوونکي ، بل ته ښودونکي ، او په دې باندې عمل کوونکي د پاره د جنت زیرې

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

اَلا مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ وَعَمِلَ بِمَا فِيْهِ فَأَنَا لَهُ سَائِقٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَدَلِيْلٌ إِلَى الْجَنَّةِ .

خبردار ، چاچې قرآن کریم اُولوست ، بل ته يې اُوخود ، او په دې کې چې کوم اَحکامات دي په هغې باندې يې عمل اوکړو نو زه به د ده د پاره د جنت بوتلونکې شم ، او د ده د پاره به دلیل ( یعنی رَهبري کوونکې ) جوړ شم . (۱)

# د سورة الإخلاص په ويلو سره جنت واجب کیدل

په ترمذي شریف او نسائي شریف کې دا حدیث ذکر دی ، حضرت ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره روان ووم ، دوی د یو سړي نه واریدل چې سورة الإخلاص ( قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ، اَللهُ الصَّمَدُ ... ) يې ویل ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل :

وَجَبَتْ . ( د ده د پاره ) واجب شو .

ما ورنه پوښتنه اوکړه : څه شی واجب شو ؟

نبي علیه السلام اوفرمایل : اَلْجَنَّةُ . د ده د پاره جنت واجب شو . (۲)

---

(۱) کنز العمال رقم الحديث ٢٣٧٥ الباب السابع : في تلاوة القرآن وفضائله الفصل الأول: في فضائله ، في فضائل تلاوة القرآن .

وفي رواية : من تعلم القرآن وعلمه وأخذ بما فيه كان له شفيعاً ودليلا إلى الجنة . رواه ابن عساكر عن أبي هدبة عن أنس . كنز العمال رقم الحديث ٢٣٧٦ الباب السابع : في تلاوة القرآن وفضائله الفصل الأول: في فضائله ، في فضائل تلاوة القرآن .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قَالَ: أَقْبَلْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ : قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ، اَللهُ الصَّمَدُ ... فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَجَبَتْ . قُلْتُ : مَا وَجَبَتْ ؟ قَالَ : اَلْجَنَّةُ . سنن الترمذي رقم الحديث ٢٨٩٧ ، وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ ، وقال الالباني: صحيح. سنن النسائي رقم الحديث ٩٩٤

Scanned with CamScanner

( **نوټ**: په ځنې کتابونو کې دا حديث د نوري اِضافې سره هم ذکر دی ) . (۱)

## لس (۱۰) پېرې سورة اِخلاص ويلو سره په جنت کې يو محل جوړيدل

يو حديث کې راځي ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : څوک چې قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ...(يعنی سورة اِخلاص) لس (۱۰) پېرې اووايي نو دده د پاره په جنت کې يو محل جوړ کړې شي ، څوک يې چې شل (۲۰) پېرې اووايي نو دده د پاره په جنت کې دوه محلونه جوړ کړې شي ، او څوک يې چې ديرش (۳۰) پېرې اووايي نو دده د پاره په جنت کې درې (۳) محلونه جوړ کړې شي .

(دې اَوريدو سره ) حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمايل :

وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِذَنْ لَنُكْثِرَنَّ قُصُوْرَنَا.

اې د الله رسوله ! قَسَم په الله چې بيا خو به مونږ په جنت کې ډير مَحلونه جوړ کړو .

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ورته اوفرمايل :

اَللهُ أَوْسَعُ مِنْ ذَلِكَ .

الله تعالی دديـنه هم د زيات رَحم او ورکړې واله دی . (۲)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: أَقْبَلْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ {قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ . اَللهُ الصَّمَدُ . لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ . وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ} فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجَبَتْ» فَسَأَلْتُهُ : مَاذَا يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « اَلْجَنَّةُ » قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : فَأَرَدْتُ أَنْ أَذْهَبَ إِلَى الرَّجُلِ فَأُبَشِّرَهُ، ثُمَّ فَرِقْتُ أَنْ يَفُوْتَنِي الْغَدَاءُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَآثَرْتُ الْغَدَاءَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ إِلَى الرَّجُلِ فَوَجَدْتُهُ قَدْ ذَهَبَ. المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۲۰۸۹ وقال الحاکم : هَذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. موطاء مالک كِتَابُ الْقُرْآنِ بَابُ مَا جَاءَ فِي قِرَاءَةِ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَتَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ رقم الحديث ۱۷ . شعب الايمان رقم الحديث ۲۳۰۷ ، شرح السنة للبغوي رقم الحديث ۱۲۱۱ ، مسند البزار رقم الحديث ۸۷۸۴ .

(۲) عَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ ، قَالَ : إِنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَنْ قَرَأَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ، بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَرَأَهَا عِشْرِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرَانِ فِي الْجَنَّةِ ، وَمَنْ قَرَأَهَا ثَلَاثِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا ثَلَاثَةُ قُصُوْرٍ فِي الْجَنَّةِ » . فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه : وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِذَنْ لَنُكْثِرَنَّ قُصُوْرَنَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اَللهُ أَوْسَعُ مِنْ ذَلِكَ » . سنن الدارمي وَمِنْ كِتَابِ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ ←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

# سورة المُلک ويلو سره جنت ته داخليدل

څوک چې د سورة المُلک ( تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ ... ) تلاوت کوي نو دا به د قيامت په ورځ د وَيونکي شفاعت کوي ، او جنت ته به يې داخلوي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ سُورَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مَا هِيَ إِلَّا ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ فَأَخْرَجَتْهُ مِنَ النَّارِ وَأَدْخَلَتْهُ الْجَنَّةَ .

بيشکه د الله تعالی کتاب ( قرآن کريم ) کې يو سورة دی چې صرف ديرش ( ۳۰ ) آيتونه يې دي ، دې سورة د يو سړي سفارش اوکړو ، د جهنم نه يې راَووېست ، او جنت ته يې داخل کړو . (۱)

دا سورةُ المُلک دی ، لکه په نورو آحاديثو کې صراحةً ددې تذکره شته . (۲)

---

←←← بَابٌ: فِي فَضْلِ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ رقم الحديث ۳۴۷۲ ، مشكاة المصابيح كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ رقم الحديث ۲۱۸۵(۷۷) .

( اَللّٰهُ أَوْسَعُ ) ، أَيْ أَكْثَرُ عَطَاءً ( مِنْ ذَلِكَ ) أَوْ قُدْرَتُهُ وَرَحْمَتُهُ أَوْسَعُ فَلَا تَعْجَبْ. وَمِنَ الْعَجِيبِ خَلْطُ ابْنِ حَجَرٍ بَيْنَ الْقَوْلَيْنِ وَتَلْفِيقِهِمَا حَيْثُ قَالَ: أَيْ قُدْرَتُهُ أَكْثَرُ عَطَاءً . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۴ ص ۱۴۹۴ كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: « إِنَّ سُورَةً مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ مَا هِيَ إِلَّا ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ فَأَخْرَجَتْهُ مِنَ النَّارِ وَأَدْخَلَتْهُ الْجَنَّةَ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ التَّفْسِيرِ تَفْسِيرُ سُورَةِ الْمُلْكِ رقم الحديث ۳۸۳۸ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، وَقَدْ سَقَطَ لِي فِي سَمَاعِي هَذَا الْحَرْفُ وَهِيَ سُورَةُ الْمُلْكِ" . وقال الذهبي : صحيح . كنز العمال رقم الحديث ۲۶۴۶ ،

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتَّى غُفِرَ لَهُ، وَهِيَ سُورَةُ تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ . سنن الترمذي رقم الحديث ۲۸۹۱ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۰۷۵ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۷۹۷۵ ، شرح السنّة للبغوي ج ۳ ص ۴۷۳ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۱۵۳(۴۵) . ←←←←

Scanned with CamScanner

## د قرآن کریم د هر آیت په عِوض کې په جنت کې درجې اُوچتیدل

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَنْ قَرَأَ آيَةً مِنَ الْقُرْآنِ كَانَتْ لَهُ دَرَجَةً مِنَ الْجَنَّةِ وَمِصْبَاحًا مِنْ نُورٍ .

چا چې د قرآن کریم یو آیت اُولوست نو دده د پاره به ( ددې په عِوض کې ) په جنت کې یوه درجه اُوچتیږي ، او ( دده د پاره به ) د نُور یوه ډیوه وي . (۱)

## د حافظِ قرآن د پاره د آیتونو لوستلو په مقدار په جنت کې درجې اُوچتیدل

د ابوداؤد شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ : اِقْرَأْ ، وَارْتَقِ ، وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا ، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا . (۲)

د قیامت په ورځ به صاحبِ قرآن ته وویلې شي : ته قرآن کریم لوله او د جنت په درجو

←←← د حضرت ابوهریرة ﷺ نه روایت دی ، چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اُوفرمایل : بیشکه په قرآن کریم کې یو سورة دی چې په هغې کې دیرش (۳۰) آیتونه دي ، دې سورة د یو کس د پاره د الله ﷻ په حضور کې شفاعت وکړو تر دې پورې چې دې کس ته بَخنه وکړې شوه ، او هغه سورة " تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ " (یعنی سورة المُلک) دی .

(۱) شعب الایمان رقم الحدیث ۱۸۴۵ ، کنزالعمال ج۱ ص ۲۷۴ رقم الحدیث ۲۴۴۸ ط. دارالکتب العلمیة بیروت .

(۲) سنن ابي داؤد بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّرْتِيلِ فِي الْقِرَاءَةِ رقم الحدیث ۱۴۶۴ قال الالباني : حسن صحیح . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحدیث ۲۹۱۴ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ . مشكوة المصابيح كتاب فضائل القرآن الفصل الثاني حديث ۲۵ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ إِذَا دَخَلَ الْجَنَّةَ اقْرَأْ وَاصْعَدْ . فَيَقْرَأُ وَيَصْعَدُ بِكُلِّ آيَةٍ دَرَجَةً حَتَّى يَقْرَأَ آخِرَ شَيْءٍ مَعَهُ » . رواه ابن ماجه بَابُ ثَوَابِ الْقُرْآنِ رقم الحدیث ۳۷۸۰ ، واحمد في مسنده ، وصححه الشیخ الالباني في السلسلة الصحیحة رقم الحدیث ۲۲۴۰ ، کنزالعمال رقم الحدیث ۲۳۳۱ .

Scanned with CamScanner

ښجه ، او په دُنيا کې چې څنګه تا په مزه مزه (صحيح تجويد سره) لوستلو نو هماغه شان تلاوت کوه ، بيشکه ستا منزل (د اُوسيدو ځای) به هغه آخري آيت وي چې ته يې لولې .
(يعنى چيرته چې آخِري آيت ختم شو هلته به ستا د اُوسيدو ځای وي) .

**فائده** : صاحبِ قرآن چې د قرآن کريم څومره آيتونه لولي په هماغه مِقدار به په جنت کې دده درجې اُوچتولې شي .

په يو روايت کې راغلي چې د قرآن کريم څومره آيتونه دي په هماغه مقدار د جنت درجې دي ، که يو کس ټول قرآن اُولولي نو هغه به د جنت په اُوچته درجه باندې وي .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّ عَدَدَ دَرَجِ الْجَنَّةِ عَدَدَ آيِ الْقُرْآنِ فَمَنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ مِمَّنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ لَمْ يَكُنْ فَوْقَهُ أَحَدٌ . (١)

بيشکه د جنت د درجو تعداد د قرآن کريم د آيتونو د تعداد برابر دی (يعنى چې څومره د قرآن کريم آيتونه دي په هماغه مِقدار د جنت درجې دي) ، پس د قرآن کريم په حافظانو کې چې څوک جنت ته داخل شو او ده پوره قرآن اُولوست نو (د اَنبياء کرامو نه علاوه په نورو اُمّتيانو کې) دده نه پورته به (په درجه کې) بل هيڅوک نه وي .

## د روژې نيولو په وجه جنت ته داخليدل

د فرضي روژو نيولو په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي ، بلکه د جنت په اَتو (٨) دروازو کې يوه دروازه " رَيّان " ده چې په دې به صرف روژه دار جنت ته داخليږي .

١ . د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) کنزالعمال رقم الحديث ٢٢٧٢ ، ٢٤٢٤ ، ومثل هذا الحديث رواه البيهقي في شعب الايمان .

امام رازي رحمه الله په تفسيرِ کبير کې ذکر کړي : قَالَ أَبُو سُلَيْمَانَ الْخَطَّابِيُّ: جَاءَ فِي الْأَثَرِ : أَنَّ عَدَدَ آيِ الْقُرْآنِ عَلَى عَدَدِ دَرَجِ الْجَنَّةِ . يُقَالُ لِلْقَارِئِ : اِقْرَأْ وَارْقَ فِي الدَّرَجِ عَلَى عَدَدِ مَا كُنْتَ تَقْرَأُ مِنَ الْقُرْآنِ . فَمَنِ اسْتَوْفَى قِرَاءَةَ جَمِيْعِ آيِ الْقُرْآنِ اِسْتَوْلَى عَلَى أَقْصَى الْجَنَّةِ . تفسير الرازي ١ / ٢٩ وَبَقِيَ مِنْ مَسَائِلِ الْفَاتِحَةِ أَشْيَاءُ نذكرها هاهنا : السنة في القراءة المسألة الثامنة . هكذا ذکر في المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٢٥٩ .

Scanned with CamScanner

فِي الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ. فِيهَا بَابٌ يُسَمَّى الرَّيَّانَ. لَا يَدْخُلُهُ إِلَّا الصَّائِمُونَ. (۱)

د جنت آته (۸) دروازې دي په هغې کې د يوې دروازې نوم " رَيَّان" دی ، په دې دروازه به صرف روژه دار ( جنت ته ) داخليږي .

**۲** . د بخاري شريف او مسلم شريف په يو بل حديث کې ددې خبرې پوره تشريح ذکر ده ، نبي کريم عليه السلام فرمايي :

إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَابًا يُقَالُ لَهُ الرَّيَّانُ، يَدْخُلُ مِنْهُ الصَّائِمُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ. يُقَالُ: أَيْنَ الصَّائِمُونَ ؟ فَيَقُومُونَ لَا يَدْخُلُ مِنْهُ أَحَدٌ غَيْرُهُمْ. فَإِذَا دَخَلُوا أُغْلِقَ فَلَمْ يَدْخُلْ مِنْهُ أَحَدٌ. (۲)

بيشکه په جنت کې يوه دروازه ده چې هغې ته " رَيَّان " وايي ، د قيامت په ورځ به په دې دروازه باندې ( جنت ته ) صرف روژه دار داخليږي ، د روژه دارو نه علاوه به په دې باندې بل هيڅوک نه داخليږي ، آواز به اوکړې شي چې :

أَيْنَ الصَّائِمُونَ ؟ روژه دار چيرته دي ؟

نو روژه دار به پاڅي ( صرف دوی به په دې دروازه جنت ته داخل شي ) ، په دې دروازه به د دوی نه علاوه بل هيڅوک نشي داخليدی ، پس کله چې دوی داخل شي نو دا دروازه به بنده کړې شي ، او بل هيڅوک به پرې داخل نه شي .

**۳** . حضرت ابو امامة ﷺ فرمايي چې ما نبي عليه السلام ته عرض اوکړو :

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ بَابُ صِفَةِ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ رقم الحديث ۳۲۵۷ ، مشكاة المصابيح كتاب الصوم الفصل الاول رقم الحديث ۱۹۵۷ (۲) ، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۸۵۱۲ ، شعب الايمان رقم ۳۳۱۱ .

وفي رواة الدارمي : لِلْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ أَبْوَابٍ ...

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ رقم الحديث ۱۸۹۶ ، صحيح مسلم كِتَاب الصِّيَامِ بَابُ فَضْلِ الصِّيَامِ رقم الحديث ۱۶۶ (۱۱۵۲) ، صحيح ابن حبان رقم ۳۴۲۰ ، المعجم الكبير للطبراني رقم ۵۹۶۹ ، صحيح الترغيب والترهيب كتاب الصوم الترغيب في الصوم مطلقا رقم الحديث ۹۷۹ (۲)

Scanned with CamScanner

.... فَمُرْنِي بِعَمَلٍ أَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ .

اې د الله رسوله ! ماته داسې عمل اُوښايه چې د هغې په وجه زه جنت ته داخل شم .

نبي علیه السلام ( راته ).اوفرمايل :

عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَا مِثْلَ لَهُ .

ته په ځان باندې روژه لازم کړه ( يعنی روژې نيسه ) ؛ ځکه د دې برابر هيڅ عمل نشته . (١)

( **نوټ :** په احاديثو مبارکه وُ کې لکه څرنګې چې په فرضي روژو نيولو باندې د جنت خوشخبري راغلی ، نو همدغه شان په بعضې نفلي روژو نيولو باندې هم د جنت خوشخبري راغلی ) . (٢)

---

(١) پوره حديث داسې دی : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ ﷺ ، قَالَ : أَنْشَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَيْشًا، فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ ! أُدْعُ اللهَ لِي بِالشَّهَادَةِ. قَالَ: "اَللّٰهُمَّ سَلِّمْهُمْ وَغَنِّمْهُمْ". فَغَزَوْنَا، فَسَلِمْنَا وَغَنِمْنَا، حَتَّى ذَكَرَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . قَالَ: ثُمَّ أَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي أَتَيْتُكَ تَتْرَى ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، أَسْأَلُكَ أَنْ تَدْعُوَ لِي بِالشَّهَادَةِ، فَقُلْتَ : "اَللّٰهُمَّ سَلِّمْهُمْ وَغَنِّمْهُمْ" . فَسَلِمْنَا وَغَنِمْنَا يَا رَسُولَ اللهِ، فَمُرْنِي بِعَمَلٍ أَدْخُلُ بِهِ الْجَنَّةَ، فَقَالَ: "عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّهُ لَا مِثْلَ لَهُ" . قَالَ: فَكَانَ أَبُو أُمَامَةَ لَا يُرَى فِي بَيْتِهِ الدُّخَانُ نَهَارًا إِلَّا إِذَا نَزَلَ بِهِمْ ضَيْفٌ، فَإِذَا رَأَوُا الدُّخَانَ نَهَارًا عَرَفُوا أَنَّهُ قَدِ اعْتَرَاهُمْ ضَيْفٌ . صحيح ابن حبان محققا كِتَابُ الصَّوْمِ بَابُ فَضْلِ الصَّوْمِ ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الصَّوْمَ لَا يَعْدِلُهُ شَيْءٌ مِنَ الطَّاعَاتِ رقم الحديث ٣٤٢٥ إسناده صحيح على شرط مسلم، رجاله ثقات رجال الشيخين. مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ٨٨٩٥ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ٩٨٦(٩) .

(٢) لکه په يو حديث کې د چهارشنبې ، زيارت ، او جُمعې په ورځ نفلي روژه نيولو فضيلت بيان شوی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

مَنْ صَامَ الْأَرْبِعَاءَ وَالْخَمِيسَ وَالْجُمُعَةَ، بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ .

څوک چې د چهارشنبې ، زيارت ، او جُمعې په ورځ نفلي روژه اونيسي نو الله تعالی به ده ته په جنت کې کور جوړ کړي .

مجمع الاوسط بَابُ الْأَلِفِ مَنِ اسْمُهُ أَحْمَدُ رقم الحديث ٢٥٣ ، شعب الايمان رقم الحديث ٣٥٩٠ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ١٥٧٦ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ٥٢٠٧ ، كنزالعمال رقم الحديث ٢٤١٦٩ .

**نوټ** : دې حديث ته علماؤ ضعيف ويلی خو په ضعيف حديث کې چې کله خپل شرائط برابر وي نو صرف په فضائلو کې معتبر وي . ابوالشمس علي عنه .

Scanned with CamScanner

# د زکوة ورکولو په وجه د جنت مستحق کيدل

کوم خلق چې د خپل مال نه فرضي زکوة اُوباسي نو الله تعالى د داسې خلقو سره د جنت وعده کړې :

**١** . الله تعالى د سورة المؤمنون په اَولو آيتونو کې د کاميابو مؤمنانو اُووه صفتونه ذکر کړي ، په هغې کې يو صفت دا هم دى چې : ﴿ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فَاعِلُوْنَ ﴾ . (١)

ترجمه : او کوم چې زکوة ورکوونکي دي .

بيا د دې صفتونو په آخر کې الله تعالى فرمايي :

﴿ أُولٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُوْنَ ، الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خَالِدُوْنَ ﴾ . (٢)

ترجمه : همدا خلق حقيقي وارثان دي کوم چې به جنت الفردوس په ميراث کې اخلي ، او دوى به په دې ( جنت الفردوس ) کې هميشه وي .

**٢** . همدارنګې بني اسرائيلو سره هم الله تعالى په نېکو اعمالو کولو ، او زکوة ورکولو سره د جنت وعده کړې وه : ﴿ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ... ﴾ . (٣)

---

(١) هغه آيتونه دادي : ﴿ قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ . الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ . وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ . وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فَاعِلُوْنَ ﴾ . المؤمنون آية ١ تا ٤ .

ترجمه : بيشکه کامياب شو هغه مؤمنان کوم چې په خپل مانځه کې عاجزي کوونکي دي، او کوم چې د فضول خبرو نه ځان ساتي ، او کوم چې زکوة ورکوونکي دي.

(٢) المؤمنون آية ١٠ ، ١١ .

(٣) الله ﷻ د دې خبرې تذکره په قرآن کريم کې داسې کړې : ﴿ وَقَالَ اللّٰهُ إِنِّيْ مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ... ﴾ . المائدة آية ١٢ .

ترجمه : او الله تعالى بني اسرائيلو ته فرمايلي وو : زه د تاسو سره يم که چيرته تاسو لمونځ قائم کړو ، زکوة مو اداء کړو ، زما په پيغمبرانو مو ايمان راوړو ، او ( د دشمنانو په مقابله کې ) تاسو د هغه مدد وکړو ، او الله تعالى ته مو قرضِ حسَنه ورکړو ، نو زه به ضرور له تاسو نه ستاسو ګناهونه لرې کړم ، او خامخا به تاسو داسې جنتونو ته داخل کړم چې د هغې ( د محلونو ) لاندې به نهرونه بهيږي .

ترجمه : او خامخا به تاسو داسې جنتونو ته داخل کړم چې د هغې ( د اُونو ) لاندې به نهرونه بهیږي .

۳ . د بخاري شریف حدیث دی چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یو کس راغی ، او ورته وې ویل : أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ ؟

ماته داسې یو عمل اُوښایه چې ما جنت ته داخل کړي .

نبي علیه السلام ورته وفرمایل .....

تَعْبُدُ اللهَ لَاتُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، وَتُقِيمُ الصَّلٰوةَ ، وَتُؤْتِي الزَّكٰوةَ وَتَصِلُ الرَّحِمَ . (۱)

صرف د یو الله جَلَّ جَلَالُهُ عبادت کوه ، څوک ورسره په عبادت کې مه شریکوه ، مونځ اداء کوه ، زکوة ورکوه ، او صله رحمي کوه ( نو په دې کارونو کولو سره به جنت ته داخل شي ) .

٤ . حضرت ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې یو اعرابي ( د باندې اوسیدونکې ) نبي علیه السلام ته راغی ، او ورته وې ویل :

دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ ؟

( اې د الله رسوله ! ) ماته داسې یو عمل اوښایه چې د هغې په کولو سره زه جنت ته داخل شم .

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل :

تَعْبُدُ اللهَ لَاتُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا ، وَتُقِيمُ الصَّلٰوةَ الْمَكْتُوبَةَ ، وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ ، وَ تَصُومُ رَمَضَانَ .

د الله داسې عبادت کوه چې د هغه سره په عبادت کې څوک مه شریکوه ، فرض لمونځ کوه ، فرضي زکوة ورکوه ، او د رمضان روژې نیسه .

---

(۱) عَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ . قَالَ : مَا لَهُ مَا لَهُ . وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَرَبٌ مَا لَهُ . تَعْبُدُ اللهَ وَلاَ تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا . وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ . وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ . وَتَصِلُ الرَّحِمَ » . صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ وُجُوبِ الزَّكَاةِ رقم الحديث ۱۳۹٦ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ بَيَانِ الإِيمَانِ الَّذِي يُدْخَلُ بِهِ الْجَنَّةَ وَأَنَّ مَنْ تَمَسَّكَ بِمَا أُمِرَ بِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ رقم الحديث ۱۵ (۱۴) .

Scanned with CamScanner

دې اعرابي چې دا خبره واوریده نو وې ویل:

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا أَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا.

زما دې قسم وي په هغه ذات د چا په قبضه کې چې زما ساه ده چې په دې کې به زیادت نه کومه (او نه به دډینه کمې کوم).

کله چې دا اعرابي ددې مجلس نه لاړو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلٰى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَلْيَنْظُرْ إِلٰى هٰذَا.

د چا چې دا خوښه وي چې یو جنتي سړي ته اوګوري نو هغه دې اعرابي ته اوګوري.(۱)

**۵**. حضرت ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کوم صحابه کرام ناست وو نو هغوی ته یې اوفرمایل:

أُكْفُلُوْا لِيْ بِسِتٍّ أَكْفُلْ لَكُمْ بِالْجَنَّةِ.

تاسو ماته د شپږو (٦) شیانو ضمانت راکړئ (چې ددې حفاظت به کوئ) نو زه به تاسو ته د جنت ضمانت درکړم.

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما ورنه پوښتنه اوکړه هغه شپږ شیان کوم دي؟ نو رسول الله

---

(۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ أَعْرَابِيًّا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: دُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ. قَالَ: «تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيْمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوْبَةَ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوْضَةَ، وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ» قَالَ: وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا أَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا. فَلَمَّا وَلّٰى، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلٰى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلٰى هٰذَا». صحيح البخاري كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ وُجُوْبِ الزَّكَاةِ رقم الحديث ۱۳۹۷. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابُ بَيَانِ الْإِيْمَانِ الَّذِيْ يُدْخَلُ بِهِ الْجَنَّةُ، وَأَنَّ مَنْ تَمَسَّكَ بِمَا أُمِرَ بِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ رقم الحديث ۱۵ (۱۴).

وفي رواية: عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ وَيُبَاعِدُنِيْ مِنَ النَّارِ. قَالَ: لَقَدْ سَأَلْتَ عَنْ عَظِيْمٍ وَإِنَّهُ لَيَسِيْرٌ عَلٰى مَنْ يَسَّرَهُ اللهُ (تَعَالٰى) عَلَيْهِ. تَعْبُدُ اللهَ وَلَا تُشْرِكُ بِهِ (شَيْئًا) وَتُقِيْمُ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِي الزَّكَاةَ وَتَصُوْمُ رَمَضَانَ وَتَحُجُّ الْبَيْتَ. رواه احمد ۲۳۱/۵، ۲۳۷، والترمذي وصححه، والنسائي وابن ماجه، والمنذري في الترغيب ۵۱۷/۱، ۵۲۸/۳.

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وفرمايل :

اَلصَّلٰوةُ وَالزَّكَاةُ وَالْأَمَانَةُ وَالْفَرْجُ وَالْبَطْنُ وَاللِّسَانُ .(١)

مونځ اداکول، زکوة ورکول، د امانت حفاظت، د شرمګاه حفاظت، د خيټې حفاظت ( د حرام خوراک نه )، او د ژبې حفاظت ( د دروغو، غيبت، چُغل خورئ او بُهتان وغيره نه ).

٦. په يوه موقع باندې نبي عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمايل :

مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ ، وَيُخْرِجُ الزَّكَاةَ وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ، وَقِيْلَ لَهُ : اُدْخُلْ بِسَلَامٍ .

کوم بنده چې د پنځو لمونځونو اهتمام کوي، د رمضان روژې نيسي، زکوة اداء کوي، او د اُووه ( ٧ ) لويو ګناهونو نه ځان ساتي، نو د هٔ د پاره به د جنت دروازې پرانيستلې شي، او دهٔ ته به وويلې شي چې " ته په سلامتيا سره جنت ته داخل شه ".(٢)

## د صدقې ورکولو په وجه د جنت مستحق کيدل

١. په بخاري شريف او مسلم شريف کې يو حديث ذکر دی، په هغې کې د جنت د اتو ( ٨ ) دروازو ذکر دی، او په هغې دروازو کې يوه دروازه د " بَابُ الصَّدَقَةِ " هم ده، چې صدقه

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ ( مِنْ أُمَّتِهِ ) : اُكْفُلُوْا لِيْ بِسِتٍّ أَكْفُلْ لَكُمْ بِالْجَنَّةِ ، قُلْتُ مَا هِيَ يَارَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : اَلصَّلٰوةُ وَالزَّكَاةُ وَالْأَمَانَةُ وَالْفَرْجُ وَالْبَطْنُ وَاللِّسَانُ . رواه الهيثمي في المجمع ١ /٢٩٣، ١٠ /٣٠١، والمنذري في الترغيب ٣ /٣، وابن كثير في التفسير ٦ /٣٤، والسيوطي في الدر المنثور ١ /٢٤٦، ٢٩٥، ١ /٤١، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٢٧ ابواب الصدقات ثواب اداء الزكاة .

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي سَعِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَا : خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، ثُمَّ أَكَبَّ ، فَأَكَبَّ كُلُّ رَجُلٍ مِنَّا يَبْكِيْ لَا يَدْرِيْ عَلَى مَاذَا حَلَفَ ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ، وَفِيْ وَجْهِهِ الْبُشْرٰى ، وَكَانَتْ أَحَبَّ إِلَيْنَا مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ ، قَالَ : مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَيَصُوْمُ رَمَضَانَ ، وَيُخْرِجُ الزَّكَاةَ وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ ، وَقِيْلَ لَهُ ادْخُلْ بِسَلَامٍ . رواه النسائي في الزكاة ٢ واللفظ له، وابن ماجه وابن خزيمة وابن حبان والحاكم وقال صحيح الاسناد، الترغيب والترهيب ١ /٥٢٨، السنن الكبرى للنسائي ج٣ ص٦ رقم الحديث ٢٢٣٠.

ورکوونکي به په دې دروازه باندې جنت ته داخليږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ.

څوک چې صدقه ورکوي نو دا به د جنت د "بَابُ الصَّدَقَةِ" (يعنى د صدقې د دروازې) نه بللې شي (کومه چې به د صدقه ورکوونکو د پاره خاص وي، او ده ته به وويلې شي: اې د الله ﷻ بنده! ته په دې دروازه جنت ته داخل شه). (١)

٣ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيُدْخِلُ بِاللُّقْمَةِ مِنَ الْخُبْزِ وَ قُبْصَةِ التَّمْرِ وَ مِثْلِهِ مِمَّا يَنْتَفِعُ بِهِ الْمِسْكِيْنُ ثَلَاثَةً الْجَنَّةَ: رَبَّ الْبَيْتِ الْآمِرِ بِهِ، وَالزَّوْجَةَ تُصْلِحُهُ، وَالْخَادِمَ الَّذِيْ يُنَاوِلُ الْمِسْكِيْنَ.

بيشکه الله ﷻ د خوراک په يوه نوړۍ، د قجورې په څه لږه حصه يا ددې په شان د بل يو څيز په کوم چې مسکين فايده اخلي ددې شيانو په صدقه کولو سره الله ﷻ درې (٣) کسان جنت ته داخلوي: يو د کور مالِک، کوم چې د صدقې ورکولو حکم کوي، دويم هغه بي بي کومه چې دا خوراک تياروي، او دريم هغه خادم کوم چې دا خوراک مسکين ته ورکوي. (٢)

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ، نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللهِ! هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلَاةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ". فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا، قَالَ: «نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ». صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ رقم الحديث ١٨٩٧، و رقم الحديث ٣٦٦٦ كتاب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا». صحيح مسلم كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ، وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ٨٥(١٠٢٧).

(٢) رواه الطبراني في الاوسط والحاكم ٣/١٣٤، والسيوطي في الدر ١/٣٥٥، والمنذري في الترغيب ٢/٣، والهندي في الكنز ١٦١٦٧، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ١٣٤، ١٤٤.

# د مقبول حج په وجه د جنت مستحق کیدل

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

اَلْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا ، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ . (۱)

یوه عُمره تر د بلې عُمرې پورې د ټولو هغه (صغیره) ګناهونو د پاره کفاره ده کوم چې ددې دواړو په مینځ کې شوي وي ، او د مقبول حج بدله صرف او صرف جنت دی .

یعنی په کوم حج کې چې ناجائز کارونه نه وي شوي نو ددا سې حج بدله د جنت نه علاوه بل هیڅ څیز نه دی ، بلکه ددې په عِوض کې به ورته الله ﷻ خامخا جنت ورکوي . (۲)

# د والدینو د خدمت په وجه د جنت مستحق کیدل

۱ . د نسائي شریف حدیث دی ، چې حضرت جاهمه رضی الله عنه نبي علیه السلام ته راغی ، او ورته وې فرمایل :

---

(۱) صحیح البخاري أَبْوَابُ الْعُمْرَةِ بَابُ وُجُوبِ الْعُمْرَةِ وَفَضْلِهَا رقم الحدیث ۱۷۷۳ ، صحیح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابٌ فِي فَضْلِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ ، وَيَوْمِ عَرَفَةَ رقم الحدیث ۴۳۷(۱۳۴۹) ، مسند احمد رقم الحدیث ۱۵۷۰۱ ، سنن الترمذي باب ما ذُکر في فضل العمرة ، سنن ابن ماجة باب فضل الحج والعمرة رقم ۲۸۸۸ ، سنن النسائي فضل العمرة رقم ۲۶۲۹ ، صحیح ابن خزیمة رقم ۲۵۱۳ ، صحیح ابن حبان رقم ۳۶۹۶ ، شعب الایمان رقم ۳۷۹۷ ، مشکاة المصابیح کتاب الحج باب وجوب الحجّ وفضله رقم الحدیث ۱۸۴۲ .

(۲) (لِمَا بَيْنَهُمَا) لما وقع بینهما من الذنوب الصغيرة . (الْمَبْرُورُ) المقبول وهو الذي لا يخالطه إثم مشتق من البر وهو الإحسان . تعليق مصطفى البغا علي صحيح البخاري في تشريح حديث ۱۷۷۳ .

**د حج مبرور تعریف** : (الْمَبْرُورُ) الأصح الأشهر أن المبرور هو الذي لا يخالطه إثم مأخوذ من البر وهو الطاعة وقيل هو المقبول ومن علامة القبول أن يرجع خيرا مما كان ولا يعاود المعاصي . شرح محمد فؤاد عبد الباقي علي صحيح مسلم في تشريح حديث ۴۳۷(۱۳۴۹) .

والأَصَحُّ أَنَّ الْمَبْرُورَ هُوَ الَّذِي لَا يُخَالِطُهُ مَأْثَم . الإيضاح في مناسك الحج والعمرة ۲۴/۱ .

چا د حج مبرور تعریف داسې کړی چې حاجي توبه اوباسي ، حج کاملې طریقې سره اداء کړي ، په حج کې د ګناهونو او ریا نه ځان اوساتي ، او د حج نه روستو ژوند کې یې تبدیلي راشي یعنی دِیني حالت یې ښه شي . مسائل رفعت قاسمی ج۵ ص ۸۲ مسائل حج ، آپ کے مسائل ج۴ ص ۲۵ ، فتاوی رحیمیه ج۳ ص ۱۱۴ .

Scanned with CamScanner

يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَرَدْتُ أَنْ أَغْزُوَ وَقَدْ جِئْتُ أَسْتَشِيْرُكَ .

اې د الله رسوله ! زه جهاد ته تلل غواړم ، او اوس درته راغلی یم چې د تاسو نه مشوره واخلم .

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل : هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ ؟

آیا ستا مور ژوندۍ ده ؟

هغه ورته وویل : آو (ژوندۍ ده) . نبي علیه السلام ورته اوفرمایل :

فَالْزَمْهَا. فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ رِجْلَيْهَا .

ته د هغې خدمت کوه ؛ ځکه جنت د هغې د قدمونو د لاندې دی . ( یعنی که د هغې خدمت دې اوکړو نو دا به ستا د پاره د جنت تللو ذریعه شي ) . (١)

٢ . په یو روایت کې دي چې نبي علیه السلام د حضرت جاهمة ﷺ نه دا پوښتنه اوکړه :

أَلَكَ وَالِدَانِ ؟ آیا ستا مور او پلار ژوندي دي ؟

هغه ورته وویل : آو . پیغمبر علیه السلام ورته اوفرمایل :

اِلْزَمْهُمَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ أَرْجُلِهِمَا .

د دوی خدمت په ځان باندې لازم کړه ؛ ځکه جنت د دوی د خپو لاندې دی . (٢)

٣ . حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ا وفرمایل :

(١) عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ جَاهِمَةَ السَّلَمِيِّ، أَنَّ جَاهِمَةَ ﷺ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَرَدْتُ أَنْ أَغْزُوَ وَقَدْ جِئْتُ أَسْتَشِيْرُكَ. فَقَالَ: « هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ ؟ » قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: « فَالْزَمْهَا. فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ رِجْلَيْهَا » . سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ الرُّخْصَةُ فِي التَّخَلُّفِ لِمَنْ لَهُ وَالِدَةٌ رقم الحديث ٣١٠٤ ، شعب الايمان رقم الحديث ٧٤٤٨ ، و رقم الحديث ٧٤٤٩ .

(٢) عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ جَاهِمَةَ، عَنْ أَبِيْهِ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْتَشِيْرُهُ فِي الْجِهَادِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَلَكَ وَالِدَانِ ؟ » قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: « اِلْزَمْهُمَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ أَرْجُلِهِمَا » . المعجم الكبير للطبراني بَابُ الْجِيْمِ جَاهِمَةُ أَبُو مُعَاوِيَةَ السُّلَمِيُّ رقم الحديث ٢٢٠٢ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٧٥١ ، الزواجر ج٢ ص ١١٩ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٣٢٥ .

Scanned with CamScanner

زه بيګاه شپه اُوده شوم نو په خوب کې جنت ته داخل شوم ، هلته مې د يو قاري آواز واورېد چې د قرآن کريم تلاوت يې کولو ، ما د فرښتو نه پوښتنه اوکړه :

مَنْ هَذَا؟ دا سړی څوک دی ؟

فرښتو راته ووېل : دا حارثه بن نعمان دی .

نبي عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمايل :

كَذَلِكَ الْبِرُّ . دا فضيلت انسان ته د مور او پلار سره د نېکۍ کولو په وجه حاصلېږي .

او حارثه بن نعمان ﷺ د خپلې مور سره ډېر ښه سلوک کوونکې وُ .(۱)

٤ . طَيْسَلَة بن مَيَّاس وايي چې ما حضرت عبدالله بن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ته اوفرمايل : د ما نه څه ګناهونه شوي ..... ابن عُمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راته اوفرمايل :

أَتَفْرَقُ النَّارَ، وَتُحِبُّ أَنْ تَدْخُلَ الْجَنَّةَ ؟

آيا ته د جهنم د اُور نه يرېږې ، او دا خوښوې چې جنت ته داخل شې ؟

ما ورته ووېل : آو ، په الله قسَم چې زه دا خوښوم .

نو هغه را نه پوښتنه اوکړه : آيا ستا پلار ژوندي دی ؟

ما ورته ووېل : مور مې ژوندۍ ده .

نو ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راته اوفرمايل :

فَوَاللهِ لَوْ أَلَنْتَ لَهَا الْكَلَامَ، وَأَطْعَمْتَهَا الطَّعَامَ لَتَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مَا اجْتَنَبْتَ الْكَبَائِرَ .

قسَم په الله ، که چيرته ته د هغې سره په نرمۍ خبرې اوکړې او په هغې باندې خوراک

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " نِمْتُ فَرَأَيْتُنِي فِي الْجَنَّةِ فَسَمِعْتُ صَوْتَ قَارِئٍ يَقْرَأُ . فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا ؟ قَالُوا : حَارِثَةُ بْنُ النُّعْمَانِ " فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « كَذَلِكَ الْبِرُّ » وَكَانَ أَبَرَّ النَّاسِ بِأُمِّهِ . المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ رقم الحديث ۷۲۴۷ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ بِهَذِهِ السِّيَاقَةِ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۵۱۸۲ ، و رقم الحديث ۲۵۳۳۷ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۸۱۷۶ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۷۰۱۵ ، شعب الايمان رقم الحديث ۷۴۶۷ ، مشكاة المصابيح باب البر والصلة رقم الحديث ۴۹۲۶(۱۶) ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۳۴۱۸ .

اُوخوری نو خامخا به ته جنت ته داخل شی خو چې تر څو پورې د کبیره ګناهونو نه ځان ساتی. (١)

٥. نبي عليه السلام په يوه موقع باندې اوفرمايل:

اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَاتِ. (٢)

جنت د موراَنو د قدمونو لاندې دی.

(يعنی کوم کس چې د خپلې مور سره احسان کوي نو الله جل جلاله به دا کس جنت ته داخل کړي).

## دابواسحاق اَسفرائني واقعه

ابواسحاق اسفرائني رَحِمَهُ اللهُ ډير لوي بزرګ او غټ عالم تير شوی، دده معمول دا ؤ چې د شپې به د مور او پلار خپو ته کيناست او هغوی له به يې د خپو چاپي کوله، کله به يې چې مور او پلار اُوده شو نو دا به د هغې نه روستو خپل کټ ته اُوخت، او اُوده به شو.

يو ځل يې مور له د خپو چاپي کوله نو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم يو حديث ورته رایاد شو چې پيغمبر عليه السلام فرمايي:

اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَاتِ. (٣)

(١) قَالَ طَيْسَلَةُ بْنُ مَيَّاسٍ: كُنْتُ مَعَ النَّجَدَاتِ، فَأَصَبْتُ ذُنُوْبًا لَا أَرَاهَا إِلَّا مِنَ الْكَبَائِرِ، فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: مَا هِيَ؟ قُلْتُ: كَذَا وَكَذَا، قَالَ: لَيْسَتْ هٰذِهِ مِنَ الْكَبَائِرِ، هُنَّ تِسْعٌ: اَلْإِشْرَاكُ بِاللهِ، وَقَتْلُ نَسَمَةٍ، وَالْفِرَارُ مِنَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَةِ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيْمِ، وَإِلْحَادٌ فِي الْمَسْجِدِ، وَالَّذِيْ يَسْتَسْخِرُ، وَبُكَاءُ الْوَالِدَيْنِ مِنَ الْعُقُوْقِ. قَالَ لِي ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَتَفْرَقُ النَّارَ، وَتُحِبُّ أَنْ تَدْخُلَ الْجَنَّةَ؟ قُلْتُ: إِيْ وَاللهِ، قَالَ: أَحَيٌّ وَالِدُكَ؟ قُلْتُ: عِنْدِيْ أُمِّيْ، قَالَ: فَوَاللهِ لَوْ أَلَنْتَ لَهَا الْكَلَامَ، وَأَطْعَمْتَهَا الطَّعَامَ، لَتَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ مَا اجْتَنَبْتَ الْكَبَائِرَ. الادب المفرد مخرجا بَابُ لِيْنِ الْكَلَامِ لِوَالِدَيْهِ رقم الحديث ٨ قال الالباني: صحيح. تفسير ابن كثير ج٢ ص٢٧٣.

(٢) كنزالعمال الباب الثامن في برّ الوالدين رقم الحديث ٤٥٤٣٩، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ٤٤٧، الكبائر للذهبي ج١ ص٤٢، مرقاة المفاتيح ج٢ ص٥٨٩، و ج٧ ص٣٠٩٧. نزهة الناظرين ص ٣٩٢ الباب الثالث عشر في برّ الوالدين..

(٣) وړاندينی مرجع.

Scanned with CamScanner

جنت د مورانو د قدمونو لاندې دی .

ددې حدیث مطلب دادی چې د مور خدمت اوکړه او ددې سره ښه سلوک اوکړه نو الله ﷻ به جنت درکړي . نو ده د ځان سره سوچ اوکړو چې راشه ، نن ددې حدیث په ظاهر باندې عمل اوکړه ، نو راپېښ شو او په خپله ګیره باندې یې د مور د خپو نه ګرد صفا کړو ، کله چې یې مور اُوده شوه نو دې هم اُوده شو .

دا چونکه غټ عالم وُ ، دَرس به یې کولو ، سهر وختي چې کله درس ته راغی نو یو شاګرد ورته وویل : جناب ! بیګاه شپه مې په خُوب کې په ډیر ښائسته او ښکلي شکل کې اولیدی : چې یو ډیر ښکلې تَک شین د میوو نه ډک باغ دی او ته په کې روان وی ، چهل قدمي دې په کې کوله ، خو عجیبه دا وه چې ستا په ګیره کې ډیرې ښائسته قیمتي ملغلرې ، لعلونه او جواهرات وو ، هغې رڼا کوله .

ده ورته وویل چې ګوره ، نبي علیه السلام فرمایي : اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَاتِ .

جنت د مورانو د قدمونو لاندې دی . نو کوم کس چې د مور خدمت کوي الله ﷻ به هغه جنت ته بوځي ، نو زما دا معمول دی چې زه هره شپه د مور خدمت کوم ، نو دا تا چې زه په کوم ښکلي باغ کې ولیدم دا جنت دی ، دا زما یقین دی چې الله ﷻ به ماته جنت راکوي ، او دا زما په ګیره کې چې دې کومې قیمتي ملغلرې ، یاقوت او جواهرات لیدلي چې هغې رڼا کوله نو دا مې بیګاه د حدیث په ظاهر باندې عمل کړی او په دې خپله ګیره مې د مور خپې صفا کړي نو دا د هغې د خپو دُوړه او ګرد دی .

## د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ واقعه

همدغه شان واقعه د حضرت حسن بصري رحمه الله په باره کې هم نقل ده ، دا هم ډیر غټ بزرګ او وليُ الله تیرشوی ، دده پلار وفات شوې وُ ، او مور یې ژوندۍ وه ، دده دا عادت وُ چې کله به دماسخوتن مانځه نه راغی نو د مور سره به ناست وُ او د مور د خوشحالۍ خبرې به یې کولې ، د هغې نه روستو به بیا خپلې کمرې له تللو ، کله به چې مور ورته وویل :

بچیه ! ماله خوب راځي اوس ته لاړ شه . نو ده به د هغې لاس او خپې ښُکل ( چَپ ) کړې ، مور به ورته دُعا اوکړه او بیا به روان شو .

یوه شپه دده میلمانه راغلي وو نو د ماښخوتن مانځه روستو ورسره ناست وُ ، کله چې روستو د مور کمرې ته راغی نو هغه اُوده شوې وه ، دې حیران شو چې دا خو د غټې سعادت نه محروم شوم ځکه د مور دُعا او لاس خپې ښکلول رانه پاتې شو .

آخر دا چې ډیر په خُفیه او قلاره طریقې سره راغی او خپله ګیره یې د مور خپو سره مَسَه کړه ، مور یې هم راویښه نه شوه ، دا خپلې کمرې ته راغی ،کله چې سهر مانځه ته راغی ، د مانځه نه پس یو شاګر ورته وایي : اې حسن بصري !

رَأَيْتُ الْبَارِحَةَ كَانَ فِيْ لِحْيَتِكَ الْجَوَاهِرُ وَالْيَوَاقِيْتُ وَالدُّرَرُ مُزَيِّنَةً لِحْيَتُكَ بِهَا .

بیګاه شپه مې په خُوب کې اُولیدی چې ستا په ګیره کې جواهر ، یاقوت او ملغلرې دي او ستا ګیره پرې ډیره مزّینه او ښائسته ده .

ده ورته وویل : دا خو مې بیګاه شپه د مور خپو سره ګیره لړولې وه ، د هغې دُوړه په کې غورځیدلې وه نو دا دُوړه د الله ﷻ په نزد یاقوت ، جواهر او ملغلرې دي .

## د والدینو د خدمت په وجه په جنت کې د حضرت موسیٰ علیه السلام ملګرتیا

علماؤ یوه واقعه رانقل کړی چې یو ځل حضرت موسیٰ علیه السلام د خپل رب نه سوال اوکړو :

اِلٰهِيْ اَرِنِيْ جَلِيْسِيْ فِي الْجَنَّةِ . اې الله ! ماته د جنت ملګرې په دُنیا کې اوښایه .

الله ﷻ ورته وفرمایل :

اِذْهَبْ اِلَى بَلَدِ كَذَا تَجِدُ رَجُلًا قَصَابًا فَهُوَ رَفِيْقُكَ فِي الْجَنَّةِ .

فلاني ښار ته لاړ شه هلته به یو قصاب اُومومی هغه به په جنت کې ستا ملګرې وي .

حضرت موسیٰ علیه السلام چې هلته ( دُکان ته ) ورغی ، او هغه قصاب یې اولید ، چې اول یې یوه ښه د غوښې څه حصه راپریکړه او ځان سره یې محفوظه کیښوده ، کله چې کورته راروانیدو نو حضرت موسی علیه السلام ته یې وویل :

يَا جَمِيْلَ الْوَجْهِ ! هَلْ لَكَ أَنْ تَكُوْنَ فِيْ ضِيَافَتِيْ ؟

اې د ښائسته نُوراني مخ خاونده ! تاسو ماته د میلمستیا سعادت راکولې شئ ؟ ( چې دماسره لاړ شی او زما میلمه شی ؟ ) .

حضرت موسى عليه السلام ورته وفرمايل : آو .

نو دا ورسره کورته لاړ ، ( دا کس چې کورته اورسيد نو اول يې غوښه ښکلې پَخه کړه او د هغې نه يې خوروا اوويسته ) کله يې چې خوراک کيښود نو يوه نوړۍ به يې پخپله خوړه او دوه نوړۍ به يې په پَچَۍ (زنبيل) کې چاته ورکولې .

په دې وخت کې چا ( ددې کور ) دروازه اوټکوله ، دغه ځوان قصاب په منډه ورغی او هغه پَچۍ (زنبيل) يې پرېخوده .

حضرت موسٰی عليه السلام چې هغه پَچۍ کې اوکتل نو يو ډير بوډا سړی او يوه بوډۍ ښځه يې په کې اُوليدل چې د ډير عمر دلاسه د هغه مرغو بچو غوندې ګرځيدلي وو په کومو چې وېښتان نه وي .

کله چې دې دواړو حضرت موسٰی عليه السلام اوليد نو مُسکي شول ، بيا يې د حضرت موسٰی عليه السلام د رسالت ګواهي ورکړه او دواړه وفات شو .

کله چې دا ځوان راننوت او پَچۍ کې يې اوکتل ( چې مور او پلار يې دواړه مړه شوي ) نو د حضرت موسٰی عليه السلام لاس يې ښکل کړو او وې ويل :

اَنْتَ مُوْسَى رَسُوْلُ اللهِ ؟ آيا تاسو حضرت موسى عليه السلام د الله ﷻ رسول يَې ؟

ده ورته وويل ( آو ، زه موسٰی عليه السلام يم ، خو دا راته ووايه ) چې تاته چا دا خبر درکړو چې زه حضرت موسٰی عليه السلام يم ؟ ( او دا په پچۍ کې څوک دي ؟ ) .

دې قصاب ورته وويل چې دا په پَچۍ کې دواړه زما مور او پلار دي ، دوی ډير کمزوري شوي نو ما ځکه په پچۍ کې اچولي ، او زه ترهغه وخته پورې خوراک او څکاک نه کوم ترڅو پورې چې مې دوی ته نه وي ورکړی ، او دوی دواړو به د الله ﷻ نه داسوال کولو چې يا الله ! مونږ ته تر هغه وخته پورې مرګ مه راوله ترڅو پورې چې مونږ حضرت موسى عليه السلام نه وي ليدلی .

کله چې ما دوی اُوليدل چې اوس وفات شوي نو ماته پَته اولږيده چې ته حضرت موسى عليه السلام يې ( ځکه ددوی سوال قبول شو او تاسو سره يې ملاقات اوشو ) .

حضرت موسٰی عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

رَأَيْتُ أُمَّكَ تُحَرِّكُ شَفَتَيْهَا .

ما ستا مور اوليده چې شونډې يې خوزولی ( نو دا يې څه ويل؟)

ده ورته وويل چې : کله به ما ددې خدمت کولو او دې ته به مې خوراک ورکولو نو دې به ماته دا دُعا کوله :

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ جَلِيْسَ مُوْسَى فِي الْجَنَّةِ .

اې الله ! زموږ دا بچې په جنت کې د حضرت موسى عليه السلام ملګرې کړه .
حضرت موسى عليه السلام دې ځوان ته وويل :

أَبْشِرْ بِذٰلِکَ . ته د دې زيرې قبول کړه ( چې الله ﷻ ستا د مور دُعا قبوله کړې او ماته يې دا خبر راکړى چې ته به په جنت کې زما ملګرې يې) . (١)

## پلار د جنت درميانه ( بهترينه ) دروازه ده

د ترمذي شريف او ابن ماجة شريف حديث دى ، رسولُ الله ﷺ فرمايي :

اَلْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ ، فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذٰلِكَ الْبَابَ أَوِ احْفَظْهُ . (٢)

---

(١) دا واقعه په نزهة المجالس کې داسې ذکر ده : ذكر ابن الحوش في كتاب المنتظم في تواريخ الأمم أنّ موسى عليه السلام سأل ربّه يريه رفيقه في الجنة فقال تعالى : اذهب إلى بلد كذا تجد رجلا قصاباً فهو رفيقك في الجنة . فلما رآه في حانوته وعنده زنبيل ، فقال الشاب : يا جميل الوجه هل لك أن تكون في ضيافتي ؟ قال موسى : نعم . فانطلق معه إلى منزله فوضع الطعام بين يديه فكلما أكل لقمة وضع في الزنبيل لقمتين ، فبينما هو كذلك إذا بالباب يطرق ، فوثب الشاب وترك الزنبيل ، فنظر موسى فيه وإذا بشيخ وعجوز قد كبرا حتى صارا كالفرخ الذي لا ريش له ، فلما نظر إلى موسى تبسما وشهدا له بالرسالة ، ثم ماتا فلما دخل الشاب ونظر إلى الزنبيل قبّل يد موسى ، وقال : أنت موسى رسول الله ؟ قال : ومن أعلمك بذلك ؟ قال : هذان اللذان كانا في الزنبيل أبواي قد كبرا فحملتهما في الزنبيل خوفا عليهما وكنت لا آكل ولا أشرب إلا بعدهما وكانا يسألان الله كل يوم أن لا يقبضهما حتى ينظرا إلى موسى فلما رأيتهما ماتا علمت أنك موسى رسول الله ، قال له : أبشر فإنك رفيقي في الجنة . المنتظم في تواريخ الأمم ، شرح شرعة الاسلام ص ٤٨٠ ، نزهة المجالس ج١ ص ٢٦٦ باب برالوالدين .

(٢) عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه ، أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ فَقَالَ : إِنَّ لِيَ امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا ، قَالَ أَبُو الدَّرْدَاءِ رضي الله عنه : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : اَلْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ ، فَإِنْ شِئْتَ فَأَضِعْ ذٰلِكَ الْبَابَ أَوِ احْفَظْهُ .
سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ مِنَ الْفَضْلِ فِي رِضَا الْوَالِدَيْنِ ←←←

Scanned with CamScanner

پلار د جنت درمیانه ( یعنی بهترینه ) دروازه ده ، اوس که ستا خوښه وي نو دا ( د پلار نافرمانۍ کولو سره ) ضائع کړه ، یا یې په خدمت کولو سره دا محفوظ کړه .

**نوټ** : په دې حدیث کې انسان ته دا توبیخ دی چې د والدینو نافرمانۍ کولو سره د جنت دا دَروازه مه ضائع کوه ، بلکه د هغوی خدمت او کړه . (۱)

## په قیامت کې د پلار سره احسان کولو په وجه جنت ته داخلیدل

علامه قرطبي رَحِمَهُ اللهُ په " التذکرة " کې ذکر کړي چې د قیامت په ورځ به د یو سړي اعمال اوتللې شي نو دده د تلې دواړه طرفونه ( چابړي ) به برابر شي ، الله تعالی به ورته اوفرمايي :

لَسْتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَلَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ . ته نه جنتي یې او نه جهنمي .

په دې وخت کې به یوه فرښته دده د بدۍ په چابړي کې یوه پرچه کیږدي چې په هغې کې به د مور او پلار د صدمې او تکلیف آواز " أُف " لیکلې شوې وي ( چې په دې سره به دده د بدۍ طرف درون شي ) نو دده د پاره به د جهنم فیصله اوشي .

کله چې دا جهنم طرف ته روان شي نو اُو به وایي چې ما واپس الله جل جلاله طرف ته بُوځي .

کله چې دا د الله جل جلاله مخې ته پیش شي نو الله به ورته اوفرمايي :

اې د مور او پلار نافرمانه ! ته ولې ماته واپس راغلی ؟ دا به ورته اووایي :

إلهي ! رأيتُ أنّي سائرٌ إلى النّار و إذ لا بُدّ لِيْ منها وكنتُ عاقًا لأبي وهو سائرٌ إلى النار مثلي فضعّف عليّ به عذابي وأنقذه منها.

---

←←← رقم الحديث ۱۹۰۰ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ . سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَدَبِ بَابُ بِرِّ الْوَالِدَيْنِ رقم الحديث ۳۶۶۳ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۷۵۱۱ ، الكبائر للذهبي ج۱ ص ۴۲ ، الزواجر ج۲ ص ۱۰۷ ، رياض الصالحين باب البر وصلة الارحام .

(۱) ( أوسط ) أي سبب لدخول الولد من أحسن أبواب الجنة. وقال السيوطي أوسط الأبواب أي خيرها. (فأضع) أمر من الإضاعة وليس المراد التخيير بين الأمرين ؛ بل المراد التوبيخ على الإضاعة والحث على الحفظ. مثل فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر . شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة رقم الحديث ۳۶۶۳ .

Scanned with CamScanner

اې الله ! ما اُولید چې زه خو هسې هم جهنم ته تلونکې یم ، ما د پاره ددینه خلاصې نشته ؛ ځکه زه په دُنیا کې د مور او پلار نافرمانه ووم ، خو اې الله ! زه دا هم وینم چې زما پلار ( هم د خپلو ګناهونو په وجه ) جهنم طرف ته روان دی ، نو ته په ما باندې عذاب دوچند کړه خو هغه د جهنم نه خلاص کړه ( او جنت ته یې داخل کړه ) .

په دې خبره به الله ﷻ اوخاندي ( كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ ) یعنی خوشحال به شي . او بیا به ده اوفرمایي :

عققته في الدينا وبررته في الآخرة ، خُذْ بِيَدِ أَبِيكَ وَانْطَلقَا إِلَى الْجَنَّةِ .

تا خو په دُنیا کې دده نافرماني کړې وه خو اوس په آخرت کې دې ورسره احسان اوکړو لهذا ته خپل پلار د لاس نه اُونیسه او دواړه جنت ته لاړ شئ . (۱)

## د الله ﷻ د رَضا د پاره جُمات جوړولو سره په جنت کې همدغه شان کور جوړیدل

**۱** . د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

مَنْ بَنٰى مَسْجِدًا يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ بَنَى اللهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الْجَنَّةِ . (۲)

---

(۱) وكذا تستوي كفتا الميزان لرجل ، فيقول الله تعالى له: لست من أهل الجنة ولا من أهل النار، فيأتي الملك بصحيفة فيضعها في كفة الميزان فيها مكتوب أف فترجح على الحسنات لأنها كلمة عقوق ترجح بها جبال الدنيا ، فيؤمر به إلى النار قال: فيطلب الرجل أن يرده الله تعالى فيقول: ردوه فيقول له : أيها العبد العق لأي شيء تطلب الرد إلي ؟ فيقول: إلهي رأيت أني سائر إلى النار وإذ لا بد لي منها وكنت عاقا لأبي وهو سائر إلى النار مثلي فضعف علي به عذابي وأنقذه منها. قال: فيضحك الله تعالى ويقول: عققته في الدينا وبررته في الآخرة خذ بيد أبيك وانطلقا إلى الجنة. التذكرة بأحوال الموتى وأمور الآخرة ص ۷۳۳ باب منه وذكر أصحاب الأعراف

(۲) عَنْ عُبَيْدِ اللهِ الخَوْلَانِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ رضي الله عنه ، يَقُولُ عِنْدَ قَوْلِ النَّاسِ فِيهِ حِينَ بَنَى مَسْجِدَ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّكُمْ أَكْثَرْتُمْ، وَإِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " مَنْ بَنَى مَسْجِدًا ـ قَالَ بُكَيْرٌ: حَسِبْتُ أَنَّهُ قَالَ: يَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ ـ بَنَى اللهُ لَهُ مِثْلَهُ فِي الجَنَّةِ " . صحيح البخاري ← ← ←

Scanned with CamScanner

څوک چې جُمات جوړ کړي او مقصد يې په دې سره د الله تعالی رضا وي نو الله تعالی به ده ته همدغه شان کور په جنت کې جوړ کړي .

په يو حديث کې راځي : ..... بَنَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ فِي الْجَنَّةِ أَفْضَلَ مِنْهُ . (١)

الله تعالی به ده ته په جنت کې د دينه بهترين کور جوړ کړي .

۲ . که يو کس د جُمات په جوړولو کې معمولي امداد اوکړي نو په دې سره هم الله تعالی ده ته په جنت کې کور جوړوي .

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ كَمَفْحَصِ قَطَاةٍ ، أَوْ أَصْغَرَ ، بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ . (٢)

څوک چې د الله ﷻ د رَضا د پاره د قطاط مرغۍ د جالې يا د دينه وړوکې جُمات جوړ کړي نو الله تعالی به ده ته ( د دې په عوض کې ) په جنت کې کور جوړ کړي .

**فائده** : قطاة وړه مرغۍ ده ، په ډير معمولي ځای کې ځان له جاله جوړوي ، او هګۍ په کې اچوي .

**د حديث مقصد** : د مرغۍ د جالې هومره جُمات نه وي خو د حديث مقصد دا دی چې

←←← كِتَابُ الصَّلَاةِ بَابُ مَنْ بَنَى مَسْجِدًا رقم الحديث ٤٥٠ .صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهَا رقم الحديث ٢٤(٥٣٣)، و رقم الحديث ٤٣(٥٣٣)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٤٣٤ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ٧٣٦ .

وفي رواية : قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلَّهِ بَنَى اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ مِثْلَهُ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ بَابُ فَضْلِ بِنَاءِ الْمَسَاجِدِ وَالْحَثِّ عَلَيْهَا رقم الحديث ٢٥(٥٣٣) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٥٠٦ ، سنن النسائي رقم الحديث ٦٨٨ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ١٦٠٨ .

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ بَنَى مَسْجِدًا يُصَلَّى فِيهِ، بَنَى اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَهُ فِي الْجَنَّةِ أَفْضَلَ مِنْهُ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٦٠٠٥ .

(٢) سنن ابن ماجة كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَالْجَمَاعَاتِ بَابُ مَنْ بَنَى لِلَّهِ مَسْجِدًا رقم الحديث ٧٣٨ إسناده صحيح ورجاله ثقات . وقال الالباني : صحيح . مسندا حمد مخرجا رقم الحديث ٢١٥٧ ، مسند البزار رقم الحديث ٥٠٧٩ ، صحيح ابن خزيمه رقم الحديث ١٢٩٢ قال الاعظمي : اسناده صحيح . صحيح ابن حبان رقم الحديث ١٦٠١ ، المعجم الاوسط رقم ١٨٥٧ ، شعب الايمان رقم الحديث ٢٦٨١ ، شرح السنّة للبغوي ج١ ص ٢٠٦ .

Scanned with CamScanner

څوک په جُمات کې دومره ځای جوړ کړي چې په هغې باندې سجده لږي، مثلا یو کانړې په کې اولږوي، یا معمولي ځای په کې جوړ کړي، یا چانده ورکړي نو ده ته به الله تعالی ددې په عِوض کې په جنت کې کور جوړ کړي. (۱)

په صحیح ابن حبان کې مستقل باب لړیدلی :

ذِكْرُ الْخَبَرِ الدَّالِّ عَلَى أَنَّ اللهَ جَلَّ وَعَلَا يُدْخِلُ الْمَرْءَ الْجَنَّةَ بِبُنْيَانِهِ مَوْضِعَ السُّجُودِ فِي طُرُقِ السَّابِلَةِ بِحَصًى يَجْمَعُهَا أَوْ حِجَارَةٍ يُنَضِّدُهَا وَإِنْ لَمْ يَكُنْ بَنَى الْمَسْجِدَ بِتَمَامِهِ.

یعنی الله ﷻ هغه انسان هم جنت ته داخلوي چې هغه د مسافرینو په تلو راتلو لاره کې د سجدې کولو په مقدار ځای جوړ کړي، واړه کانړي راجمع کړي، یا غټ کانړي اولږوي، اګر چې ده پوره جُمات نه وي جوړ کړی خو بیا هم ده ته الله تعالی ددې په عِوض کې په جنت کې کور جوړوي.

بیا علامه ابن حبان رَحِمَهُ اللهُ ددې باب لاندې پاس مذکوره حدیث نقل کړی. (۲)

## جُمات ته په پابندۍ سره تلونکي د پاره الله تعالی په جنت کې میلمستیا برابروي

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ أَعَدَّ اللهُ لَهُ نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ. (۳)

---

(۱) ( كَمَفْحَصِ قَطَاةٍ ) هو موضعها الذي تجثم فيه وتبيض. لأنها تفحص عنه التراب. وهذا مذكور لإفادة المبالغة. وإلا فأقل المسجد أن يكون موضعا لصلاة واحد. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على سنن ابن ماجة في تشريح رقم الحديث ۷۳۸.

(۲) صحيح ابن حبان مخرجا ج۴ ص ۴۹۰ بَابُ الْمَسَاجِدِ ذِكْرُ الْخَبَرِ الدَّالِّ عَلَى أَنَّ اللهَ جَلَّ وَعَلَا يُدْخِلُ الْمَرْءَ الْجَنَّةَ...

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الأَذَانِ بَابُ فَضْلِ مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ وَمَنْ رَاحَ رقم الحديث ۶۶۲، صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ باب من غدا إلى المسجد أو راح رقم الحديث ۲۸۵ (۶۶۹). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۰۶۰۸، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ۱۴۹۶، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۲۰۳۷، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۳۱۱.

Scanned with CamScanner

څوک چې جُمات ته لاړ شي او راشي نو الله تعالی ده ته په هره پېره تلو راتلو سره په جنت کې ميلمستيا تياروي.

**د ملا علي قاري رحمه الله تحقيق**: ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة کې ددې حديث مطلب دا بيان کړی چې: څوک هميشه پنځه واړه مونځونو ته په پابندۍ سره جُمات ته ځي نو دداسې کس د پاره الله تعالی په هر ځل تللو سره په جنت کې ميلمستيا تياروي؛ ځکه د "غدا" نه مراد د صبا راختلو نه تر د زواله پورې وخت دی، او د "راح" نه مراد د زوال نه پس وخت دی. نو ددينه ټولو مونځو نه تلل مراد شو. (۱)

## دولس (۱۲) کاله أذان کولو سره جنت واجب کيدل

د ابن ماجة شريف او مشکوة شريف حديث دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِينِهِ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ سِتُّوْنَ حَسَنَةً، وَلِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُوْنَ حَسَنَةً.

څوک چې دولس (۱۲) کاله (په جُمات کې د مانځه د پاره) أذان اوکړي نو دده د پاره جنت واجب شو، او ده ته به د هرې ورځې د (هريو) أذان په عِوض کې شپيته (۶۰) نېکۍ

---

(۱) (مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ): أَيْ: ذَهَبَ إِلَيْهِ فِي الْغَدْوَةِ وَهُوَ مَا بَيْنَ طُلُوْعِ الْفَجْرِ وَالزَّوَالِ (أَوْ رَاحَ): ذَهَبَ إِلَيْهِ فِي الرَّوَاحِ وَهُوَ مَا بَعْدَ الزَّوَالِ (أَعَدَّ اللهُ) أَيْ: هَيَّأَ (لَهُ نُزُلَهُ): بِضَمِّ النُّوْنِ وَالزَّايِ وَتُسَكَّنُ، وَهُوَ مَا يُقَدَّمُ إِلَى الضَّيْفِ مِنَ الطَّعَامِ (مِنَ الْجَنَّةِ) قَالَ السُّيُوْطِيُّ فِي حَاشِيَةِ الْبُخَارِيِّ: اَلنُّزُلُ بِضَمَّتَيْنِ الْمَكَانُ الْمُهَيَّأُ لِلنُّزُوْلِ وَبِسُكُوْنِ الزَّايِ مَا يُهَيَّأُ لِلْقَادِمِ مِنْ نَحْوِ الضِّيَافَةِ، فَمِنْ عَلَى الْأَوَّلِ لِلتَّبْعِيْضِ، وَعَلَى الثَّانِيْ لِلتَّبْيِيْنِ (كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ)، قَالَ الطِّيْبِيُّ: اَلنُّزُلُ مَا يُهَيَّأُ لِلنَّازِلِ، وَكُلَّمَا غَدَا ظَرْفٌ، وَجَوَابُهُ مَا دَلَّ عَلَيْهِ مَا قَبْلَهُ وَهُوَ عَامِلٌ فِيْهِ، وَالْمَعْنَى كُلَّمَا اسْتَمَرَّ غُدُوُّهُ وَ رَوَاحُهُ اسْتَمَرَّ إِعْدَادُ نُزُلِهِ فِي الْجَنَّةِ، فَالْغُدُوُّ وَالرَّوَاحُ فِي الْحَدِيْثِ كَالْبُكْرَةِ وَالْعَشِيِّ فِيْ قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَعَشِيًّا} [مريم: ۶۲] اَلْمُرَادُ بِهِمَا الدَّوَامُ. قُلْتُ: فَعَلَى هَذَا تَكُوْنُ الْحَرَكَةُ سَبَبَ الْبَرَكَةِ، وَالذَّهَابُ مُوْجِبَ الثَّوَابِ، وَيُمْكِنُ أَنْ يَكُوْنَ الذَّهَابُ إِلَى الطَّاعَةِ عَلَامَةَ إِعْدَادِ اللهِ الْمَثُوْبَةَ. فَإِنَّ الْعِبَادَاتِ أَمَارَاتٌ لَا مُوْجِبَاتٌ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج۲ ص ۵۹۲ في تشريح حديث ۶۹۸.

ليکلې شي ، او د هر اِقامت په عوض کې به ورته ديرش (۳۰) نېکۍ ليکلې شي . (۱)

## د ژبې او شرَمګاه په حفاظت سره د جنت ضمانت

**۱.** د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ يَضْمَنْ لِيْ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ . (۲)

څوک چې ماته ضمانت راکړي ( چې دا به حفاظت کوي ) د هغه څيز چې د دواړو ژامبو په مينځ کې دی ( يعنی د ژبې او خُلې ) ، او د هغه څيز چې د دواړو خپو په مينځ کې دی ( يعنی د شرمګاه ) نو زه به ده ته د جنت ضمانت ورکړم .

**تشريح** : د حديث مطلب دادی چې څوک ماته داسې ضمانت راکړي چې دا به د خپلې ژبې او خپلې خُلې حفاظت کوي ( يعنی ژبه به د فحش خبرو ، دروغ ، غِيبت ، چُغل خوری او نورو قبيحو خبرو نه ساتي ، او خُله به د حرام خوراک نه ساتي ) ، همدارنګې چې څوک د شرم ګاه د حفاظت ضمانت راکړي چې دا به غلط نه استعمالوي نو نبي عليه السلام فرمايي چې زه به ده ته د جنت ضمانت ورکړم .

او دا يقيني خبره ده چې داسې انسان به ضرور جنت ته داخليږي ځکه د نبي عليه السلام ضمانت د الله ﷻ ضمانت دی . (۳)

---

(۱) سنن ابن ماجة كِتَابُ الْأَذَانِ، وَالسُّنَّةُ فِيهِ بَابُ فَضْلِ الْأَذَانِ، وَثَوَابِ الْمُؤَذِّنِينَ رقم الحديث ۷۲۸ قال الالباني : صحيح . مشكاة المصابيح بَابُ فَضْلِ الْأَذَانِ وَإِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ الْفَصْلُ الثَّالِث رقم الحديث ٦٧٨(٢٥) ، مسند البزار رقم الحديث ۵۹۳۳ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۷۳۳ ، شعب الايمان رقم الحديث ۲۷۵۹ ، و رقم الحديث ۲۷۹۷ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۱۸ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۰۹۰۵ .

(۲) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ رقم الحديث ۶۴۷۴ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۱۶۶۷۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۴۵۶۹ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۱۲۲ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ الْفَصْلُ الْأَول رقم الحديث ۴۸۱۲(۱) ، كنز العمال رقم الحديث ۷۸۷۳ .

(۳) (مَنْ يَضْمَنْ) : بِالْجَزْمِ عَلَى أَنَّ مَنْ شَرْطِيَّةٌ (لِيْ مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ) : بِفَتْحِ اللَّامِ مَنْبَتُ الْأَسْنَانِ ، أَيْ : مَنْ يَكْفُلُ لِيْ مُحَافَظَةَ مَا بَيْنَهُمَا مِنَ اللِّسَانِ وَالْفَمِ عَنْ تَقْبِيحِ الْكَلَامِ وَأَكْلِ الْحَرَامِ (وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ) ←←←

Scanned with CamScanner

۲. نبي علیه السلام ته یو أعرابي راغی او ورته وې ویل :

یَارَسُوْلَ اللهِ ! عَلِّمْنِيْ عَمَلًا يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ .

اې د الله رسوله ! ماته داسې عمل أوښایه چې هغه ما جنت ته داخل کړي .

نبي علیه السلام ورته څه کارونه د کولو د پاره أوخودل :

((( غلام آزاد کړه ، چاته د شودو د پاره چیلۍ ورکړه ، کومو رِشته دارو چې د تاسره په تعلق ختمولو ظلم کړې وي د هغوی سره اِحسان کوه ، که دا کارونه نشي کولی نو أوږي ته روټۍ ورکړه ، تږي ته أوبه ورکړه ، د ښه کارونو حُکم کوه او د بدو کارونو نه منع کوه )))

په آخر کې نبي ﷺ ورته اوفرمایل :

فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ . فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ .(۱)

که ته ددې مذکوره کارونو طاقت نه لرې نو بیا خپله ژبه د خېر خبرو نه علاوه د هر قِسمه نورو خبرو نه بنده کړه ( نو په دې سره به جنت ته داخل شې ) .

---

←←← أَيْ : مِنَ الْفَرْجِ عَنِ الزِّنَا وَنَحْوِهِ (أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ) أَيْ : دُخُولَهَا أَوْ دَرَجَاتِهَا الْعَالِيَةَ . قَالَ الطِّيبِيُّ : وَعَنْ بَعْضِهِمْ مَنْ يَضْمَنْ لِي لِسَانَهُ أَيْ : شَرَّ لِسَانِهِ وَبَوَادِرَهُ وَحِفْظَهُ عَنِ التَّكَلُّمِ بِمَا لَا يَعْنِيهِ وَيَضُرُّهُ مِمَّا يُوجِبُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ، وَفَرْجَهُ بِأَنْ يَصُونَهُ أَضْمَنْ لَهُ دُخُولَ الْجَنَّةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳۰۲۵/۷ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأول في تشريح رقم الحديث ۴۸۱۲(۱) .

(۱) پوره حدیث داسې دی : عَنِ الْبَرَاءِ رضي الله عنه ، قَالَ : جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلِّمْنِيْ عَمَلًا يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ . قَالَ : " لَئِنْ كُنْتَ أَقْصَرْتَ الْخُطْبَةَ، لَقَدْ أَعْرَضْتَ الْمَسْأَلَةَ . أَعْتِقِ النَّسَمَةَ . وَفُكَّ الرَّقَبَةَ " قَالَ : أَوَلَيْسَا وَاحِدًا ؟ قَالَ : لَا عِتْقُ النَّسَمَةِ : أَنْ يَنْفَرِدَ بِعِتْقِهَا، وَفَكُّ الرَّقَبَةِ أَنْ يُعِيْنَ فِيْ ثَمَنِهَا، وَالْمِنْحَةُ الْوَكُوْفُ _ أَظُنُّهُ قَالَ: وَالْفَيْءُ عَلَى ذِي الرَّحِمِ الظَّالِمِ _ فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ. فَأَطْعِمِ الْجَائِعَ ، وَاسْقِ الظَّمْآنَ . وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ . وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ . فَإِنْ لَمْ تُطِقْ ذٰلِكَ . فَكُفَّ لِسَانَكَ إِلَّا مِنْ خَيْرٍ . شعب الايمان رقم ۴۰۲۶ ، مشكوة المصابيح كتاب العتق الفصل الثاني رقم الحديث ۳۳۸۴(۳) ، الادب المفرد للبخاري باب فضل من يصل ذا الرحم الظالم رقم الحديث ۶۹ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۳۷۴ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۸۶۱ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ، و وافقه الذهبي ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۳۱۳ ، مجمع الزوائد باب العتق والاعانة فيه رقم الحديث ۷۲۴۲ .

Scanned with CamScanner

# د چا سره بُغض او حسَد نه ساتلو ، او بې فائدې خبرو پريخودلو سره د جنت مستحق كيدل

محمد بن كعب رحمه الله فرمايي چې (يوه ورځ) رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته) اوفرمايل:

إِنَّ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ هٰذَا الْبَابَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

بيشكه په دې دروازه به د ټولو نه مخكې يو جنتي سړى راداخليږي.

په دې كې حضرت عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راداخل شو.

د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه صحابه كرام ده ته ورپاڅيدل او ده ته يې د نبي عليه السلام د خبرې خبر وركړو (چې څوک په دې دروازه اول راداخل شي هغه به جنتي وي). صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ده ته وويل:

ته مونږ ته د خپل هغه معتمد (او غوره) عمل په باره كې خبر راكړه د كوم په باره كې چې ستا اُميد وي (چې د دې په وجه به الله جَلَّ جَلَالُهُ جنت راكوي).

عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته اوفرمايل:

إِنِّي لَضَعِيفٌ، وَإِنَّ أَوْثَقَ مَا أَرْجُو بِهِ لَسَلَامَةُ الصَّدْرِ وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِينِي .

زه ډير كمزورې يم خو زما په نزد د ټولو نه غوره عمل چې د كوم په وجه زه د الله جَلَّ جَلَالُهُ نه اُميد ساتم هغه دادى چې زما په سينه كې د چا سره بُغض او حسَد نشته ، او بې فائدې خبرې پريږدم .(١)

---

(١) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِنَّ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ هٰذَا الْبَابَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ » فَدَخَلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . فَقَامَ إِلَيْهِ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرُوهُ بِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالُوا : فَأَخْبِرْنَا بِأَوْثَقِ عَمَلِكَ فِي نَفْسِكَ تَرْجُو بِهِ . قَالَ : إِنِّي لَضَعِيفٌ، وَإِنَّ أَوْثَقَ مَا أَرْجُو بِهِ لَسَلَامَةُ الصَّدْرِ وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِينِي . الصمت وآداب اللسان لابن ابي الدنيا ج١ ص ٩٣ رقم الحديث ١١١ ، احياء علوم الدين ج٣ ص ١١٣ بيان عظيم خطر اللسان...

Scanned with CamScanner

# د ذهوكې او حسد نه ځان ساتونكي د پاره د جنت زېرې

په مسند احمد ، مجمع الزوائد او نورو ډيرو كتابونو كې دا واقعه ذكر ده :

حضرت انس ﷺ فرمايي چې مونږ (صحابه كرام ) د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره ( په مجلس كې ) ناست وو ، نبي عليه السلام اوفرمايل :

يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

اوس به تاسو ته يو جنّتي سړى رانځي .

نو د اَنصارو يو كس رانوت چې د ګيرې نه يې د اَودس اُوبه څڅيدى او دواړه څپلۍ يې په خپل چَپ (ګس) لاس كې زوړندې وى ، (سلام يې واچول او په مجلس كې كيناست ) .

په صبا باندې ( مونږ بيا د نبي عليه السلام سره په مجلس كې ناست وو نو ) رسولُ الله صلى الله عليه وسلم هماغه شان خبره اوكړه

( يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ . اوس به تاسو ته يو جنّتي سړى رانځي . )

نو همدغه كس بيا د مخكيني حالت په شان رانوت .

په دريمه ورځ بيا نبي عليه السلام همدغه شان خبره اوكړه نو همدغه كس بيا په هماغه مخكيني حالت باندې رانوَت ( يعنى د ګيرې نه يې د اَودس اُوبه څڅيدى او څپلۍ يې په چَپ لاس كې نيولې وى ) ، كله چې رسولُ الله ﷺ ( د مجلس نه ) پاڅيد ، نو عبدالله بن عَمرو بن العاص ﷺ ددې كس پسې ورغى او ورته وې ويل :

زما او د خپل پلار په مينځ كې څه تېزې خبرې راغلي دي نو ما قسَم كړى چې زه به درې (۳) ورځې كور ته نه ځم نو كه ستا خوښه وي زه په دا درې ورځې د تاسره تېرې كړم ( چې قسَم مې پوره شي ) ، هغه ورته وويل : صحيح ده ( ماسره لاړ شه ) .

حضرت انس ﷺ فرمايي چې حضرت عَمرو بن العاص ﷺ د هغه كس سره درې ( ۳ ) ورځې تېرې كړى ، دا كس به د شپې تهجدو ته بالكل نه پاڅيدو ، البته چې كله به د شپې د خوب نه راويښ شو او په بل طرف به اَوړيدلو نو د الله ﷻ ذكر به يې كولو او تكبير به يې ويل ، همدغه شان به يې شپه تېره كړه تر دې چې د سهر مانځه ته به راپاڅيد .

( چې كله به يې اَودس كولو نو پوره اَودس به يې كولو او پوره مونځ به يې كولو ، د

ورځې به يې نفلي روژه هم نه نيوله).

حضرت عَمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي ( ما درې ورځې د هغه اَعمالو ته په پوره غور سره اُوکتل ، ددينه زياتي څه بل عمل يې نه کولو ، خو ) ما د هغه نه صرف د خېر خبره اَوريده (يعنې فضول خبرې يې نه کولې ، او چې کله به يې خبرې کولې نو د خېر خبرې به وې ).

کله چې درې ورځې تېرې شوې نو قريبه وه چې ما دده دا عمل ورو کې ګڼړلې وی ( چې دا خو ډير کم نېک اعمال کوي ) نو ما دې کس ته وويل :

اې د الله بنده ! زما او د خپل پلار په مينځ کې هيڅ غصه او تعلقات پريخودل نه وو خو ما درې پيرې ستاسو په باره کې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه اَوريدلي وو چې دا يې فرمايل : يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ .

اوس به په تاسو باندې يو جنّتي سړی راداخل شي .

او په درې واړو پيرو کې تاسو راداخل شوي وی ، نو ما دا اِراده اوکړه چې تا سره درې ورځې پاتې شم چې زه دا اوګورم چې ستا څه عمل دی ؟ چې زه هم بيا هماغه شان عمل اوکړم ، خو ته ما په ډير نېک عمل کولو باندې او نه ليدی ، پس ته دې مرتبې ته په کوم نېک عمل اُورسيدی چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ستا په باره کې د جنّتي کيدو خبر درکړو ؟ هغه کس وويل : زما عمل خو همدغه دی چې تا اُوليد .

حضرت عَمرو بن العاص رضي الله عنه فرمايي : کله چې زه ورنه واپس رارِوان شوم نو ما ته يې آواز اوکړو ( چې زه ورغلم ) نو راته وې ويل :

مَا هُوَ إِلَّا مَا رَأَيْتَ غَيْرَ أَنِّي لَا أَجِدُ فِي نَفْسِي لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ غِشًّا ، وَلَا أَحْسُدُ أَحَدًا عَلَى خَيْرٍ أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ .

زما عمل خو همدغه دی کوم چې تا اُوليد البته زه په خپل زړه کې د هيڅ مسلمان سره دهوکه نه لرم ، او د هيچا سره په هغه نِعمت باندې حسد نه کوم کوم چې ورته الله جل جلاله ورکړې وي .

حضرت عَمرو بن العاص رضي الله عنه اوفرمايل :

هٰذِهِ الَّتِي بَلَغَتْ بِكَ وَهِيَ الَّتِي لَا نُطِيقُ .

Scanned with CamScanner

دا هغه صفات دي چې ته يې دې مرتبې ته رسولې يې ( چې رسول الله ﷺ ستا په باره کې د جنّتي کيدو خبر ورکړی ) او د دې صفاتو مونږ طاقت نه لرو . (۱)

د احاديثو په ځنې کتابونو کې د دې کس نوم " سعد رضي الله عنه " ذکر شوی ( يعنی نبي عليه السلام د حضرت سعد رضي الله عنه په باره کې د جنّتي کيدو خوشخبري ورکړې وه ) . (۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ : كُنَّا جُلُوسًا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ » فَطَلَعَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ ، تَنْطِفُ لِحْيَتُهُ مِنْ وُضُوْئِهِ ، قَدْ تَعَلَّقَ نَعْلَيْهِ فِي يَدِهِ الشِّمَالِ ، فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ ، فَطَلَعَ ذٰلِكَ الرَّجُلُ مِثْلَ الْمَرَّةِ الْأُوْلٰى . فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الثَّالِثُ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ أَيْضًا ، فَطَلَعَ ذٰلِكَ الرَّجُلُ عَلٰى مِثْلِ حَالِهِ الْأُوْلٰى . فَلَمَّا قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَبِعَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رضي الله عنه فَقَالَ : إِنِّي لَاحَيْتُ أَبِي فَأَقْسَمْتُ أَنْ لَا أَدْخُلَ عَلَيْهِ ثَلَاثًا ، فَإِنْ رَأَيْتَ أَنْ تُؤْوِيَنِي إِلَيْكَ حَتّٰى تَمْضِيَ فَعَلْتَ ؟ قَالَ : نَعَمْ . قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : وَكَانَ عَبْدُ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّهُ بَاتَ مَعَهُ تِلْكَ اللَّيَالِي الثَّلَاثَ فَلَمْ يَرَهُ يَقُوْمُ مِنَ اللَّيْلِ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ إِذَا تَعَارَّ وَتَقَلَّبَ عَلٰى فِرَاشِهِ ذَكَرَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ وَكَبَّرَ ، حَتّٰى يَقُوْمَ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ . قَالَ عَبْدُ اللهِ رضي الله عنه غَيْرَ أَنِّي لَمْ أَسْمَعْهُ يَقُوْلُ إِلَّا خَيْرًا . فَلَمَّا مَضَتِ الثَّلَاثُ لَيَالٍ وَكِدْتُ أَنْ أَحْقِرَ عَمَلَهُ ، قُلْتُ : يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنِّي لَمْ يَكُنْ بَيْنِي وَبَيْنَ أَبِي غَضَبٌ وَلَا هَجْرٌ ثَمَّ ، وَلٰكِنْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَكَ ثَلَاثَ مِرَارٍ : « يَطْلُعُ عَلَيْكُمُ الْآنَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ » فَطَلَعْتَ أَنْتَ الثَّلَاثَ مِرَارٍ ، فَأَرَدْتُ أَنْ آوِيَ إِلَيْكَ لِأَنْظُرَ مَا عَمَلُكَ فَأَقْتَدِيَ بِهِ فَلَمْ أَرَكَ تَعْمَلُ كَثِيْرَ عَمَلٍ ، فَمَا الَّذِي بَلَغَ بِكَ مَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَقَالَ : مَا هُوَ إِلَّا مَا رَأَيْتَ . قَالَ : فَلَمَّا وَلَّيْتُ دَعَانِي ، فَقَالَ : مَا هُوَ إِلَّا مَا رَأَيْتَ غَيْرَ أَنِّي لَا أَجِدُ فِي نَفْسِي لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ غِشًّا ، وَلَا أَحْسُدُ أَحَدًا عَلٰى خَيْرٍ أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ . فَقَالَ عَبْدُ اللهِ : هٰذِهِ الَّتِي بَلَغَتْ بِكَ وَهِيَ الَّتِي لَا نُطِيْقُ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۲۶۹۷ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي سَلَامَةِ الصَّدْرِ مِنَ الْغِشِّ وَالْحَسَدِ رقم الحديث ۱۳۰۴۸ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۰۶۳۳ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۴۳۸۴ الترهيب من الحسد وفضل سلامة الصدر ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۳۵۳۵ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ۱۱۳۵ ، تفسير كبير ج۳ ص ۶۴۵ سورة البقرة في تفسير آية ۱۰۹ ، احياء علوم الدين ج۳ ص ۱۸۷ بيان ذمّ الحسد ، الزواجر ج۱ ص ۹۰ ، تنبيه الغافلين ص ۱۸۱ باب الحسد .

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمًا لِأَصْحَابِهِ : يَدْخُلُ مِنْ هَاهُنَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، قَالَ مَعْمَرٌ فِي حَدِيْثِهِ : تَنْطِفُ لِحْيَتُهُ مَاءً مِنْ وُضُوْءٍ تَوَضَّأَهُ ، مُعَلِّقٌ نَعْلَيْهِ ، فَدَخَلَ سَعْدٌ رضي الله عنه . ←←←

Scanned with CamScanner

# د شپږو شيانو په حفاظت سره د جنت ضمانت

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

اِضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ : اُصْدُقُوْا إِذَا حَدَّثْتُمْ ، وَأَوْفُوْا إِذَا وَعَدْتُمْ ، وَأَدُّوْا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ ، وَاحْفَظُوْا فُرُوْجَكُمْ ، وَغُضُّوْا أَبْصَارَكُمْ ، وَكُفُّوْا أَيْدِيَكُمْ . (١)

تاسو ماته د شپږو خبرو ضمانت راکړئ ( چې په دې باندې به عمل کوئ ) نو زه به تاسو ته د جنت ضامن جوړ شم ( چې تاسو به يقيني جنت ته داخليږئ . هغه شپږ خبرې دا دي : )

١ . کله چې خبرې کوئ نو ريښتيا وايئ ٢ . کله چې وعده اوکړئ نو هغه پوره کوئ ٣ . کله چې درسره امانت کيښودې شي نو هغه اداء کوئ ٤ . د خپلو شرمګاهو حفاظت کوئ ( يعنې د زِنا نه ځان اوساتئ ) ٥ . خپل نظرونه محفوظ اوساتئ ( يعنې شريعت چې کومو څيزونو ته د کتلو نه منع کړې هغې ته مه ګورئ ) ٦ . خپل لاسونه ( د ناجائز او حرام کارونو نه بَند کړئ . ( يا دا مطلب چې خپل ځان د ظلم نه منع کړئ ) .

---

←←← قَالَ ذٰلِكَ مَرَّتَيْنِ كُلُّ ذٰلِكَ يَأْتِي سَعْدٌ رضي الله عنه ، فَلَمَّا سَمِعَ ذٰلِكَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو رضي الله عنهما اِنْصَرَفَ مَعَهُ لَيْلَتَهُ ، فَقَالَ يَا عَمِّ ! إِنَّهُ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَمْرٍو بَعْضُ الْقَوْلِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَبِيتَ عِنْدَكَ . قَالَ : نَعَمْ يَا ابْنَ أَخِي . فَبَاتَ عَبْدُ اللهِ عِنْدَهُ وَبَاتَ سَعْدٌ رضي الله عنه نَائِمًا ، فَإِذَا تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ ذَكَرَ اللهَ . فَلَمَّا أَصْبَحَ قَامَ فَتَوَضَّأَ وَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَنَعَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ لَيَالٍ لَا يَزِيْدُ عَلٰى ذٰلِكَ فَلَمَّا أَصْبَحَ مِنَ الْيَوْمِ الثَّالِثِ قَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ : إِنَّهُ وَاللهِ مَا كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَمْرٍو إِلَّا خَيْرٌ ، وَلٰكِنْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَكَ : يَدْخُلُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَأَحْبَبْتُ أَنْ أَعْلَمَ مَا عَمَلُكَ ؟ فَقَالَ لَهُ سَعْدٌ رضي الله عنه : مَا هُوَ إِلَّا مَا رَأَيْتَ يَا ابْنَ أَخِي إِلَّا أَنِّي لَمْ أَبِتْ ضَاغِنًا عَلٰى مُسْلِمٍ ، أَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا . مسند البزار المنشور باسم البحر الزخار رقم الحديث ٦٣٠٨ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْأَدَبِ بَابٌ فِي سَلَامَةِ الصَّدْرِ مِنَ الْغِشِّ وَالْحَسَدِ رقم الحديث ١٣٠٤٨ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٣٨٤ الترهيب من الحسد وفضل سلامة الصدر ، الزواجر ج١ ص ٩٠ ، نضرة النعيم ج ١٠ ص ٤٤٣٦ الحقد .

(١) المستدرک على الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْحُدُوْدِ رقم الحديث ٨٠٦٦ ، وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، مسند احمد مخرجًا رقم الحديث ٢٢٧٥٧ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٢٦٩١ باب ماجاء في الترغيب في اداء الامانات ، شعب الايمان رقم الحديث ٤٤٦٤ ، و رقم ٤٨٧٧ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ، مجمع الزوائد بابٌ في الامانة رقم الحديث ٦٧٠٩ ، كنزالعمال رقم الحديث ٤٣٥٣١ .

Scanned with CamScanner

**فائده** : په دې حدیث کې نبي علیه السلام په شپږو شیانو ( یعنی رېښتیا ویلو ، وعده پوره کولو ، امانت اداء کولو ، د شرمګاه او نظر حفاظت کولو ، او لاسونه د ناجائزو کارونو نه منع کولو ) سره د جنت ضمانت ورکړی.

## د رېښتیا ویلو په وجه د جنت مستحق کېدل ، او د الله ﷻ په نزد "صِدِّیق" لیکلی کېدل

څوک چې همیشه رېښتیا وایي نو په دې سره دا کس د جنت مستحق ګرځي ، او د الله ﷻ په نزد صِدِّیق لیکلې شي ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِيْ إِلَى الْبِرِّ ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِيْ إِلَى الْجَنَّةِ ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيْقًا . (۱)

تاسو رېښتیا ویل په ځان لازم کړئ ځکه ( همیشه ) رېښتیا ویل انسان نېکۍ طرف ته بوځي ، او نیکي انسان ( اعلیٰ درجې ) جنت ته بوځي ، او ( یاد لرئ ) څوک چې همیشه رېښتیا وایي او د رېښتیا ویلو کوشش کوي نو داسې کس د الله ﷻ په نزد "صِدِّیق" اولیکلې شي.

**بشارت** : ملا علي قاري رحمه الله لیکلي :

په دې حدیث کې د رېښتیا ویونکي د پاره زېرې دی چې دداسې کس آخِره خاتِمه به په اِیمان باندې وي ( ځکه څوک چې د الله ﷻ په نزد باندې "صِدِّیق" اولیکلې شي نو

---

(۱) صحیح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالآدَابِ بَابُ قُبْحِ الْكَذِبِ وَحُسْنِ الصِّدْقِ وَفَضْلِهِ رقم الحدیث ۱۰۵ (۲۶۰۷) ، و رقم الحدیث ۱۰۳ (۲۶۰۷) ، صحیح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: { يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ } وَمَا يُنْهَى عَنِ الْكَذِبِ رقم الحدیث ۶۰۹۴ ، سنن ابی داؤد كِتَابُ الأَدَبِ بَابٌ فِي التَّشْدِيْدِ فِي الْكَذِبِ رقم الحدیث ۴۹۸۹ ، سنن ابن ماجة رقم الحدیث ۴۶ ، مشکوٰة المصابیح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الأَوَّل رقم الحدیث ۴۸۲۴(۱۳) ، مسند احمد رقم الحدیث ۳۶۳۸ ، سنن الترمذي رقم الحدیث ۱۹۷۱ باب ما جاء فی الصدق والکذب ، شعب الایمان رقم الحدیث ۴۲۵۰ ، الادب المفرد رقم الحدیث ۳۸۶ باب لایصلح الکذب .

Scanned with CamScanner

يقيني چې دده آخِري خاتِمه به صحيح وي).(۱)

## جګړه او دروغ پرېښودونکي د پاره د جنت په مينځ کې د کور ضمانت

څوک چې جګړه او دروغ ويل مکمل پرېږدي نو د داسې کس د پاره نبي عليه السلام د جنت په مينځ کې د کور ضمانت ورکړی.

د ابوداؤد شريف حديث دی، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبِبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا، وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ.(۲)

زه د هغه کس د پاره د جنت په اَطرافو کې د کور ضامِن يم چې هغه په حق باندې د کيدلو باوجود جګړه پرېږدي، او د هغه چا د پاره د جنت په مينځ کې د کور ضامِن يم چې هغه په ټوقو کې هم دروغ پرېږدي، او د هغه چا د پاره په اعلی جنت کې د کور ضامِن يم چې هغه خپل اخلاق ښائسته کړي.

## د تکبّر، خِيانت، او قرض نه ځان بچ کوونکي د پاره د جنت زيرې

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيءٌ مِنْ ثَلَاثٍ: اَلْكِبْرِ، وَالْغُلُولِ، وَالدَّيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ.(۳)

---

(۱) وَفِي الْحَدِيثِ إِشْعَارٌ بِحُسْنِ خَاتِمَتِهِ، وَإِشَارَةٌ إِلَى أَنَّ الصِّدِّيقَ يَكُونُ مَأْمُونَ الْعَاقِبَةِ. مرقاة المفاتيح ۷/۳۰۳۰ بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الْأَول في تشريح رقم الحديث ۴۸۲۵.

(۲) سنن ابي داؤد كِتَاب الْأَدَبِ بَابٌ فِي حُسْنِ الْخُلُقِ رقم الحديث ۴۸۰۰ قال الالباني: حسنٌ. المعجم الاوسط رقم الحديث ۸۷۸، و رقم الحديث ۴۶۹۳، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۷۴۸۸، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ۲۱۱۷۶، شعب الايمان فصلٌ في المزاح، و رقم الحديث ۷۶۵۳، مجمع الزوائد رقم الحديث ۷۰۷، كنزالعمال رقم الحديث ۸۲۹۹، و رقم الحديث ۸۳۰۸.

(۳) سنن الترمذي أَبْوَابُ السِّيَرِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْغُلُولِ رقم الحديث ۱۵۷۲ قال الالباني: صحيح. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم ۲۲۱۸ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. مشكاة المصابيح رقم ۲۹۲۱(۲۳)، شعب الايمان رقم ۵۱۵۱، السنن الكبرى للبيهقي رقم ۱۸۲۰۸، كنزالعمال رقم الحديث ۴۳۹۵۱.

Scanned with CamScanner

ځوک چې وفات شو او دا د دري (۳) شيانو نه بَري (پاک) وُ نو دا به جنت ته داخليږي: يو: تکبّر، دويم: په مالِ غنيمت کې خيانت کول، او دريم قرض.

(**نوټ**: کوم قرض چې انسان په خپل اِختيار باندې راواخلي، بيا يې ددې د اَداء کولو اِراده نه وي او په دې حالت کې وفات شي نو دا قبيحه ګناه ده.
البته که د ضرورت په وجه يې قرض راخيستې وي او د اَداء کولو اِراده يې وي خو په دې دَوران کې وفات شي نو بيا په دې وعيد کې نه راځي).

## جنت ته به ډير فقيران او مسکينان داخليږي

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةَ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِيْنُ، وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوْسُوْنَ. (۱)

زه (د معراج په شته، يا په خُوب کې...) د جنت په دَروازه باندې اُودريدم نو ديته ډير مسکينان داخليدل، او مالدار مؤمنان (د مال و دولت) د حساب د پاره اُودرولې شوي وو.

يعنې مالدارانو مؤمنانو سره به د قيامت په ورځ د مال و دولت حساب کولې شي نو دوی به ددې په وجه اِيسار وي، ځکه که مال و دولت حلال وي خو بيا يې هم حساب شته، او فقيرانو سره چونکه مال و دولت نه وي نو دوی به د مالدارو نه مخکې جنت ته داخليږي. (۲)

---

(۱) عَنْ أُسَامَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةَ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِيْنُ، وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوْسُوْنَ، غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ، وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ». صحيح البخاري كِتَابُ النِّكَاحِ بَابُ لَا تَأْذَنِ الْمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا لِأَحَدٍ إِلَّا بِإِذْنِهِ رقم الحديث ۵۱۹۶، ورقم الحديث ۶۵۴۷ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ، صحيح مسلم كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ أَكْثَرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْفُقَرَاءُ وَأَكْثَرُ أَهْلِ النَّارِ النِّسَاءُ وَبَيَانِ الْفِتْنَةِ بِالنِّسَاءِ رقم الحديث ۹۳ (۲۷۳۶). مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۱۷۸۲، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۱۱۷۵۶. مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۲۳۳ باب فضل الفقراء وما كان من عيش النبي صلى الله عليه وسلم.

(۲) (قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ) أَيْ: لَيْلَةَ الْمِعْرَاجِ، أَوْ فِي الْمَنَامِ، أَوْ حَالَةَ كَشْفِ الْمَقَامِ، أَوْ بِطَرِيْقِ دَلَالَةِ الْمَرَامِ. (فَكَانَ عَامَّةَ مَنْ دَخَلَهَا) أَيْ: أَكْثَرُهَا وَهِيَ مَرْفُوعَةٌ، وَقِيْلَ مَنْصُوبَةٌ فَيُعْكَسُ (الْمَسَاكِيْنَ) أَيِ الْفُقَرَاءَ وَالضُّعَفَاءَ (وَأَصْحَابُ الْجَدِّ) وَفِي الْجَامِعِ: وَإِذَا أَصْحَابُ الْجَدِّ بِفَتْحِ الْجِيْمِ أَيْ: أَرْبَابُ الْغِنَى ←←←←←

# د دُنيا د اُمورو نه ناخبره خلق به جنت ته ډير داخليږي

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَكْثَرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْبُلْهُ . (١)

جنت ته به اکثره هغه خلق داخليږي چې هغوی د دُنيا د اُمورو نه ناخبره وي ، خو د آخرت په اُمورو باندې ښه خبردار وي او يقين ورباندې کوي .

يعنى د دُنيا په اُمورو کې به ساده ګان وي ؛ ځکه دُنيا ته به يې توجّه نه وي خو د آخرت په اُمورو کې به ښه هوښيار وي . (٢)

# جنت ته به ضعيف ( عاجزي کوونکي ) خلق داخليږي

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل :

---

←←← مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ الْأَغْنِيَاءِ وَالْأُمَرَاءِ ( مَحْبُوسُوْنَ ) أَيْ: مَوْقُوفُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي الصَّحْرَاءِ. وَخُلَاصَتُهُ أَنَّ أَصْحَابَ الْحَظِّ الْفَانِيْ مِنْ أَرْبَابِ الْأَمْوَالِ وَالْمَنَاصِبِ مَحْبُوْسُوْنَ فِي الْعَرَصَاتِ لِطُوْلِ حِسَابِهِمْ فِي الْمَتَاعِبِ بِسَبَبِ كَثْرَةِ أَمْوَالِهِمْ، وَتَوْسِيْعِ جَاهِهِمْ، وَتَلَذُّذِهِمْ بِهِمَا فِي الدُّنْيَا، وَتَمَتُّعِهِمْ عَلَى وَفْقِ شَهَوَاتِ النَّفْسِ وَالْهَوَى، فَإِنَّ حَلَالَ الدُّنْيَا لَهُ حِسَابٌ وَلِحَرَامِهَا عِقَابٌ وَالْفُقَرَاءُ مِنْ هَذَا بَرَاءٌ. فَلَا يُحَاسَبُوْنَ وَلَا يُحْبَسُوْنَ، بَلْ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِأَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا فِي الْجَنَّةِ يَدْخُلُوْنَ مُكَافَأَةً لَهُمْ فِي الْعُقْبَى لِمَا فَاتَهُمْ مِنَ الدُّنْيَا . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٨ ص ٣٢٧٥ في تشريح حديث ٥٢٣٣ .

(١) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَابُ أَكْثَرِ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْبُلْهُ رقم الحديث ١٨٦٧٤ وقال الهيثمي: رَوَاهُ الْبَزَّارُ، وَفِيهِ سَلَامَةُ بْنُ رَوْحٍ، وَثَّقَهُ ابْنُ حِبَّانَ، وَغَيْرُهُ، وَضَعَّفَهُ غَيْرُ وَاحِدٍ. و رقم الحديث ١٧٩١٤ كِتَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبُلْهِ . مسند البزار رقم الحديث ٦٣٣٩ ، شعب الايمان رقم الحديث ١١٢٢ ، ورقم الحديث ١٣٠٢ ، و رقم الحديث ١٣٠٤ ، ورقم الحديث ١٣٠٥ ، تفسير القرطبي ج١٣ ص ١١٥ وقال القرطبي : وهو حديث صحيح . شرح النووي على مسلم ج١٧ ص ١٨١ ، البحر المحيط في التفسير ج٨ ص ٢٦ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٢٨٧ ، مرقاة المفاتيح ج٥ ص ١٧٢٨ ، و ج٦ رقم الحديث ٢٤٠١ ، و ج٩ ص ٣٦١٢ ، وص ٣٦٢٨ .

(٢) ب ل هـ : رَجُلٌ ( أَبْلَهُ ) بَيِّنُ ( الْبَلَهِ ) وَ ( الْبَلَاهَةِ ) وَهُوَ الَّذِيْ غَلَبَتْ عَلَيْهِ سَلَامَةُ الصَّدْرِ . وَبَابُهُ طَرِبَ وَسَلِمَ . وَ ( تَبَلَّهَ ) أَيْضًا وَالْمَرْأَةُ ( بَلْهَاءُ ) وَفِي الْحَدِيْثِ : « أَكْثَرُ أَهْلِ الْجَنَّةِ الْبُلْهُ » يَعْنِي الْبُلْهَ فِي أَمْرِ الدُّنْيَا لِقِلَّةِ اهْتِمَامِهِمْ بِهَا، وَهُمْ أَكْيَاسٌ فِي أَمْرِ الْآخِرَةِ . مختار الصحاح ج١ ص ٤٠ ب ل هـ .

Scanned with CamScanner

أَلا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَاعِفٍ ، لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ . أَلا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ؟ كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ . (۱)

آيا زه تاسو ته د جنتيانو په باره کې خبر درکړم ؟ ( نو واورئ ) جنتيان هغه خلق دي کوم چې ضعيف وي او نور خلق يې هم ضعيف ګڼړي ( حالانکه د الله ﷻ په نزد دده دومره لويه مرتبه وي چې ) که چيرته دا ( د يو کار يا يوې خبرې متعلق ) په الله ﷻ باندې قسم اُوخوري ( چې دا کار به داسې کيږي ) نو الله تعالى خامخا دا په قسم کې رېښتينې کوي ، (بيا نبي عليه السلام اوفرمايل : ) آيا زه تاسو ته د جهنميانو په باره کې خبر درکړم ؟ ( نو واورئ ) دا هغه خلق دي څوک چې سخت ګويه جګړه مار وي ، مال جمع کوونکی بخيل وي او متکبّر وي .

## جنت ته به ضعفاء او مظلوم خلق داخليږي

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل :

أَلا أُنَبِّئُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ؟ هُمُ الضُّعَفَاءُ الْمَظْلُومُونَ . (۲)

آيا زه تاسو ته د جنتيانو متعلق خبر درکړم ؟ دا هغه خلق دي چې کوم ضعيف ( عاجزي کوونکي فقيران ) ، او مظلوم دي .

---

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ الأَدَبِ بَابُ الكِبْرِ رقم الحديث ۶۰۷۱ ، صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ۴۶(۲۸۵۳) ، مسند احمد رقم الحديث ۱۸۷۳۰ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۱۱۶ ، سنن الترمذي رقم الحديث ۲۶۰۵ ، مشكوة المصابيح بَابُ الغَضَبِ وَالكِبْرِ اَلفَصلُ الأَوَّلُ رقم الحديث ۵۱۰۶(۳) .

وفي رواية : عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ ﷺ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَلا أُنَبِّئُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ؟ الْمَغْلُوبُونَ الضُّعَفَاءُ ، وَأَهْلُ النَّارِ كُلُّ جَعْظَرِيٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۰۲ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي ، و رقم الحديث ۳۸۴۴ ، مسند احمد رقم الحديث ۶۵۸۰ ، الاداب للبيهقي رقم الحديث ۲۰۳ ، شعب الايمان رقم الحديث ۷۸۲۰ ، ورقم الحديث ۷۸۲۱ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۴۴۰۶۵ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۳۱۹۷(۲۲) .

(۲) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۸۲۱ ، وهكذا في تنبيه الغافلين ج ۲۳۳ باب فضائل الفقراء .

Scanned with CamScanner

# جنت او جهنم په خپل مينځ کې بحث

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :
جنت او جهنم په خپل مينځ کې بحث ( جګړه ) اوکړه ( يعنی دواړو يو قِسم شکايت اوکړو ) ، جهنم وويل : أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ .
زه د متکبّرينو او سَرکشو د پاره غوره (يعنی جوړ) کړې شوې يم .
جنت وويل : مَا لِيَ لَا يَدْخُلُنِيْ إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ .
دا په ما څه شوي چې په ما کې به صرف کمزوري خلق او د مخلوقاتو په نظر کې غورځيدلي خلق داخليږي ؟ ( اګر چې دا خلق به په حقيقت کې د الله ﷻ په نزد د اُوچتې مرتبې واله وي ) .
( ددې دواړو شکايت آوريدو سره ) الله تعالی جنت ته اوفرمايل :
أَنْتِ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ .
ته زما د رحمت مَظهَر يې ، زه به ستا په ذريعه باندې په خپلو بندګانو کې په هغه چا باندې رحمت کوم د چا په باره کې چې زه اوغواړم .
او اُور ته يې اوفرمايل :
إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ ، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا .
بيشکه ته صرف زما دعذاب مَظهَر يې ، زه چې په خپلو بندګانو کې د چا په باره کې اوغواړم ستا په ذريعه به هغه ته عذاب ورکوم ، او زه به ( جنت او جهنم ) دواړه د خلقو نه ډکوم ..... (١)

---

(١) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ ، فَقَالَتِ النَّارُ : أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ . وَقَالَتِ الْجَنَّةُ : مَا لِيَ لَا يَدْخُلُنِيْ إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ . قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى لِلْجَنَّةِ : أَنْتِ رَحْمَتِيْ أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ ، وَقَالَ لِلنَّارِ : إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِيْ أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِيْ ، وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا مِلْؤُهَا .... صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ الْقُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ : {وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ} ←←←← صحيح مسلم كتاب الْجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ النَّارُ يَدْخُلُهَا الْجَبَّارُونَ وَالْجَنَّةُ ، رقم الحديث ٢٨٥٠

# درې قِسمه خلق جنتيان دي

په مسلم شريف کې د نبي عليه السلام اوږده خطبه ذکر ده ، په هغې کې پيغمبر عليه السلام دا هم فرمايلي :

... وَأَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ : ذُو سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ ، وَ رَجُلٌ رَحِيمٌ رَقِيقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِي قُرْبَى وَمُسْلِمٍ ، وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ ... (١)

جنّتيان درې (٣) قِسمه خلق دي :

١. هغه بادشاه چې انصاف کوونکی وي ، د خلقو سره اِحسان کوي ، او د ښکو کارونو توفيق ورکړې شوې وي .

٢. هغه کس چې ( په هرچا ) مهربان وي ، ( خاصکر ) د هر رِشته دار او هر مسلمان د پاره د نرم زړه واله وي .

٣. هغه مسلمان چې پاک دامَن وي ، سوال نه کوي ، او د بچو واله وي .

په دې حديث کې دا هم ذکر شو چې مهربان او نرم زړه واله کس جنّتي دی .

## دا خيستلو ، خرڅولو او فيصله کولو په وخت نرمي کوونکې جنت ته داخليدل

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

أَدْخَلَ اللهُ رَجُلًا الْجَنَّةَ كَانَ سَهْلًا مُشْتَرِيًا وَبَائِعًا وَقَاضِيًا وَمُقْتَضِيًا .

←←← يَدْخُلُهَا الضُّعَفَاءُ رقم الحديث ٣٦(٢٨٤٦) ، مسند احمد رقم الحديث ٨١٦٤ ، مشكوة المصابيح باب خلق الجنة والنار الفصل الاول رقم الحديث ٧٤٤٧ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٧٦٥٤ .

(١) صحيح مسلم كتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا بَابُ الصِّفَاتِ الَّتِي يُعْرَفُ بِهَا فِي الدُّنْيَا أَهْلُ الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ رقم الحديث ٦٣(٢٨٥٦) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٠٠٥ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٧٤٨٤ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٨٠١٦ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٦٥٣ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٩٨٧ ، شعب الايمان رقم الحديث ١٠٥٣٤ ، مشكوة المصابيح بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ الفَصْل الأول رقم الحديث ٤٩٦٠ (١٤) .

Scanned with CamScanner

الله تعالی جنت ته یو کس داخل کړو چې هغه د اخیستلو ، خرڅولو ، فیصله کولو ، او خپل حق غوښتلو په وخت نرمي کوله .(١)

## تنګ دَسته کس ته مهلت ورکولو سره جنت ته داخلیدل

**١** . د مسلم شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل :

إِنَّ رَجُلًا مَاتَ، فَدَخَلَ الْجَنَّةَ .

یو کس وفات شو او جنت ته داخل شو .

ددې کس نه پوښتنه اوشوه :   مَا كُنْتَ تَعْمَلُ ؟

تا به په دُنیا کې څه عمل کولو ؟ (چې د هغې په وجه جنت ته داخل شوی) .

ده ورته وویل :

إِنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ، فَكُنْتُ أُنْظِرُ الْمُعْسِرَ، وَأَتَجَوَّزُ فِي السِّكَّةِ _أَوْ فِي النَّقْدِ_

ما د خلقو سره خرید و فروخت کولو ، تَنګ دَسته (غریب) ته به مې مهلت ورکولو ، په سکه یا نقدو قبلولو کې به مې دَرګُزر کولو .

نو دې کس ته د همدې عمل په وجه مغفرت اوکړې شو (او جنت ته یې داخل کړې شو) .(٢)

**٢** . رسولُ الله صلی الله علیه وسلم (صحابه کرامو ته) اوفرمایل :

د تاسو نه مخکیني قومونو کې یو کس وُ ، فرښته ده ته د رُوح قبض کولو د پاره راغله ،

---

(١) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٥٠٨ ، ورقم الحديث ٤١٠ ، السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٦٢٤٩ ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ٢٠٤٥ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٢٦٩٦ ، كنزالعمال رقم الحديث ٩٤٢٥ الباب الثاني في البيع ...

(٢) عَنْ حُذَيْفَةَ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَجُلًا مَاتَ، فَدَخَلَ الْجَنَّةَ. فَقِيلَ لَهُ: مَا كُنْتَ تَعْمَلُ؟ فَقَالَ: إِنِّي كُنْتُ أُبَايِعُ النَّاسَ، فَكُنْتُ أُنْظِرُ الْمُعْسِرَ، وَأَتَجَوَّزُ فِي السِّكَّةِ _أَوْ فِي النَّقْدِ_ فَغُفِرَ لَهُ. فَقَالَ أَبُو مَسْعُودٍ رضي الله عنه : وَأَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . صحيح مسلم كِتَابُ الْمُسَاقَاةِ بَابُ فَضْلِ إِنْظَارِ الْمُعْسِرِ رقم الحديث ٢٨ (١٥٦٠) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٣٣٨٤ ، مسند البزار رقم الحديث ٢٨٢٤ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ١٣٥٠ ، معجم ابن عساكر رقم الحديث ٨٠٣ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ١٣٣٧ الترغيب في التيسير على المعسر والنظارة والوضع عنه .

Scanned with CamScanner

فرښتې دده نه پوښتنه اوکړه :

هَلْ عَمِلْتَ خَيْرًا ؟ آيا تا چيرته نيک کار کړی ؟

ده ورته ووېل : ماته ندې معلوم .

فرښتې ورته ووېل : ته يې ځان ته راياد کړه ( کيدې شي تا نيک کار کړې وي ) .

دا به اول اُووايي چې ما ته ندې معلوم ، خو بيا به ورته راياد شي ، فرښتې ته به اُووايي: ما به د خلقو سره اخيستل خرڅول او لين دَين کولو خو ما به تَنګ دَسته ( غريب ) ته مهلت ورکولو ، او مالدار سره به مې نرمي کوله .

فَأَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ . نو الله تعالى دا کس ( د همدې عمل په وجه ) جنت ته داخل کړو . (١)

## د معافۍ په وجه د جنت مستحق کيدل

١ . حضرت ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمايل :

ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ حَاسَبَهُ اللهُ حِسَابًا يَسِيرًا وَأَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِهِ .

درې کسان داسې دي چې په چا کې دا خبرې وي نو الله تعالى به دده سره آسان حِساب اوکړي ، او په خپل رَحمت سره به يې جنت ته داخل کړي .

صحابه کرامو پوښتنه اوکړه : هغه درې کسان څوک دي ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل :

تُعْطِي مَنْ حَرَمَكَ ، وَتَعْفُو عَمَّنْ ظَلَمَكَ ، وَتَصِلُ مَنْ قَطَعَكَ .

---

(١) قَالَ عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو رضي الله عنه لِحُذَيْفَةَ رضي الله عنه : حَدِّثْنِي بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ : " كَانَ رَجُلٌ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ أَتَاهُ الْمَلَكُ لِيَقْبِضَ رُوحَهُ فَقَالَ : هَلْ عَمِلْتَ خَيْرًا ؟ قَالَ : مَا أَعْلَمُهُ ، قَالَ: اُنْظُرْ . قَالَ: مَا أَعْلَمُهُ . إِلَّا أَنِّي كُنْتُ رَجُلًا أُجَازِفُ النَّاسَ وَأُخَالِطُهُمْ . فَكُنْتُ أُنْظِرُ الْمُعْسِرَ وَأَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُوسِرِ . فَأَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ " . قَالَ عُقْبَةُ : وَأَنَا سَمِعْتُهُ يَقُولُ ذَلِكَ . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْبُيُوعِ وَالْأَقْضِيَةِ إِنْظَارُ الْمُعْسِرِ وَالرِّفْقُ بِهِ رقم الحديث ٢٢١٧٥ ، و رقم الحديث ٢٣٠١٩ فِي ثَوَابِ إِنْظَارِ الْمُعْسِرِ وَالرِّفْقِ بِهِ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٦٤٢ ، كنزالعمال رقم الحديث ١٥٤٠١ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ١٣٣٨ الترغيب في التيسير على المعسر والنظاره والوضع عنه .

څوک چې تا مَحرومه کړي هغه ته ورکړه کوه ، څوک چې درباندې ظلم کوي هغه ته معافي کوه ، او څوک چې درسره صِله رَحمي کټ کوي د هغه سره صِله رَحمي کوه .

حضرت ابوهريرة رضی الله عنه نبي عليه السلام ته اوفرمايل :

اې د الله رسوله ! چې کله زه دا کارونه اوکړم نو زما د پاره به څه وي ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

أَنْ تُحَاسَبَ حِسَابًا يَسِيرًا ، وَيُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِهِ .

د تاسره به آسان حساب اوشي ، او الله تعالى به تا په خپل رَحمت سره جنت ته داخل کړي .(١) .

٣ . نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چې کله خلق حساب ته اُودريږي ... نو بيا به يو آواز کوونکی آواز اوکړي :

لِيَقُمْ مَنْ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ ، فَلْيَدْخُلِ الْجَنَّةَ .

د چا اَجر چې په الله جل جلاله باندې وي هغه دې پاڅي او جنت ته دې داخل شي .

په دويم ځل به هم همدغه آواز اوشي .

حضرت انس رضی الله عنه پوښتنه اوکړه : هغه څوک دی چې د هغه اَجر په الله جل جلاله باندې دی ؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ حَاسَبَهُ اللهُ حِسَابًا يَسِيرًا وَ أَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِهِ » قَالُوا : لِمَنْ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ: « تُعْطِي مَنْ حَرَمَكَ، وَتَعْفُو عَمَّنْ ظَلَمَكَ، وَتَصِلُ مَنْ قَطَعَكَ » قَالَ : فَإِذَا فَعَلْتُ ذٰلِكَ، فَمَا لِي يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « أَنْ تُحَاسَبَ حِسَابًا يَسِيرًا وَيُدْخِلَكَ اللهُ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِهِ » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٣٩١٢ وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مسند البزار رقم الحديث ٨٦٣٥ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٢١٠٩٢ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٥٠٦٤ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٧١٨ ، ورقم الحديث ٣٨١٥ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٣٣٧٣ ، ورقم الحديث ١٣٦٩٧ ، الزواجر ج٢ ص ١٣٢ ، كنز العمال رقم الحديث ٤٣٢١٥ ، مكارم الاخلاق لابن ابي الدنيا ج ١ ص ٢٣ رقم ٢١ .

اَلْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ. څوک چې خلقو ته معافي کوي. (١)

## د حیاء لرلو په وجه د جنت مستحق کیدل

امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په الأدب المفرد کې دا حدیث ذکر کړی، چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

اَلْحَيَاءُ مِنَ الْإِيْمَانِ، وَالْإِيْمَانُ فِي الْجَنَّةِ. (٢)

حیاء د ایمان حصه ده، او د ایمان واله به په جنت کې وي.

## په حلال خوراک کولو، په سُنتو باندې عمل کولو، او خلقو ته ضرر نه رسولو په وجه د جنت مستحق کیدل

١ . رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ أَكَلَ طَيِّبًا، وَعَمِلَ فِيْ سُنَّةٍ، وَأَمِنَ النَّاسُ بَوَائِقَهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ.

(١) پوره حدیث داسې دی: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « إِذَا وَقَفَ الْعِبَادُ لِلْحِسَابِ جَاءَ قَوْمٌ وَاضِعِيْ سُيُوْفِهِمْ عَلَى رِقَابِهِمْ، تَقْطُرُ دَمًا. فَازْدَحَمُوْا عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ. فَقِيْلَ: مَنْ هٰؤُلَاءِ؟ قِيْلَ: الشُّهَدَاءُ، كَانُوْا أَحْيَاءً مَرْزُوْقِيْنَ. ثُمَّ نَادٰى مُنَادٍ: لِيَقُمْ مَنْ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ، فَلْيَدْخُلِ الْجَنَّةَ. ثُمَّ نَادَى الثَّانِيَةَ: لِيَقُمْ مَنْ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ، فَلْيَدْخُلِ الْجَنَّةَ. قَالَ: وَمَنْ ذَا الَّذِيْ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ؟ قَالَ: اَلْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ. ثُمَّ نَادَى الثَّالِثَةَ: لِيَقُمْ مَنْ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ، فَلْيَدْخُلِ الْجَنَّةَ. فَقَامَ كَذَا وَكَذَا أَلْفًا. فَدَخَلُوْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ. المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ١٩٩٨، حلية الاولياء ج٦ ص١٨٧، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٧٢٤ الترغيب فی العفوعن القاتل والجاني والظالم، وقال المنذري: رواه الطبراني بإسناد حسن. مجمع الزوائد رقم الحديث ١٨٧١٤، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٣٦٣ ثواب من عفا عمن ظلمه او جنى عليه.

(٢) الادب المفرد مخرجا بَابُ الْجَفَاءِ رقم الحديث ١٣١٤، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْحَيَاءِ رقم الحديث ٢٠٠٩ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. صحيح ابن حبان رقم الحديث ٦٠٨، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٠٤٤٢، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١٧١، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٥٠٧٧(١٠).

Scanned with CamScanner

څوک چې حلال خوراک کوي ، په سُنتو باندې عمل کوي ، او خلق دده د شَر نه محفوظ وي نو دا کس به جنت ته داخل شي . (١)

٢ . رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په یوه موقع اوفرمایل :

اَلدُّنْيَا خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ ، مَنِ اكْتَسَبَ فِيْهَا مَالًا مِنْ حِلِّهِ وَأَنْفَقَهُ فِيْ حَقِّهِ أَثَابَهُ اللهُ عَلَيْهِ وَأَوْرَدَهُ جَنَّتَهُ ، وَمَنِ اكْتَسَبَ فِيْهَا مَالًا مِنْ غَيْرِ حِلِّهِ وَأَنْفَقَهُ فِيْ غَيْرِ حَقِّهِ أَحَلَّهُ اللهُ دَارَ الْهَوَانِ . (٢)

دُنیا سَرسبز و شاداب او خوږه ده ، څوک چې په دې کې په حلالې طریقې سره مال اُوګټي او په صحیح ځایونو کې یې خرچ کړي الله ﷻ به دے ته خپله رَضا ورکړي ، او جنت ته به یې داخل کړي ، او څوک چې مال په حرام او ناجائزه طریقو سره اُوګټي او په ناجائزه ځایونو کې یې خرچ کړي نو الله ﷻ به دا د ذِلت په ځای (یعنی جهنم) کې اُوغورځوي .

٣ . د امام اُوزاعي رَحِمَهُ الله ملاقات د ابراهیم بن اَدهم رحمه الله سره په داسې حالت کې اوشو چې ابراهیم بن اَدهم رحمه الله په سَر باندې د لرګو ګیډې راخیستې وُ ، امام اوزاعي ورته وویل :

يَا أَبَا إِسْحَاقَ ! إِلٰى مَتٰى هٰذَا ؟ إِخْوَانُكَ يَكْفُوْنَكَ .

اې ابو اسحاق ! ته به تر څو پورې دا کسب کوې ؟ ستا اِسلامي وروڼه ستا د پاره کافي دي ( هغوی به کسب کوي او تا ته به د ضرورت موافق درکوي ) .

ده ورته وویل : اې ابوعمرو ! ما پرېږده ، ځکه ما ته دا خبره رارسیدلې ده چې :

(١) المستدرک علی الصحیحین للحاکم کتاب الاطعمة ج٤ ص ١١٧ رقم الحدیث ٧٠٧٣ وقال الحاکم هذا حدیث صحیح الاسناد ولم یخرجاه ، وقال الذهبي : هذا حدیث صحیح ، سنن الترمذي باب ٦٠ رقم الحدیث ٢٥٢٠ ، مشکاة المصابیح رقم الحدیث ١٧٨ (٣٩) ، کنزالعمال کتاب البیوع الباب الاول فی الکسب الفصل الاول في فضائل الکسب الحلال ج٤ رقم الحدیث ٩٢١٣ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٧ ثواب الاکتساب من جهات الحلّ والعمل بالید .

(٢) خرّج البیهقي باسناده عن ابن عمر رضي الله عنهما ، وذکره السیوطي في الجامع الصغیر ، و رواه السیوطي في الدّر المنثور ٤ / ٢٠٤ ، والزبیدي في الاتحاف ٦ / ١٢ ، الترغیب والترهیب کتاب البُيُوع وَغيرها التَّرْغِيب فِي الإِكْتِسَاب بِالْبيعِ وَغيره جزء ٢ ص ٣٤٨ رقم الحدیث ٢٦٧٧ ، کنزالعمال ج٣ ص ١٨٣ رقم الحدیث ٦٠٧٦ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٤٠٧ ثواب الاکتساب من جهات الحل والعمل بالید .

Scanned with CamScanner

مَنْ وَقَفَ مَوْقِفَ مذِلَّةٍ فِي طَلَبِ الحَلَالِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ .

څوک چې د حلال رِزق په طلب کولو کې د ذِلت په ځای کې ودريد نو دده د پاره جنت واجب شو. (۱)

## د مريض تپوس کولو ، او د خپل مسلمان ورور ملاقات له تللو سره د جنت مستحق کيدل

امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په الأدب المفرد کې دا حديث رانقل کړی : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : چې کله يو سړی د خپل اسلامي ورور بيمارپرسۍ له لاړ شي ، يا (د الله ﷻ د رَضا دپاره) د هغه ملاقات له لاړ شي نو الله تعالی دې کس ته فرمايي :

طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ، وَتَبَوَّأْتَ مَنْزِلًا فِي الْجَنَّةِ .

ته دې ( په دُنيا او آخرت کې ) خوشحال شی ، ستا دا راتلل دير ښه دي ، او تا ځان ته په جنت کې کور جوړ کړو . (۲)

---

(۱) و رُوِيَ أنّ الأوزاعي لقي إبراهيم بن أدهم رحمهم الله وعلى عنقه حزمة حطب ، فقال له : يَا أَبَا إِسْحَاق ! إِلَى مَتَى هٰذَا ؟ إِخْوَانُكَ يَكفُونك . فقال : دَعْنِيْ عَنْ هٰذَا يَا أبا عمرو ! فإنّه بَلَغَنِيْ أَنَّهُ مَنْ وَقَفَ مَوْقِفَ مذلّةٍ في طلبِ الحلال وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . احياء العلوم ج۲ ص ۷۲ كتاب آداب الكسب والمعاش الباب الاول في فضل الكسب والحث عليه ط دار الكتب العلمية بيروت ، نزهة الناظرين ... كتاب آداب الكسب والمعاش ص ۳۳۹ .

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "إِذَا عَادَ الرَّجُلُ أَخَاهُ أَوْ زَارَهُ، قَالَ اللهُ لَهُ: طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ، وَتَبَوَّأْتَ مَنْزِلًا فِي الْجَنَّةِ" . الادب المفرد مخرجا بَابُ الزِّيَارَةِ رقم الحديث ۳۴۵ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۲۹۶۱ ، شعب الايمان رقم الحديث ۸۶۱۱ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۵۳۶ ، و رقم الحديث ۸۶۵۱ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۰۱۵(۱۳).

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ عَادَ مَرِيضًا أَوْ زَارَ أَخًا لَهُ فِي اللهِ نَادَاهُ مُنَادٍ أَنْ طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي زِيَارَةِ الإِخْوَانِ رقم الحديث ۲۰۰۸ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۱۴۴۳ ، شعب الايمان رقم الحديث ۸۶۱۰ ، كنز العمال رقم الحديث ۲۵۱۳۳ . ←←←

Scanned with CamScanner

# نفلي روژه نيولو ، مسکين ته خوراک ورکولو ، د مريض تپوس کولو ، او د مسلمان جنازه کولو سره د جنت مستحق کيدل

د مسلم شريف حديث دی ، چې يو ځل رسولُ الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته اوفرمايل :

مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا ؟ نن ورځ په تاسو کې د چا روژه ده ؟

حضرت ابوبکر صديق ﷺ ورته وويل : أَنَا . نن زما روژه ده .

نبي عليه السلام بيا پوښتنه اوکړه :

فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً ؟

نن په تاسو کې څوک د جنازې سره تللی ؟ او د جنازې مونځ يې کړی ؟

ابوبکر صديق ﷺ وويل : أَنَا . ما مسلمان جنازه کړی .

نبي عليه السلام بيا پوښتنه اوکړه :

فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا ؟

نن ورځ په تاسو کې چا په مسکين خوراک خوړلی ؟

حضرت ابوبکر صديق ﷺ وويل : أَنَا . ما په مسکين خوراک کړی .

نبي عليه السلام بيا اوفرمايل :

---

←←← (طِبْتَ) : بِكَسْرِ الطَّاءِ أَيْ: صِرْتَ طَيِّبَ الْعَيْشِ فِي الْآخِرَةِ، أَوْ حَصَلَ لَكَ طِيبُ عَيْشٍ فِيهَا . وَهُوَ إِخْبَارٌ وَيحْتَمِلُ الدُّعَاءَ (وَطَابَ مَمْشَاكَ) أَيْ: صَارَ مَشْيُكَ سَبَبَ طِيبِ عَيْشِكَ فِيهَا. كَذَا ذَكَرَهُ بَعْضُ الشُّرَّاحِ، وَلَا يَبْعُدُ فِي تَعْمِيمِ طِيبِ الْعَيْشِ لِيَشْمَلَ طِيبَ الْحَيَاةِ فِي الدُّنْيَا بِالْقَنَاعَةِ وَالرِّضَاءِ وَبَرَكَةِ الرِّزْقِ وَسَعَةِ الْقَلْبِ وَحُسْنِ الْخُلُقِ وَتَوْفِيقِ الْعِلْمِ وَالْعَمَلِ، وَيُمْكِنُ أَنْ يَكُونَ الطِّيبُ كِنَايَةً عَنْ قَبُولِ نِيَّتِهِ وَشُكْرِ سَعْيِهِ. (وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا) أَيْ: هُيِّئَتْ مِنْهَا بِهَذِهِ الْعِيَادَةِ مَنْزِلَةٌ عَظِيمَةٌ وَمَرْتَبَةٌ جَسِيمَةٌ، فَإِنَّ إِدْخَالَ السُّرُورِ فِي قَلْبِ الْمُؤْمِنِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ الثَّقَلَيْنِ، لَا سِيَّمَا وَالْعِيَادَةُ فَرْضُ كِفَايَةٍ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٨ ص ٣١٢٠ في تشريح حديث ٥٠٥١ .

فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيْضًا؟

نن ورځ په تاسو کې چا د مريض بيمارپُرسي کړې؟

ابوبکر صديق ﷛ وويل: أَنَا. ما د مريض بيمارپُرسي کړې.

رسول الله ﷺ وفرمايل: مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ.

په چا کې چې هم دا خويونه جمع شي نو هغه به جنت ته داخليږي. (١)

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟ » قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَا، قَالَ: « فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟ » قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَا، قَالَ: « فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِيْنًا؟ » قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَا، قَالَ: « فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيْضًا؟ » قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ، إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ ». صحيح مسلم كِتَاب الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ، وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ٨٧ (١٠٢٨)، و رقم الحديث ١٢ (١٠٢٨) كتاب فَضَائِلِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ بَابُ مِنْ فَضَائِلِ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. مسند البزار رقم الحديث ٩٧٥٤، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٧٨٣٠، شعب الايمان رقم الحديث ٨٧٦٤، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٨١٩ (٣)، صحيح ابن خزيمة رقم الحديث ٢١٣١.

وفي رواية: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ: « صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أَصْحَابِهِ فَقَالَ: "هَلْ مِنْكُمْ أَحَدٌ أَصْبَحَ صَائِمًا؟". فَقَالَ عُمَرُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! لَمْ أُحَدِّثْ نَفْسِي بِالصَّوْمِ الْبَارِحَةَ فَأَصْبَحْتُ مُفْطِرًا. فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ ﷛: لَكِنِّي حَدَّثْتُ نَفْسِي بِالصَّوْمِ الْبَارِحَةَ فَأَصْبَحْتُ صَائِمًا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ مِنْكُمُ الْيَوْمَ أَحَدٌ عَادَ مَرِيْضًا؟". فَقَالَ عُمَرُ ﷛: يَا رَسُوْلَ اللهِ! صَلَّيْنَا ثُمَّ لَمْ نَبْرَحْ فَكَيْفَ نَعُوْدُ الْمَرْضَى؟ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ: بَلَغَنِي أَنَّ أَخِي عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ اشْتَكَى فَجَعَلْتُ طَرِيْقِي عَلَيْهِ حِيْنَ خَرَجْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ لِأَنْظُرَ كَيْفَ أَصْبَحَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ مِنْكُمْ أَحَدٌ أَطْعَمَ الْيَوْمَ مِسْكِيْنًا؟". فَقَالَ عُمَرُ ﷛: يَا رَسُوْلَ اللهِ! صَلَّيْنَا ثُمَّ لَمْ نَبْرَحْ. فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ ﷛: دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا أَنَا بِسَائِلٍ يَسْأَلُ فَوَجَدْتُ كِسْرَةَ خُبْزِ شَعِيْرٍ فِي يَدِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فَأَخَذْتُهَا فَدَفَعْتُهَا إِلَيْهِ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنْتَ فَأَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ". فَتَنَفَّسَ عُمَرُ ﷛ فَقَالَ: وَاهًا لِلْجَنَّةِ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَةً رَضِيَ بِهَا عُمَرُ ﷛: "رَحِمَ اللهُ عُمَرَ رَحِمَ اللهُ عُمَرَ لَمْ يُرِدْ خَيْرًا قَطُّ إِلَّا سَبَقَهُ أَبُوْ بَكْرٍ إِلَيْهِ» ". مجمع الزوائد كِتَابُ الصِّيَامِ بَابٌ فِي الصَّائِمِ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ وَيَفْعَلُ الْخَيْرَ رقم الحديث ٤٩٤٩، كنزالعمال رقم الحديث ٣٥٦٦٨.

**نوټ** : همداسې خبره د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کې هم نقل شوی چې ده دا کارونه کړي وو ، نو نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

وَجَبَتْ لَكَ، وَجَبَتْ لَكَ .

ستا د پاره جنت واجب شو ، ستا د پاره جنت واجب شو . (١)

## د مسلمان د پاره قبر كنيستلو سره په جنت کې کور جوړيدل

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : مَنْ حَفَرَ قَبْرًا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ . (٢)

چا چې بل مسلمان د پاره قبر أو كنيستلو نو الله تعالى به ده ته په جنت کې کور جوړ کړي .

## د نظر حفاظت کوونکي د پاره نبي عليه السلام د جنت ضمانت کړی

څوک چې د نظر حفاظت کوي نو د داسې کس د پاره نبي عليه السلام د جنت ضمانت ورکړی ،

---

(١) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه ، قَال : سَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ. فَقَالَ: « مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا ؟ » قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : أَنَا. قَالَ: « وَمَنْ تَصَدَّقَ الْيَوْمَ ؟ » قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : أَنَا. قَالَ : « وَمَنْ عَادَ مَرِيضًا ؟ » قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : أَنَا. قَالَ: « وَمَنْ شَهِدَ جَنَازَةً ؟ » قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : أَنَا. قَالَ: « وَجَبَتْ لَكَ، وَجَبَتْ لَكَ ». قَالَ أَبُو نُعَيْمٍ ثَلَاثًا. هَذَا الْحَدِيثُ، أَخْرَجَهُ مُسْلِمٌ مِنْ رِوَايَةِ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، وَقَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه : أَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ » . شرح السنة للبغوي كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ كُلِّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ رقم الحديث ١٦٤٧ .

(٢) پوره حديث داسې دی : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ حَفَرَ قَبْرًا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، وَمَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا خَرَجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ ، وَمَنْ كَفَّنَ مَيِّتًا كَسَاهُ اللهُ مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ عَزَّى حَزِينًا أَلْبَسَهُ اللهُ التَّقْوَى، وَصَلَّى عَلَى رُوحِهِ فِي الْأَرْوَاحِ ، وَمَنْ عَزَّى مُصَابًا كَسَاهُ اللهُ حُلَّتَيْنِ مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ لَا تَقُومُ لَهُمَا الدُّنْيَا، وَمَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةً حَتَّى يُقْضَى دَفْنُهَا كُتِبَ لَهُ ثَلَاثَةُ قَرَارِيطَ، الْقِيرَاطُ مِنْهَا أَعْظَمُ مِنْ جَبَلِ أُحُدٍ، وَمَنْ كَفَلَ يَتِيمًا أَوْ أَرْمَلَةً أَظَلَّهُ اللهُ فِي ظِلِّهِ وَأَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ » ". مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ تَجْهِيزِ الْمَيِّتِ وَغُسْلِهِ وَالْإِسْرَاعِ بِذَلِكَ رقم الحديث ٤٠٦٦ وقال الهيثمي : رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْأَوْسَطِ، وَفِيهِ الْخَلِيلُ بْنُ مُرَّةَ، وَفِيهِ كَلَامٌ. المعجم الاوسط رقم الحديث ٩٢٩٢ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٥٣٠٥ الترغيب في حفر القبور... مكارم الاخلاق رقم الحديث ١٠١ .

پیغمبر ﷺ فرمايي :

اِضْمَنُوْا لِيْ سِتًّا مِنْ اَنْفُسِكُمْ اَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ .

تاسو ماته د شپږو (٦) خبرو ضمانت راکړئ (چې په دې باندې به عمل کوئ) نو زه به تاسو ته د جنت ضامن جوړ شم (چې تاسو به يقيني جنت ته داخليږئ)

.... (په هغې کې يوه خبره داده :) وَغُضُّوْا اَبْصَارَكُمْ .

خپل نظرونه ښکته (محفوظ) اوساتئ. (يعنى شريعت چې کومو څيزونو ته د کتلو نه منع کړې هغې ته مه ګورئ) (١)

## د توبې ، اِيمان ، او نيکو اعمالو په وجه د جنت مستحق کيدل

په قرآن کريم کې الله تعالى فرمايي :

﴿ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ﴾. (٢)

ترجمه : مګر چا چې توبه اُوويسته ، اِيمان يې راوړو ، او نيک عمل يې اوکړل نو همدا خلق به جنت ته داخليږي ، او په دوى باندې به هيڅ ظلم نه کيږي .

## توبه کوونکي مؤمنانو د پاره د جنت زيرې

په قرآن کې الله تعالى د توبه کوونکو مؤمنانو سره د جنت وعده کړې ، فرمايي :

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ؕ عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ

---

(١) عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، اَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : اِضْمَنُوْا لِيْ سِتًّا مِنْ اَنْفُسِكُمْ اَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ : اُصْدُقُوْا إِذَا حَدَّثْتُمْ ، وَاَوْفُوْا إِذَا وَعَدْتُمْ ، وَاَدُّوْا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ ، وَاحْفَظُوْا فُرُوْجَكُمْ ، وَغُضُّوْا اَبْصَارَكُمْ ، وَكُفُّوْا اَيْدِيَكُمْ . المستدرک علی الصحيحين للحاكم كِتَابُ الْحُدُوْدِ رقم الحديث ٨٠٦٦ ، وقال الحاكم : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . مسند احمد مخرجاً رقم ٢٢٧٥٧ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٢٦٩١ باب ماجاء في الترهيب في اداء الامانات ، شعب الايمان رقم ٤٤٦٣ ، و رقم ٤٨٧٧ ، مشكوة المصابيح بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيْبَةِ وَالشَّتْمِ اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ ، مجمع الزوائد بَابٌ فِي الاَمَانَةِ رقم ٦٧٠٩ ، كنزالعمال رقم الحديث ٤٣٥٣١ .

(٢) مريم آية ٦٠ .

وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ ﴾.(١)

ترجمه: اې مؤمنانو ! تاسو الله ته رښتيني توبه اوباسئ ، اُميد دی چې ستاسو رَب به د تاسو نه ستاسو ګناهونه لرې (يعنی معاف) کړي ، او تاسو به داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهيږي .

## د ښه اُميد په وجه جنت ته داخليدل

١ . رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

إِنَّمَا يَدۡخُلُ الۡجَنَّةَ مَنۡ يَرۡجُوهَا، وَإِنَّمَا يُجَنَّبُ النَّارَ مَنۡ يَخَافُهَا، وَإِنَّمَا يَرۡحَمُ اللهُ مَنۡ يَرۡحَمُ .

بيشکه جنت ته به هغه کس داخليږي څوک چې ددې اُميد ساتي ، او د جنهم نه به هغه کس محفوظ کيږي څوک چې ددينه يريږي ، او الله تعالی په هغه چا باندې رحم کوي څوک چې په نورو رحم کوي.(٢)

٢ . نبي عليه السلام فرمائي : يو کس به جهنم ته داخل کړې شي ، زر (١٠٠٠) کاله پس به دا الله ﷻ ته يو آواز اوکړي : يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ .

الله رب العزت به حضرت جبريل عليه السلام ته اوفرمايي : ای جبريل ! ته لاړ شه او زما دغه بنده ماته راوله. نو حضرت جبريل عليه السلام به دا بنده راولي او دالله ﷻ د وړاندې به يې اُودروي ، الله ﷻ به ورته تپوس اوکړي :

کَيۡفَ وَجَدۡتَ مَکَانَکَ ؟

خپل ځای دې څنګه اُوموندو ؟ (يعنی جهنم څنګه ځای وُ ؟ )

دا به ورته جواب ورکړي : ډير بد ترين ځای وُ.

الله به دوباره حکم اوکړي :

---

(١) التحريم آية ٨ .

(٢) شعب الايمان رقم الحديث ٧٦٠ الخوف من الله تعالى . الآداب للبيهقي رقم الحديث ٨٢٧ ، حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج٣ ص ٢٢٥ . كنزالعمال رقم الحديث ٥٨٦٦ الخوف والرجاء ، صفة الجنة لابي نعيم الاصبهاني رقم الحديث ٣١ .

Scanned with CamScanner

رُدُّوهُ إِلَى مَكَانِهِ . دوباره يې خپل زوړ ځای ته بوځئ .
نو دا کس به روان شي او شاته شاته به راګوري . الله جل جلاله به ورنه پوښتنه اوکړي :
إِلَى أَيِّ شَيْءٍ تَلْتَفِتُ ؟ څه شي ته شاته شاته ګورې ؟
دا به ورته جواب ورکړي :
لَقَدْ رَجَوْتُ أَنْ لَا تُعِيدَنِي إِلَيْهَا بَعْدَ إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا .
( اې الله ! ) تا چې کله زه يو پېره د جهنم نه را اُوويستم نو زما خو دا اُميد وُ چې ته به ما دوباره ديته نه واپس کوې .
الله ﷻ چې کله دده دا اُميد اوګوري نو فرشتو به حکم اوکړي :
إِذْهَبُوا بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ . زما دا بنده جنت ته بوځئ .
(ځکه ده د مانه ښه اُميد اُوساتل نو ما هم مايوسه نه کړو او جنت ته مې داخل کړو ) .
ددې واقعې نه روستو امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي :
فَدَلَّ هَذَا أَنَّ رَجَاءَهُ كَانَ سَبَبَ نَجَاتِهِ .
دا واقعه په دې دلالت کوي چې ددې کس د نجات سبب د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل وو . (١)

---

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّ رَجُلًا يدخل النَّار فَيَمْكُثُ فِيهَا أَلْفَ سَنَةٍ يُنَادِي : يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ . فَيَقُولُ اللهُ لِجِبْرِيلَ : إِذْهَبْ فَأْتِنِي بِعَبْدِي . قَالَ فَيَجِيئُ بِهِ فَيُوْقِفُهُ عَلَى رَبِّهِ . فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى : كَيْفَ وَجَدْتَ مَكَانَكَ ؟ فَيَقُولُ شَرُّ مَكَانٍ . قَالَ فَيَقُولُ : رُدُّوهُ إِلَى مَكَانِهِ . قَالَ فَيَمْشِي وَيَلْتَفِتُ إِلَى وَرَائِهِ . فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : إِلَى أَيِّ شَيْءٍ تَلْتَفِتُ ؟ فَيَقُولُ: لَقَدْ رَجَوْتُ أَنْ لَا تُعِيدَنِي إِلَيْهَا بَعْدَ إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا . فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى إِذْهَبُوا بِهِ إِلَى الْجَنَّةِ . احياء العلوم كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه ج٤ ص ١٣٦

وفي رواية : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ عَبْدًا فِي جَهَنَّمَ يُنَادِي أَلْفَ سَنَةٍ: يَا حَنَّانُ يَا مَنَّانُ . فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِجِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: إِذْهَبِ ائْتِنِي بِعَبْدِي هَذَا . قَالَ : فَيَذْهَبُ جِبْرِيلُ فَيَجِدُ أَهْلَ النَّارِ مُنْكَبِّينَ عَلَى وُجُوهِهِمْ ، فَيَرْجِعُ إِلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيُخْبِرُهُ فَيَقُولُ : اِئْتِنِي بِعَبْدِي ، فَإِنَّهُ فِي مَكَانِ كَذَا وَكَذَا . قَالَ: فَيَجِيءُ بِهِ فَيُوقَفُ عَلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ فَيَقُولُ لَهُ: يَا عَبْدِي كَيْفَ وَجَدْتَ مَكَانَكَ ؟ وَكَيْفَ وَجَدْتَ مَقِيلَكَ ؟ فَيَقُولُ : يَا رَبِّ ! شَرُّ مَكَانٍ وَشَرُّ مَقِيلٍ . فَيَقُولُ : رُدُّوا عَبْدِي . فَيَقُولُ : ←←←←

۳ . همدغه شان یوه بله واقعه هم امام غزالي رَحِمَهُ اللَّهُ او ابن ابي الدنيا رَحِمَهُ اللَّهُ رانقل کړې چې د قیامت په ورځ به د دوه کسانو د جهنم نه د راویستلو حکم اوشي (چې کله دا دوه کسان راوستی شي) ، الله جَلَّ جَلَالُهُ به ورته اوفرمايي :

ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ.

دا ما چې تاسو جهنم ته داخل کړي وئ نو دا ستاسو د خپلو اعمالو وجه وه ځکه زه خو په (خپلو) بندګانو باندې ظلم نه کوم.

بیا به الله جَلَّ جَلَالُهُ حکم اوکړي : دا دواړه واپس جهنم ته بوځئ.

نو په دې دواړو کې به یو کس په خپلو ځنځیرونو کې جهنم ته منډه کړي او ځان به غورځولو ته نزدې کړي ، او دا دویم کس به په قلاره قلاره روان وي.

الله جَلَّ جَلَالُهُ به حکم اوکړي : دا دواړه کسان واپس راولئ.

(چې کله دواړه راوستې شي) نو الله جَلَّ جَلَالُهُ به ورته پوښتنه اوکړي : چې تاسو داسې ولې اوکړل؟ (چې یو په منډه لاړې ، او بل په قلاره قلاره؟)

دا څوک چې په منډه تللې وُ هغه به عرض وکړي :

اې الله! زه د خپلو ګناهونو نه ویریدم نو ما دا نه غوښتل چې ستا د حکم نافرماني اوکړم او دوباره ستا غضب او غصې ته ځان وروړاندې کړم.

او کوم کس چې په قلاره قلاره تللو ، هغه به ورته عرض وکړي :

حُسْنُ ظَنِّيْ بِكَ كَانَ يُشْعِرُنِيْ أَنْ لَا تَرُدَّنِيْ إِلَيْهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا.

اې الله! زما چې په تا باندې کوم ښه ګمان وُ هغې ماته دا خودله چې کله تا زه د جهنم نه رااوویستم نو ته به ما دوباره جهنم ته نه لیږې (نو ځکه زه روستو روستو کیدم).

نو دا الله جَلَّ جَلَالُهُ رحمت به په جوش کې راشي :

---

←←← يَا رَبِّ ! مَا كُنْتُ أَرْجُوْ إِذْ أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا أَنْ تُعِيْدَنِيْ فِيْهَا . فَيَقُوْلُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ : دَعُوْا عَبْدِيْ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۱۰۳ رقم الحديث ۱۱۰ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۳۴۱۱ . شعب الايمان رقم الحديث ۳۱۵ . تفسير ابن كثير ج ٦ ص ۱۲۳ في تشريح سورة الفرقان آية ٦٥ .

فَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ. د دې دواړو په باره کې به جنت ته د بوتللو حکم او کړي.

(ځکه د دې يو کس په زړه کې زما يَره ده نو زه به دا نور په يَره کې وانه چوم، او د دې بل کس په ما باندې ښه ګمان دی چې دوباره به مې جهنم ته نه داخلوي او زه د خپل بنده د نېک ګمان موافق د ده باره کې فيصله کوم .لهذا دا دواړه جنت ته بوځئ . نو دواړه به جنت ته بوتلې شي) . (۱)

## نېک اعمال کوونکو ، صابرينو ، او مُتوکّلينو د پاره د جنت بَنګلې

څوک چې د ايمان راوړو نه پس نېک اعمال کوي ، د تکليف په وخت صبر کوي ، او الله ﷻ باندې توکّل کوي نو الله تعالى د داسې خلقو سره د جنت د بَنګلو وعده کړې ، فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ الْجَنَّةِ غُرَفًا تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ نِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴿٥٨﴾ الَّذِينَ صَبَرُوا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴾.

---

(۱) قَالَ سَعْدُ بْنُ بِلَالٍ : يُؤْمَرُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِإِخْرَاجِ رَجُلَيْنِ مِنَ النَّارِ فَيَقُوْلُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى : ذَلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ . وَيَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا إِلَى النَّارِ . فَيَعْدُو أَحَدُهُمَا فِيْ سَلَاسِلِهِ حَتَّى يَقْتَحِمَهَا. وَيَتَلَكَّأُ الْآخَرُ. وَيَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا وَيَسْأَلُهُمَا عَنْ فِعْلِهِمَا . فَيَقُوْلُ الَّذِيْ عَدَا إِلَى النَّارِ : قَدْ حَذِرْتُ مِنْ وَبَالِ الْمَعْصِيَةِ فَلَمْ أَكُنْ لِأَتَعَرَّضَ لِسَخَطِكَ ثَانِيَةً ، وَيَقُوْلُ الَّذِيْ تَلَكَّأَ : حُسْنُ ظَنِّيْ بِكَ كَانَ يُشْعِرُنِيْ أَنْ لَا تَرُدَّنِيْ إِلَيْهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا ، فَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ. احياء العلوم كتاب الخوف والرجاء بيان فضيلة الرجاء والترغيب فيه ج۴ ص ۵۴۵ كتاب المراقبة والمحاسبة .

عَنْ بِلَالِ بْنِ سَعْدٍ ، قَالَ: يُؤْمَرُ بِإِخْرَاجِ رَجُلَيْنِ مِنَ النَّارِ ، فَإِذَا خَرَجَا وَوَقَفَا قَالَ اللهُ لَهُمَا: كَيْفَ وَجَدْتُمَا مَقِيْلَكُمَا وَسُوْءَ مَصِيْرِكُمَا ؟ فَيَقُوْلَانِ : شَرَّ مَقِيْلٍ وَأَسْوَأَ مَصِيْرٍ صَارَ إِلَيْهِ الْعِبَادُ . فَيَقُوْلُ لَهُمَا: بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمَا وَمَا أَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ . قَالَ : فَيَأْمُرُ بِصَرْفِهِمَا إِلَى النَّارِ فَأَمَّا أَحَدُهُمَا فَيَعْدُوْ فِيْ أَغْلَالِهِ وَسَلَاسِلِهِ حَتَّى يَقْتَحِمَهَا. وَأَمَّا الْآخَرُ فَيَتَلَكَّأُ . فَيَأْمُرُ بِرَدِّهِمَا ، فَيَقُوْلُ لِلَّذِيْ عَدَا فِيْ أَغْلَالِهِ وَسَلَاسِلِهِ : مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ وَقَدْ خَبَرْتَهَا ؟ فَيَقُوْلُ : إِنِّيْ قَدْ خَبَرْتُ مِنْ وَبَالِ الْمَعْصِيَةِ مَا لَمْ أَكُنْ أَتَعَرَّضُ لِسَخَطِكَ ثَانِيَةً . قَالَ: وَيَقُوْلُ لِلَّذِيْ تَلَكَّأَ : مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ؟ فَيَقُوْلُ: حُسْنُ ظَنِّيْ بِكَ حِيْنَ أَخْرَجْتَنِيْ مِنْهَا أَلَّا تَرُدَّنِيْ إِلَيْهَا . فَيَرْحَمُهُمَا وَيَأْمُرُ بِهِمَا إِلَى الْجَنَّةِ . حسن الظن بالله لابن ابي الدنيا ج ۱ ص ۶۹ رقم ۶۰ .

ترجمه : چاچې ايمان راوړو ، او نيک عملونه يې اوکړل نو مونږ به دوی ته د جنت په بالاخانو کې ځای ورکړو چې د هغې لاندې به نهرونه بهيږي ، دوی به په هغې کې هميشه اوسيږي ، د ( نيک ) عمل کوونکو بدله ډيره ښه ده ، ( دا عاملين هغه خلق دي ) کومو چې صبر اوکړو او په خپل رب باندې توکّل کوي . (١)

## په الله ﷻ باندې توکل کوونکي به بې حسابه جنت ته داخليږي

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله ﷺ اوفرمايل :

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِيْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ ، هُمُ الَّذِيْنَ لَا يَسْتَرْقُوْنَ ، وَلَا يَتَطَيَّرُوْنَ ، وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ .

زما د اُمت اَويا زره ( ٧٠٠٠٠ ) کسان به جنت ته بې حسابه داخليږي ، دا به هغه خلق وي چې دَم نه طلب کوي ، بَدفالي نه نيسي ، او په خپل رَب باندې توکّل کوي . (٢)

**تشريح** : د " لَا يَسْتَرْقُوْنَ " مطلب دادی چې د دوی په الله تعالی باندې دومره پُوخ اعتماد وي چې په هيچا باندې ځان نه دَموي . يا دا مطلب دی چې د قرآني کلماتو او د الله ﷻ د نومونو نه علاوه په بل څيز باندې به ځان نه دَموي .

د " لَا يَتَطَيَّرُوْنَ " مطلب دادی چې په مرغانو ، حيواناتو او نورو خبرو باندې به بَدفالي او سپېره توب نه نيسي ، ټول اعتماد به يې په الله ﷻ باندې وي .

---

(١) العنكبوت آية ٥٨ ، ٥٩ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ: {وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ} رقم الحديث ٦٤٧٢ ، و رقم الحديث ٥٧٠٥ كِتَابُ الطِّبِّ بَابُ مَنِ اكْتَوَى أَوْ كَوَى غَيْرَهُ وَفَضْلِ مَنْ لَمْ يَكْتَوِ . صحيح ابن حبان رقم الحديث ٦٠٨٤ كتاب الرقى والتمائم ، مشكاة المصابيح باب التوكل والصبر الفصل الاول رقم الحديث ٥٢٥٩(١) .

وفي رواية : عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ﷺ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِيْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ » . قَالُوْا : مَنْ هُمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ قَالَ : « هُمُ الَّذِيْنَ لَا يَسْتَرْقُوْنَ ، وَلَا يَتَطَيَّرُوْنَ ، وَلَا يَكْتَوُوْنَ ، وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ الدَّلِيلِ عَلَى دُخُولِ طَوَائِفَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ رقم الحديث ٣٧٢(٢١٨) . المعجم الاوسط رقم الحديث ٢٣٧٣ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٧٢١ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٩٥٢ ، و رقم الحديث ١٩٩٨٤ .

Scanned with CamScanner

دا د بزرګانو صفت دی چې د الله ﷻ نه علاوه دُنیاوي اَسبابو ته اِلتفات نه کوي ، البته عوام دوايي او علاج کولې شي .

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ همدا خبره په پوره تفصیل سره بیان کړې ده . (١)

## د یتیم پرورَش کوونکی به په جنت کې د نبي ﷺ سره یو ځای وي

د بخاري شریف حدیث دی ، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا .

زه او د یتیم کفالت (پرورَش) کوونکی به په جنت کې دغه شان یو ځای یو .

نبي علیه السلام خپله مسواکې او مینځنۍ ګوتې سره اشاره اوکړه .

(یعنی دواړه یې یو ځای کړې چې دغه شان به مونږ دواړه په جنت کې یو ځای یو) . (٢)

---

(١) ( هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ ) أَيْ: لَا يَطْلُبُونَ الرُّقْيَةَ مُطْلَقًا أَوْ بِغَيْرِ الْكَلِمَاتِ الْقُرْآنِيَّةِ وَالْأَسْمَاءِ الصَّمَدَانِيَّةِ ( وَلَا يَتَطَيَّرُونَ ) أَيْ: وَلَا يَتَشَاءَمُونَ بِنَحْوِ الطَّيْرِ، وَلَا يَأْخُذُونَ مِنَ الْحَيَوَانَاتِ وَالْكَلِمَاتِ الْمَسْمُوعَاتِ عَلَامَةَ الشَّرِّ وَالْخَيْرِ، بَلْ يَقُولُونَ كَمَا وَرَدَ: « اَللَّهُمَّ لَا طَيْرَ إِلَّا طَيْرُكَ، وَلَا خَيْرَ إِلَّا خَيْرُكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ. اَللَّهُمَّ لَا يَأْتِي بِالْحَسَنَاتِ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا يَذْهَبُ بِالسَّيِّئَاتِ إِلَّا أَنْتَ » . ( وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ) أَيْ: فِي جَمِيعِ مَا يَفْعَلُونَ وَيَتْرُكُونَ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٨ ص ٣٣١٥ بَابُ التَّوَكُّلِ وَالصَّبْرِ في تشريح حديث ٥٢٩٥(١) .

( وَلَا يَسْتَرْقُونَ، وَلَا يَكْتَوُونَ ) أَيْ: إِلَّا عِنْدَ الضَّرُورَةِ لِمَا وَقَعَ الْكَيُّ مِنْ بَعْضِ الصَّحَابَةِ مِنْهُمْ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ أَحَدُ الْعَشَرَةِ الْمُبَشَّرَةِ ، أَوْ مُطْلَقًا اِسْتِسْلَامًا لِلْقَضَاءِ وَتَلَذُّذًا بِالْبَلَاءِ، مَعَ عِلْمِهِمْ بِأَنَّهُ لَا يَضُرُّ وَلَا يَنْفَعُ إِلَّا اللهُ، وَلَا تَأْثِيرَ بِحَسَبِ الْحَقِيقَةِ لِمَا سِوَاهُ، فَهُمْ فِي مَرْتَبَةِ الشُّهُودِ خَارِجُونَ عَنْ دَائِرَةِ الْوُجُودِ فَانُونَ عَنْ حُظُوظِ أَنْفُسِهِمْ بَاقُونَ بِحَقِّ اللهِ فِي حِرَاسَةِ أَنْفَاسِهِمْ كَمَا قَالَ: ( وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ) . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج٨ ص٣٣١٦ بَابُ التَّوَكُّلِ وَالصَّبْرِ في تشريح حديث ٥٢٩٦(٢) .

(٢) عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا » وَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى . صحيح البخاري رقم الحديث ٦٠٠٥ ، سنن الترمذي رقم الحديث ١٩١٨ ، صحيح ابن حبان ذِكْرُ إِيجَابِ دُخُولِ الْجَنَّةِ لِلْمُتَكَفِّلِ الْأَيْتَامَ إِذَا عَدَلَ فِي أُمُورِهِمْ وَتَجَنَّبَ الْحَيْفَ رقم الحديث ٤٦٠ .

Scanned with CamScanner

## د مُقرّبينو د پاره د جنت نِعمتونه

کوم خلق چې د الله تعالى مُقرّب او هغه ته نزدې دي نو د دوی د پاره الله تعالى د خوشحالۍ او د جنت د نعمتونو وعده کړی :

﴿ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ۞ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴾ (١)

ترجمه : پس څوک چې د الله تعالى په مُقرّبو بندگانو کې وي نو د دوی د پاره به آرام ، ښائسته رِزق ( يا ښائسته خوشبوياني ) ، او د جنت ښائسته نعمتونه وي . (٢)

## د لارې نه د اُونې خطرناکه څانگه کټ کولو سره جنت ته داخليدل

١. د مسلم شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ .

ما يو سړی اُوليد چې په جنت کې يې مزې کولی ، دا جنت ته ځکه داخل شوې وُ چې ده په لاره کې هغه اُونه کټ کړې وه چې هغې به خلقو ته تکليف رسولو .

( يعنى د لارې په مينځ کې اُونه وه چې تلونکو ته به ورنه تکليف وُ نو ده هغه کټ کړه ) . (٣)

---

(١) الواقعة آية ٨٨ ، ٨٩ .

(٢) {فروح} أي فله استراحة {وريحان} رِزْق حَسَن . تفسير الجلالين ص ٧١٨ .

( فَرَوْحٌ ) قَرَأَ يَعْقُوبُ فَرُوْحٌ . بِضَمِّ الرَّاءِ وَالْبَاقُوْنَ بِفَتْحِهَا . فَمَنْ قَرَأَ بِالضَّمِّ . قَالَ الْحَسَنُ مَعْنَاهُ : تَخْرُجُ رُوْحُهُ فِي الرَّيْحَانِ ، وَقَالَ قَتَادَةُ: اَلرُّوْحُ الرَّحْمَةُ أَيْ لَهُ الرَّحْمَةُ ، وَقِيْلَ : مَعْنَاهُ فَحَيَاةٌ وَبَقَاءٌ لَهُمْ . وَمَنْ قَرَأَ بِالْفَتْحِ مَعْنَاهُ فَلَهُ رَوْحٌ وَهُوَ الرَّاحَةُ ، وَهُوَ قَوْلُ مُجَاهِدٍ . وَقَالَ سَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ : فَرَحٌ . وَقَالَ الضَّحَّاكُ : مَغْفِرَةٌ وَرَحْمَةٌ .

( وَرَيْحَانٌ ) . اِسْتِرَاحَةٌ ، وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَسَعِيدُ بْنُ جُبَيْرٍ : رِزْقٌ . وَقَالَ مُقَاتِلٌ : هُوَ الرِّزْقُ بِلِسَانِ حِمْيَرَ . يُقَالُ خَرَجْتُ أَطْلُبُ رَيْحَانَ اللهِ أَيْ رِزْقَ اللهِ . وَقَالَ آخَرُوْنَ : هُوَ الرَّيْحَانُ الَّذِيْ يُشَمُّ . قَالَ أَبُو الْعَالِيَةِ : لَا يُفَارِقُ أَحَدٌ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ الدُّنْيَا حَتَّى يُؤْتَى بِغُصْنٍ مِنْ رَيْحَانِ الْجَنَّةِ فَيَشُمُّهُ ثُمَّ تُقْبَضُ رُوْحُهُ . تفسير البغوي ( معالم التنزيل في تفسير القرآن ) ج٥ ص ٢٢ سورة الواقعة آية ٨٩ .

(٣) صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ فَضْلِ إِزَالَةِ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ رقم الحديث ١٢٩ (١٩١٤) ، الآداب للبيهقي رقم الحديث ١٩٣ ، شعب الايمان رقم الحديث ١٠٦٥٤ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٩٠٥(١٨) ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٤٥١١ .

Scanned with CamScanner

۲ . دا حدیث په مسلم شریف کې داسې هم ذکر دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

چې یو سړی په لاره تللو ، په لاره کې یې د اَزغو واله څانګه اُولیده نو ده د ځان سره وویل : قسَم په الله ، زه به دا د لارې نه لرې کوم ددې د پاره چې مسلمانانو ته تکلیف اُو نه رسوي ( نو ده لرې کړه ) . فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ .

پس دا سړی ( د همدې عمل په وجه ) جنت ته داخل شو . (۱)

## ښځه په فرائضو اداء کولو ، او د خاوند خبره منلو سره د جنت مستحقه ګرځي

۱ . رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : چې کله ښځه خپل پنځه وخته مونځ کوي ، د رمضان روژې نیسي ، د خپلې شرمګاه حفاظت کوي ، او د خپل خاوند اِطاعت کوي نو د قیامت په ورځ به دیته اوویلې شي :

اُدْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ .

ته جنت ته داخله شه په کومه دروازه باندې چې ستا خوښه وي . (۲)

۲ . په یو حدیث کې داسې الفاظ دي :

... دَخَلَتْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ .

دا ښځه چې دجنت په کومه دروازه اوغواړي نو داخلیږي به . (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَرَّ رَجُلٌ بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيقٍ، فَقَالَ: وَاللهِ لَأُنَحِّيَنَّ هَذَا عَنِ الْمُسْلِمِينَ لَا يُؤْذِيهِمْ فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ . صحیح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ فَضْلِ إِزَالَةِ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ رقم الحديث ۱۲۸ (۱۹۱۴) . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۹۰۴ (۱۷) ، كنز العمال رقم الحديث ۱۶۳۴۹ .

(۲) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا، وَصَامَتْ شَهْرَهَا ، وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا ، وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا قِيلَ لَهَا : اُدْخُلِي الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۶۶۱ ، الترغيب والترهيب لقوام السنّة رقم الحديث ۱۵۲۳ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ۷۶۳۴ باب حق الزوج على المرأة ، كنز العمال رقم الحديث ۴۵۱۲۵ .

(۳) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « إِذَا صَلَّتِ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا، ←←←←

# د لورانو صحیح پرورش کوونکی به د نبي علیه السلام سره یو ځای جنت ته داخلیږي

**١.** د ترمذي شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الْجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ.

څوک چې د دوه جینکو پرورش اوکړي (تر دې چې هغه بالغې شي) نو زه او دا کس به جنت ته ددې دوه ګوتو په شان یو ځای داخلیږو.

نبي علیه السلام په خپلو دوه ګوتو مبارکو سره اِشاره اوکړه (چې دغه شان یو ځای به جنت ته داخلیږو). (١)

**٢.** د درې (٣) لورانو په پرورش کولو سره هم انسان جنت ته داخلیږي، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ فَأَدَّبَهُنَّ، وَرَحِمَهُنَّ، وَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ فَلَهُ الْجَنَّةُ.

---

←←← وَصَامَتْ شَهْرَهَا، وَحَصَّنَتْ فَرْجَهَا، وَأَطَاعَتْ بَعْلَهَا، دَخَلَتْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ». المعجم الاوسط رقم الحديث ٤٥٩٨ بَابُ الْعَيْنِ مَنِ اسْمُهُ: عَبْدَانُ. و رقم الحديث ٨٨٠٥، مسند البزار رقم الحديث ٧٤٨٠، صحيح ابن حبان، باب معاشرة الزوجين ذِكْرُ إِيجَابِ الْجَنَّةِ لِلْمَرْأَةِ إِذَا أَطَاعَتْ زَوْجَهَا مَعَ إِقَامَةِ الْفَرَائِضِ لِلَّهِ جَلَّ وَعَلَا رقم الحديث ٤١٦٣.

وفي رواية: ..... فَلْتَدْخُلْ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَتْ. مشكاة المصابيح رقم الحديث ٣٢٥٤ (١٧). حلية الاولياء ج٦ ص٣٠٨.

(١) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ دَخَلْتُ أَنَا وَهُوَ الْجَنَّةَ كَهَاتَيْنِ. وَأَشَارَ بِأُصْبُعَيْهِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّفَقَةِ عَلَى الْبَنَاتِ وَالْأَخَوَاتِ رقم الحديث ١٩١٢ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وقال الالباني: صحيح. صحيح ابن حبان بَابُ صِلَةِ الرَّحِمِ وَقَطْعِهَا ذِكْرُ الْمُدَّةِ الَّتِي بِصُحْبَتِهِ إِيَّاهُنَّ يُعْطَى هَذَا الْأَجْرَ لَهُ بِهَا رقم الحديث ٤٤٧. المعجم الاوسط رقم الحديث ٥٥٧، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٧٣٥٠ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، و وافقه الذهبي.

څوک چې د درې ( ۳ ) لورانو تربیت اوکړي ، دوی ته آدب اُوښائي ، په دوی رحم اوکړي، او د دوی سره احسان اوکړي ( یعني په صحیح ځای کې یې په نکاح ورکړي) نو دداسې کس د پاره جنت واجب دی. (۱)

په بعضې احادیثو کې راځي :

كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا .

داسې کس به د ماسره په جنت کې دغه شان یو ځای وي.

نبي علیه السلام څلورو ګوتو سره اشاره اوکړه ( چې مونږ به په جنت کې دغه شان یو ځای یو ) . (۲)

په بعضې احادیثو کې راځي : فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ الْبَتَّةَ .

دده د پاره جنت یقیني واجب شو. (۳)

---

(۱) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۱۹۲۴ ، سنن الترمذي أَبْوَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّفَقَةِ عَلَى الْبَنَاتِ وَالأَخَوَاتِ رقم الحديث ۱۹۱٦ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۴۷٦۰ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۳۰۲۳ ، الترغيب والترهيب لقوام السنة ٦۲۲ .

وفي رواية : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ يَكْفِيهِنَّ، وَيَرْحَمُهُنَّ، وَيَرْفُقُ بِهِنَّ فَهُوَ فِي الْجَنَّةِ أَوْ قَالَ: مَعِي فِي الْجَنَّةِ " . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث .

وفي رواية : عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ، فَأَدَّبَهُنَّ، وَزَوَّجَهُنَّ، وَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ، فَلَهُ الْجَنَّةُ » . سنن ابي داؤد بَابٌ فِي فَضْلِ مَنْ عَالَ يَتِيمًا رقم الحديث ۵۱۴۷ ، الاداب للبيهقي رقم الحديث ۲۳ ، مرقاة المفاتيح ج ۸ ص ۳۱۱۸ ، و ج ۷ ص ۳۱۰۱ .

(۲) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ، اتَّقَى اللَّهَ وَأَقَامَ عَلَيْهِنَّ . كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا » وَأَشَارَ بِأَصَابِعِهِ الأَرْبَعِ . مسندا حمد مخرجا رقم الحديث ۱۲۵۹۳ .

(۳) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، يُؤْوِيهِنَّ، وَيَكْفِيهِنَّ، وَيَرْحَمُهُنَّ، فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ الْبَتَّةَ » . فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ بَعْضِ الْقَوْمِ: وَثِنْتَيْنِ، يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: « وَثِنْتَيْنِ » . الادب المفرد مخرجا بَابُ مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ أَوْ وَاحِدَةً رقم الحديث ۷۸ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۲۵۴۴۰ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۵۱۵۷ ، شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۵۲۳ .

Scanned with CamScanner

۴. د یوې لور په پروَرش کولو سره هم انسان د جنت مستحق ګرځي. (۱)

**نوټ**: لکه څرنګې چې د لورانو په پروَرش سره انسان د جنت مستحق ګرځي نو همدغه شان د خورانو په پروَرش سره هم انسان د جنت مستحق ګرځي. (۲)

## لورانو سره د اِحسان او نرمۍ کولو په وجه د جنت مستحق کیدل

د مسلم شریف حدیث دی، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ماته یوه مِسکینه زَنانه راغله، دوه لورانې ورسره وې، ما ورته د خوراک د پاره درې (۳) قجورې ورکړې، دې هرې یوې لور ته یوه یوه قجوره ورکړه، او یوه یې خپلې خُلې ته د خوراک د پاره اُوچته کړه، دې لورانو ورنه دا قجوره هم اُوغوښته، دې چې د کومې قجورې د خوړلو اِراده کړې وه دا یې هم په مینځ دوه ټوټې کړه او دوی ته یې ورکړه.

(حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي چې) ددې زَنانه دې کار زه په تعجّب کې واچولم، نو ما رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته ددې تذکره اوکړه، دوی اوفرمایل:

إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ. _أَوْ_ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ.

بیشکه الله تعالی دې زَنانه ته په دې کار باندې جنت واجب کړو.

یا نبي علیه السلام دا اُوفرمایل چې: الله تعالی دا زَنانه په دې کار سره د جهنم د اُور نه آزاده کړه. (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، فَصَبَرَ عَلَى لَأْوَائِهِنَّ، وَضَرَّائِهِنَّ، وَسَرَّائِهِنَّ، أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُنَّ» ، فَقَالَ رَجُلٌ: أَوْ ثِنْتَانِ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «أَوِ اثْنَتَانِ» ، فَقَالَ رَجُلٌ: أَوْ وَاحِدَةٌ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «أَوْ وَاحِدَةٌ» . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۴۲۵ مُسْنَدُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

(۲) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَكُونُ لِأَحَدٍ ثَلَاثُ بَنَاتٍ، أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ فَيُحْسِنُ إِلَيْهِنَّ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ» . الادب المفرد مخرجا بَابُ مَنْ عَالَ ثَلَاثَ أَخَوَاتٍ رقم الحديث ۷۹.

(۳) عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها، أَنَّهَا قَالَتْ: جَاءَتْنِي مِسْكِينَةٌ تَحْمِلُ ابْنَتَيْنِ لَهَا، فَأَطْعَمْتُهَا ثَلَاثَ تَمَرَاتٍ، فَأَعْطَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا تَمْرَةً، وَرَفَعَتْ إِلَى فِيهَا تَمْرَةً لِتَأْكُلَهَا، فَاسْتَطْعَمَتْهَا ابْنَتَاهَا، فَشَقَّتِ التَّمْرَةَ الَّتِي ←←←←

Scanned with CamScanner

**د لورانو د تخصيص وجه** : په مذکوره حديث کې چې د لورانو تذکره شوې نو ددې د تخصيص وجه داده چې دا د هلکانو په نسبت اِحسان ته ډيرې مُحتاجې وي.

نو څوک چې د لورانو سره نرمي او اِحسان اوکړي " صحيح تربيت يې اوکړي، تر دې چې د بلوغ نه پس يې نېک سړي ته په نکاح ورکړي " نو ددې په وجه دا انسان د جنت مستحق کيږي، او د جهنم نه محفوظ کيږي.(١)

## په مصيبت او بيمارۍ باندې صبر کوونکي د پاره جنت

**١** . په کوم مسلمان باندې چې تکليفونو او مصيبتونو راشي، او دا ورباندې صبر اوکړي، نو الله تعالی د دغه شان صابرينو سره د جنت وعده کړې، فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ صَبَرُوا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عُقْبَى الدَّارِ ﴿٢٢﴾ جَنَّاتُ عَدْنٍ يَدْخُلُونَهَا وَمَن صَلَحَ مِنْ

---

←←← كَانَتْ تُرِيدُ أَنْ تَأْكُلَهَا بَيْنَهُمَا. فَأَعْجَبَنِي شَأْنُهَا. فَذَكَرْتُ الَّذِي صَنَعَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: «إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ. أَوْ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ» . صحيح مسلم كتاب البِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ فَضْلِ الْإِحْسَانِ إِلَى الْبَنَاتِ رقم الحديث ١٤٨(٢٦٣٠) ، مسند احمد رقم الحديث ٢٤٦١١ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٤٤٨ ، شعب الايمان رقم الحديث ١٠٥٠٨ ، الآداب للبيهقي رقم الحديث ١٦ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٩٦٩(١٩).

(١) (فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ) قِيلَ: بِتَزْوِيجِهِنَّ الْأَكْفَاءَ. وَالْأَحْسَنُ أَنْ يَعُمَّ الْإِحْسَانُ (كُنَّ لَهُ) أَيْ: لِلْمُبْتَلَى (سِتْرًا) بِكَسْرِ أَوَّلِهِ أَيْ: حِجَابًا دَافِعًا (مِنَ النَّارِ) أَيْ: دُخُولَهَا. وَلَعَلَّ وَجْهَ تَخْصِيصِهِنَّ أَنَّ احْتِيَاجَهُنَّ إِلَى الْإِحْسَانِ يَكُونُ أَكْثَرَ مِنَ الصِّبْيَانِ، فَمَنْ سَتَرَهُنَّ بِالْإِحْسَانِ عَنْ لُحُوقِ الْعَارِ يُجَازَى بِالسَّتْرِ عَنِ النَّارِ جَزَاءً وِفَاقًا. وَاخْتُلِفَ فِي الْمُرَادِ بِالْابْتِلَاءِ هَلْ هُوَ نَفْسُ وُجُودِهِنَّ، أَوِ الْابْتِلَاءُ بِمَا صَدَرَ مِنْهُنَّ. أَوِ الْإِنْفَاقُ عَلَيْهِنَّ؟ وَكَذَا اخْتُلِفَ فِي الْمُرَادِ بِالْإِحْسَانِ هَلْ يَقْتَصِرُ عَلَى قَدْرِ الْوَاجِبِ، أَوْ مَا زَادَ عَلَيْهِ؟ وَالظَّاهِرُ الثَّانِي. ثُمَّ شَرْطُ الْإِحْسَانِ أَنْ يُوَافِقَ الشَّرْعَ. وَالظَّاهِرُ أَنَّ الثَّوَابَ الْمَذْكُورَ إِنَّمَا يَحْصُلُ لِفَاعِلِهِ إِذَا اسْتَمَرَّ عَلَيْهِ إِلَى أَنْ يَحْصُلَ اسْتِغْنَاؤُهُنَّ عَنْهُ بِزَوْجٍ أَوْ غَيْرِهِ. مرقاة المفاتيح ج ٧ ص ٣١٠٠ في تشريح حديث ٤٩٤٩.

Scanned with CamScanner

اٰبَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۖ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ يَدۡخُلُونَ عَلَيۡهِم مِّن كُلِّ بَابٖ ۝ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُم بِمَا صَبَرۡتُمۡۚ فَنِعۡمَ عُقۡبَى ٱلدَّارِ ﴾. (١)

ترجمه: کومو خلقو چې د خپل رب د خوشحالولو دپاره صبر اوکړو، مونځ يې قايم کړو، کوم مال چې مونږ ورکړی د هغې نه يې په پټه او ښکاره (د نيکۍ په لاره کې) خرچ اوکړو، او د ښېګيو په ذريعه بدي دفع کوي همدا هغه خلق دي چې د دوی دپاره د آخرت کور دی، (دغه کور) جنتونه د هميشه اوسېدو دي، دوی به دې جنت ته داخلېږي، همدغه شان د دوی په پلارانو، بيبيانو او اولاد کې چې څوک نېک وي (هغوی به هم دې جنتونو ته داخلېږي)، او فرښتې به دوی ته د هرې دروازې نه راځي او دا به ورته وايي چې په تاسو باندې دې سلام وي ځکه چې تاسو به (په دُنيا کې) صبر کولو (او په حق دين باندې مضبوط پاتې شوي وئ) نو د آخرت دا کور (ستاسو دپاره) ډېر ښه دی.

٢. حديث قدسي دی، الله تعالى فرمايي:

اِبۡنَ آدَمَ! إِنۡ صَبَرۡتَ وَاحۡتَسَبۡتَ عِنۡدَ الصَّدۡمَةِ الۡأُوۡلَى لَمۡ أَرۡضَ لَكَ ثَوَابًا دُوۡنَ الۡجَنَّةِ. (٢)

اې د آدم ځويه! که ته د مصيبت په وخت صبر اوکړې، او د صدمې په اِبتدايي مرحله کې د ثواب طلبګار شې (يعنې د مصيبت په شروع کې د ثواب په نيت صبر اوکړې) نو زه به ستا د پاره د جنت نه په کم اجر و ثواب باندې راضي نه شم (يعنې تا ته به د دې صبر په عوض کې ضرور جنت درکړم).

٣. په بخاري شريف او مسلم شريف کې دا واقعه ذکر ده، حضرت عطاء بن ابي رباح رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ما ته حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او فرمايل:

---

(١) الرعد آية ٢٢ تا ٢٤.

(٢) عَنۡ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَقُوۡلُ اللهُ سُبۡحَانَهُ: «ابۡنَ آدَمَ إِنۡ صَبَرۡتَ وَاحۡتَسَبۡتَ عِنۡدَ الصَّدۡمَةِ الۡأُوۡلَى، لَمۡ أَرۡضَ لَكَ ثَوَابًا دُوۡنَ الۡجَنَّةِ». سنن ابن ماجة كِتَابُ الۡجَنَائِزِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّبۡرِ عَلَى الۡمُصِيۡبَةِ رقم الحديث ١٥٩٧ قال الالباني: حسن. مشكوة باب البكاء على الميت الفصل الاول رقم الحديث ١٧٥٨(٣٧)، كنزالعمال رقم الحديث ٦٥٣٤.

أَلَا أُرِيكَ إِمْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ آيا تاته جنتي ښځه او نه ښايم ؟

ما ورته وويل : آو (راته وې ښايه) . نو ده راته وويل : دغه توره ښځه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغله او ورته وې ويل :

إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ تَعَالَى لِي.

په ما باندې د ميرګو دَوره راځي ، (بې هوشه کيږم) او زه بې پَردې کيږم ، نو ما د پاره د الله ﷻ نه سوال وکړه (چې د مانه دا بيماري ختمه کړي) .

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ.

که ستا خوښه وي صبر کوې نو ستا د پاره جنت دی ، او که ستا خوښه وي نو زه به د الله ﷻ نه (ستا د پاره) دُعا اوغواړم چې تاته شِفاء درکړي .

نو دې وويل : أَصْبِرُ . زه به صبر اوکړم . بيا يې وويل :

إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ .

زه بې پَردې کيږم نو د الله ﷻ نه دُعا وغواړه چې زه نه بې پردې کيږم .

نو نبي عليه السلام دې ته دُعا وکړه. (١)

## د سترګو نظر ختميدو باندې صبر کوونکي د پاره جنت

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ : قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ : أَلَا أُرِيكَ إِمْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ؟ فَقُلْتُ : بَلَى . قَالَ : هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَتْ : إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ تَعَالَى لِي . قَالَ : إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَكِ . فَقَالَتْ : أَصْبِرُ . فَقَالَتْ : إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللهَ لِي أَنْ لَا أَتَكَشَّفَ . فَدَعَا لَهُ . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَرْضَى بَابُ فَضْلِ مَنْ يُصْرَعُ مِنَ الرِّيحِ رقم الحديث ٥٦٥٢ . صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ ثَوَابِ الْمُؤْمِنِ فِيمَا يُصِيبُهُ مِنْ مَرَضٍ، أَوْ حُزْنٍ، أَوْ نَحْوِ ذَلِكَ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا رقم الحديث ٥٤ (٢٥٧٦) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٣٢٤٠ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٥٧٧(٥٥) . شعب الايمان رقم الحديث ٩٤٩٣ .

إِنَّ اللهَ قَالَ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِيْ بِحَبِيْبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ. (١)

بیشکه الله تعالی فرمایلي دي : کله چې زه خپل بنده دده په دوه محبوب شیانو (یعنی دواړو سترګو) سره آزمائم (یعنی دده د سترګو نظر ختم شي) او دا په دې باندې صبر اوکړي نو زه به ده ته ددې دواړو سترګو په عِوض کې جنت ورکړم.

دا حدیث داسې هم نقل دی، نبي علیه السلام فرمایي :

يَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: مَنْ أَذْهَبْتُ حَبِيْبَتَيْهِ فَصَبَرَ وَاحْتَسَبَ لَمْ أَرْضَ لَهُ ثَوَابًا دُوْنَ الْجَنَّةِ. (٢)

الله تعالی فرمایي : زه چې د چا د دواړو محبوبو سترګو نظر ختم کړم بیا دا د ثواب په نیت باندې په دې صبر اوکړي نو زه به ده ته د جنت نه کم په بل ثواب باندې راضي نه شم (یعنی جنت به ورته ضرور ورکوم).

## د بچي په وفات کیدو باندې صبر کوونکي د پاره په جنت کې کور جوړیدل

څوک چې د بچي په وفات کیدو باندې صبر اوکړي او إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ اُووایي نو الله ﷻ ده ته ددې په عِوض کې په جنت کې کور جوړوي چې د هغې نوم به بَيْتُ الْحَمْدِ وي.

**١**. د ترمذي شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

کله چې د یو مومن بنده بچې مړ شي نو الله تعالی خپلو فرښتو (یعنی ملک الموت او دده معاوِن فرښتو) ته (سره د عِلمه) اوفرمایي :

قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِيْ؟ تاسو زما د بنده د بچي روح قبض کړو ؟

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "إِنَّ اللهَ قَالَ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِيْ بِحَبِيْبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ" يُرِيْدُ: عَيْنَيْهِ. صحيح البخاري كِتَابُ الْمَرْضَى بَابُ فَضْلِ مَنْ ذَهَبَ بَصَرُهُ رقم الحديث ٥٦٥٣،

(٢) سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِيْ ذَهَابِ الْبَصَرِ رقم الحديث ٢٤٠١ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٥٩٧، سنن الدارمي رقم الحديث ٢٨٣٧، كنز العمال رقم الحديث ٦٥٣٣.

Scanned with CamScanner

هغوی ورته ووایي : آو. الله تعالی (سره د عِلمه) اوفرمایي :

قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهٖ ؟ تاسو دده د زړه میوه اوشکوله ؟

هغوی عرض وکړي : آو .

بیا الله تعالی دې فرښتو ته وفرمایي :

مَاذَا قَالَ عَبْدِيْ ؟

(په دې حادثه باندې) زما بنده څه وویل؟

هغوی عرض اوکړي : هغه ستا حمد بیان کړو، او إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ یې وویل .

نو الله تعالی وفرمایي :

اِبْنُوْا لِعَبْدِيْ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، وَسَمُّوْهُ بَيْتَ الْحَمْدِ .

زما دې بنده دپاره په جنت کې یو (لوی) کور جوړ کړئ او د هغې نوم بَيْتُ الْحَمْد کیږدئ . (١)

**فایده ١** : ددې کور نوم بَيْتُ الْحَمْد ځکه ایښودلې شي چې دې کس د مصیبت په وخت د الله جل جلاله حمد بیان کړو او الله جل جلاله طرفته یې رجوع وکړه نو ددې په عوض کې چې کوم کور ورکړې شو د هغې نوم بَيْتُ الْحَمْد کېښودې شو . (٢)

**فایده ٢**: بعضې علماو لیکلي چې په دې حدیث کې دلیل دی په دې باندې چې د داسې انسان آخره خاتمه به په ایمان نصیبه کیږي .

---

(١) عَنْ أَبِي مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ قَالَ اللهُ لِمَلَائِكَتِهٖ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِيْ؟ فَيَقُوْلُوْنَ : نَعَمْ . فَيَقُوْلُ : قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهٖ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: نَعَمْ . فَيَقُوْلُ : مَاذَا قَالَ عَبْدِيْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ. فَيَقُوْلُ اللهُ : ابْنُوْا لِعَبْدِيْ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ، وَسَمُّوْهُ بَيْتَ الْحَمْدِ. سنن الترمذي رقم الحديث ١٠٢١ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٠٦٨، و رقم الحديث ٥٣٠٣ ، رياض الصالحين باب ما يقال عند الميت ومايقوله من مات له ميت رقم الحديث ١/ ٩٢٠ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٧٣٤(١٥) ، كنزالعمال رقم الحديث ٦٥٥٢ الصبر على موت الاولاد والاقارب .

(٢) مظاهر حق شرح مشکوة ج٣ باب البكاء على الميت

۲. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

يَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِيْ جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةَ.

الله تعالی فرمايي: کله چې زه د يو مومن بنده نه دده محبوب او د خوښې کس د اهلِ دُنيا نه واخلم ( لکه اولاد، مور پلار، يا د دوی نه علاوه بل نزدې خپلوان ) بيا دې د ثواب طلبګار وي ( او صبر وکړي ) نو د ماسره ددې بنده د پاره ددې په بدله کې صرف جنت دی (چې ده ته به په دې صبر باندې جنت ورکوم). (۱)

# د چا چې درې يا دوه نابالغ بچي وفات شي نو الله تعالی داسې کس جنت ته داخلوي

۱. د بخاري شريف حديث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَا مِنَ النَّاسِ مُسْلِمٌ يَمُوْتُ لَهُ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُمْ.

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَقُوْلُ اللهُ تَعَالَى: مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِيْ جَزَاءٌ، إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةُ. صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ الْعَمَلِ الَّذِي يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللهِ رقم الحديث ۶۴۲۴، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۹۳۹۳، شعب الايمان رقم الحديث ۹۳۹۵، ورقم الحديث ۹۳۹۶، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۱۷۳۱(۱۰)، كنز العمال رقم الحديث ۶۵۶۳.

( قَبَضْتُ صَفِيَّهُ ) أخذت حبيبه المصافي له كالولد والأخ وكل من يحبه الإنسان ويتعلق به بالموت.

(احْتَسَبَهُ) صبر على فقده وطلب الأجر من الله تعالى وحده. تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري.

( إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ ) أَيْ: مُخْتَارَهُ وَمَحْبُوْبَهُ مِنَ الْوَلَدِ أَوِ الْوَالِدِ أَوْ غَيْرِهِمَا. فِي النِّهَايَةِ: صَفِيُّ الرَّجُلِ: الَّذِيْ يُصَافِيْهِ الْوُدَّ، وَيُخْلِصُهُ لَهُ. فَعِيْلٌ بِمَعْنَى فَاعِلٍ أَوْ مَفْعُوْلٍ. وَقِيْلَ: إِنَّهُ وَلَدٌ لَا يَكُوْنُ لَهُ غَيْرُهُ .... (ثُمَّ احْتَسَبَهُ) أَيْ: صَبَرَ عَلَيْهِ طَالِبًا لِلثَّوَابِ .... أَيْ: طَلَبَ الثَّوَابَ الْجَزِيْلَ بِالصَّبْرِ الْجَمِيْلِ عَلَى مُفَارَقَةِ الْخَلِيْلِ، وَبِالرِّضَا عَلَى قَضَاءِ الرَّبِّ الْجَلِيْلِ. مرقاة المفاتيح ج ۳ ص ۱۲۳۷ بَابُ الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ

د کوم مسلمان چې درې (۳) نابالغ بچي وفات شي نو الله تعالی به په دې بچو باندې د خپل فضل او رحمت په وجه دا کس جنت ته داخل کړي. (۱)

بلکه دا درې بچې به تر هغه وخته پورې جنت ته نه داخلیږي چې تر څو پورې یې خپل والدین د ځان سره جنت ته نه وي داخل کړي. (۲)

۳. د نسائي شریف حدیث دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

مَنِ احْتَسَبَ ثَلَاثَةً مِنْ صُلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ.

د چا چې خپل درې (۳) بچي وفات شي او دا وریاندې د الله ﷻ د رَضا د پاره صبر اوکړي نو داسې کس به جنت ته داخلیږي.

یوه زنانه راپاڅیده او وې وفرمایل:

أَوِ اثْنَانِ؟ که د چا دوه (۲) بچي وفات شي او صبر وریاندې اوکړي نو آیا دا به هم جنت ته داخلیږي؟

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل:

---

(۱) صحیح البخاري كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا قِيلَ فِي أَوْلَادِ الْمُسْلِمِينَ رقم الحدیث ۱۳۸۱، و رقم الحدیث ۱۲۴۸ كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ فَضْلِ مَنْ مَاتَ لَهُ وَلَدٌ فَاحْتَسَبَ وَقَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: {وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ} [البقرة آیة ۱۵۵]. سنن ابن ماجة رقم الحدیث ۱۶۰۵، مصنف ابن ابي شیبة رقم الحدیث ۱۱۸۸۱، مسند احمد مخرجا ۱۲۵۳۵، سنن النسائي رقم الحدیث ۱۸۷۳.

وفي روایة: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ لَهُ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ، إِلَّا تَلَقَّوْهُ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ، مِنْ أَيِّهَا شَاءَ دَخَلَ». سنن ابن ماجة كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ مَنْ أُصِيبَ بِوَلَدِهِ رقم الحدیث ۱۶۰۴. مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۱۷۶۳۹. المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ۲۹۳، و رقم الحدیث ۳۰۹، البعث والنشور للبیهقي رقم الحدیث ۲۳۶، الترغیب والترهیب للمنذري ۳۰۴۹.

(۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَمُوتُ لَهُمَا ثَلَاثَةُ أَوْلَادٍ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ إِلَّا أَدْخَلَهُمَا اللَّهُ وَإِيَّاهُمْ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ الْجَنَّةَ. قَالَ: يُقَالُ لَهُمْ: ادْخُلُوا الْجَنَّةَ. قَالَ: فَيَقُولُونَ: حَتَّى يَجِيءَ أَبَوَانَا" قَالَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. فَيَقُولُونَ مِثْلَ ذَلِكَ قَالَ: "فَيُقَالُ لَهُمْ: ادْخُلُوا الْجَنَّةَ أَنْتُمْ وَأَبَوَاكُمْ".
مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۱۰۶۲۲.

Scanned with CamScanner

أَوِ اثْنَانِ . آو . په دوه وُ (٢) باندې هم همدغه اجر دی.

دا زنانه روستو فرمايي : کاش، چې ما ورنه د يو بچي متعلق پوښتنه هم کړې وی. (١)

٣. د مشکوة شريف حديث دی چې يو کس به د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجلس ته راتلو او د هغه سره به خپل ځوي هم و، نبي عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

أَتُحِبُّهُ ؟ آيا ته دده سره محبت کوی؟ (چې هر وخت د تاسره وي).

هغه ورته وويل : يَارَسُوْلَ اللهِ أَحَبَّكَ اللهُ كَمَا أُحِبُّهُ.

اې د الله رسوله ! (زه به دده د محبت درته څه ووايم، بس) الله تعالی دې د تاسره داسې محبت وکړي څنګه چې زه دې خپل بچي سره محبت کوم.

(څه وخت پس دغه ماشوم وفات شو نو) نبي عليه السلام به دده سره دا ماشوم بيا نه ليدو، پوښتنه يې اوکړه :

مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ ؟ د فلانکي سړي ځوي څه شو ؟ (هغه خو ورسره اوس نه وي).

صحابه کرامو ورته وويل : يا رسول الله ! د هغه ځوي خو وفات شوی (ددې نه پس هغه سړې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجلس ته راحاضر شو) نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته اوفرمايل:

أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ ؟

آيا ستا دا خوښه نه ده چې د قيامت په ورځ ته دجنت په کومه دروازه هم ورځې هلته به ته خپل ځوي اوګورې چې ستا انتظار به کوي (ددې د پاره چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په دربار کې ستا د

---

(١) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « مَنِ احْتَسَبَ ثَلَاثَةً مِنْ صُلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ »، فَقَامَتِ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ: أَوِ اثْنَانِ ؟ قَالَ: « أَوِ اثْنَانِ »، قَالَتِ الْمَرْأَةُ: يَا لَيْتَنِي قُلْتُ وَاحِدًا . سنن النسائي كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ ثَوَابِ مَنِ احْتَسَبَ ثَلَاثَةً مِنْ صُلْبِهِ رقم الحديث ١٨٧٢ قال الالباني : صحيح . صحيح ابن حبان كتاب الجنائز باب ما جاء في الصبر وثواب الأَمْرَاضِ وَالأَعْرَاضِ ذِكْرُ إِيجَابِ الْجَنَّةِ لِمَنْ مَاتَ لَهُ ابْنَتَانِ فَاحْتَسَبَ فِي ذَلِكَ رقم الحديث ٢٩٤٤ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ٣٠٤٨ ترغيب من مات له ثلاثة من الأولاد أو اثنان أو واحد فيما يذكر من جزيل الثَّوَابِ . كنز العمال رقم الحديث ٦٥٧٠ .

پاره سفارش اوکړي او تا د ځان سره جنت ته بوځي ) ؟

يو سړي عرض اوکړو : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا ؟

اې د الله ﷺ رسوله ! آيا دا زيري خاص دده دپاره دی ، او که زمونږ ټولو دپاره هم دی؟

نبي عليه السلام ورته وفرمايل :

بَلْ لِكُلِّكُمْ . بلکه د تاسو ټولو د پاره دی . (۱)

(په نسائي شريف کې دا واقعه په نور تفصيل سره هم ذکر ده ) . (۲)

## درېيم (۳) پېرې د جنت سوال کوونکي ته د جنت دُعا

مسلمان ته په کار دي چې دا د الله ﷻ نه جنت ته د داخليدو سوال کوي ؛ ځکه په دې

---

(۱) عَنْ قُرَّةَ الْمُزَنِيِّ أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ إِبْنٌ لَهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتُحِبُّهُ ؟ فَقَالَ : يَارَسُوْلَ اللهِ أَحَبَّكَ اللهُ كَمَا أُحِبُّهُ . فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : مَا فَعَلَ ابْنُ فُلَانٍ ؟ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَاتَ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَمَا تُحِبُّ أَنْ لَا تَأْتِيَ بَابًا مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ يَنْتَظِرُكَ ؟ فَقَالَ رَجُلٌ : يَارَسُوْلَ اللهِ ! لَهُ خَاصَّةً أَمْ لِكُلِّنَا ؟ قَالَ : بَلْ لِكُلِّكُمْ . مشكوة باب البكاء على الميّت الفصل الثالث رقم الحديث ۱۷۵۶ (۳۵) ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۵۵۹ ، و رقم الحديث ۲۰۳۶۵ ، صحيح ابن حبان محققا رقم الحديث ۲۹۴۷ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۴۱۷ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد . مجمع الزوائد رقم الحديث ۳۹۹۳ باب فيمن مات له واحد .

(۲) همدغه شان روايت په نسائي شريف کې په تفصيل سره ذکر دی : كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ يَجْلِسُ إِلَيْهِ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِهِ ، وَفِيهِمْ رَجُلٌ لَهُ ابْنٌ صَغِيرٌ يَأْتِيهِ مِنْ خَلْفِ ظَهْرِهِ ، فَيُقْعِدُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ ، فَهَلَكَ فَامْتَنَعَ الرَّجُلُ أَنْ يَحْضُرَ الْحَلْقَةَ لِذِكْرِ ابْنِهِ ، فَحَزِنَ عَلَيْهِ ، فَفَقَدَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : « مَالِي لَا أَرَى فُلَانًا ؟ » قَالُوا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! بُنَيُّهُ الَّذِي رَأَيْتَهُ هَلَكَ ، فَلَقِيَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلَهُ عَنْ بُنَيِّهِ ، فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ هَلَكَ ، فَعَزَّاهُ عَلَيْهِ ، ثُمَّ قَالَ : « يَا فُلَانُ ! أَيُّمَا كَانَ أَحَبُّ إِلَيْكَ أَنْ تَمَتَّعَ بِهِ عُمُرَكَ ، أَوْ لَا تَأْتِي غَدًا إِلَى بَابٍ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ إِلَّا وَجَدْتَهُ قَدْ سَبَقَكَ إِلَيْهِ يَفْتَحُهُ لَكَ » ، قَالَ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! بَلْ يَسْبِقُنِي إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَيَفْتَحُهَا لِي لَهُوَ أَحَبُّ إِلَيَّ ، قَالَ : « فَذَاكَ لَكَ » . سنن النسائي كِتَابُ الْجَنَائِزِ فِي التَّعْزِيَةِ رقم الحديث ۲۰۸۸ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص۱۲۳ ثواب من مات له ولدٌ واحدٌ.

سره هم انسان د جنت مستحق ګرځي .

۱. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : څوک چې درې (۳) پېرې (د الله ﷻ نه) د جنت سوال اوکړي نو جنت وايي :

اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ .

اې الله ! دا کس جنت ته داخل کړه . (۱)

۲. د جنت سوال دا دی چې انسان دا دُعا غواړي :

اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ . اې الله ! زه د تا نه د جنت سوال کوم .

يا دا دُعا اوغواړي :

اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ . اې الله ! ما جنت ته داخل کړه .

پاس مذکوره حديث کې چې کوم درې (۳) پېرې د جنت سوال راغلی نو دا که په يو مجلس کې اوکړي ، يا يې په مختلفو مجلوسونو کې اوکړي دواړو ته شامل دی . (۲)

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ سَأَلَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ الْجَنَّةُ: اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ ، وَمَنِ اسْتَجَارَ مِنَ النَّارِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ النَّارُ: اَللّٰهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ " . السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ۷۹۰۷ ، سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۳۴۰ قال الالباني : صحيح . سنن الترمذي رقم الحديث ۲۵۷۲ ، مسند البزار رقم الحديث ۷۵۸۳ ، صحيح ابن حبان بَابُ الْإِسْتِعَاذَةِ ذِكْرُ الْإِسْتِحْبَابِ لِلْمَرْءِ أَنْ يَسْأَلَ سُؤَالَ رَبِّهِ دُخُوْلَ الْجَنَّةِ وَتَعَوُّذَهُ بِهِ مِنَ النَّارِ فِي أَيَّامِهِ وَلَيَالِيْهِ رقم الحديث ۱۰۱۴ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۱۹۶۰ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه . مشكاة المصابيح رقم الحديث ۲۴۷۸(۲۲) ، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۱۳۶۵ .

(۲) (مَنْ سَأَلَ اللهَ الْجَنَّةَ) بِأَنْ قَالَ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ . أَوْ قَالَ : اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ . وَهُوَ الْأَظْهَرُ (ثَلَاثَ مَرَّاتٍ) أَيْ: كَرَّرَهُ فِيْ مَجَالِسَ أَوْ فِيْ مَجْلِسٍ بِطَرِيْقِ الْإِلْحَاحِ عَلَى مَا ثَبَتَ أَنَّهُ مِنْ آدَابِ الدُّعَاءِ، وَهَذَا هُوَ الظَّاهِرُ الْمُتَبَادِرُ . وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُوْنَ الْمُرَادُ بِهِ ثَلَاثَ أَوْقَاتٍ وَهِيَ عِنْدَ امْتِثَالِ الطَّاعَةِ وَانْتِهَاءِ الْمَعْصِيَةِ وَإِصَابَةِ الْمُصِيْبَةِ، أَوْ عِنْدَ التَّصْدِيْقِ وَالْإِقْرَارِ وَالْعَمَلِ (قَالَتِ الْجَنَّةُ) بِبَيَانِ الْحَالِ أَوْ بِلِسَانِ الْقَالِ لِقُدْرَتِهِ تَعَالَى عَلَى إِنْطَاقِ الْجَمَادَاتِ، أَوِ الْمُرَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ مِنَ الْحُوْرِ وَالْوِلْدَانِ وَخَزَنَتِهَا (اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ) أَيْ: دُخُوْلًا أَوَّلِيًّا أَوْ لُحُوْقًا آخِرِيًّا . مرقاة المفاتيح بَابُ الْإِسْتِعَاذَةِ ج ۴ ص ۱۷۱۶ في تشريح رقم الحديث ۲۴۸۷ .

## په اِخلاص باندې عمل كولو سره د جنت مستحق كيدل

كوم عمل چې په اخلاص باندې ( خاص د الله ﷻ د رَضا د پاره ) اوشي نو په دې سره انسان د جنت مستحق كيږي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

څلويښت (٤٠) خصلتونه ( نيكۍ ) دي ، په دې كې د اُوچتې درجې واله نيكي داده چې انسان بل چاته خپله چيلۍ د دې د پاره وركړي چې هغه ورنه ( د شودو ) فائده حاصله كړي ، او بيا يې هغه واپس ده ته وركړي . بيا نبي عليه السلام اوفرمايل :

مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا ، وَتَصْدِيْقَ مَوْعُوْدِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ بِهَا الْجَنَّةَ .

كوم عمل كوونكی چې په دې څلويښتو (٤٠) نيكيو كې په يوه نيكۍ باندې د ثواب په اُميد ، او په دې باندې چې د ( الله ﷻ د طرفه ) د ثواب كومې وَعدې شوي په هغې باندې تصديق كولو سره عمل اوكړي نو الله تعالی به داسې كس جنت ته داخل كړي . (١)

**فائده** : نبي عليه السلام په دې حديث كې د څلويښت نېكيو تفصيل بيان نكړو ، دا صرف د دې د پاره چې انسان د هرې نيكۍ كولو په وخت دا خيال اوكړي چې كيدې شي دا هغه نيكي وي د كومې په ذريعه باندې چې د جنت وَعده شوی ، نو هره نيكي به په اخلاص باندې د ثواب په اُميد كوي .

## د اِخلاص واله وړوكي عمل سره د جنت مستحق كيدل

د اِخلاص واله معمولي عمل سره انسان د جنت مستحق ګرځي .

(١) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنَ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. يَقُوْلُ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَرْبَعُوْنَ خَصْلَةً أَعْلَاهُنَّ مَنِيْحَةُ الْعَنْزِ . مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا رَجَاءَ ثَوَابِهَا . وَتَصْدِيْقَ مَوْعُوْدِهَا إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ بِهَا الْجَنَّةَ . صحيح البخاري كِتَابُ الْهِبَةِ وَفَضْلِهَا وَالتَّحْرِيضِ عَلَيْهَا بَابُ فَضْلِ الْمَنِيحَةِ رقم الحديث ٢٦٣١ ، سنن ابي داؤد باب في المنيحة رقم الحديث ١٦٨٣ ، مسند احمد رقم الحديث ٦٨٣١ ، شعب الايمان رقم الحديث ٣١١٢ .

Scanned with CamScanner

د دارالعلوم ديوبند مهتمم "مولانا قاري محمد طيب صاحب" په خپل كتاب [ خطباتِ حكيم الاسلام ] كې د امام ابوداوُد رَحِمَهُ اللهُ يوه واقعه رانقل كړې :

امام ابوداوُد رَحِمَهُ اللهُ ډير لوي مُحدِّث تېر شوې دی ، ابوداوُد شريف دده كتاب دی چې په مدارسو كې لوستل كيږي ، دده په واقعاتو كې راځي چې يوه ورځ دې د سمندر په غاړه ولاړ وُ ، د يو فرلانګ په فاصله كې يو غټ جهاز په سمندر كې ولاړ وُ ، په هغې كې يو كس پرَنجې (اَنكريشې) اوكړو ، او په زوره يې وويل : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ.

( د شريعت دا مسئله ده : چې څوک پرَنجې اوكړي نو هغه له په كار دي چې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ووايي، او چې څوک يې واوري او مجلس هم يو وي نو هغه به يَرْحَمُكَ اللهُ وايي )

د هغه سړي آواز چونكه ډير تيز وُ ، نو ځكه امام ابوداوُد رحمه الله د هغه آواز واوريد ، او دده آواز خو دومره تيز نه وُ چې دې يَرْحَمُكَ اللهُ ووايي او هغه يې واوري ، بلكه په ده باندې يَرْحَمُكَ اللهُ ويل لازم هم نه وو ، ځكه چې مجلس جدا جدا وُ ، خو چونكه ده سره د نيكۍ ګټلو ډير زيات حرص وُ ، نو په درې ( ٣ ) درهمه يې ځانله وړه كشتۍ اونيوه ، په هغې كې سور شو ، چې كله هغه غټ جهاز ته ورغی ، نو هغه سړي ته يې د پرنجې جواب وركړو : يَرْحَمُكَ اللهُ .

مؤرِّخين ليكي : چې كله ده يَرْحَمُكَ اللهُ وويل نو يو غيبي آواز يې واوريد :
اې ابوداوُد ! تا ته دې مبارک وي ، تا نن د ځان دپاره جنت په درې درهمه واخيست . (١)

سبحان الله . امام ابوداوُد رَحِمَهُ اللهُ چې د احاديثو لوي كتاب [ ابوداوُد شريف ] يې ليكلی ، نو ربه يې هم څومره ډير د نيكۍ كارونه كړي وي ، د هغې ټولو اجر به الله جَلَّ جَلَالُهُ وركوي ، خو ليكن الله رب العزت دومره قدَردان ذات دی چې كله امام ابوداوُد رَحِمَهُ اللهُ په اخلاص باندې دا وړه نيكي اوكړه نو الله جَلَّ جَلَالُهُ دا هم ضائع نكړه ، بلكه د همدې په عِوض كې يې ورته جنت وركړو .

---

(١) خطبات حكيم الاسلام ص ٤٢٦، كشكولِ حكايات ص ٧٦ ، خطبات فقير ج ١٢ ص ١٩٦ .

Scanned with CamScanner

# په جهاد كولو سره د جنت مستحق كيدل

**١.** په جهاد كولو سره انسان د جنت مستحق كيږي. الله ربّ العزت فرمايي:

﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۚ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ ۖ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ ۚ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ ۚ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ ۚ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾.(١)

ترجمه: بيشكه الله تعالى د مؤمنانو نه د دوى ځانونه او د دوى مالونه اخيستي دي چې ددې په عِوض كې به د دوى د پاره جنت وي، دوى د الله ﷻ په لاره (جهاد) كې جنګيږي، پس دوى كافران وژني، او دوى هم وژلې شي، دا (په جهاد باندې د جنت وعده) د الله په ذِمه ريښتيني وعده ده چې په تورات، اِنجيل او قرآن مجيد كې ذكر ده، او د الله ﷻ نه زيات د خپلې وَعدې پوره كوونكې بل څوک دى؟ پس تاسو په خپله هغه بيعَه (سَوداء) باندې خوشحاله اُوسئ كومه چې تاسو د الله سره اوكړه، او همدا (جنت ملاويدل) لويه كاميابي ده.

د قرآن كريم په نورو آيتونو كې هم په جهاد كولو سره د جنت وعده شوې.(٢)

---

(١) التوبة آية ١١١.

(٢) الله تعالى فرمايي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۝ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴾. الصف آية ١٠ تا ١٢.

ترجمه: اې مؤمنانو! آيا زه تاسو ته داسې تجارت اُوښايم چې هغه تاسو ته د دَردناک عذاب نه نجات دركړي؟ (هغه تجارت دادى چې) تاسو په الله او د هغه په رسول باندې اِيمان راوړئ، او د الله په لار كې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد كوئ، همدا ستاسو د پاره ډير بهتر دى كه چيرته تاسو پوهيږئ. الله ﷻ به ستاسو ګناهونه اُوبخي او تاسو به داسې (د جنت) باغونو ته داخل كړي چې د هغې لاندې به وَلې بهيږي، او داسې پاكيزه محلونو ته (به مو داخل كړي) چې هغه د هميشه پاتې كيدو باغونو كې آباد دي، همدا لويه كاميابي ده.

Scanned with CamScanner

۲. همدغه رنګې نبي ... به السلام یو تُور رَنګي کس ته په جهاد کولو سره د جنت خوشخبري اورولې وه. (۱)

## جنت د تورو د سیورو لاندې دی

د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:

وَاعْلَمُوْا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ. (۲)

پوهه شئ چې جنت د تورو د سیورو لاندې دی.

**د حدیث تشریح**: ددې حدیث مطلب دادی چې کله مجاهِد په میدانِ جنګ کې په داسې حالت کې موجود وي چې دده پاسه د کافرانو د تورو سیورې وي نو دا د جنت د داخلیدو سبب دی، او ده ته په دې حالت کې د جنت دروازې کلاوُ وي. (۳)

---

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَجُلًا أَسْوَدَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنِّيْ رَجُلٌ أَسْوَدُ مُنْتِنُ الرِّيْحِ، قَبِيْحُ الْوَجْهِ، لَا مَالَ لِيْ، فَإِنْ أَنَا قَاتَلْتُ هٰؤُلَاءِ حَتّٰى أُقْتَلَ، فَأَيْنَ أَنَا؟ قَالَ: «فِي الْجَنَّةِ». فَقَاتَلَ حَتّٰى قُتِلَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «قَدْ بَيَّضَ اللهُ وَجْهَكَ، وَطَيَّبَ رِيْحَكَ، وَأَكْثَرَ مَالَكَ». وَقَالَ لِهٰذَا أَوْ لِغَيْرِهِ: «لَقَدْ رَأَيْتُ زَوْجَتَهُ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ، نَازَعَتْهُ جُبَّةً لَهُ مِنْ صُوْفٍ، تَدْخُلُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ جُبَّتِهِ». المستدرک علی الصحیحین للحاکم كِتَابُ الْجِهَادِ رقم الحدیث وقال الحاکم: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ عَلٰى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. ووافقه الذهبي. ورواه البيهقي في الشعب.

(۲) صحیح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: اَلْجَنَّةُ تَحْتَ بَارِقَةِ السُّيُوْفِ رقم الحدیث ۲۸۱۸، و رقم ۲۹۶۶، ورقم ۳۰۲۴. صحیح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ كَرَاهَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءِ الْعَدُوِّ، وَالْأَمْرِ بِالصَّبْرِ عِنْدَ اللِّقَاءِ رقم الحدیث ۱۷۴۲. سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيْ كَرَاهِيَةِ تَمَنِّيْ لِقَاءِ الْعَدُوِّ رقم الحدیث ۲۶۳۱، سننُ الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا ذُكِرَ أَنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ رقم الحدیث ۱۶۵۹، مشکوة المصابیح بَابُ الْكِتَابِ إِلَى الْكُفَّارِ وَدُعَائِهِمْ إِلَى الْإِسْلَامِ اَلْفَصْلُ الأول رقم الحدیث ۳۹۳۰ (۵).

(۳) ملا علي قاري رحمه الله د مذکوره حدیث تشریح داسې کړی: (إِنَّ أَبْوَابَ الْجَنَّةِ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوْفِ): يَعْنِيْ كَوْنَ الْمُجَاهِدِ فِي الْقِتَالِ بِحَيْثُ يَعْلُوْهُ سُيُوْفُ الْأَعْدَاءِ سَبَبُ الْجَنَّةِ، حَتّٰى كَأَنَّ أَبْوَابَهَا حَاضِرَةٌ مَعَهُ. أَوِ الْمُرَادُ بِالسُّيُوْفِ سُيُوْفُ الْمُجَاهِدِيْنَ. وَهٰذَا كِنَايَةٌ عَنِ الدُّنُوِّ مِنَ الْعَدُوِّ فِي الْحَرْبِ؛ لِأَنَّهَا أَكْثَرُ ←←←←

## لږ وخت جهاد کولو سره د جنت مستحق کيدل

د ترمذي شريف او ابوداؤد شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَوَاقَ نَاقَةٍ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (۱)

څوک چې د الله ﷻ په لار کې د اوښې لوشلو په مينځ کې د وقفې په مقدار ( يعنى لږ وخت ) جهاد اوکړي نو دده د پاره جنت واجب شو .

## د جنت د يوې دروازې نوم " بَابُ الجهاد " دی

د جنت اَته (۸) دروازې دي ، د يوې دروازې نوم " بَابُ الجهاد " دی (يعنى د جهاد دروازه ) ، په دې باندې به مجاهدين جنت ته داخلېږي .

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

... وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ . (۲)

---

←←← سِلَاحِ الْجِهَادِ ..... قَالَ النَّوَوِيُّ مَعْنَاهُ : أَنَّ الْجِهَادَ وَحُضُورَ مَعْرَكَةِ الْقِتَالِ طَرِيقٌ إِلَى الْجَنَّةِ وَسَبَبٌ لِدُخُولِهَا . أَقُولُ : هُوَ كَذٰلِكَ، وَهُوَ لَا يُنَافِي الْمُبَالَغَةَ أَنَّهُ فِي حَالِ جِهَادِهِ كَأَنَّهُ فِي الْجَنَّةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۲۴۹۲/۶ كتاب الجهاد الفصل الثالث في تشريح رقم الحديث ۳۸۵۲ (۶۵) .

(۱) سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الْجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْغُدُوِّ وَالرَّوَاحِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۶۵۰ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِيمَنْ سَأَلَ اللهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ رقم ۲۵۴۱ ، سنن النسائي ثواب من قاتل في سبيل الله فواق ناقة رقم الحديث ۳۱۴۱ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ۳۸۲۵ (۳۸) ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۸۲ وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ، ووافقه الذهبي . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ۱۲۷۸ (۳) الترغيب فى سؤال الشهادة في سبيل الله تعالى ، مسند احمد رقم الحديث ۹۷۶۲ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ۴۶۱۸ .

(۲) پوره حديث په بخاري شريف او مسلم شريف کې داسې ذکر دی : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ ، نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ : يَا عَبْدَ اللهِ هٰذَا خَيْرٌ ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلٰوةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلٰوةِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الْجِهَادِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ . ←←←←

Scanned with CamScanner

چا چې د الله ﷻ په لار کې جهاد کړې وي هغه به جنت ته " د جهاد د دروازې " نه رابللې شي.

## صحابه کرامو به په جهاد کې د جنت خوشبوئي محسوسوله

په بخاري شريف کې اوږده واقعه ذکر ده چې حضرت انس بن نضر رضي الله عنه په غزوه احد کې حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه ته اوفرمايل:

... إِنِّي أَجِدُ رِيحَهَا مِنْ دُونِ أُحُدٍ . زه د احد غر د طرفه د جنت خوشبوئي محسوسوم. (١)

## يوه شپه په جهاد کې پهره کولو سره د جنت مستحق کيدل

په مشکوة شريف او نورو د احاديثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده:

---

←←← فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ كُلِّهَا ، قَالَ : « نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ » . صحيح البخاري كِتَابُ الصَّوْمِ بَابٌ: الرَّيَّانُ لِلصَّائِمِينَ رقم الحديث ١٨٩٧ ، و رقم الحديث ٣٦٦٦ كتاب أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيلًا» ، صحيح مسلم كِتَابُ الزَّكَاةِ بَابُ مَنْ جَمَعَ الصَّدَقَةَ وَأَعْمَالَ الْبِرِّ رقم الحديث ٥٨ (١٠٢٧) .

(١) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ : غَابَ عَمِّي أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ ، فَقَالَ : « يَا رَسُولَ اللهِ ! غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِينَ ، لَئِنِ اللهُ أَشْهَدَنِي قِتَالَ الْمُشْرِكِينَ لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا أَصْنَعُ » ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ، وَانْكَشَفَ الْمُسْلِمُونَ ، قَالَ : « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلَاءِ ـ يَعْنِي أَصْحَابَهُ ـ وَأَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هَؤُلَاءِ ـ يَعْنِي الْمُشْرِكِينَ ـ ثُمَّ تَقَدَّمَ » ، فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ رضي الله عنه ، فَقَالَ : « يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ ، الْجَنَّةَ وَرَبِّ النَّضْرِ إِنِّي أَجِدُ رِيحَهَا مِنْ دُونِ أُحُدٍ » ، قَالَ سَعْدٌ رضي الله عنه : فَمَا اسْتَطَعْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا صَنَعَ ، قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : فَوَجَدْنَا بِهِ بِضْعًا وَثَمَانِينَ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ أَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ ، أَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ وَ وَجَدْنَاهُ قَدْ قُتِلَ وَقَدْ مَثَّلَ بِهِ الْمُشْرِكُونَ ، فَمَا عَرَفَهُ أَحَدٌ إِلَّا أُخْتُهُ بِبَنَانِهِ ، قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه : كُنَّا نُرَى أَوْ نَظُنُّ أَنَّ هَذِهِ الْآيَةَ نَزَلَتْ فِيهِ وَفِي أَشْبَاهِهِ : { مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ } [الأحزاب آية ٢٣] إِلَى آخِرِ الْآيَةِ . صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ} رقم الحديث ٢٨٠٥ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩٣٠٠ .

Scanned with CamScanner

حضرت ابن عائذ رضي الله عنه فرمايي:

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د يو سړي جنازې سره لاړ (د دې. پاره چې په هغه باندې د جنازې مونځ اوكړي)، كله چې جنازه كيښودې شوه نو حضرت عُمر رضي الله عنه نبي عليه السلام ته اوفرمايل:

لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ.

اې د الله رسوله! تاسو په ده باندې د جنازې مونځ مه كوئ، ځكه دا يو فاجِر سړې وُ.

(دې اَوريدو سره) نبي عليه السلام خلقو طرف ته مخ مبارك وَر واړول او پوښتنه يې ورنه اوكړه:

هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟

آيا په تاسو كې چا دا كس د اسلام په يو كار كولو باندې ليدلې دى؟ (يعنى تاسو دا په داسې كار ليدلى چې هغه په حقيقي اسلام باندې دلالت كوي؟)

يو سړي ووېل: نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ.

آو، اې د الله رسوله! دې كس د الله ﷻ په لار (جهاد) كې يوه شپه (د مجاهدينو) پهره كړې وه.

(دې اَوريدو سره) نبي عليه السلام په ده باندې د جنازې مونځ اوكړو، (د دَفن كولو نه پس) دده په قبر باندې يې په خپل لاس مبارك سره خاورې واچولې، او دې مړي ته يې خطاب كولو سره اوفرمايل:

أَصْحَابُكَ يَظُنُّوْنَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ.

ستا ملګري دا ګمان كوي چې ګني ته جهنّمي يې خو زه دا ګواهي وركوم چې ته جنّتي يې.

بيا نبي عليه السلام حضرت عُمر رضي الله عنه ته اوفرمايل:

يَا عُمَرُ! إِنَّكَ لَا تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلٰكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ.

اې عُمر! د تانه به د خلقو د اَعمالو متعلق تپوس نشي كولى، بلكه د تا نه به د فِطرت تپوس كولې شي.

(يعنى د تا نه به د خلقو د ګناهونو باره كې تپوس نشي كولى، بلكه د هغه شيانو په باره كې به

.........................................................................................

تپوس کولې شي چې هغه په اسلام دلالت کوي چې هغه د دِين شَعائر او علامات دي ).(۱)

## پهره دارۍ ته غاړه اِيخودو په وجه نبي ﷺ د جنت زېرې ورکړو

عبدالله بن مبارک رحمه الله په خپل کتاب کې دا واقعه رانقل کړې چې کله رسولُ الله صلی الله علیه وسلم (د خپلو صحابه کرامو سره) غزوه اُحد ته د جهاد د پاره اُووت نو په يو ځای کې يې اوفرمايل: نن شپه به په دې درّه باندې څوک پهره اوکړي؟

د انصارو يو کس راپاڅيد چې نوم يې ذکوان بن عبد قَيس رضي الله عنه وُ، او کُنيَت يې ابوالسَّبُع وُ، ده وويل: زه به پهره اوکړم. نبي عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه:

مَنْ أَنْتَ؟ ته څوک يې؟ ده ورته وويل: اِبْنُ عَبْدِ قَيْسٍ.

زه د عبد قَيس ځوي يم. (ده خپل نوم وانه خيست، بلکه د پلار نوم يې واخيست چې زه د عبد قَيس ځوي يم).

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل: اِ . ته کينه.

پيغمبر عليه السلام دوباره هماغه اِعلان اوکړو (چې نن شپه به زمونږ پهره څوک اوکړي؟). حضرت ذکوان رضي الله عنه بيا پاڅيد (او وې ويل چې زه به پهره اوکړم).

نبي عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه:

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَائِذٍ رضي الله عنه قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جِنَازَةِ رَجُلٍ. فَلَمَّا وُضِعَ قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: لَا تُصَلِّ عَلَيْهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّهُ رَجُلٌ فَاجِرٌ. فَالْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى النَّاسِ فَقَالَ: «هَلْ رَآهُ أَحَدٌ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلِ الْإِسْلَامِ؟» فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ حَرَسَ لَيْلَةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. فَصَلَّى عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَثَا عَلَيْهِ التُّرَابَ، وَقَالَ: «أَصْحَابُكَ يَظُنُّوْنَ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ وَأَنَا أَشْهَدُ أَنَّكَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ» وَقَالَ: يَا عُمَرُ! إِنَّكَ لَا تُسْأَلُ عَنْ أَعْمَالِ النَّاسِ وَلٰكِنْ تُسْأَلُ عَنِ الْفِطْرَةِ. مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ۳۸۶۰ (۷۳)، شعب الايمان الجهاد المرابطة في سبيل الله عز وجل رقم الحديث ۳۹۸۸، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۹۴۵، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الْحَرَسِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ رقم الحديث ۹۴۹۲، كنز العمال كتاب الجهاد من قسم الأفعال باب في فضله والحث عليه رقم الحديث ۱۱۳۵۶.

Scanned with CamScanner

مَنْ أَنْتَ ؟ ته څوک يې ؟ ده ورته وويل : أَنَا أَبُو السَّبُعِ . زه ابوالسّبع يم .
( دا ځل هم ده خپل نوم وا نه خيست ، بلکه کُنيت يې ذکر کړو ) .
پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل : تاسو په فلاني ځای باندې د پهرې د پاره اُودريږئ .

حضرت ذکوان رضي الله عنه نبي عليه السلام ته اوفرمايل : اې د الله رسوله ! په هر ځل باندې تاسو ته همدا ما جواب درکړو ، خپل نوم مې ځکه په هر ځل وانه خيست چې کيدې شي دلته د مشرکينو څوک جاسوس وي چې هغه پوهه نشي .
(دې اُوريدو سره) رسولُ الله صلی الله عليه وسلم اوفرمايل :
مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَطَأُ خُضْرَةَ الْجَنَّةِ بِقَدَمَيْهِ غَدًا . فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا .
د چا چې دا خوښه وي چې ( په دُنيا کې ) داسې کس اوګوري چې هغه به صبا په خپلو قدمونو سره د جنت په باغيچو کې ګرځي نو هغه دې دا ذکوان رضي الله عنه اوګوري .
ددينه پس حضرت ذکوان رضي الله عنه خپل کور ته لاړ ، او د خپلو بيبيانو نه يې رُخصت راواخيست ، راروان شو ، خپلو بيبيانو د لمن نه اُونيو او ورته وې ويل :
يَا أَبَا السَّبُعِ ! تَدَعُنَا وَتَذْهَبُ ؟ اې ابوالسّبع ! ته مونږ پريږدی او ته ځی ؟
ده ورنه خپله لمن راخلاصه کړه ، راروان شو ، کله چې د خپلو بيبيانو نه لږ وړاندې راغی نو هغوی ته يې مخ وَرواړول او ورته وې ويل :
مَوْعِدُكُنَّ يَوْمُ الْقِيَامَةِ . د تاسو سره به ملاقات د قيامت په ورځ کوم .
(دا يې وويل ، روان شو ، د پهرې ځای ته لاړ ) بيا دا شهيد شو . (١)

(١) لَمَّا خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ ، قَالَ : مَنْ يَنْتَدِبُ لِسَدِّ هٰذِهِ الثَّغْرَةِ اللَّيْلَةَ ؟ أَوْ كَمَا قَالَ . قَالَ : فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ مِنْ بَنِي زُرَيْقٍ يُقَالُ لَهُ ذَكْوَانُ بْنُ عَبْدِ قَيْسٍ أَبُو السَّبُعِ . فَقَالَ : أَنَا . فَقَالَ : مَنْ أَنْتَ ؟ قَالَ : اِبْنُ عَبْدِ قَيْسٍ . قَالَ : اِجْلِسْ . ثُمَّ دَعَا . فَقَالَهَا . فَقَامَ ذَكْوَانُ رضي الله عنه . فَقَالَ : مَنْ أَنْتَ ؟ فَقَالَ : أَنَا أَبُو السَّبُعِ . فَقَالَ : كُوْنُوْا مَكَانَ كَذَا وَكَذَا . فَقَالَ ذَكْوَانُ رضي الله عنه : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَا هُوَ إِلَّا أَنَا . وَلَمْ نَأْمَنْ أَنْ يَكُوْنَ لِلْمُشْرِكِيْنَ عَيْنٌ . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَطَأُ ←←←←←

Scanned with CamScanner

# مجاهدينو ته الله تعالى د جنت ضمانت کړى

۱. د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دى، رسول الله ﷺ فرمايي:

تَكَفَّلَ اللهُ لِمَنْ جَاهَدَ فِيْ سَبِيْلِهِ، لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِهِ، وَتَصْدِيْقُ كَلِمَاتِهِ بِأَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ يَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِيْ خَرَجَ مِنْهُ مَعَ مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيْمَةٍ. (۱)

چاچې د الله ﷻ په لارکې داسې جهاد اوکړو چې دا د کور نه صرف د الله ﷻ په لارکې د جهاد د پاره اُوتې وي، او د الله د کلمو تصديق کوونکې وي نو الله ﷻ د داسې مجاهد د پاره ددې خبرې ضمانت کړى چې دا به جنت ته داخلوي، يا چې د کوم کور نه را اُوتې وي همغې ته به يې د اَجر و غنيمت سره واپس ګرځوي.

( نوټ: د الله ﷻ د ضمانت او کفالت مطلب دادى چې هغه په خپل فضل و کرم سره دده د پاره جنت واجب کړى. (۲) )

۲. حديث قدسي دى، الله تعالى يي:

أَيُّمَا عَبْدٍ مِنْ عِبَادِيْ خَرَجَ مُجَاهِدًا فِيْ سَبِيْلِيْ اِبْتِغَاءَ مَرْضَاتِيْ ضَمِنْتُ لَهُ أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا أَصَابَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيْمَةٍ، وَإِنْ قَبَضْتُهُ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ وَ أَرْحَمَهُ، وَأُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ.

---

←←← خُضْرَةَ الْجَنَّةِ بِقَدَمَيْهِ غَدًا. فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا. فَانْطَلَقَ ذَكْوَانُ ﷺ إِلَى أَهْلِهِ يُوَدِّعُهُنَّ. فَأَخَذَتْ نِسَاؤُهُ بِثِيَابِهِ. وَقُلْنَ: يَا أَبَا السَّبُعِ! تَدَعُنَا وَتَذْهَبُ؟ فَاسْتَلَّ ثَوْبَهُ حَتَّى إِذَا جَاوَزَهُنَّ. أَقْبَلَ عَلَيْهِنَّ. فَقَالَ: مَوْعِدُكُنَّ يَوْمُ الْقِيَامَةِ. ثُمَّ قُتِلَ. الجهاد لابن المبارک ج ۱ ص ۱۲۵ رقم ۱۵۱.

(۱) صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الخُمُسِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُحِلَّتْ لَكُمُ الغَنَائِمُ» رقم الحديث ۳۱۲۳، و رقم الحديث ۷۴۵۷ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا المُرْسَلِينَ}. و رقم الحديث ۷۴۶۳، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ فَضْلِ الْجِهَادِ وَالْخُرُوجِ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحديث ۱۰۴ (۱۸۷۶).

(۲) (تَضَمَّنَ اللهُ) وفي الرواية الأخرى "تَكَفَّلَ اللهُ" ومعناهما: أوجب الله تعالى له الجنة بفضله وكرمه سبحانه وتعالى. وهذا الضمان والكفالة موافق لقوله تعالى: { إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ } الآية. شرح محمد فؤاد عبد الباقي على صحيح مسلم في تشريح حديث ۱۰۳ (۱۸۷۶)

Scanned with CamScanner

زما په بندګانو کې چې کوم بنده زما د رَضا د پاره جهاد فِي سَبِيلِ الله ته اُووځي نو زه دده د پاره ضامن یم چې دا ( خپل کورته ) د اَجر و غنیمت حاصلولو سره واپس کړم ، او که چیرته زه دده رُوح قبض کړم نو زه به ورته بخنه کوم ، رَحم به پرې کوم ، او جنت ته به یې داخلوم . (١)

## مجاهدینو د پاره د جنت اُوچتې درجې

**١** . الله ﷻ فرمایي : ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ ۭ وَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ ۝ يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ۝ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ اِنَّ اللهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴾ . (٢)

ترجمه : کومو خلقو چې ایمان راوړو ، هجرت یې اوکړو ، او د الله ﷻ په لار کې یې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد اوکړو نو د الله په نزد د دوی ډیره لویه درجه ده ، او همدا خلق کامیاب دي . دوی ته د دوی رَب د خپل رحمت ، رَضامَندۍ او داسې جنت زیرې ورکوي چې په هغې کې به دائمي نعمتونه موجود وي ، دا خلق به په هغې کې تل د پاره همیشه اوسیږي ، بیشکه د الله ﷻ سره ډیر لوي اَجر دی .

**٢** . په یو بل آیت کې الله ﷻ د دوی د پاره د جنت وعده په دې الفاظو سره کړې:

﴿ اِنَّ اللهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَاَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ۭ ﴾ . (٣)

---

(١) مسند احمد مخرّجا رقم الحديث ٥٩٧٧ ، سنن النسائي كِتَابُ الجِهَادِ بَابُ: ثَوَابِ السَّرِيَّةِ الَّتِي تُخْفِقُ رقم الحديث ٣١٢٦ ، قال الالباني : صحيحٌ . سبعون حديثا في الجهاد ج١ ص ٢٤ .

وفي رواية : عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . يَعْنِي يَقُوْلُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : اَلْمُجَاهِدُ فِي سَبِيْلِي هُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ . إِنْ قَبَضْتُهُ أَوْرَثْتُهُ الْجَنَّةَ ، وَإِنْ رَجَعْتُهُ رَجَعْتُهُ بِأَجْرٍ أَوْ غَنِيْمَةٍ . سنن الترمذي أَبْوَابُ فَضَائِلِ الجِهَادِ بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الجِهَادِ رقم ١٦٢٠ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ١٣١٥ ( ٢١ ) الترغيب في الجهاد في سبيل الله .

(٢) التوبة آية ٢٠ تا ٢٢ .

(٣) التوبة آية ١١١ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: بیشکه الله تعالی د مؤمنانو نه د دوی ځانونه او د دوی مالونه اخیستي دي چې ددې په عِوض کې به د دوی د پاره جنت وي.

٣. په یو آیت کې الله تعالی د مجاهدینو مقام داسې ذکر کړی:

﴿ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ۭ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ۭ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾. (١)

ترجمه: الله تعالی هغه مجاهدینو ته کوم چې په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي دوی ته یې په ناستو خلقو باندې اُوچته درجه ورکړی، او د هریو سره یې د نېکۍ (جنت) وعده کړیده، خو بیا هم الله تعالی مجاهدینو ته په ناستو خلقو باندې د ډیر لوي أجر په ذریعه فضیلت ورکړی. (د هغه اجر تفصیل دادی چې:) د دوی د پاره د الله د طرفه اُوچتې درجې، بخَنه او رحمت دی، او الله تعالی بخونکي مهربان دی.

## دمجاهدینو د پاره په جنت کې سل (١٠٠) درجې

د بخاري شریف حدیث دی، رسول الله ﷺ فرمایي:

... إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ أَعَدَّهَا اللّٰهُ لِلْمُجَاهِدِيْنَ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ، مَا بَيْنَ الدَّرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ... (٢)

بیشکه په جنت کې سل (١٠٠) درجې دي، دا الله ﷻ د هغه مجاهدینو د پاره تیارې کړې دي کوم چې د الله په لاره کې جهاد کوي، د هرې دوه درجو په مینځ کې دومره فاصله

(١) النساء آیة ٩٥، ٩٦.

(٢) صحیح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ دَرَجَاتِ المُجَاهِدِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ رقم الحدیث ٢٧٩٠، و رقم الحدیث ٧٤٢٣ كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَاب {وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى المَاءِ}. سنن النسائي كِتَابُ الجِهَادِ دَرَجَةُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رقم الحدیث ٣١٣٢، مسند احمد رقم الحدیث ٨٤١٩، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ٤٦١١ ذکرُ وصف الدرجات للمجاهدین في سبیل الله، مشکاة المصابیح کتاب الجهاد الفصل الاول رقم ٣٧٨٧ (١).

Scanned with CamScanner

ده څومره چې د آسمان او زمکې په مينځ کې ده .

مجاهدينو ته چې الله ربّ العزت د جنت سل (١٠٠) درجې ورکوي نو دا صرف د دې جهاد په وجه باندې .

## د شهادت په وجه د جنت مستحق کيدل

١ . څوک چې د الله ﷻ د رَضا او د دِين د سَربُلندئ د پاره شهيد شي نو د داسې شهادت په وجه انسان د جنت مستحق ګرځي . الله تعالى فرمايي :

﴿ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ۝ سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝ وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴾ .(١)

ترجمه : او کوم خلق چې د الله ﷻ په لار کې اُووژلې شي ( يعنى شهيدان شي ) نو الله ﷻ هيڅ کله د هغوی اعمال نه ضائع کوي ، ډير زر به الله تعالى دوی ته لاره ( د جنت (٢) ) اُوښايي ، د دوی حالت به ښه کړي ، او دوی به جنت ته داخل کړي کوم چې الله دوی ته د مخکې نه خودلی .

٢ . د بخاري شريف حديث دی ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

يَضْحَكُ اللَّهُ إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ : يُقَاتِلُ هٰذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ . فَيُقْتَلُ . ثُمَّ يَتُوبُ اللَّهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْتَشْهَدُ . (٣)

---

(١) سورة محمد آية ٤ تا ٦ .

(٢) د شهادت نه روستو د هدايت مقصد دادی چې دوی ته به د خپل منزلِ مقصود يعنى د جنت لاره اُوښائي . د جنتيانو په باره کې په قرآن کريم کې ذکر دي چې کله دوی جنت ته داخل شي نو دوی به اُووايي : ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا ﴾ الاعراف آية ٤٣ . تفسير معارف القرآن سورة محمد في تشرح آية ٥ .

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ الكَافِرِ يَقْتُلُ المُسْلِمَ ثُمَّ يُسْلِمُ فَيُسَدِّدُ بَعْدُ وَيُقْتَلُ رقم الحديث ٢٨٢٦ ، مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الاول رقم الحديث ٣٨٠٧ ( ٢١ ) ، موطاء مالك رقم الحديث ٢٨ ، مسند احمد رقم الحديث ٨٢٢٤ ، سنن النسائي رقم الحديث ٣١٦٦ ، صحيح ابن حبان رقم الحديث ٢١٥ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٨٥٣٢ ، كنز العمال رقم الحديث ١١١٢٧ .

Scanned with CamScanner

الله ﷻ هغه دوه کسانو ته خاندي ( كَمَا يَلِيقُ بِشَانِهِ . يعنی د دوی نه راضي او خوشحاله وي ) کوم دوه کسان چې يو بل وژني ، او دواړه به جنت ته داخليږي ( هغه داسې چې : ) دا يو کس د الله ﷻ په لار کې جنګيږي پس دا شهيد شي ، بيا الله ﷻ دې قاتِل ته د توبې توفيق ورکړي ( اِسلام راوړي ، بيا دا هم د الله ﷻ په لار کې جنګيږي ) او دا هم شهيد شي .

٣ . د مسلم شريف حديث دی ، حضرت جابر ﷺ فرمايي :
په غزوه اُحد کې يو کس د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه اوکړه :
أَيْنَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ ؟
اې د الله رسوله ! که چيرته زه شهيد شم نو زه به چيرته يم ؟
نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : فِي الْجَنَّةِ . په جنت کې .
د هغه کس سره په لاس کې قجورې وی هغه يې اوغورځولی ، بيا ( ميدانِ جنګ ته ورغی او ) د کافرانو په مقابله کې تر هاغې وخته پورې اوجنګيدو چې آخر شهيد شو . (١)

## شهيد به بې حِسابه جنت ته ځي ، او فرښتې به ورته د هرې دَروازې نه سلام کوي

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي .... الله ﷻ به د قيامت په ورځ جنت رااُوغواړي

---

(١) عَنْ عَمْرٍو ، سَمِعَ جَابِرًا ﷺ ، يَقُوْلُ : قَالَ رَجُلٌ : أَيْنَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنْ قُتِلْتُ ؟ قَالَ : فِي الْجَنَّةِ . فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ . ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ . صحيح مسلم كِتَابُ الإِمَارَةِ بَابُ ثُبُوتِ الْجَنَّةِ لِلشَّهِيدِ رقم الحديث ١٤٣ (١٨٩٩) .

عَنْ حَسْنَاء بِنْتِ مُعَاوِيَةَ الصَّرِيمِيَّة ، قَالَتْ : حَدَّثَنَا عَمِّي ، قَالَ : قُلْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ فِي الْجَنَّةِ ؟ قَالَ : اَلنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ ، وَالشَّهِيدُ فِي الْجَنَّةِ ، وَالْمَوْلُودُ فِي الْجَنَّةِ ، وَالْوَئِيدُ فِي الْجَنَّةِ . سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجِهَادِ بَابٌ فِي فَضْلِ الشَّهَادَةِ رقم الحديث ٢٥٢١ قال الالباني : هذا حديث صحيح . مشكوة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثالث رقم الحديث ٣٨٥٦ (٦٩) ، مسند احمد رقم الحديث ٢٠٥٨٣ ، و رقم ٢٠٥٨٥ ، مصنّف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩٥٠٣ ، كنز العمال رقم الحديث ٣٩٧٨٠ .

Scanned with CamScanner

نو جنت به د ټولې تازګۍ او ښائست سره راشي ، الله تعالی به او فرمايي :

أَيْنَ عِبَادِيَ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، وَقُتِلُوْا ، وَ أُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ أُدْخُلُوا الْجَنَّةَ .

چیرته دي زما هغه بندګان چې د الله ﷻ په لارکې جنګيدلي ، شهیدان شوي ، دوی ته زما په لار کې تکلیف رسیدلی ، او زما په لاره کې يې جهاد ( او کوشش ) کړی ؟ تاسو ټول جنت ته داخل شئ .

فَيَدْخُلُوْنَهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ .

پس دا ټول به بغیر حِسابه او بغیر عذابه جنت ته داخل شي .

ملائکې به راشي او عرض به او کړي : اې زمونږه ربه ! مونږ خو شپه او ورځ ستا تسبیح او ستا پاکي بیانوو ، پس دا خلق څوک دي چې تا دوی ته په مونږ باندې ترجیح ورکړه ؟

الله تعالی به ورته او فرمايي : دا هغه خلق دي چې دوی زما په لاره کې جهاد کړی ، او زما په لاره کې ورته تکلیف رسیدلی .

پس فرښتې به دوی ته د هرې دروازې نه راځي او دا به ورته وايي :

﴿ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ ﴾ .

ترجمه : په تاسو باندې دې سلام وي ، ځکه تاسو ( په دُنیا کې ) صبر اوکړو ، نو د آخرت کور مو ډیر ښه دی . (۱)

---

(۱) وَإِنَّ اللهَ يَدْعُوْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْجَنَّةَ ، فَتَأْتِيْ بِزُخْرُفِهَا وَ زِيْنَتِهَا ، فَيَقُوْلُ : أَيْنَ عِبَادِيَ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ، وَقُتِلُوْا ، وَأُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَجَاهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ أُدْخُلُوا الْجَنَّةَ . فَيَدْخُلُوْنَهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ وَلَا عَذَابٍ ، فَتَأْتِي الْمَلَائِكَةُ فَيَقُوْلُوْنَ : رَبَّنَا نَحْنُ نُسَبِّحُ لَكَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَنُقَدِّسُ لَكَ ، مَنْ هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ آثَرْتَهُمْ عَلَيْنَا . فَيَقُوْلُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى : هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ قَاتَلُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَأُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ ، فَتَدْخُلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ {مِنْ كُلِّ بَابٍ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ} . شعب الايمان رقم الحديث ۳۹۵۴ الجهاد . المستدرک علی الصحيحين للحاكم رقم الحديث ۲۳۹۳ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه ، و وافقه الذهبي . المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۱۵۲ ، مسند احمد رقم الحديث ۶۵۷۱ ، كنزالعمال رقم الحديث ۱۶۶۳۵ ، مجمع الزوائد و منبع الفوائد باب فضل الفقراء رقم الحديث ۱۷۸۸۷ .

Scanned with CamScanner

## شهید به په اوّلني درې (٣) کسانو کې جنت ته داخلیږي

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

عُرِضَ عَلَيَّ أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ .... فَأَمَّا أَوَّلُ ثَلَاثَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ : فَالشَّهِيدُ ، وَعَبْدٌ مَمْلُوكٌ أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ وَنَصَحَ لِسَيِّدِهِ ، وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُو عِيَالٍ.... (١)

ماته هغه درې (٣) کسان پیش کړې شو کوم چې به ( زما په اُمت کې ) اول جنت ته داخليږي... پس اوّلني درې کسان کوم چې به اول جنت ته داخليږي په هغې کې يو شهيد دی، دويم هغه غلام دی چې د خپل رَب ښه عبادت کوي او د خپل سردار ( آقا ) د پاره خېرخواه وي، او دريم هغه پاک دَامن بال بَچه داره کس دی چې د سوال نه ځان ساتي.

## د خپل مال په حفاظت کې قتل کيدونکي کس د پاره جنت

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ مَظْلُومًا فَلَهُ الْجَنَّةُ . (٢)

څوک چې د خپل مال په حفاظت کې په ظلم سره قتل کړې شي نو دده د پاره جنت دی.

## نفسِ مُطمئنه ته د مرګ په وخت د جنت زيرې

کوم مؤمن بنده چې د الله ﷻ د وعدو تصديق کوي، او د الله ﷻ په فيصله باندې راضي وي نو الله تعالی ده ته د مرګ په وخت د جنت زيرې ورکوي:

﴿ يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ ۝٢٧ ٱرْجِعِىٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ۝٢٨ فَٱدْخُلِى فِى عِبَٰدِى ۝٢٩

(١) مسند احمد رقم الحديث ٩٣٩٢ ، و رقم ١٠٢٠٥ ، مسند ابي داؤد الطيالسي رقم الحديث ٢٦٩٠ ، مشكاة المصابيح كتاب الجهاد الفصل الثاني رقم الحديث ٣٨٣٢ (٣٥) ، سنن الترمذي باب ماجاء في ثواب الشهيد رقم الحديث ١٦٤٢ ، المستدرک علی الصحيحين للحاکم رقم الحديث ١٤٢٩ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ٧٢٢٧ ، شعب الايمان رقم ٣٠٦٣ ، و رقم ٨٢٤٦ ، معجم ابن عساکر رقم ٥٢١ ، کنزالعمال رقم ٤٣٢٦٠ ، و رقم ٤٣٢٦٢ ، مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ١٩٣٣٥ ، صحيح ابن حبان رقم ٤٣١٢ ، الجهاد لابن المبارک رقم الحديث ٤٦ .

(٢) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٧٠٨٤ ، سنن النسائي رقم الحديث ٤٠٨٦ قال الالباني : صحيح . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٧٦٣٤ ، کنزالعمال رقم الحديث ١١١٩٨ .

Scanned with CamScanner

وَادْخُلِي جَنَّتِي ﴾. (١)

ترجمه : اې مُطمئِن نفسه ! ته خپل رَب طرف ته واپس شه ، په داسې حال کې چې ته د هغه نه راضي يې او هغه د تا نه راضي دى ، پس ته زما په نېکانو بندګانو کې شامل شه ، او زما جنت ته داخل شه . (٢)

## په آخري وخت کې " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " ويلو سره جنت واجب کېدل

د وفات کېدو په وخت چې د چا آخري خبرې " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " وي نو د داسې کس د پاره جنت واجب دى .

١ . رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (٣)

---

(١) الفجر آية ٢٧ تا ٣٠ .

(٢) {يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ} الْآمِنَة وَهِيَ الْمُؤْمِنَة {ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ} يُقَال لَهَا ذَلِكَ عِنْدَ الْمَوْتِ أَيْ ارْجِعِي إِلَى أَمْره وَإِرَادَتِهِ {رَاضِيَةً} بِالثَّوَابِ {مَرْضِيَّةً} عِنْدَ اللهِ بِعَمَلِك أَيْ جَامِعَة بَيْنَ الْوَصْفَيْنِ وَهُمَا حَالَانِ وَيُقَال لَهَا فِي الْقِيَامَة {فَادْخُلِي فِي} جُمْلَة {عِبَادِي} الصَّالِحِينَ {وَادْخُلِي جَنَّتِي} معهم . تفسير الجلالين ص ٨٠٧ الفجر آية ٢٧ تا ٣٠ .

قَوْلُهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿ يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴾ . إِلَى مَا وَعَدَ اللهُ المصدقة بما قال الله. قَالَ مُجَاهِدٌ: الْمُطْمَئِنَّةُ الَّتِي أَيْقَنَتْ أَنَّ اللهَ تَعَالَى رَبُّهَا وَصَبَرَتْ جَأْشًا لِأَمْرِهِ وَطَاعَتِهِ. وَقَالَ الْحَسَنُ: الْمُؤْمِنَةُ الْمُوْقِنَةُ. وَقَالَ عَطِيَّةُ: الرَّاضِيَةُ بِقَضَاءِ اللهِ تَعَالَى. وَقَالَ الْكَلْبِيُّ الْآمِنَةُ مِنْ عَذَابِ اللهِ. وَقِيلَ الْمُطْمَئِنَّةُ بِذِكْرِ اللهِ، بَيَانُهُ قَوْلُهُ: وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللهِ [ الرعد: ٢٨ ] . وَاخْتَلَفُوا فِي وَقْتِ هَذِهِ الْمَقَالَةِ. فَقَالَ قَوْمٌ: يُقَالُ لَهَا ذَلِكَ عِنْدَ الْمَوْتِ فَيُقَالُ لَهَا: ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ إِلَى اللهِ. رَاضِيَةً. بِالثَّوَابِ. مَرْضِيَّةً. عَنْكِ . وَقَالَ الْحَسَنُ: إِذَا أَرَادَ اللهُ قَبْضَهَا اطْمَأَنَّتْ إِلَى اللهِ وَ رَضِيَتْ عَنِ اللهِ وَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. قَالَ عَبْدُ اللهِ بنُ عَمْرٍو: إِذَا تُوُفِّيَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ أَرْسَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مَلَكَيْنِ وَأَرْسَلَ إِلَيْهِ بِتُحْفَةٍ مِنَ الْجَنَّةِ. فيقال لها: اُخْرُجِي أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ. اُخْرُجِي إِلَى رَوْحٍ وَرَيْحَانٍ وَ رَبٍّ عَنْكِ رَاضٍ. فَتَخْرُجُ كَأَطْيَبِ رِيحِ مِسْكٍ وَجَدَهُ أَحَدٌ فِي أَنْفِهِ.... تفسير البغوي ج ٥ ص ٢٥٣ سورة الفجر .

(٣) مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٢١٢٧ ، ورقم الحديث ٢٢٠٣٣ ، شعب الايمان رقم الحديث ٨٧٩٨ .

Scanned with CamScanner

د چا چې آخري خبره " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " وي نو دده د پاره جنت واجب شو .

**٢** . دا حديث داسې هم نقل دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " دَخَلَ الْجَنَّةَ . (١)

د چا آخري خبره چې " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " وي نو دا به جنت ته داخليږي .

## د جنت چابي " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " او نيک اعمال دي

په بخاري شريف کې دا خبره ذکرده چې د وَهب بن منبِّه رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه اوشوه :

أَلَيْسَ " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ؟

آيا " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " د جنت چابي نده ؟

ده ورته وويل : بَلَى، وَلَكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلَّا لَهُ أَسْنَانٌ . فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فُتِحَ لَكَ، وَإِلَّا لَمْ يُفْتَحْ لَكَ .

او " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " د جنت چابي ده خو ليکن د هرې چابۍ غاښونه وي ، پس که چيرته ته د غاښونو واله چابي راوړی نو تا ته به جنت کلاؤ کړې شي ، او که را يې نه وړی نو درته کلاؤولې به نشي . (٢)

---

(١) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابٌ فِي التَّلْقِينِ رقم الحديث ٣١١٦ قال الالباني: صحيح . مسند البزار رقم الحديث ٢٦٢٦ ، الدعاء للطبراني رقم الحديث ١٤١٧ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٢٢١ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١٢٩٩ وقال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرّجاه ، و وافقه الذهبي . و رقم الحديث ١٨٤٣ . شعب الايمان رقم الحديث ٩٣ ، و رقم الحديث ٨٨٠٠ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ١٦٢١(٦) .

(٢) وَقِيلَ لِوَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ رَحِمَهُ اللهُ : أَلَيْسَ " لَآ إِلٰهَ إِلَّا اللهُ " مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: بَلَى، وَلَكِنْ لَيْسَ مِفْتَاحٌ إِلَّا لَهُ أَسْنَانٌ . فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ فُتِحَ لَكَ، وَإِلَّا لَمْ يُفْتَحْ لَكَ . صحيح البخاري كِتَابُ الْجَنَائِزِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْجَنَائِزِ، وَمَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ .

( فَإِنْ جِئْتَ بِمِفْتَاحٍ لَهُ أَسْنَانٌ ) أي وأسنان هذا المفتاح فعل ما أمر الله تعالى به وترک ما نهى الله عنه . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري

Scanned with CamScanner

په څنې احادیثو کې د جنت چابي مانځه ته ویل شوی. (١)

## د چا په زړه کې چې زَره برابر اِیمان وي په آخِر کې به هغه هم د جهنم نه راویستلې شي، او جنت ته به داخلولې شي

که د چا په زړه کې ذَره برابر اِیمان وي نو اګرچې د ګناهونو نه د صفا کولو په خاطر به ده ته په جهنم کې سزا ورکولې شي خو بیا به هم آخر د جهنم نه راویستلې شي، او جنت ته به داخلولې شي.

البته کافِر به هیڅ کله د جهنم نه نشي راویستلی، بلکه دائمي به په جهنم کې وي.

**١. د بخاري شریف او مسلم شریف حدیث دی، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي:**

کله چې جنتیان جنت ته او جهنمیان جهنم ته داخل شي نو الله تعالی به (فرښتوته) اوفرمایي:

أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ.

تاسو د جهنم نه هغه کس هم رااُوباسئ چې د هغه په زړه کې د اُوري د دانې برابر اِیمان وي.

پس دا خلق به د جهنم نه رااُوویستلې شي، دوی به د سوَزیدو په وجه تَک تور شوي وي، پس دوی به په نهرِ حیات کې واچولې شي، نو دوی به ورنه داسې تروتازه (خوشحال) رااُووځي لکه څنګه چې د سیلاب په غاړه باندې په خځله کې پرَته دانه زَر رازرغونه شي، آیا ته نه ګورې چې دا دانه ټکه زیړه او تازه وي. (٢)

---

(١) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِفْتَاحُ الْجَنَّةِ الصَّلَاةُ، وَمِفْتَاحُ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ». مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٤٦٦٢ مُسْنَدُ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الطَّهَارَةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ أَنَّ مِفْتَاحَ الصَّلَاةِ الطُّهُورُ رقم الحديث ٤ قال الالباني: صحيح لغيره. المعجم الاوسط رقم الحديث ٤٣٦٣، مشكاة المصابيح رقم الحديث ٢٩٤(١٢).

(٢) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ، وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ». ثُمَّ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: «أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ ←←←

Scanned with CamScanner

۲. په بخاري شريف او مسلم شريف کې اوږد حديث ذکر دی، په هغې کې دا هم دي چې انبياء کرام، فرښتې، او مؤمنان به د ګناهګارانو مؤمنانو شفاعت اوکړي، بيا به الله تعالى اوفرمايي:

شَفَعَتِ الْمَلَائِكَةُ، وَشَفَعَ النَّبِيُّوْنَ، وَشَفَعَ الْمُؤْمِنُوْنَ، وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ.

فرښتو شفاعت اوکړو، انبياء کرامو هم شفاعت اوکړو، او مؤمنانو هم شفاعت اوکړو، اوس صرف أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ ذات پاتې دی.

فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنَ النَّارِ، فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَمْ يَعْمَلُوْا خَيْرًا قَطُّ...

نو الله تعالى به د جهنم نه يو مُوټې راډک کړي او ددينه به هغه خلق هم راأوباسي چې هغوى به (د ايمان راوړو نه علاوه بل) هيڅ نيک کار نه وي کړى.... او بيا به يې جنت ته داخل کړي.(۱)

←←← مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيْمَانٍ. فَيُخْرَجُوْنَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوْا، فَيُلْقَوْنَ فِيْ نَهَرِ الْحَيَا، أَوِ الْحَيَاةِ ـ شَكَّ مَالِكٌ ـ فَيَنْبُتُوْنَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِيْ جَانِبِ السَّيْلِ، أَلَمْ تَرَ أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً». صحيح البخاري كِتَابُ الإِيمَانِ بَابُ: تَفَاضُلِ أَهْلِ الإِيمَانِ فِي الأَعْمَالِ رقم الحديث ٢٢، و رقم الحديث ٦٥٦٠ كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ صِفَةِ الجَنَّةِ وَالنَّارِ. صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ إِثْبَاتِ الشَّفَاعَةِ وَإِخْرَاجِ الْمُوَحِّدِينَ مِنَ النَّارِ رقم الحديث ٣٠٤ (١٨٤). مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق باب الحوض والشفاعة الفصل الأول رقم الحديث ٥٥٨٠(١٥).

(١) ..... فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ، مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ بِأَشَدَّ مُنَاشَدَةً لِلّٰهِ فِي اسْتِقْصَاءِ الْحَقِّ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لِلّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ، يَقُوْلُوْنَ: رَبَّنَا كَانُوْا يَصُوْمُوْنَ مَعَنَا وَيُصَلُّوْنَ وَيَحُجُّوْنَ، فَيُقَالُ لَهُمْ: أَخْرِجُوْا مَنْ عَرَفْتُمْ، فَتُحَرَّمُ صُوَرُهُمْ عَلَى النَّارِ، فَيُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِيْرًا قَدِ أَخَذَتِ النَّارُ إِلَى نِصْفِ سَاقَيْهِ، وَإِلَى رُكْبَتَيْهِ، ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ: رَبَّنَا مَا بَقِيَ فِيْهَا أَحَدٌ مِمَّنْ أَمَرْتَنَا بِهِ، فَيَقُوْلُ: ارْجِعُوْا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالَ دِيْنَارٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوْهُ، فَيُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِيْرًا، ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ: رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيْهَا أَحَدًا مِمَّنْ أَمَرْتَنَا، ثُمَّ يَقُوْلُ: ارْجِعُوْا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالَ نِصْفِ دِيْنَارٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوْهُ، فَيُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِيْرًا، ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ: رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيْهَا مِمَّنْ أَمَرْتَنَا أَحَدًا، ثُمَّ يَقُوْلُ: ارْجِعُوْا فَمَنْ وَجَدْتُمْ فِيْ قَلْبِهِ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ فَأَخْرِجُوْهُ، فَيُخْرِجُوْنَ خَلْقًا كَثِيْرًا ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ: رَبَّنَا لَمْ نَذَرْ فِيْهَا خَيْرًا"، وَكَانَ أَبُوْ سَعِيْدٍ الْخُدْرِيُّ يَقُوْلُ: إِنْ لَمْ تُصَدِّقُوْنِيْ بِهَذَا الْحَدِيْثِ فَاقْرَءُوْا إِنْ شِئْتُمْ: {إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضَاعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَدُنْهُ ←←←←←←←

# د مذکوره ټولو اعمالو قبليدو د پاره شرائط

مخکې چې دا څومره نيک اعمال ذکر شو نو ددې هر عمل په وجه انسان د جنت مستحق کرځي خو ددې د پاره څه شرائط دي ؛ ځکه بغير ددې شرائطو نه په دې سره انسان د جنت مستحق نه کرځي .

**اول شرط : اسلام راوړل او د شرک نه ځان ساتل** : اولنې شرط دادی چې دا عمل کوونکی به مسلمان وي اوّ د شِرک نه به ځان ساتي ؛ ځکه که چا ايمان نه وي راوړی يا په شِرک کې مبتلاء وي نو بيا دا اعمال ده ته په آخرت کې هيڅ فائده نه ورکوي .
الله تعالی فرمايي :

﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾ .(١)

که چيرته تا شِرک اوکړو نو خامخا ستا ټول عملونه به برباد شي او ته به د نقصان مومندونکو نه شې .

---

←←←← أَجْرًا عَظِيمًا} [النساء : ٤٠] ، فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ : شَفَعَتِ الْمَلَائِكَةُ، وَشَفَعَ النَّبِيُّونَ ، وَشَفَعَ الْمُؤْمِنُونَ، وَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنَ النَّارِ، فَيُخْرِجُ مِنْهَا قَوْمًا لَمْ يَعْمَلُوا خَيْرًا قَطُّ قَدْ عَادُوا حُمَمًا، فَيُلْقِيهِمْ فِي نَهَرٍ فِي أَفْوَاهِ الْجَنَّةِ يُقَالُ لَهُ : نَهَرُ الْحَيَاةِ، فَيَخْرُجُونَ كَمَا تَخْرُجُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ، أَلَا تَرَوْنَهَا تَكُونُ إِلَى الْحَجَرِ ، أَوْ إِلَى الشَّجَرِ، مَا يَكُونُ إِلَى الشَّمْسِ أُصَيْفِرُ وَأُخَيْضِرُ، وَمَا يَكُونُ مِنْهَا إِلَى الظِّلِّ يَكُونُ أَبْيَضَ؟ " فَقَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ، كَأَنَّكَ كُنْتَ تَرْعَى بِالْبَادِيَةِ ، قَالَ : " فَيَخْرُجُونَ كَاللُّؤْلُؤِ فِي رِقَابِهِمُ الْخَوَاتِمُ. يَعْرِفُهُمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ هَؤُلَاءِ عُتَقَاءُ اللهِ الَّذِينَ أَدْخَلَهُمُ اللهُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ عَمَلٍ عَمِلُوهُ، وَلَا خَيْرٍ قَدَّمُوهُ، ثُمَّ يَقُولُ: ادْخُلُوا الْجَنَّةَ فَمَا رَأَيْتُمُوهُ فَهُوَ لَكُمْ، فَيَقُولُونَ : رَبَّنَا، أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ، فَيَقُولُ: لَكُمْ عِنْدِي أَفْضَلُ مِنْ هَذَا، فَيَقُولُونَ : يَا رَبَّنَا، أَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ هَذَا ؟ فَيَقُولُ : رِضَايَ، فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا " . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ مَعْرِفَةِ طَرِيقِ الرُّؤْيَةِ رقم الحديث ٣٠٢ (١٨٣) . صحيح البخاري كِتَابُ التَّوْحِيدِ بَابُ قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: {وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ} [ القيامة: ٢٣] رقم الحديث ٧٤٣٩ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١١٨٩٨ . مشكاة المصابيح كتاب أحوال القيامة وبدء الخلق باب الحوض والشفاعة الفصل الأول رقم الحديث ٥٥٧٩(١٢) .

(١) الزمر آية ٦٥ .

Scanned with CamScanner

بل ځای فرمايي :

﴿ وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنۡ عَمَلٍ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴾. (١)

ترجمه : او مونږ به متوجّه شو ددې کافرانو هغه اعمالو طرف ته کوم چې دوی کړي دي نو مونږ به دا ورله د خوَرو شوو ذَرو په شان اُوگرځوو (يعنی د اَلوتونکي گرد په شان به يې ورله ختم کړو).

**دويم شرط : د نبي عليه السلام اِتباع کول** : د مذکوره اعمالو د قبوليت د پاره دويم شرط دادی چې دا کس به د نبي عليه السلام اِتباع کوي ، او دا هر عمل به د هغوی د طريقې موافق کوي ؛ ځکه د الله ﷻ په نزد د انسان هغه عبادات او اعمال مقبول دي کوم چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د طريقې او سُنتو موافق شوي وي.

اوس که کوم اعمال د پيغمبر عليه السلام د اِتباع او سنتو خلاف شوي وي نو دا اَعمال نه خو د الله ﷻ په نزد مقبول دي او نه د الله ﷻ د نزديکت ذريعه گرځي ، بلکه اُلټه انسان د الله ﷻ نه لرې کوي.

١. د مسلم شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَنۡ عَمِلَ عَمَلًا لَيۡسَ عَلَيۡهِ أَمۡرُنَا فَهُوَ رَدٌّ. (٢)

چا چې داسې يو عمل اوکړو چې په هغې باندې زمونږ حکم نه وُ نو هغه مردود (او باطل) دی.

٢. بلکه څوک چې د نبي عليه السلام د طريقې خلاف روان وي هغه گمراه دی :

حضرت عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم زمونږ د پوهَولو

---

(١) الفرقان آية ٢٣.

(٢) صحيح مسلم كِتَابُ الْأَقْضِيَةِ بَابُ نَقْضِ الْأَحْكَامِ الْبَاطِلَةِ، وَرَدِّ مُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ رقم الحديث ١٨ (١٧١٨).

وفي رواية : عَنۡ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا، قَالَتۡ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ : « مَنۡ أَحۡدَثَ فِي أَمۡرِنَا هَذَا مَا لَيۡسَ فِيهِ فَهُوَ رَدٌّ » . صحيح البخاري كِتَابُ الصُّلۡحِ بَابُ إِذَا اصۡطَلَحُوا عَلَى صُلۡحِ جَوۡرٍ فَالصُّلۡحُ مَرۡدُودٌ رقم الحديث ٢٦٩٧.

Scanned with CamScanner

د پاره مونږ ته يو نيغ خط (کرخه) راښکود ، بيا يې راته وفرمايل :

هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ . دا د الله ﷻ لاره ده .

بيا نبي ﷺ د هغې خط (کرخې) خې طرف او چپ طرف (وړې او کږې اُووه) نورې کرخې راښکودی او وې فرمايل :

هٰذِهٖ سُبُلٌ عَلٰى كُلِّ سَبِيْلٍ مِّنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُوْا إِلَيْهِ .

داهم لارې دي په دې کې په هره لاره باندې شيطان ناست دی چې خپلې لارې ته بلنه ورکوي .

بيا پيغمبر عليه السلام دا آيت تلاوت کړو :

﴿ وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ﴾.(١)

ترجمه : او بيشکه دا (دينِ اسلام او ددې ټول حکمونه) زما لاره ده کومه چې (بيخي) نيغه ده ، پس تاسو ددې پيروي کوئ او د نورو لارو پيروي مه کوئ ، چې دا نورې لارې به تاسو د الله ﷻ د لارې نه جدا کړي .(٢)

**دريم شرط : هر عمل په اِخلاص باندې کول** : د مذکوره اعمالو د قبوليت د پاره دريم شرط دادی چې دې کس به دا عمل په اِخلاص باندې (يعنی خاص د الله ﷻ د رضا د پاره) کړې وي ؛ ځکه که کوم عمل د رِيا ، شهرت او ځان ښودنې د پاره اُوشي نو هغه نه قبليږي .

رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :

---

(١) الانعام آية ٥٣ .

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه ، قَالَ : خَطَّ لَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطًّا ، ثُمَّ قَالَ : « هٰذَا سَبِيْلُ اللهِ » ، ثُمَّ خَطَّ خُطُوْطًا عَنْ يَمِيْنِهٖ وَعَنْ شِمَالِهٖ ، ثُمَّ قَالَ : " هٰذِهٖ سُبُلٌ عَلٰى كُلِّ سَبِيْلٍ مِّنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُوْ إِلَيْهِ " ، ثُمَّ قَرَأَ : ( وَأَنَّ هٰذَا صِرَاطِيْ مُسْتَقِيْمًا فَاتَّبِعُوْهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيْلِهٖ ) . مسند احمد مخرجا مُسْنَدُ الْمُكْثِرِيْنَ مِنَ الصَّحَابَةِ مُسْنَدُ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ رقم الحديث ٤١٤٢ . مشكاة المصابيح كتاب الإيمان بَابُ الاعْتِصَامِ بِالْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ١٦٦(٢٧) .

Scanned with CamScanner

.... إِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ . (١)

بیشکه الله ﷻ صرف هغه عمل قبلوي کوم چې خالص د هغه د رَضا د پاره شوې وي .

## د جنت ګټلو د پاره مشقت برداشت کول ضروري دي

د جنت ګټلو د پاره دا ضروري ده چې انسان به د عباداتو مشقتونه برداشت کوي ځکه جنت په تکلیفونو او مشقتونو کې ګیر دی .

١ . د بخاري شریف حدیث دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ ، وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ . (٢)

پټ کړې شوې دی جهنم په شهوتونو باندې ( یعنی شهوتونو وریاندې اِحاطه کړې ) ، او پټ کړې شوې دی جنت په مشقتونو باندې . ( یعنی د عباداتو مشقتونو وریاندې اِحاطه کړې ) . (٣)

٢ . په مسلم شریف کې دا حدیث داسې ذکر دی ، رسول الله ﷺ فرمایي :

حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ ، وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ .

---

(١) پوره حدیث داسې دی : عَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقَالَ : أَرَأَيْتَ رَجُلًا غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ ، مَالَهُ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا شَيْءَ لَهُ » فَأَعَادَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، يَقُولُ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا شَيْءَ لَهُ » ثُمَّ قَالَ : « إِنَّ اللهَ لَا يَقْبَلُ مِنَ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا ، وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ » . سنن النسائي كِتَابُ الْجِهَادِ مَنْ غَزَا يَلْتَمِسُ الْأَجْرَ وَالذِّكْرَ رقم الحديث ٣١٤٠ قال الالباني : حسنٌ صحيحٌ . صحيح الترغيب والترهيب رقم الحديث ١٣٣١ (۴) الترغيب في اخلاص النية في الجهاد ... اسد الغابة ج۴ ص ٢١١ لاحق بن ضميرة الباهلي ، قال الحافظ في الفتح ٦/٣٥ اسناده جيد ، و حسنه الحافظ العراقي في تخريج الاحياء ، معرفة الصحابة لابي نعيم رقم ٦٥٨٧ ، المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ۴٥٨ رقم الحديث ٢٠٧١ .

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابٌ : حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ رقم الحديث ٦۴٨٧ . مشكاة المصابيح كتاب الرقاق الفصل الأول رقم الحديث ٥١٦٠ (٦) .

(٣) ( حُجِبَتِ النَّارُ ) أَيْ : أُحِيطَتْ ( بِالشَّهَوَاتِ ) كَالْخَمْرِ وَالزِّنَا ، ( وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ ) كَالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ . مرقاة المفاتيح ج ٨ ص ٣٢٢٨ بَابٌ : حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

Scanned with CamScanner

راګېر کړې شوې دی جنت په مشقتونو سره ، او راګېر کړې شوې دی جهنم په شهوتونو سره .(۱)

**تشریح** : ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ د امام نووي رَحِمَهُ اللهُ په حواله ددې حدیث مطلب دا بیا ن کړی چې انسان جنت ته هله رسیدې شي چې کله دا دعباداتو کولو او حرامو نه د ځان ساتلو مشقت برداشت کړي ، ځکه جنت په دې مشقتونو کې ګېر دی ، لهذا څوک چې دا مشقت برداشت کړي نو جنت ته به داخل شي .

او جهنم د حرامو کارونو ( لکه زِنا ، غلا ، غیبت ... ) په شهوتونو کې ګېر دی ، څوک چې دې خلافِ شرع شهوتونو پسې ځي نو جهنم ته به داخلیږي .(۲)

۳ . د ابوداؤد شریف او مشکوة شریف حدیث دی ، رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي :

چې کله الله تعالی جنت پیدا کړو نو حضرت جبریل علیه السلام ته یې اوفرمایل :

اِذْهَبْ فَانْظُرْ اِلَيْهَا .

ته لاړ شه او هغې ته اوګوره . ( یعنی په هغې کې موجود نعمتونه اوګوره ) .

حضرت جبریل علیه السلام ورغی ، هغې ته ( او په هغې کې چې الله تعالی د جنتیانو د پاره کوم نِعمتونه تیار کړي وو هغې ته ) یې اُوکتل .

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الجَنَّةِ وَصِفَةِ نَعِيمِهَا وَأَهْلِهَا رقم الحدیث ۱(۲۸۲۲) . سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ الجَنَّةِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ حُفَّتِ الجَنَّةُ بِالمَكَارِهِ وَحُفَّتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ رقم الحدیث ۲۵۵۹ . سنن الدارمي رقم الحدیث ۲۸۸۵ . مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ۸۹۴۴ ، و رقم الحدیث ۱۲۵۵۹ ، صحیح ابن حبان رقم الحدیث ۷۱۶، و رقم الحدیث ۷۱۸ ، شعب الایمان رقم الحدیث ۹۳۳۸ .

(۲) قَالَ النَّوَوِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : مَعْنَاهُ لَا يُوْصَلُ إِلَى الجَنَّةِ إِلَّا بِارْتِكَابِ المَكَارِهِ ، وَلَا يُوْصَلُ إِلَى النَّارِ إِلَّا بِارْتِكَابِ الشَّهَوَاتِ، وَكَذَلِكَ هُمَا مَحْجُوْبَتَانِ بِهِمَا. فَمَنْ هَتَكَ الحِجَابَ وَصَلَ إِلَى المَحْجُوْبِ. فَهَتْكُ حِجَابِ الجَنَّةِ بِاقْتِحَامِ المَكَارِهِ، وَهَتْكُ حُجُبِ النَّارِ بِارْتِكَابِ الشَّهَوَاتِ، وَأَمَّا المَكَارِهُ فَيَدْخُلُ فِيهَا الإِجْتِهَادُ وَالعَادَاتُ، وَالمُوَاظَبَةُ عَلَى الطَّاعَاتِ، وَالصَّبْرُ عَنِ الشَّهَوَاتِ ، وَنَحْوُ ذَلِكَ. وَأَمَّا الشَّهَوَاتُ الَّتِي النَّارُ مَحْفُوْفَةٌ بِهَا فَالظَّاهِرُ أَنَّهَا الشَّهَوَاتُ المُحَرَّمَةُ كَالخَمْرِ وَالزِّنَا وَالغِيْبَةِ وَنَحْوِ ذَلِكَ ، وَأَمَّا الشَّهَوَاتُ المُبَاحَةُ فَلَا تَدْخُلُ فِي هَذَا . مرقاة المفاتیح ج ۸ ص ۳۲۲۸ بَابٌ: حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ

Scanned with CamScanner

بيا واپس راغی او الله ﷻ ته يې عرض اوکړو :

أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا .

اې ربه ! زما دې ستا په عزت باندې قسم وي (په دې کې خو داسې بهترين نعمتونه دي) څوک چې د دې حال واوري نو ضرور به دېته د داخليدو کوشش کوي .

بيا الله تعالی جنت لره په مشقتونو کې راګېر کړو (يعنی ګېر چاپېره يې ورنه د عباداتو کولو مشقتونه مقرر کړل) ، بيا يې حضرت جبريل عليه السلام ته اوفرمايل :

يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا .

اې جبريل ! ته (دوباره) ورشه او جنت اُوګوره .

نو حضرت جبريل عليه السلام ورغی ، وې کتلو ، واپس راغی او عرض يې اوکړو :

أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ .

اې ربه ! زما دې ستا په ذات عزت باندې قسم وي ما سره دا يَره ده چې هيڅوک به دېته داخل نشي . (ځکه د دېنه ګېرچاپېره د عباداتو کولو مشقتونه دي کوم چې نفس ته ګران دي)

نبي عليه السلام اوفرمايل : همدغه شان چې کله الله تعالی جهنم پيدا کړو نو حضرت جبريل عليه السلام ته يې اوفرمايل :

يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . اې جبريل ! لاړ شه ، او جهنم اُوګوره .

حضرت جبريل عليه السلام ورغی ، او هغې ته يې اُوکتل ( چې ډېر سخت عذابونه په کې مقرر شوي وو ) .

حضرت جبريل عليه السلام واپس راغی او الله ﷻ ته يې عرض اوکړو :

أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا .

اې ربه ! زما دې ستا په عزت باندې قسم وي هر څوک چې د دې جهنم حالت واوري نو دېته د داخليدو نه به ځان ساتي .

پس الله تعالی جهنم لره په شهوتونو سره راګېر کړو . بيا يې حضرت جبريل عليه السلام ته اوفرمايل :

يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا .

Scanned with CamScanner

اې جبریل ! ته (دوباره) لاړ شه او اوس یې اوګوره.

حضرت جبریل علیه السلام ورغی ، هغې ته یې اُوکتل (چې ګېر چاپېره ورنه ناجائزو شهوتونو اِحاطه کړې وه) ، نو واپس راغی او الله ﷻ ته یې عرض اوکړو :

أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا .

اې ربه ! زما دې ستا په عزت باندې قسم وي چې اوس د ما سره دا یَره ده چې هیڅوک به بچ پاتې نشي مګر هر کس به دیته داخل شي (ځکه ددینه ګېرچاپېره دُنیوي ناجائز شهوتونه دي او نفس دې طرف ته میلان کوي). (۱)

## په دُنیا کې تکلیفونه او اِمتحانات خامخا راځي

د جنت ګټلو د پاره دا هم ضروري ده چې که د دِین په لاره کې په مسلمان باندې څه تکلیفونه او اِمتحانات راشي نو په دې باندې به صبر او اِستقامت کوي ؛ ځکه دنیا دارُ الإمتحان او دارُ الإبتلاء ده ، په دې کې چې مسلمان ژوند تیروي نو په ده باندې به خامخا امتحانات راځي : مالدار وي یا غریب ، حاکِم وي یا محکوم ، صحیح وي یا بیمار ، ښائسته وي یا بدرنګ په دې هر کس باندې امتحانات راځي :

الله تعالى فرمايي :

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : " لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرِيْلَ : اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا، فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا، ثُمَّ جَاءَ، فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا . ثُمَّ حَفَّهَا بِالْمَكَارِهِ، ثُمَّ قَالَ : يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ . قَالَ : فَلَمَّا خَلَقَ اللهُ النَّارَ قَالَ : يَا جِبْرِيْلُ ! اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا . فَحَفَّهَا بِالشَّهَوَاتِ . ثُمَّ قَالَ : يَا جِبْرِيْلُ اِذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا . فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا، ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ : أَيْ رَبِّ ! وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيْتُ أَنْ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا . سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِي خَلْقِ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ رقم الحديث ۴۷۴۴ قال الالباني: حسن صحيح . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۸۶۴۸ . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ۷۲ . مشکاة المصابيح باب خلق الجنة والنار الفصل الثاني رقم الحديث ۵۶۹۶(۳) ، البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۱۶۷ ، کنزالعمال رقم الحديث ۳۹۵۶۳ .

Scanned with CamScanner

﴿ وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗۖ ﴾ (۱)

ترجمه: او مونږ د امتحان په طور تاسو په سختئ او راحت سره آزمايو.

بل ځای الله ﷻ فرمايي:

﴿ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ﴾ (۲)

ترجمه: آيا دې خلقو دا خيال اوکړو چې دوی به صرف په دې خبره پريخودې شي چې دوی وايي " مونږ ايمان راوړې دی " او دوی به (نور) نشي آزمائلی؟ (بلکه خامخا به ورباندې امتحانات راځي).

د امتحانانو دا سلسله صرف په دې اُمت باندې نده، بلکه په هر دوَر کې چې چا د الله ﷻ د محبت دعولی کړې ده نو په هغه باندې امتحانات راغلي دي. ربِّ کريم فرمايي:

﴿ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴾ (۳)

ترجمه: او البته مونږ د دوی نه په وړاندې خلقو باندې هم آزميښت کړې وُ، نو الله ﷻ به ضرور ريښتيني او دروغجن خلق (جدا جدا) ښکاره کړي. (۴)

## الله ﷻ ته مُقرّبو خلقو باندې امتحانات ډير راځي

څومره چې يو انسان الله ربّ العزت ته ډير مُقرّب وي او په دِين کې ډير مضبوط وي نو همدومره په هغه باندې غټ غټ امتحانات هم ډير راځي.

دا خبره زه د ځان نه نه کوم، بلکه په صحيح احاديثو کې ذکر ده:

۱. حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمايي چې ما د نبي کريم ﷺ نه پوښتنه اوکړه:

---

(۱) الانبياء آية ۳۵.

(۲) العنکبوت آية ۲.

(۳) العنکبوت آية ۳.

(۴) بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَمۡ حَسِبۡتُمۡ أَن تَدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ وَلَمَّا يَأۡتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوۡاْ مِن قَبۡلِكُمۖ مَّسَّتۡهُمُ ٱلۡبَأۡسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلۡزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصۡرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصۡرَ ٱللَّهِ قَرِيبٞ ﴾ البقرة آية ۲۱۴.

Scanned with CamScanner

يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً ؟

اې د الله رسوله ! په کومو خلقو باندې سخت امتحانات راځي ؟

نبي عليه السلام اوفرمايل :

اَلْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ، يُبْتَلَى الْعَبْدُ عَلَى حَسَبِ دِيْنِهِ ، فَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ صُلْبًا اِشْتَدَّ بَلَاؤُهُ ، وَإِنْ كَانَ فِيْ دِيْنِهِ رِقَّةٌ اُبْتُلِيَ عَلَى حَسَبِ دِيْنِهِ ، فَمَا يَبْرَحُ الْبَلَاءُ بِالْعَبْدِ حَتَّى يَتْرُكَهُ يَمْشِيْ عَلَى الْأَرْضِ ، وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيْئَةٍ . (١)

ډير امتحانات په انبياء کرامو راځي ، بيا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډير نزدې وي په هغه باندې سخت امتحانات راځي ، په انسان باندې د دِين موافق امتحان راځي : پس که دا په خپل دِين کې مضبوط وي ( ايمان يې قوي وي ) نو امتحان يې هم سخت وي ، او که په دين کې سست او کمزورې وي نو د خپل دِين موافق په امتحان کې ازماٸلې شي ( يعنی ددې موافق امتحان وربانديې راځي ) ، هميشه د پاره په يو انسان باندې امتحان او مصيبتونه راځي تر دې چې دې بيا په زمکه روان وي خو په ده باندې هيڅ گناه نه وي پاتی (بلکه ټول گناهونه يې ددې مصيبتونو په وجه معاف شوي وي ) .

٢ . همدا مضمون په يو بل حديث کې هم ذکر شوی : رسولُ الله ﷺ فرمايي :

---

(١) سنن ابن ماجة رقم الحديث ٤٠٢٣ كِتَابُ الْفِتَنِ بَابُ الصَّبْرِ عَلَى الْبَلَاءِ. قال الالباني: حسن صحيح . سنن الترمذي أَبْوَابُ الزُّهْدِ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّبْرِ عَلَى البَلَاءِ رقم الحديث ٢٣٩٨ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. السنن الكبرى للنسائي رقم ٧٤٣٩ أيّ النّاس أشدّ بلاء؟ صحيح ابن حبان رقم الحديث ٢٩٠٠ . و رقم ٢٩٢٠ ، المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ١٢٠ وقال الحاكم : وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ ، ور قم ١٢١ ، شعب الايمان رقم ٩٣١٨ ، صحيح الترغيب والترهيب رقم ٣٤٠٢ (٩) الترغيب في الصبر سيّما لمن ابتلي في نفسه او ماله .

وفي روايةٍ : عَنْ سَعْدٍ رضي الله عنه . قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلَاءً ؟ قَالَ : اَلْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ، يُبْتَلَى النَّاسُ عَلَى قَدْرِ دِيْنِهِمْ ، فَمَنْ ثَخُنَ دِيْنُهُ اِشْتَدَّ بَلَاؤُهُ ، وَمَنْ ضَعُفَ دِيْنُهُ ضَعُفَ بَلَاؤُهُ ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُصِيْبُهُ الْبَلَاءُ حَتَّى يَمْشِيَ فِي النَّاسِ مَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ . صحيح ابن حبان مخرجا ←←← ←←← ذِكْرُ الْبَيَانِ بِأَنَّ الْمُسْلِمَ كُلَّمَا ثَخُنَ دِيْنُهُ كَثُرَ بَلَاؤُهُ ، وَمَنْ رَقَّ دِيْنُهُ خُفِّفَ ذَلِكَ عَنْهُ رقم الحديث ٢٩٢٠ . قال الالباني: صحيح . الصحيحة ١٤٣ . المتجر الرابح في ثواب العمل الصالح ص ٣٨٨ ثواب الصبر على البلاء وان قلّ .

Scanned with CamScanner

أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . (۱)

ډېر سخت امتحانات په انبياء کرامو راځي ، بيا په نېکانو خلقو باندې راځي ، بيا درجه په درجه چې څوک دوی ته ډېر نزدې وي په هغه باندې سخت امتحانات راځي .

## په امتحاناتو صبر په کار دی ، ځکه په دې سره ګناهونه ختمېږي

که په انسان باندې څه مصيبت ، بيماري ، فقيري يا نور مشکلات راشي نو دا به د صبر او اِستقامت نه کار اخلي ، او په هر حالت کې به الله ﷻ طرف ته متوجِّه کېږي نو داسې انسان به په دواړه جهانه باندې کامياب وي . الله تعالی فرمايي :

﴿ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او مونږ به ضرور اُ وآزمايو تاسو په څه څيز د وېرې ، ولږې ، د مالونو ، ځانونو او ميوو په نقصان سره ، او ( اې پيغمبره ! ) ته زيرې ورکړه صبر کوونکو ته .

په امتحانانو سره د انسان ګناهونه ختمېږي .

د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا يُصِيْبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ . (۳)

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۶۲۹ ، مسند احمد رقم الحديث ۱۴۸۱ مُسْنَدُ أَبِي إِسْحَاقَ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، كنز العمال الكتاب الثالث في الأخلاق الفصل الثاني في تعديد الأخلاق المحمودة على ترتيب الحروف المعجمة .

وفي رواية : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْأَنْبِيَاءُ ، ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ فَالْأَمْثَلُ . المستدرک على الصحيحين ۵۴۶۳ مِحْنَةُ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

(۲) البقرة آية ۱۵۵ .

(۳) صحيح البخاري كِتَابُ الْمَرْضَى بَابُ مَا جَاءَ فِي كَفَّارَةِ الْمَرَضِ رقم الحديث ۵۶۴۱ .

وفي رواية : عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ رضي الله عنه ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . ←←←←

Scanned with CamScanner

کله هم چې يو مسلمان ته څه ستړي والې، بيماري، خفګان، ضرر او غم اورسي، تر دې چې اَزغې يې په خپه کې لاړ شي نو ددې هر يو په عوض کې الله ﷻ دده ګناهونه معاف کوي

## واقعه: مسلمان ته په تکليف رسيدو سره ګناه معاف کيږي

مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللهُ په خپلو مواعظو کې يوه واقعه رانقل کړې چې په يو ښار کې دوه کسان بيمار وو او دواړه قريبُ الموت وو: يو يهودي ؤ، او بل مسلمان ؤ.

د مرګ په دې آخري وخت کې ددې يهودي په زړه کې د ماهي خوړلو خواهش پيدا شو خو دده سره په کور کې چې د ماهيانو کوم تالاب ؤ په کې هغې کې ماهيان ختم شوي وو.

او د مسلمان په زړه کې د زيتون تېلو خوړلو خواهش پيدا شو، او دده سره په کور کې الماري کې د زيتونو تېل موجود هم وو.

الله تعالى دوه فرښتې اُوليږلې، يوې ته يې حکم اوکړو چې ته د بل ځای نه ماهي رااُونيسه او د يهودي د کور په تالاب کې يې پرېږده چې د هغه کورنۍ يې رااُونيسي او يهودي له يې پُوخ کړي چې د هغه د زړه خواهش پوره شي.

او بلې فرښتې ته يې حکم اوکړو چې ته ورشه او د مسلمان په الماري کې د زيتونو تېل ايخي دي هغه واړوه چې د مسلمان د زړه خواهش پوره نشي.

دواړه فرښتې رارواني شوې، په لاره کې دواړه فرښتې سره يو ځای شوې، د يو بل نه يې پوښتنه اوکړه چې ته د کوم کار پسې ځې؟ هرې يوې خپل خپل کار ذکر کړو، دوی تعجب اوکړو چې مونږ ته خو د متضاد کارونو حکم شوی.

بهر حال، فرښتو ته چونکه د الله تعالى حکم ؤ، دواړه لاړې او خپل خپل کار يې پوره کړل. کله چې واپس راغلې نو الله ﷻ ته يې عرض اوکړو:

اې ربه! مونږ خو ستا حکم پوره کړو خو دا خبره زمونږ په ذِهن کې نه راځي چې يو يهودي باوجود ددينه چې ستا نافرمانه ؤ د هغه سره ماهي نه ؤ خو تا بيا هم د هغه خواهش

---

←←← يَقُوْلُ: «مَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ وَصَبٍ، وَلَا نَصَبٍ، وَلَا سَقَمٍ، وَلَا حَزَنٍ حَتَّى الْهَمِّ يُهَمُّهُ إِلَّا كُفِّرَ بِهِ مِنْ سَيِّئَاتِهِ» . صحيح مسلم كتاب الْبِرِّ وَالصِّلَةِ وَالْآدَابِ بَابُ ثَوَابِ الْمُؤْمِنِ فِيمَا يُصِيبُهُ مِنْ مَرَضٍ، أَوْ حُزْنٍ، أَوْ نَحْوِ ذَلِكَ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا رقم الحديث ۵۲(۲۵۷۳) .

Scanned with CamScanner

پوره کړو ، او مسلمان باوجود ددينه چې ستا فرمانبردار وُ خو تا د هغه خواهش پوره نکړو، په دې کې څه حِکمت دی ؟

الله تعالی ورته اوفرمايل : تاسو زما په حِکمتونو باندې نه پوهيږې ، اصل خبره داده چې زما معامله د کافر سره جدا ده او د مسلمان سره جدا ده :

کافر هم په دُنيا کې ښه کارونه کوي ( مثلاً کله صدقه ورکوي ، کله د غريبانو خدمت کوي ) نو په آخرت کې خو د کافر دا کارونه مقبول ندي نو په دُنيا کې دده د اعمالو پوره بدله ورکوم چې همدلته ختم شي ، کله چې دا په آخرت کې ماته راځي نو د ښه کارونو هيڅ بدله يې نه وي پاتی .

او د مسلمان سره زما معامله داسې ده چې دده نه کوم گناهونه اوشي نو اکثر په دُنيا په ده باندې امتحان راولم چې په دې سره دده دا گناهونه ختم شي ، دا ددې د پاره چې د قيامت په ورځ دا زما مخې ته راځي چې هيڅ گناه وربانديې نه وي پاتی .

د هغه يهودي خواهش مې ځکه پوره کړو چې د هغه د ټولو ښو کارونو بدله ما ورته په دُنيا کې ورکړې وه ، صرف يو ښه عمل يې پاتې وُ نو چې کله د هغه د ماهي خوړلو ته شوق اوشو نو ما ورله دا خواهش هم پوره کړو ، دا ددې د پاره چې کله دا زما مخې ته راځي چې د ښو کارونو بدله يې ختمه شوي وي .

او د مسلمان خواهش مې ځکه پوره نکړو چې په بيمارۍ سره ما دده ټول گناهونه ختم کړي وو ، صرف يوه گناه يې پاتې وه حالانکه دا اوس ماته راروان وُ ، که دا په دې حالت کې ماته راغلې وی نو دا يوه گناه به دده په عملنامه کې پاتې وی ، خو چې کله په آخري وخت کې د هغه زيتونو تېلو خوړلو ته شوق پيدا شو او هغه ورسره په الماری کې موجود وو نو مونږ هغه ضائع کړل دا ددې د پاره چې په دې امتحان سره دده زړه غمجن شي او صبر اوکړي نو زه به يې هغه گناه هم معاف کړم . اوس چې دا ماته راځي نو د گناهونو نه به بالکل صفا وي . (١)

بهر حال ، په امتحاناتو او مصيبتونو سره د انسان گناهونه ختميږي او درجې يې اُوچتيږي .

---

(١) اصلاحي خطبات لمولانا مفتي تقي عثماني صاحب ج ٧ ص ١١٧ .

Scanned with CamScanner

جلد 5 22

# مؤمن ته چې په جنت کې یوه غوپه (او چکر) ورکړې شي نو د دُنیا ټول تکلیفونه به ورنه هېر شي

که مؤمن په دُنیا کې په دِین باندې عمل کولو په وجه ټول عُمر تکلیفونه برداشت کړي خو چې د قیامت په ورځ ده ته په جنت کې یوه غُوپه او چکر ورکړې شي نو د دُنیا ټول تکلیفونه به هېر کړي.

همدارنګې که د دُنیا یو مالدار انسان ټول عُمر په خوشحالۍ کې تېر کړي خو که د خپلو بدو اعمالو په وجه په جهنم کې یوه غوپه ورکړې شي نو د دُنیا ټولې خوشحالۍ به هېرې کړي.

د مسلم شریف حدیث دی، رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: چې د قیامت په ورځ به د دُنیا مالدارترین هغه کس راوستې شي کوم چې ټول عُمر په خوشحالۍ او راحت کې تیر کړې وي خو د خپلو بدو اعمالو په وجه به د جهنم مستحق ګرځیدلې وي، ده ته به په جهنم کې یوه غوپه ورکړې شي، بیا به دده نه پوښتنه اوکړې شي:

يَا ابْنَ آدَمَ! هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ؟

اې د آدم ځویه! آیا تا چیرته په دُنیا کې خېر (خوشحالي) لیدلی؟ آیا په تا باندې چیرته نِعمتونه تېر شوي؟

دا به ورته جواب ورکړي: لَا، وَاللهِ يَا رَبِّ.

نه، قسَم په الله، اې زما ربه. (په ما باندې هیڅ خوشحالي او نِعمت ندې تېر شوی).

بیا به داسې یو کس راوستې شي چې هغه په دُنیا کې ټول عُمر د امتحاناتو او سختۍ ژوند تېر کړې وي او د نېکو اعمالو په وجه د جنت مستحق ګرځیدلې وي، ده ته به په جنت کې یوه غُوپه ورکړې شي، بیا به دده نه پوښتنه اوشي:

يَا ابْنَ آدَمَ! هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ؟

آیا تا په دُنیا کې چیرته تکلیف لیدلی؟ آیا په تا باندې چیرته سختي تېره شوی؟

دا سړی به جواب ورکړي: لَا، وَاللهِ يَا رَبِّ مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ، وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ.

Scanned with CamScanner

نه قسَم په الله ، اې زما ربه . په ما باندې نه خو چيرته تکليف تېر شوی ، او نه ما چيرته سختي ليدلې .(۱)

**فائده** : ددې حديث نه معلومه شوه چې که په مسلمان باندې په دُنيا کې د نېکو اعمالو کولو په وخت څه تکليف راشي يا نور امتحانات ورباندې راشي او دده ژوند په همدغه شان سختۍ کې تېر شي خو چې کله دقيامت په ورځ په جنت کې يو چَکر ورکړې شي نو د دُنيا دا ټول تکليفونه به ورنه هېر شي ، او دائمي خوشحالي به يې نصيب شي .

## د جنت د طلب نه خلق غافل دي

باوجود ددينه چې جنت د هر چا خوَښ دی خو بيا هم خلق ددې د طلب کولو نه غافل دي .

د ترمذي شريف حديث دی ، رسولُ الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا ، وَلَا مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا .(۲)

ما د جهنم په شان سخت ترين ځای ندې ليدلی چې ددينه تَختيدونکي خلق اُوده (غافله) دي ، او د جنت په شان بهترين د نِعمتونو واله ځای مې ندې ليدلی چې ددې طلب کوونکي خلق اُوده دي .

---

(۱) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ، فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ، ثُمَّ يُقَالُ : يَا ابْنَ آدَمَ ! هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ ؟ فَيَقُولُ: لَا ، وَاللهِ يَا رَبِّ . وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ، فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ ، فَيُقَالُ لَهُ: يَا ابْنَ آدَمَ ! هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ ؟ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ ؟ فَيَقُولُ : لَا ، وَاللهِ يَا رَبِّ مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ ، وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ . صحيح مسلم كتاب صِفَةِ الْقِيَامَةِ وَالْجَنَّةِ وَالنَّارِ بَابُ صَبْغِ أَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا فِي النَّارِ وَصَبْغِ أَشَدِّهِمْ بُؤْسًا فِي الْجَنَّةِ رقم الحديث ۵۵(۲۸۰۷) . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۳۱۱۲ . سنن ابن ماجة رقم الحديث ۴۳۲۱ . البعث والنشور للبيهقي رقم الحديث ۴۳۶ . مشكاة المصابيح كتاب أَحْوَال الْقِيَامَة وبدء الْخلق بَاب صفة النار وَأَهْلِهَا الْفَصْل الأول رقم الحديث ۵۶۶۹(۵) . شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۴۴۰۴ . كنز العمال رقم ۳۹۵۱۳ .

(۲) سنن الترمذي أَبْوَابُ صِفَةِ جَهَنَّمَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۲۶۰۱ قال الالباني: حسنٌ . مسند البزار رقم الحديث ۹۷۱۹ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۱۶۳۸ ، شعب الايمان رقم الحديث ۳۸۳ ، و رقم الحديث ۳۸۴ . الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۵۳۲ . مشكاة المصابيح كتاب الرقاق بَاب الْبكاء وَالْخَوْف الْفَصْل الثَّانِي رقم الحديث ۵۳۳۶(۸) .

یعنې باوجود ددینه چې جهنم سخت ترین ځای دی خو خلق ورنه بیا هم ځان نه ساتي ، او باوجود ددینه چې جنت ډیر د نِعمتونو ځای دی خو بیا هم خلق ددې د طلب کولو نه غافِله دي .

## اوس په نالیدلو د جنت ګټل آسان دي

اوس چونکه زمونږ ایمان بِالغَیب دی نو جنت ګټل ډیر آسان دي ، په معمولي عمل سره هم جنت ګټلي شو خو که یو ځل د مرګ آثرات شروع شو یا د دُنیا نه مو سترګې پټې شوې نو بیا جنت ګټل ډیر ګران دي .

**واقعه** : ددې متعلق درته یوه واقعه ذکر کوم : د هارون الرشید په زمانه کې یو بزرګ ؤ په " بهلول دانا " باندې مشهور ؤ ، په ظاهره خلقو ته ساده او لیونې معلومیدو خو په حقیقت کې ډیر هوښیار ؤ . هارون الرشید بادشاه به دده سره کله کله خُوش طبعي کوله .

د هارون الرّشید بادشاه بي بي "زُبیده خاتون" هم ډیره دِینداره ښځه وه .

یوه ورځ هارون الرّشید د خپلې بي بي سره د سِیند په غاړه ګرځیدو ، په یو ځای کې یې بهلول دانا اُولید چې په شګو کې ناست دی ، ده وریاندې سلام واچول ، هغه د سلام جواب ورکړو . هارون الرّشید ورنه پوښتنه اوکړه : بهلوله ! دا څه کوې ؟

هغه ورته ووېل : د شګو نه کور جوړوم . ده ورنه پوښتنه اوکړه : دا د چا د پاره جوړوې ؟

هغه ورته ووېل : څوک چې دا واخلي نو زه به ورته دُعا اوکړم نو الله تعالی به هغه ته په جنت کې کور ورکړي .

هارون الرشید بادشاه ورنه پوښتنه اوکړه : ددې قیمت څو روپۍ دی ؟

هغه ورته ووېل : یو دِینار . ده دا ګمان اوکړو چې ګني دا هسې لیونې دی . نو مخکې ورنه لاړ .

د هارون الرشید بادشاه پسې شاته دده بي بي "زبیده خاتون" راروانه وه هغې د بهلول نه پوښتنه اوکړه چې : بهلوله ! دا څه شی جوړوې ؟

هغه ورته ووېل : دا د شګو نه کور جوړوم چې څوک دا واخلي نو زه به ورته دُعا اوکړم نو الله تعالی به ورته په جنت کې کور ورکړي .

زبیده خاتون ورته پوښتنه اوکړه: ددې قیمت څه دی؟ هغه ورته وویل: ...
نو دې ورته یو دِینار ورکړو. هغه دُعا اوکړه. دا ورته لاړو.

د شپې چې کله هارون الرشید بادشاه اُوده شو نو په خوب کې ...
ښائسته باغونه، میوې، ګلان او اُوچت اُوچت محلونه دي. د ...
محل یې اُولید چې په هغې باندې د زُبیده خاتون نوم لیکل شوې ؤ.

هارون الرشید دا ګمان اوکړو چې دا خو زما د بي بي محل دی ...
اُوګورم. کله چې د مَحل دروازې ته وَرَاورسید او دَننه د ورتللو اراده ...
دَربانچي د ننوتلو نه منع کړو.

ده ورته وویل: دا خو زما د بي بي محل دی زه ورننوځم.

هغه ورته وویل: ددې ځای قانون جدا دی دلته چې په مَحل باندې د چا نوم لیکلی ...
هم هغه ته د ننوتلو اجازت وي، د هغه نه بغیر بل چا ته د ننوتلو اجازت نشته.

په دې وخت هارون الرشید د خوب نه راویښ شو. سوچ یې کولو ...
راغله چې دا پرون زبیده خاتون د بهلول نه کور په یو دِینار اخیستې ؤ ...
ورته الله ﷻ په جنت کې کور جوړ کړی.

نو افسوس ورغی چې کاش، ما هم یو دِینار ورکړې ؤ. په زړه کې اراده اوکړه چې ...
به زه هم ورنه یو کور واخلم.

په صبا باندې هارون الرّشید بادشاه بیا د خپلې بي بي سره د سینه په ...
بهلول دانا تالاش یې کولو، په یو ځای کې یې اُولید چې هماغه شان یې د شګو ...
جوړول. ده ورباندې سلام واچول، او پوښتنه یې ورنه اوکړه:

بهلوله! دا څه جوړوی؟ هغه ورته وویل: د شګو نه کور جوړوم ...
به ورته دُعا اوکړم نو الله تعالی به په جنت کې ورله کور جوړ کړي.

ده ورنه پوښتنه اوکړه: ددې قیمت څومره دی؟ هغه ورته وویل: ددې قیمت ...
دُنیا بادشاهي ده چې دا به ما له راکوی.

هارون الرشید ورته وویل: دومره قیمت خو زه نشم درکولی.

بیا یې ورته وویل: پرون خو ددې کور قیمت یو دِینار ؤ او نن ددې قیمت ...

ده، دا ولې؟

بهلول ورته وويل: بادشاه سلامت! پرون نالیدلي سَوداء نو ځکه اَرزانه وه او نن چونکه ستا سترګو هر څه لیدلي دي نو ځکه ګرانه ده.

**عبرت**: ددې واقعې نه مونږ ته دا عبرت حاصل شو چې نن زمونږ اِیمان بِالغَیب دی، په سترګو مو د جنت نعمتونه او د مرګ آثرات ندي لیدلي نو ځکه جنت ګټل آسان دي، خو کله چې د مرګ وخت راشي او په سترګو باندې هر څه اُوګورو نو بیا به د مچ په شان د پښیمانتیا لاسونه مَروړُو خو اُوبه به د وَرخ نه تېرې وي او هیڅ به په ګوتو نه راځي.

لهذا همدا نن زمونږ د پاره بهترینه موقع ده چې هغه اعمال اوکړو د کوم په وجه چې انسان د جنت مستحق ګرځي.

## خلاصه

د تقریر په شروع کې ما دا خبره کړې وه چې جنت صرف په آرزوګانو باندې نه ګټل کیږي بلکه دې د پاره دا ضروري ده چې انسان به د اِیمان نه پس نېک اعمال کوي، او دا خبره د قرآن کریم د ډیرو آیتونو نه هم ثابته ده. (۱)

نبي کریم صلی الله علیه وسلم هم خپل اُمت ته د نېکو اعمالو کولو ترغیب ورکړی.

---

(۱) الله ﷻ فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾.

ترجمه: او کومو خلقو چې ایمان راوړو او نېک عملونه یې اوکړل نو همدغه خلق جنّتیان دي، دوی به په دې جنت کې همیشه اُوسیږي. البقرة آية ۸۲.

بل ځای فرمايي: ﴿وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ﴾. البقرة آية ۲۵

ترجمه: او (اې پیغمبره!) ته زیرې ورکړه هغه خلقو ته چې هغوی اِیمان راوړی او نېک کارونه یې کړي چې بیشکه د دوی د پاره داسې جنتونه (باغونه) دي چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهیږي.

بل ځای فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ۖ﴾. النساء آية ۵۷.

ترجمه: او کومو خلقو چې ایمان راوړو او نېک اعمال یې اوکړل نو ډیر زر به مونږ دوی په داسې جنتونو کې داخل کړو چې د هغې د (اُونو) لاندې به نهرونه بهیږي، دوی به په دې کې همیشه اُوسیږي.

Scanned with CamScanner

یا خاصکر هغه اعمال یې هم ورته خودلي چې د هغې په باره کې صراحةً راغلي چې "په دې عمل سره انسان جنت ته داخلیږي".

(د هغې نه څه د پاسه سل ۱۰۰ اعمال درته ما ذکر کړل)

لهذا هر مسلمان ته په کار دي چې د جنت ګټلو د پاره د الله او رسول ټول احکامات اُومني او یا خاصکر هغه اعمال په پابندۍ سره اوکړي په کومو سره چې صراحةً د جنت وعده شوې.

- که د نېکو اعمالو په کولو سره ده ته تکلیف یا مشقت اُورسي نو دا به په خوشحالۍ برداشت کوي، ځکه جنت په مشقتونو او امتحانانو کې ګېر دی، یا خاصکر په نېکانو بندګانو باندې خو ډیر امتحانات راځي. خو دا به ورباندې صبر کوي، ځکه که د قیامت په ورځ ده ته په جنت کې یو چکر ورکړې شي نو د دُنیا ټول مشقتونه او امتحانات به ورنه هېر شي او د جنت دائمي خوشحالي به یې نصیب شي.

## دُعا

الله تعالى دې مونږ ټولو ته د هغه نېکو اعمالو کولو توفیق راکړي چې د هغې په وجه انسان د جنت تللو مستحق ګرځي.

ربِّ کریم دې مونږ ټولو ته جَنّتُ الفِردَوس را نصیب کړي.

پَروَردِګارِعالَم دې مونږ ټول د هغه بدو اعمالو نه اُوساتي چې د هغې په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن.

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

## نوټ

" **د جنت حُورې او غِلمان** " دا موضوع به إِنْ شَاءَ الله په راتلونکي شپږم (٦) جلد کې وي. ابوالشمس عفي عنه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# خوشخبري

ددې پسې به اِن شَاءَ الله شپږم جلد وي ، او دا سلسله به د الله ﷻ په توفیق سره تر یو وخته پورې همداسې جاري وي ·

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو یاد ساتئ

ستاسو ورور :

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴

Scanned with CamScanner

# زما نور تالیفات

ددې موجوده کتاب نه علاوه زما نور تالیفات هم شته :

۱. اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه : دا کتاب په پنځلس جلدونو کې دی ، په پښتو او فارسی کې چاپ شوی ، په مکتبو کې ملاویږي.
او څه لږ وخت پس به اِنْ شَاءَ الله دا مکمل کتاب په اُردو کې هم چاپ شي.

۲. اَلْأَسْئِلَةُ وَالْأَجْوِبَةُ الْفَاضِلَة لِتَشْحِيْذِ الْأَذْهَانِ الْکَامِلَة :
په دې کتاب کې د ذِهن د زیرکتیا د پاره د مختلفو علومو متعلق مُعَمّٰی سوالات او جوابات دي ، دا کتاب په پښتو ، اُردو او فارسي درې واړو ژبو کې چاپ شوی ، په مکتبو کې پیدا کیږي.

۳ . هر تقریر په مُختلفو ژبو کې : په دې کتاب کې په پنځه واړه ژبو کې تقریرونه دي. دا کتاب هم چاپ شوی ، په مکتبو کې ملاویږي.

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۵۴۴۷۱۷۴ ۰۳۰۶

Scanned with CamScanner

# يو توَهُم دفع كول

كيدې شي د بعضې خلقو ذِهن ته به دا اعتراض راځي چې :

" څنګه يو څو مياشتې پس ددې كتاب نور جلدونه هم اوليكلې شو ؟ "

نو ددې په جواب كې به زه بغير د تكبّر او بغير د رِيا نه خالِص د تَحْدِيْثْ بِالنِّعْمَة په طور دا اُوويم چې :

كله يو كس د بهترينې مضمون نويسى اِستعداد هم لري ، ټول عُمر يې په عِلمي ميدان كې هم تېر كړې وي ، په هره موضوع باندې د اَسلافو د معتمدو كتابونو ذخيره هم لري ، د تاليف زړه تجربه او په زړه كې ددې بلبدونكې شوق هم لري ، د همدې د پاره يې د شواروز اكثره حصه هم وقف كړې وي ، ددې د پاره د شپې رونړولو او مشقت برداشت كول عادت هم لري ، د دِيني علومو سره سره په عَصري علومو باندې پوره عُبور هم لري ، د كتاب مُسوّده هم په خپله تيارولې شي ، بيا په كمپيوټر باندې په خپله د ليكلو ، پرِنټ كولو او دوباره ددې د اصلاح كولو مهارت هم لري ، د والدينو او بې شماره اهلِ عِلمو دُعاګانې هم ورسره شاملِ حال وي ، د ټولو نه اَهمه دا چې د الله تعالى د رَضا د پاره خلقو ته د نَفعې رسولو او د قيامت د پاره د ذخيره جوړولو اِراده هم لري نو بيا داسې كس ته د څلورو يا پنځو مياشتو مسلسل شب و روز محنت كولو نه پس د الله جلّ جلاله په توفيق سره يوه جامِع موضوع تيارول څو دومره مشكل كار ندى .

مشهوره مقوله ده : مَنْ جَدَّ وَجَدَ . څوك چې كوشش كوي نو ددې ښه ثمره به اُومومي . بل دا چې الله تعالى د هيچا مِحنت هم نه ضائع كوي . (١)

بلكه زه خو وايم چې هر ذِي اِستعداد دې د ژوند دا قيمتي لمحات غنيمت اوګڼري او په څه نا څه طريقې سره دې د خپل وَس موافق د دِين خدمت اوكړي :

كه هغه د تاليف په شكل كې وي ، كه د دَرس و تدريس په شكل كې وي ، كه ددعوت و تبليغ په شكل كې وي ، كه د جهاد په شكل كې وي ، يا په بله دِيني شعبه كې

---

(١) قَالَ اللهُ تَعَالٰى : ﴿ وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾ . العنكبوت آية ٦٩ .

Scanned with CamScanner

د خدمت په شکل کې وي ددې د پاره چې مخلوقِ خُدا ته د فائدې رسولو سره سره ځان له د آخرت د پاره بهترینه ذخیره هم تیاره کړي.

خو اَفسوس صد اَفسوس چې نن صبا ډیر د بهترین اِستعداد واله خلق په فیس بُک واټس اَپ او اِنټرنیټ باندې خپل قیمتي وخت فضول ضائع کوي، اکثره خپل یو تصویر یا څه ویډیو په فیس بُک باندې شائع کړي بیا ددې په اِنتظار وي چې څوک به پرې کمِنټ اوکړي نو په دې اِنتظار باندې ټوله ورځ موبائل ته پروت وي، حالانکه وخت قیمتي سَرمایه ده فضول ضائع کول یې ندي په کار.

په احادیثو مبارکهٔ کې هم انسان دیته متوَجّه شوی چې خپل قیمتي وخت فضول ضائع نکړي.

رسولُ اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم یو کس ته نصحیت کولو نو ورته وې فرمایل:

اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاءَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ. (۱)

پنځه خبرې د پنځو نه مخکې غنیمت اوګنړه: خپله ځواني د بوډاوالي نه مخکې، صحت د بیمارۍ نه مخکې، مالداري د فقیرۍ نه مخکې، فارغ وخت د مشغولتیا نه مخکې، او ژوند د مرګ نه مخکې.

لهذا خپل قیمتي وخت، قیمتي عُمر، او قیمتي ځواني په فضول کارونو کې خرچ کول نه دي په کار.

**ابـوالشمس نُورُالهدیٰ عفی عنه**

---

(۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ: اِغْتَنِمْ خَمْسًا ..... المستدرک علی الصحیحین للحاکم رقم الحدیث ۷۸۴۶ وقال الحاکم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي. شعب الایمان رقم الحدیث ۹۷۶۷، مصنف ابن ابي شیبة رقم الحدیث ۳۴۳۱۹، کنزالعمال رقم الحدیث ۴۳۴۹۰، مشکوة المصابیح کتاب الرّقاق الفصل الثاني رقم الحدیث ۵۱۷۴(۲۰).

# الْمُبَادَرَةُ بِالتَّصْنِيفِ خَيْرٌ مِنَ التَّدْرِيسِ.(١)

قال ابن الجوزي رَحِمَهُ اللهُ : رَأَيْتُ مِنَ الرَّأْيِ القَوِيمِ أَنَّ نَفْعَ التَّصَانِيفِ أَكْثَرُ مِنْ نَفْعِ التَّعْلِيمِ بِالْمُشَافَهَةِ ، لِأَنِّي أُشَافِهُ فِي عُمُرِي عَدَدًا مِنَ الْمُتَعَلِّمِينَ ، وَ أُشَافِهُ بِتَصْنِيفِي خَلْقًا لَا تُحْصَى مَا خُلِقُوا بَعْد ، وَ دَلِيلُ هَذَا أَنَّ انْتِفَاعَ النَّاسِ بِتَصَانِيفِ الْمُتَقَدِّمِينَ أَكْثَرُ مِن انْتِفَاعِهِمْ بِمَا يَسْتَفِيدُونَهُ مِنْ مَشَايِخِهِمْ.

فينبغي للعالم أنْ يتوفَّر على التصانيف إنْ وُفِّقَ للتصنيف المفيد ؛ فإنَّه ليس كل مَنْ صَنَّفَ صنَّف .

وَلَيْسَ الْمَقْصُودُ جَمْعَ شَيْءٍ كَيْفَ كَانَ ، وَإِنَّمَا هِيَ أَسْرَارٌ يُطْلِعُ الله عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْهَا مَنْ شَاءَ مِنْ عِبَادِهِ، وَيُوَفِّقُهُ لِكَشْفِهَا. فَيَجْمَعُ مَا فُرِّقَ، أَوْ يُرَتِّبُ مَا شُتِّتَ، أَوْ يَشْرَحُ مَا أُهْمِلَ، هَذَا هُوَ التَّصْنِيفُ الْمُفِيدُ.

وينبغي اغتنامُ التَّصنيف في وسط العمر؛ لأنَّ أوائلَ العمر زَمَنُ الطلب، وآخِرَهُ كَلَالُ الحَوَاسِ ، و ربما خَانَ الْفَهْمُ والعقلُ مَنْ قُدِّرَ عُمُرُهُ ، و إنما يكون التقدير على العادات الغالبة ، لأنه لا يَعْلَمُ الغيب. فيكون زمان الطلب والحفظ والتشاغل إلى الأربعين ، ثم يبتدئ بعد الأربعين بالتصانيف والتعليم .

هذا إذاكان قد بَلَغَ مع ما يريد من الجَمْعِ والحفظ، و أُعِينَ على تحصيل المطالب.

فأمَّا إذا قَلَّتِ الآلاتُ عنده مِن الكتب، أو كان في أوَّل عمره ضعيفَ الطلب فلم ينل ما يريده في هذا الأوان، أَخَّرَ التصانيفَ إلى تمام خمسين سنة، ثم ابتدأ بعد الخمسين في

---

(١) قيمة الزمن عند العلماء عبدالفتاح ابوغدة ص٢٢٦.

التصنيف والتعليم إلى رأس الستين.

ثم يزيدُ فيما بعدَ الستين في التعليم، ويُسْمِعُ الحديث والعلمَ، ويُقَلِّلُ التصانيف إلا أن يقع مُهِمٌّ إلى رأس السبعين.

فإذا جاوز السبعين جَعَلَ الغالبَ عليه ذكرَ الآخرةِ والتهيؤَ للرحيل. فَيُوَفِّرُ نَفَسَهُ على نفسِه إلا من تعليمٍ يحتسبه، أو تصنيفٍ يُفْتَقَرُ إليه؛ فذلك أشرف العُدَدِ للآخرة.(١)

(١) صيد الخاطر جمال الدين أبو الفرج عبد الرحمن بن علي بن محمد الجوزي ص ٢٤١ فصل: التصنيف المفيد ومراحل عمر العالم. قيمة الزمن عند العلماء عبدالفتاح أبوغدة ص٢٢٦.

علماء، طلباء، مقررین، اور عام مسلمانوں کے لئے مختلف موضوعات پر تقاریر کا ایک مُفصّل، مُستند، علمی اور تحقیقی ذخیرہ:

# اِصلاحی مُدَلّل تقاریر

## ۱ تا ۱۵ جلد

تالیف


آبُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنْهُ

فاضلِ جامعہ امدادُ العلوم پشاور صدر، و وفاق المدارس العربیة ملتان

ایم اے عبدالولی خان یونیورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

## اول جلد


۱. د زَنانهٔ د پاره د شرعي پَردې اَهميت او ثبوت
۲. د زَنانهٔ د پاره د پَردې فضائل او بې پَردګۍ سزاګانې
۳. ښځو د پاره د کور نه د بهر وتلو شرائط او آداب
۴. د پَردې متعلق اعتراضات او د هغې جوابات
۵. د پَردې متعلق ضروري فِقهي مسائل


## دويم جلد


۱. پرَدى ښځې سره خَلوَت او اِختِلاط حرام دى
۲. د بَدنظرۍ سزاګانې او ددينه د بچ کيدو طريقې
۳. د نظر حفاظت کول
۴. د تواضع فضائل او فوائد (ورسره)
د نبي ﷺ ،صحابه کرامو او نورو بزرګانو د تواضع واقعات
۵. د جُمعې او اخترونو خُطبې


## دريم جلد


۱. د تقوىٰ فضائل او فوائد
۲. د نبي عليه السلام ، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د تقوىٰ واقعات
۳. د الله ﷻ د عذاب نه ويريدل (ورسره)
د نبي عليه السلام، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ويريدو واقعات
۴. د الله ﷻ نه ښه اُميد لرل


## څلورم جلد


۱. د ختمِ نبوت تفصيلي بيان
۲. په دروغه د نبوّت دعوىٰ کوونکو خلقو احوال
۳. ګستاخِ رسول مرتد او کافر دى او سزا يې صرف مرګ دى
۴. نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو کې افضل دى


Scanned with CamScanner

## پنځم جلد

۱. د جنت نِعمتونه او خوشحالئ
(اول بیان)

۲. د جنت نِعمتونه او خوشحالئ
(دویم بیان)

۳. جنت ته داخلوونکي نېک اعمال













Design by NoorPrinters>+923115561212

# مكتبه اعزازيه

جاده ميوند پخته فروشی کابل : 0764857797

Scanned with CamScanner




Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner